Public Disclosure Authorized

Public Disclosure Authorized

SFG1037

# د افغانستان حکومت
# د لوړو زده کړو وزارت

## د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ
## د لوړو زده کړو د وزارت د ملي ستراتیژۍ دویم پلان
## او
## د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه

وروستی راپور

د ۲۰۱۵ کال د مارچ ۵ مه

1. پیلیزه

1.1.د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ تګلاره او عمل

2. د پروژې شرحه او شالید

2.1.د لوړو زده کړو د وزارت د ټولې ستراتیژۍ بیا کتنه
2.2.د پروژې هدف
2.3د پروژې برخې
2.4. له پروژې څخه ګټه اخیستونکي
2.5 وړاندیز شوې پانګونې

3. محیطیکلیدي مسائل

3.1اجتماعي او محیطي لومړني اطلاعات

4. د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت طریقې او اړین شرایط

4.1. د نړیوال بانګ حفاظتي شرایط او تګلارې
4.2 د افغانستان د ژوندانه چاپېریال د مدیریت له پاره حقوقي چوکاټ او تګلاره

5. د اجتماعي مدیریت د چوکاټ د پلي کېدو او ژوندانه د چاپېریال له پاره سازماني او پلي کېدونکي هوکړې

5.1 د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ له پاره دندې او مسولیتونه

6. د خلکو مشورې

6.1 له مشورو څخه تر لاسه شوې لندیز

7. د ګواښونو د کمښت له پاره د وړاندیز شوو اقداماتو او اغېزو شننه

7.1 تر دې پروژې پورې تړلې اجتماعي او محیطي کلیدي مسائل او اغېزې
7.2اجتماعیي او محیطي مثبتې اغېزې
7.3 د چا پېریال او ټولنې ځوامنې منفي اغېزې
7.4د ساختماني کار او فعالیت په وخت کې عمومي، محیطي او اجتماعیي اندېښنې
7.5دوه ګوني ځواکمنې اغېزې
7.6 د څارنې او ګواښونو د کمښت وړاندیز شوي اقدامات

8. د فرعي پروژې د تیاري بهیر، پلي کول او څارنه

8.1 د ارزونې او سروې بهیر

8.2ارزونه او منظوري
8.3د خلکو مشورې او د معلوماتو وړاندې کول
8.4کلني راپورونه او څارنه
8.5کلنۍ ارزونې

9. شکایتونو ته د رسېدومیکانیزم

9.1 د میکانیزم موخه شکایتونو ته رسېدل
9.2 د شکایتونو ډولونه
9.3 شکایتونو ته د رسېدنېسېستم
9.4اصول،کړنلارې او د ژمنې ورکولو وخت

10. د وړتیا او زده کړو لوړوالی

10.1د ژوندانه د چاپېریال او ټولنېدساتنېد پوهانو ټاکل
10.2زده کړه

11.د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د پلي کولو بودیجه

لومړۍ ضمیمه: د لوړو زده کړو له پاره د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان د (بیا استوګن کېدو) د سکتوري تګلارې چوکاټ

دویمه ضمیمه: په کابل کې له اړوندو مراجعو سره مشوره له اګسټ څخه د(۲۰۱۴) کال تر اکتوبر پورې)

درېیمه ضمیمه: تخنیکي لارښودونه

څلورمه ضمیمه: د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان د اجتماعیې او ژوندانه د چاپېریال سروې

پنځمه ضمیمه: د فرعي پروژې کاري شرایط چې اجتماعي ارزونو ته اړتیا ولري.

<u>شپږمه ضمیمه: د محیطي اغېزو د ارزوۍ د ترسره کولو ډولونه</u>

اوومه ضمیمه: د ژوندانه چاپېریال د مدیریت د پلان د ترسره کولو ډولونه او بېلګه

آتمه ضمیمه: د ساختماني چارو له پاره د قرارداد د مادو بېلګې

نهمه ضمیمه: د څمکنیو ماینونو د ګواښ د مدیریت کولو کړنلارې

لسمه ضمیمه: د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چارچوب په اړه د خبر ورکولوپاڼه

یوولسمه ضمیمه: د عام مشورتي پلان ډول

دوولسمه ضمیمه: د معلوماتو د وړاندې کولو د خبرتیا ډول

**دیارلسمه ضمیمه:د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان له پاره د ژوندانه د چاپېریال د کلني راپور ډول**

**څوارلسمه ضمیمه: د چاپېریال ساتني او مرستندویي ډلي د برخي د متخصص د ترسره کولو ډول، څارنه او کړنه**

**پنځه لسمه ضمیمه: د کړني او څارني د مرستندویي ډلي د اجتماعیي ساتني د برخي د متخصص د ترسره کولو ډول**

**شکلونه او جدولونه**

3.1 جدول// د جنسیت او وړتیا په بنسټ د پوهنتونونو علمي کارکوونکي........................................14
5.1 جدول// د مسولو ارګانونو عمده فعالیتونه ........................................................................23
5.2 جدول// د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت له پاره سازماني رول او مسولیتونه.............................25
8.1 جدول// د پلي کولو، اجتماعي او محیطي فرعي پروژې په پلانولو کې رول او مسولیتونه................34
8.1 شکل// د ژوندانه د چاپېریال د فرعي پروژو د اجتماعیي سروې دیاګرام................................34
9.1 شکل// شکایتونو ته د رسېدني د میکانیزم له پاره د پروسې ډول..........................................43
10.1 جدول// د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د پلي کېدو له پاره د زده کړې وړاندیز شوی ډول....47
11.1 جدول// د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي چوکاټ د مدیریت د پلي کېدو له پاره د بودیجې اټکل..48

## د کړنو خلاصه

### شالید

د لوړو زده کړو وزارت له ۲۰۱۵ څخه تر ۲۰۲۰ کلونو له پاره د دویم ملي ستراتیژیک پلان مسوده برابره کړې ده. په دې پلان کې څرګندونې، ماموریت، د حکومت ارزښتونه، ستراتیژۍ او د لوړو زده کړو د پراختیا د هدفونو د ترلاسه کولو اقدامات بیان شوي دي. د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان هدف د لوړو زده کړو د اقتصادي سکتور د کیفیت ښه والی، د لوړو زده کړو د ګډون لوړوالی چې د زده کړو د بازار د کار له پاره په یوه ځانګړې پاملرنه باندې څرخي. نړیوال بانګ د افغانستان د حکومت د لوړو زده کړو له دویم ملي ستراتیژیک پلان څخه د ملاتړ په منظور حاضر دی چې د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق له لارې تمویل کړي.

### د پروژې تشریح

د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه به د دوو برخو لرونکې وي: (۱) د لوړو زده کړو د پراختیا برخه، (۲) د پروژې د مدیریت، د وړتیاوو د لوړولو او څارنې او ارزونې برخه. دغه برخې او اړوند فعالیتونه د لوړو زده کړو وزارت، مالیې وزارت، پوهنتونونو، د لوړو زده کړو موسسو، دولتي او خصوصي استخدام کوونکو مراجعو، استادان، څېړونکي او د پراختیا په برخه کې له نورو ملاتړو مراجعو سره د همکارۍ او د مشورې ورکولو د پروسې له لارې برابرېږي.

د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه به د پانګونې د پرژې د تمویل د سند له مخې او د تمویل د بېلګې په بنسټ چې په پایله به ولاړه وي استفاده وکړي. تر لومړۍ برخې لاندې (په پایلو ولاړه د تمویل برخه)، د لوړو زده کړو وزارت په کلنۍ بودیجې کې د مشخصو بنسټیزو اقلامو په وړاندې د پروژې لارې (د لګښت وړ شرایطو پروګرامونه) تر مشخصو ورکړل شوو پیسو پورې او د هوکړه شو او اړوندو شاخصونو له مخې به د ورکړې له پاره برابره شي. لومړۍ برخه، د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پرمختیایي پلان له پروګرام څخه ملاتړ کوي او په ډېره کره پایله به تمرکز کړي. دویمه برخه به د لوړو زده کړو د وزارت د ارزونې، څارنې او همغږۍ به برخه کې د پلي کولو وړتیا پیاوړې کوي او د لوړو زده کړو وزارت د توانا کولو له پاره به د مشخصې وړتیا له پاره اړتیاوې د هوکړه شوو پایلو له پاره چې د ورکړې شاخص به هم تر پوښښ لاندې ونیسي. دویمه برخه د دودیزې پانګونې د پروژې د تمویل په توګه ورکوي او د لومړۍ برخې فعالیتونه بشپړوي.

نړیوال بانګ له همکارو حکومتي ادارو سره په مشوره، د لوړو زده کړو د سکتور بشپړ پروګرام، د لګښت د شرایطو وړ ټاکل شوي پروګرامونه د داسې توکو لرونکي چې د پوهېدو وړ نه وي، خبرې اترې پرې کوي. د لګښت د شرایطو وړ ټاکل شوي پروګرامونه عبارت دي له (الف) معاشونه او برخې، (ب) بورسونه، او (ج) د څېړنې له پاره مرستې. د بانک د مالي مدیریت لارښودونه به په ټولو پروژو د پلي کېدو وړ وي. د بانک د تدارکاتو لارښودونه یوازې پر دویمې برخې د پلي کېدو وړ دي، ځکه چې د لومړۍ برخې توکي د پیداکېدو وړ نه دي. تر لومړۍ برخې لاندې، حکومت د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان له مخې د بنسټیزو اصلاحاتو له پاره ملاتړ کوي. سره له دې چې د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د لوړو زده کړو د پراختیا تر دویمې پروژې لاندې، مدني کارونه په نېغ ډول برابروي. هیله کېږي چې د حکومت د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ دویم پلان هم چې په پوهنتون کې د لکچر د کوټو، معلوماتي ټکنالوژۍ، لابراتوارونو، کتابتونونو، اوبو، روغتیا، د اوسېدو سیمې، د شته آسانتیاوو او لیلیو جوړولو په ځانګړې توګه د نجونو له پاره په ټول هېواد کې په ډېرو پوهنتونونو کې مرسته وکړي. په دې فعالیتونو کې د ساده ودانیو جوړول او مدني چارې دي چې طرحه کول، جوړول او ترسره کول یې پېچلي نه وي.

د دې فعالیتونو ځای او سیمه تر اوسه معلوم نه دي او تر ډېرې کچې د مالي سرچینو تر شته والي او تر راتلونکو ارزونو پورې تړلي دي. هیله کېږي چې احتمالي سیمه بیزې اغېزې او بنسټیز فعالیتونه چې ټاکل شوې ده چې د حکومت تر پروګرام لاندې یې ملاتړ وشي، لږ دي او تر سیمې پورې به تړلي وي. تر دویمې څانګې لاندې، نوموړې پروژه د تخنیکي همکاریو فعالیتونه په ځانګړې توګه د تګلارې طرحه کول، د پروژې د مدیریت، څارنې او ارزونې لاندې کوی.

ډېرې ځوانان چې په پوهنتونونو کې زده کړې کوي او ډېر د پوهنتون استادان او مديران به له دې پروژې څخه ګټه واخلي. سربېره پردې به نورډېر مراجع له دې پروژې څخه په غيرمستقيمه توګه ګټه واخلي. چې له لاندې مراجعو څخه عبارت دي: (الف) تر خصوصي سکتور پورې اړوند استخدام کوونکي مراجع چې وبه کولای شي په راتلونکي کې له پوهنتون څخه فارغ کسان په کار وګماري، (ب) حکومت چې د ملکي خدمتونو او د عامه خدمتونو په بېلابېلو برخو کې د پوهنتونونو د لايقو فارغانو د جذبولو توانايي لري، (ج(د پوهنتونونو زده کوونکي او کارکوونکي چې په راتلونکي کې به د لوړو زده کړو له پراختيايي سيستم څخه ګټه واخلي، (د) د خدمتونو او جنس برابروونکي چې د يادې پروژې له خوا به تمويل شي.

**د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي چوکاټ د مديريت هدف**

دا چې وروستی ټاکنه او د حفظ او مراقبت او د ودانيو د جوړولو پرلپسي او مفصلي طرحې يوازې د کال په پيل او يا هم د پروژې به بهير کې پراختيا مومي، يو چوکاټ په نظر کې ورته نيول شوی چې د وړانديز شوو اجتماعي او محيطيفعاليتونو احتمالي اغېزې به په اغېزمنه توګه مديريت کړي. همدا راز، له قانوني معيارونو سره سم ځيني اسناد په ځانګړې توګه اجتماعي او محيطي لکه (۱) د اجتماعي مديريت او چاپېريال ساتني چوکاټ او (۲) د چاپېريال ساتني په برخه کې د نړيوال بانک، افغانستان حکومت او نړيوالو منل شوو معيارونو سره سم د بيا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ، برابر شوي دي. دغه اسناد په راتلونکي کې د لوړو زده کړو تر دويم ملي ستراتيژيک ملي پلان لاندې د فرعي پروژې اړوندو ممکنه محيطي او اجتماعي مسايلو د مديريت له پاره به عملي لارښود برابر کړي.

دغه سند د اجتماعي او محيطي مديريت چوکاټ چې ټاکل شوې ده د لوړو زده کړو د وزارت په واسطه وکارول شي برابروي. دوی ډاډ تر لاسه کوي چې د اجتماع او چاپېريال ساتني اړوندو ټولو مسايلو ته په ښه توګه لاسرسی وشي. د دې چوکاټ اساسي هدف له چاپېريال او اجتماع څخه د را ولاړې شوې اغېزې له لاندې لارو څخه لږ کچې ته رسول او يا کمول دي: (الف) د ارزونې له پاره ځرګندې لارې او د کړنلارو رامنځ ته کول، (ب) د مناسبو رولونو او مسوليتونو مشخص کول او د پروژې د پانګونې اړوند د محيطي او اجتماعي اندېښنو د څارنې له پاره د راپور ورکونې د مديريت کړنلاره او طرح کول، (ج) د زده کړې د پروګرام ټاکل، د ياد شوي چوکاټ د برياليي پلي کېدو له پاره لازمه تخنيکي مرسته او ظرفيت جوړونه، او (د) د اجتماعي او محيطي مديريت د چوکاټ د پلي کېدو له پاره د عملي معلوماتو د سرچينو برابرول.

(الف) د بيا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ برابرول

د لوړو زده کړو د وزارت د ملي ستراتيژۍ په دويم پلان کې، د ځمکې د استملاک په اړه وړاندوينه نه ده شوې. خو په محدودو چارو کې به کېدای شي د ځمکې استملاک ضروري وي. د اجتماعي او ژوندانه د چاپېريال ساتني د مديريت چوکاټ، همداراز د بيا استوګن کېدو د يوې تګلارې په چوکاټ کې د يوې ضميمې په توګه په داسې حالت کې چې د ځمکې استملاک د منلو وړ نه وي شامل او د ځمکې د استملاک، استحقاق او جبران، د ۲۰۰۹ ز کال د تصويب شوي قانون او د ځمکو د چارو د مديريت د ۲۰۰۸ ز کال د تصويب شوي قانون له احکامو سره سم د لارښودونو لرونکی دی، همداراز د داوطلبانه بيا استوګن کېدو په اړه د نړيوال بانک له ۴,۱۲ عملياتي تګلارې سره سم دی.

**قانوني چوکاټ**

د افغانستان د ۲۰۰۷ م کال د ژوندانه د چاپېريال قانون، د ژوندانه د چاپېريال ساتنې د مديريت له پاره اصل قانون دی. ځيني ملاتړي اسناد لکه: د ۲۰۰۹ ز کال د ځمکو د استملاک قانون، د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکو د مديريت قانون، د ۲۰۰۴ ز کال د افغانستان د فرهنګي او تاريخي ميراثونو د ساتني قانون، د ۲۰۰۹ ز کال د اوبو قانون او د افغانستان د دولت د اوبو د سکتور د ستراتيژۍ ده.

د چاپېريال ساتني او نړيوال بانک له شرايطو سره سم د لاندې عملياتي تګلارو په واسطه د يادې پروژې په واسطه عملي شوې او د چاپېريال ساتني په برخه کې به مشخصو احکامو ته اړتيا ولري: محيطيارزونه (۴,۰۱ عملياتي تګلاره)، فرهنګي سرچينې (۴,۱۱ عملياتي تګلاره) او غير داوطلبانه بيا استوګن کېدل (۴,۱۲ عملياتي تګلاره).

## سازماني رول او مسولیتونه

نومو‌ړې پروژه د لوړو زده کړو وزارات له لوري پلي کېږي. یاد وزارت به په مستقیمه توګه او ملي کچه، د ستراتیژۍ د جوړښت، پروګرام، څارنې او ارزونې او تخنیکي مرستې د فعالیتونو د پلي کېدو مسول وي. پوهنتونونه چې د لوړو زده کړو وزارت تر نظر لاندې فعالیت لري، په مستقیمه توګه به خپل بنسټیز فعالیتونه لکه د داخلي کیفیت ارزونه، د استادانو او مدیرانو د بشري سرچینو پراختیا، نوي زده کول او د تدریس منل پلي کوي.

د لوړو زده کړو د پراختیایي پروژې څارنه او اجراآت به، له لوړو زده کړو وزارت سره مرسته وکړي چې عملیاتي ملاتړ برابر کړي او د پوهنتون په کچه به د پروژې فعالیتونه همغږي او له هغې به څارنه وکړي. یاده پروژه به د رهبرۍ یوه کمېټه ولري چې د تګلارې او پروژې له تګلوري څارنه وکړي. د لوړو زده کړو د پراختیا د پروژې د رهبرۍ کمېټه به د لوړو زده کړو د وزیر تر ریاست او غړي به یې د وزارت مرستیالان، د وزارت د پلان او پالیسۍ رییس، د وزارت مالي او اداري رییس، د پروژې رییس او د پروژې د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله به وي. د پروژې رییس د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله به همداراز د لوړو زده کړو د پراختیایي پروژې د چلوونکي په توګه کار وکړي. هر پوهنتون د خپل پوهنتون په کچه د پلان جوړونې، تصمیم نیونې، څارنې او ارزونې او پروژې د فعالیتونو له پاره د رهبرۍ یوه کمېټه لري (د پوهنتون د رهبرۍ کمېټه) چې د پوهنتون د رییس په مشرۍ به جوړېږي.

د چاپیریالي او اجتماعي مدیریت تر چوکاټ لاندې څو وړاندیز شوي مرکزونه شته دي چې د ډاډ د ترلاسه کولو له پاره دا چې میکانیزمونه او د چاپیریالي او اجتماعي مدیریت د چوکاټ لیست شوي وړاندیزونه په سمه او اغېزمنه توګه پلي شي کلیدي رول لوبوي. په ملي کچه، د لوړو زده کړو وزارت مسول دی ډاډ تر لاسه کړي چې د چاپیریالي او اجتماعي مدیریت چوکاټ په ټوله پانګونه کې چې د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ تر دویم پلان لاندې تمویلېږي او همدارنګه په راتلونکي تعلیمي سکتور کې پروژې ترسره شي. د ژوندانه د چاپېریال ملي اداره، د پلي کوونکي اداري په توګه د محیطي مدیریت مسووله ده او د ارزونې په کار او د چاپیریالي او اجتماعي اغېزو (ESIAs) د ارزونې د منظورۍ چې د اړتیا په صورت کې د فرعي پروژو له پاره برابرېږي، لاس لري.

د ولایت او ولسوالۍ په کچه به د ژوندانه د چاپېریال مسولین د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلانونو په څارنه او ارزونه کې لاس ولري. د پروژې په کچه به د څارنې او اجراآتو ملاتړې ډله د اجتماعي او چاپیریالي مدیریت د شرایطو همغږي او څارنه به وکړي. د دې هدف له پاره له ټاکل شوو مسولیتونو سره د چاپېریال ساتنې د متخصص او اجتماعي حفاظت د متخصص چې د محیطي او اجتماعي مدیریت د چوکاټ او بیا استوګن کېدو د تګلارې د پلي کېدو څارنه وکړي معرفي کېږي او باید ډاډ تر لاسه شي چې د ژوندانه د چاپېریال پلانونه او د مدیریت اړوند پلانونه له هغې سره سم پلي کېږي.

د ساتنې د څانګې او لوړو زده کړو اړوند کارکوونکي، اداري، پلي کوونکي سلاکاران او قراردادیان د محیطي او اجتماعي مدیریت د چوکاټ او د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت په پلانونو کې د عملي کولو په برخه، د زده کړې تر ټرلې سیمې پورې ترلاسه کړي. د ساتنې د برخې کارکوونکي به د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې د رییس په مرسته به د محیطي او اجتماعي اجراآتو چې د لوړو زده کړو د پراختیایي ستراتیژۍ (۲۰۱۵- ۲۰۲۰) له خوا یې ملاتړ کېږي، مسول وي.

## د بیا لیدنې د ارزونې پروسه او د محیطي اغېزو د پلان برابرلو/ د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان

د اجتماعي مدیریت او چاپېریال ساتنې چوکاټ، د محیطیاغېزو کړنلارې، د راپور ورکولو سیستمونه او هغه مسولیتونه چې د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان په بهیر کې به د پلي کوونکو ادارو په واسطه ومنل شي تشریح کوي. په وسایلو او برابر شوو میکانیزمونو کې لاندې توکي شامل دي:

- د فرعي وړاندیز شوو پروژو سروې؛
- هغه ګامونه چې د اجتماعي او محیطیاغېزو له پاره اخیستل کېږي. لکه د محیطیمنظورۍ له پاره غوښتنه او د اړتیا به صورت کې د بیا استوګن کېدو له پاره د یوه کاري پلان برابرول.
- د اجتماعي او چاپیریالي مدیریت له پاره د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان کلنۍ ارزونه؛
- د اجتماعي او چاپیریالي مدیریت د احتمالي فرعي پروژو د اغېزو له پاره لارښودونه؛

- شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم؛
- د اطاعت د منننې میکانیزم ؛ او
- د مسولیتونو او رولونو تشریح کول

د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ، د پلانونو پلي کول یې او د پروسې تیارې چې تر سیمې پورې تړلې دي تشریح کوي.

**د وړاندیز شوو پروژو د پانګونو اجتماعي او چاپیریالي اصلي اغېزې**

د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان د بدو اجتماعي او چاپېریالي ستونزو لامل نه کېږي. یاد پروګرام د سیمه ییزو ناوړه احتمالي چاپیریالي اغېزو لرونکی او تر سیمې پورې تړلی دی چې د ودانیو د بیارغونې، علمي مرکزونو، اړونده آسانتیاوو او روغتیایي خدمتونو پورې اړه لري. دغه اغېزې د ودانیزو توکو د ضایعاتو، خاورې، شور ماشور او د ساختماني کار په بهیر کې د کثافاتو راپیداکېدل، د ساختماني کار د ډېرېدو له امله د کار ګنه ګونه، د کارکوونکو له پاره د لنډ مهاله پنډغالو (کیمپونو) د جوړېدو له امله روغتیایي او اجتماعيي اغېزې او داسې نور دي. دا ډول اغېزې ډېرې څرګندې وي او کولای شي چې په قرارداد کې د مدني چارو او ساختماني منل شوو معیارونو له مخې څرګندې او کمې شي.

د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان له مخې به ټولې زېربناوې به دولتي ځمکو جوړې شي چې د ځمکې استملاک ته به هېڅ اړتیا نه وي. د بیا استوګن کېدو غیر داوطلبانه خطر یا هم د ځمکو استملاک به ډېر لږ وي خو له فزیکي کار څخه مخکې، داسې اسنادو ته اړتیا ده چې له غصب، ناقانونه اوسېدنې او یا هم نورو ناقانونه کړنو څخه د ځمکې پاکوالی وښيي او یاده ځمکه د له اړوندو مراجعوڅخه لېږدول شوې وي.

کولای شئ اغېزې د ساختماني کارونو اړوند د چاپیریالي او اجتماعي اجراآتو په اغېزو چې په مشخصه توګه د فرعي پروژو په څرنګوالي او پراختیا، همداراز په اجتماعي او محیطي شرایطو چې په هغې کې فرعي پروژې رامنځ ته کېږي شته وي. په ټولیزه توګه به د لوړو زده کړو د وړاندیز شوي دویم ملي ستراتیژیک پلان پلي کېدنه، به د پروګرام له پاره ځینې اجتماعي او محیطي اغېزې رامنځ ته کړي. کېدای شي ځینې اغېزې یې منفي او ناوړه وي خو ځینې به یې مثبتې او ګټورې وي.

د ځمکو استملاک به د نویو مدني فعالیتونو د سیمو په څنګ کې چې د حکومت له خوا د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان په جریان کې تمویلېږي، ترسره نه شي. د نویو آسانتیاوو په اړه، د زېربنا پراختیا په هغو ځمکو واقع کېږي چې له مخکې څخه د لوړو زده کړو د وزارت او یا هم دولتي پوهنتونونو په مالکیت کې وي. د داسې عملي کارونو له پیل مخکې، د لوړو زده کړو وزارت به د ځمکې دولتي والی تاییدوي، دوی به داسې اسناد برابروي چې ځمکه له غصب، ناقانونه اوسېدنې، دعوو او یا هم له غیرقانوني تصرف څخه پاکه ده. د شته آسانتیاوو په نوي کولو یا هم د نوو ودانیو په جوړولو سره به د لوړو زده کړو وزارت د معلولو کسانو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره، د نړیوالو معیارونو له مخې برابر کړي.

په ټولیزه توګه، د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان کېدای شي یو څه اجتماعي او محیطي اغېزې ولري. خو، څو نورې فرعي پروژې د حکومت په نورو فعالیتونو او یا هم خصوصي سکتور سره کولای شي ډېره او ارزښت لرونکې اغېزه ولري. دغه اغېزې کېدای شي د کرنې، د ځمکې د اوبو د خالي کېدو یا هم د سطحې اوبو د کثافت د احتمالي له منځه تلو له امله، رامنځ ته کېږي.

**د ګوابنونو د کمېدو له پاره پلانونه**

د ځینو فرعي پروژې د پلي کېدو په عنوان سره به د اړتیا په وخت کې د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلانونه برابر شي. د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلانونه په اغېزمنه توګه پلي کېدل ډاډ ورکوي چې د ضررونو د کمښت وړ اقدامات شوي او یا هم د اغېزو کمښت د وړاندیز شوي فعالیت له مخې ترسره شوي دي. د لوړو زده کړو وزارت به د پروژې له مسولینو او سیمه ییزو دفترونو سرهد ژوندانه د چاپېریال پلاند پروژې په عمومي پلان کې د څارنې له پاره هوکړه وکړي.د وړاندوېینې شوو اغېزو د اواري له پاره د وړاندیز شوو ضررونو د کمښت اقدامات د لاندې توکو د جوړولو او ترسره کولو په اړه دي:

- د کرنې او نوي کار د ځای د پرانيستې برخې بايد ترسره شي څو د خندق د راتلو مخنيوی وشي او خاورې ته ثبات ورکړي.
- د نباتاتو له منځه وړل بايد په پاملرنې سره ترسره شي او هغه ونې چې د پروژې ساختماني کار نه ترې اغېزمن کېږي په ځای پاتې شي.
- په ځانګړې توګه د هغه خوراکي نباتاتو سپارښتنه کېږي چې د خاورې د ساتنې ځرنګوالی ولري، له همدې امله، د سملاسي سبزي پوښښ ته اړتيا ده چې د اوږدمهاله ناتوانی د نه کنټرول لامل کېږي.
- د فضله اوبو د خالي کولو يو اغېزمن سيستم د ناتوانی په کنټرول کې کليدي رول لري چې ارزونې او د ناتوانی پوښښ په مهندسي طرحو کې طرحه شوې دي.
- د فرسايش د کنټرول دېوالونه، ختې، د خاورې د فرسايش د کنټرول له پاره له پوښ پرته د سطحې پوښښ.
- په بنسټ کې بايد سخت مواد وکارول شي، څو ودانۍ په ځمکه محکمه راشي.
- سطحي ژورغالي بايد جوړ کړل شي چې د سيمې د فاضله اوبو په خالي کولو کې مرسته وکړي او د سېلاب مخه ونيسي.
- د مدني چارو سم مديريت له ساختماني فعاليتونو څخه رامنځ ته کېدونکې منفي اغېزې کموي يا يې هم له منځه وړي. د ژوندانه د چاپېريال د مديريت پلان به د پروژې په ټولو پړاوونو لکه (برابرول، ساختماني کار، اجراآت او پای) پلي شی.

همداراز، د ژوندانه د چاپېريال او کليدي سيمو د مديريت د پلان له پاره هوکړې چې څارنه پرې کېږي خلاصه کړي لکه د ژوندانه د چاپېريال د مديريت د پلي کېدو په وړاندې مهم ګواښونه او دا چې دا ډول ګواښونه د څارنې د پلي کېدو په وخت کې څه ډول رامنځ ته شوي چې له مسول کس سره به هوکړه پرې وشي. که چېرې د يوې فرعي پروژې په توګه د سروې د پروسې له لارې وپېژندل شي، د بيا استوګن کېدو د کار پلانول او يا هم د فرهنګي سرچينو، د موکو د ترلاسه کولو د کړنلارو د مديريت پلان او يا هم د ژوندانه د چاپېريال د مديريت د بنسټيز پلان د يوې برخې په توګه برابرېږي.

د بيا استوګن کېدو د کاري پلانونو برابرول
د بيا استوګن کېدو کاري مختصر پلانونه، د هرې پروژې اړتيا ده چې کېدای شي سرچينو ته د لاسرسي خنډ وګرځي. ولايتي دفترونه او يا هم په ولايتونو کې دولتي پوهنتونونه چې د فرعي پروژو د پلي کېدو او پلان جوړونې مسوليت به ولري، له لوړو زده کړو وزارت سره به د بيا استوګن کېدو د پلان په جوړولو کې همغږي ولري.

**شکايتونو ته د رسېدنې ميکانيزم**
د لوړو زده کړو د ملي ستراتيژۍ د دويم پلان، د لوړو زده کړو د پراختيايي پروژې له حساب ورکونې او روڼوالي څخه د ډاډمن کېدو له پاره به د لوړو زده کړو وزارت د شکاياتو د اورېدو له پاره يو داسې ميکانيزم جوړ کړي چې د يو اندازه اهدافو او روښانه مقصدونو په څېر تعريف شوي وي پلي کړي چې د ترلاسه کولو، ثبت او شکايتونو ته د رسېدو له باره ټولې کړنلارې ولري رامنځ ته شي. دغه کار شکايتونو ته د رسېدو د کميټې چې د لوړو زده کړو رييس، د لوړو زده کړو د پراختيا پروژه، د اجراآتو او څارنې ډله، د پروژې سيمه ييز او اجتماعي متخصصين، د اجتماعي منګړيتوب د بورډ رييس، د غيردولتي موسساتو يو غړی او د ټولنې مشر وي رهبري به شي. شکايتونو ته د رسېدو کمېټه بايد د شرايطو او تجربې لرونکي او توانا کسان وي چې وکولای شي د اغېزمنو ټولنو باور او درناوی ترلاسه کړي.

**د وړتيا او زده کړې لوړوالی**

د لوړو زده کړو د اجراآتو او نظارت ډله، د سازماني توافقاتو د ورکولو چې د ژوندانه د چاپېريال د مديريت په چوکاټ کې تعريف شوي دي مرسته کوي. د څارنې او اجراآتو ملاتړې ډله به د ژوندانه د چاپېريال او د اجتماعي حفاظت په برخه کې يو متخصص په کار وګماري چې دوی به د پروژې په بهير کې د بيا استوګن کېدو او ژوندانه د چاپېريال د مديريت د چوکاټ د پلي کېدو مسوليت ولري. هغوی به د اجتماعي او محيطي مديريت له پاره تر سيمې پورې ترلې د پلانونو د برابرولو له پاره که چېرې اړتيا وليدل شي نو د پروژې په جريان کې به د هر ډول جوړولو د فعاليت له پاره به

د کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو او کوم کارکوونکي چې د لوړو زده کړو د وزارت او پوهنتونونو، د اجتماعي او محیطي مدیریت له پاره چې تر پلان او پالیسي پورې اړه لري.د لوړو زده کړو په وزارت کې قناعت کوونکي توافقات ولري او همکاري کوي. هغوی همداراز د لوړو زده کړو او پوهنتونونو کارکوونکي د ګواښونو د کمښت او د اقداماتو د تطبیق او څارنې له پاره همکاري کوي. هغوی به اړونده څانګې د پروژې د اطاعت په اړه د اجتماعي او محیطي مدیریت او ژوندانه د چاپېریال د پلانونو په برخه کې چې د پروژې د پرمختګ په برخه کې به منظم راپور ولري، دا به د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له خوا برابرېږي ترسره کړي.

اړوندو مراجعو ته به بلنه ورکړل شي چې د اجتماعي او محیطي مدیریت د چوکاټ د پلي کېدو په ورکشاپ کې په ۹،۱ جدول کې وړاندیز شوی، ګډون وکړي. د پروژې د څارنې په بهیر کې، د لوړو زده کړو وزارت د نړیوال بانک په ګډون د څو شریکانو په همکاری سره د یاد چوکاټ پلي کېدل په مستقیمه توګه یا هم د دریېمې ډلې په وسیله و ارزول شي او د اړتیا په صورت کې به د ډېر ملاتړ وړاندیز وکړي.

د اجتماعي او محیطي مدیریت په چوکاټ کې د پلي کېدو په وړتیا په پیاوړې کولو له پاره به دوه سازمانه د ظرفیت جوړونې له پاره اړتیا ولري: د ژوندانه د چاپېریال ساتنې ملي اداره او د لوړو زده کړو د وزارت د پالیسی او انجنیرۍ پوهنځي. د زده کړې قسمتي پلان د لوړو زده کړو د پراختیایي پروژې له پاره یو عمومي پلان دی.

د لوړو زده کړو د وزارت او د ژوندانه د چاپېریال د چارو ریاست سیمه ییزې غونډې به، د ځمکو اداره، د ارزښت ټاکل، تنظیم او آسانتیا له پاره ګټورې شي. یاد ورکشاپ به ګډون کوونکو ته د لارښودونو د پلي کېدو په منظور چې د اجتماعي او محیطي مدیریت په چوکاټ کې اساسي لاره، له وړ وسایلو څخه کار اخیستل لکه د سروې پاڼه، د محیطي مدیریت پاڼه او د کلنې راپور پاڼه به د اجتماعي او محیطي مدیریت چوکاټ برابروي. د پېژندلو کورسونه به د پروژې په جریان کې له اړتیا سره سم جوړ کړل شي.

دغه ورکشاپ د تخنیکي تجربې په لرلو سره له وړاندیز شوو موضوعاتو سره ترتیب او مخته وړل شوی او ګډون کوونکي د پراختیا اړوند اجتماعي او محیطي مسایلو سره چې ښه مطالعه او معلومات تر لاسه کړي په بشپړه توګه آشنا کوي.

**ارزونه**

د اجتماعي او محیطي مدیریت چوکاټ، د اجتماعي او محیطي مدیریت د چوکاټ د پلي کېدو لپاره یوه اندازه شاخصونه ټاکي چې د عمومي پروژې څارنه په کې شاملېږي تشریح کوي. سربېره پردې، د محیطي او اجتماعي مدیریت د چوکاټ له پاره د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له خوا یوه کلنۍ ارزونه برابره او د لوړو زده کړو وزارت او نړیوال بانک ته به وړاندې کېږي.

**د پروژې د پلي کولو وړاندیز شوې بودیجه**

هیله کېږي چې په لوړو زده کړو وزارت کې به د اجتماعي او محیطي مدیریت د چوکاټ د پلي کېدو له پاره عملیاتي لګښت د ۳۵۰۰۰۰$ ډالر د پروژې په جریان کې وي چې د دوو کارکوونکو لګښتونه چې ساتونکي او په پوهنتونونو کې د ظرفیت د لوړولو د زده کړې پروګرامونه به وړاندې کوي او همداراز به د اجتماعي او محیطي مدیریت د تطبیق پلان څاري په کې شامل دي. واقعي لګښتونه کېدای شي بدلون وکړي او د اجتماعي او محیطي مدیریت په تطبیق پورې اړه لري چې چېرته او څه ډول ترسره کېږي. د یادو لګښتونو پیسې به د لوړو زده کړو د وزارت د پراختیایي پروژې د تخنیکي مرستې له څانګې واخیستل شي.

**عامه مشورې او د معلوماتو وړاندې کول**

د لوړو زده کړو وزارت د محیطي او اجتماعي مدیریت د چوکاټ برابرول، د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان له پاره د یوه اندازه مشورتي مجلسونو له لارې له اړوندو مراجعو سره تر بحث لاندې نیسي چې د لوړو زده کړو د وزارت استازی ، د ژوندانه د چاپېریال د ملي پالیسی قانون، د کرنې وزارت، اوبو لګولو او مالداری وزارت او د نړیوال بانک له متخصصین به په کې شامل وي د اجتماعي او محیطي د موضوعاتو په اړه غونډه کوي. له نړیوال بانک سره په مشخصه توګه په دې مشوره کوي چې په نورو هېوادونو کې د اجتماعي او محیطي مدیریت په اړه یې تجربې څه دي. همداراز سازماني او نظارتي هوکړې یې د اجتماعي او محیطي مدیریت د تطبیق په اړه خبرو اترو ته وړاندې کوي. د مشورو لاسته

راوړي ښيي چې د وړانديز شوي پانګوني په اړه مثبتې اغيزې شته دي او منفي ممکنه اجتماعي او محيطي اغيزې د ژوندانه د چاپېريال د مديريت د پلان او د بيا استوګني د کاري پلان د پلي کېدو په واسطه په آسانۍ سره ترسره کېږي.

د لوړو زده کړو وزارت به د عامه معلوماتو او معلوماتو د وړاندې کولو له پاره يو ساده سېستم له بېلابېلو موخو سره رامنځ ته کړي، څو له هغو پروسو څخه چې د شکايتونو د ثبت له پاره ضروري دي خبر شي. د لوړو زده کړو وزارت به دغه د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت پراختيايي پروژېد تمويل او تطبيق کېدوله تاييد څخه مخکې چې د څو ارګانونو لکه نړيوال بانک او نورو څخه وي تطبيق شي.

د اجتماعي مديريت او ژوندانه چاپېريال چوکاټ به په پښتو، دري او انګليسي ژبو له خوا تکثير شي او د لوړو زده کړو په وېبپاڼه (www.mohe.gov.af) کې به خپور شي. دغه چوکاټ به له ارزوني مخکې د نړيوال بانک د معلوماتو په دفتر کې په انګليسي او سيمه ييزو ژبو خپور شي.

**لنډ نومونه (Acronyms)**

د افغانستان د معلوماتي مدیریت سیستم(AIMS)

د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF)

د افغانستان د ملي سازی کړنلارې (ANBC)

د افغانستان د لوړو زده کړو ملي ستراتیژي (ANHES)

له پېښو سره د مبارزې د تیاري ملي ریاست (ANDMA)

د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي (ANDS)

د معیارونو په ځانګړې توګه د اغېزمنو اشخاصو اداره (ANSAAP)

د آسیا د آرام سمندر د سیمې د کیفیت په اړه د ډاډ شورا (APQAC)

سوداګریز پلانونه (BPs)

د شکایتونو د اورېدو سیستم(CHS)

د ټولنیزې پراختیا شورا (CDC)

د سیمه ییزو اغېزو ارزونه (EIA)

محیطیاو اجتماعي(E&S)

سیمه ییز خوندیتوب او روغتیا (EHS)

د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ (ESMF)

د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت (ESMP)

د افغانستان حکومت (GoA)

د شکایتونو د اورېدو کمېټه (GRC)

د نوم لیکنې د ټولګي نسبت (GER)

د خاوې د ناتوانی نړیواله ارزونه (GLASOD)

شکایتونو ته د رسېدو میکانېزم(GRM)

د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه (HEDP)

د لوړو زده کړو د پراختیا ستراتیژي (HEDS)

د بشري پراختیا شاخص (HDI)

د نړیوالې پراختیا اتحادیه (IDA)

نړیواله مالي اداره (IFC)

د اوبو د سرچینو عمومي مدیریت (IWRM)

د کرنې وزارت، اوبو لګولو او مالداری (MAIL)

د افغانستان د ماین پاکونې پروګرام (MAPA)

د پوهنې وزارت (MoE)

د لوړو زده کړو وزارت (MoHE)

د ژوندانه د چاپېریال ساتنې ملي اداره(NEPA)

د ژوندانه د چاپېریال ملي معیارونه (NES)

د ادارې او مدیریت ملي انستیتیوت (NIMA)

نادولتي موسسې (NGOs)

د ملي ۱ د لومړیتوب پروګرام (NPP1)

د ښوونې او روزنې د ملي ستراتیژۍ دویم پلان (NESPII)

نایتروجن مونۍکسېډ (NOX)

د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله (OMST)

عملیاتي پالیسي/د بانک کړنلاره (OP/BP)

اجراآت، حفظ او مراقبت(O&M)

د عامه پوهاوي کمپاین (PAC)

د پروژې د همغږۍ څانګه (PCU)

ټاکل شوې موضوع ګانې (PM)

له پروژې څخه اغېزمن کسان (PAP)

پرله پسې ککړوونکې عضوي توکي (POP)

ګډې او په اجراآتو ولاړې هوکړې (PPAs)

د پروژې د پراختیا هدفونه (PDO)

د پروژې د مدیریت د معلوماتو سېستم(PMIS)

سلفر ډای اوکساید (PMIS)

د ژوندانه د چاپېریال وضعیت (SO2)

د پوهنتونونو د ملاتړ پروګرام او د بشري ځواک وده (SoE)

د روغتیا نړیواله اداره (WHO)

اوبه رسول او روغتیا (WSS)

نړیوال بانک (WB)

د ښوونکې د روزنې تخنیکي انستیتیوت(3TI)

اغېزمن کس (AP)

د آسیا د آرام سمندرګي د سیمې له کیفیت څخه د ډاډ شورا (APQAC)

سوداګریز پلانونه (BPs)

شکایتونو ته د رسېدنې سېستم (CHS)

# 1. پیلیزه

دغه د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ سند (ESMF) د افغانستان د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان له پاره (NHESP II) وړاندې کوي او د بیا استوګن کېدو د پالیسی د چوکاټ تر څنګ (RPF) د اړتیا وړ وسیلو د یوه ترکیب په توګه د عمل د دقت له پاره د اجتماعي او محیطي اغېزو مدیریت ته د رسېدو له پاره له یاد شوي پلان سره ترلي برابر شوي دي. د افغانستان د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان د اجتماعي او ژوندانه د چاپېریال د مدیریت چوکاټ په بشپړه توګه تر پوښښ لاندې دی او پرې پلی کېږي.

دغه چوکات د دې له پاره برابر شوی دی چې د نړیوال بانګ د ساتونکي تګلارې لازم شرایط او د افغانستان د حکومت د ژوندانه د چاپېریال کړنلارې وکاروي او د پروژې د ارزونې د بهیر د یوې برخې په توګه یې دې معرفي کړي. د لوړو زده کړو وزارت(MoHE) یو ارګان دی چې د احکامو د پلي کېدو مسولیت او مشخص شوي وړاندیزونه د اجتماعي مدیریت او ژوندانه د چاپېریال په چوکاټ کې په غاړه لري.

## 1.1. د ژوندانه چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ لاره او عمل

### 1.1.1. د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ اهدف

دغه پروژه د (ب) د کتګوری په څېر ډلبندي شوې ده، د نړیوال بانک له ساتونکي تګلارې سره سم د دې هیله نه کېږي کوم فعالیتونه چې تر دې پروژې لاندې باید تمویل شي، ځانګړې محیطي او اجتماعي اغېزې دې ولري. هر ډول وړاندوبینه شوې اغېزې کولای شي په آسانی سره د ګوابنونو د کمښت د مناسبو اقداماتو له لارې او هغه مدیریت چې تر پروژې پورې اړوند فعالیتونه، پلي کېدل او طرحه کېدل په کې شامل دي تر کار لاندې ونیول شي. خو له هغه ځایه چې په اوس وخت کې د دې فعالیتونو پراخوالی او ځای معلوم نه دی او تر ډېره حده تر اضافي مالي سرچینو او راتلونکو ارزونو پورې تکیه لري، د لوړو زده کړو وزارت مکلف دی چې د نړیوال بانګ له مقررې سره سم د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت له پاره یو چوکاټ برابر کړي.

د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ هدف دا دی چې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماع پورې اړوند د یوه اغېزمن مدیریت له پاره د افغانستان د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان یو چوکاټ ( NHESP II) جوړ کړو. دغه چوکاټ د دې په لټه کې دی چې د دې پروژې محیطي او اجتماعي ګټو ته زیاتوالی ورکړي او هر ډول ناوړه اغېزو ته له تګلارو او د افغانستان د حکومت او نړیوال بانګله لاربښودونو سره سم د ژوندانه چاپېریال او اجتماعي پراختیا کموالی ومومي. د هغو احتمالي زیربناوو د ځای او وخت په اړه چې باید تر دې پروژې لاندې تمویل شي د پروژې د تطبیق په بهیر کې به مشخصې شي.

### 1.1.2. د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ برابرول

سربېره پردې، د ځمکې د بالقوه استملاک په اړه او د ځمکو او اوسنیو قوانینو د کموالي په اړه، د لوړو زده کړو وزارت هم د نوي استوګن کېدو (RPF) یوه تګلاره برابره کړې ده. **(لومړی، ضمیمه)**. د بیا استوګن کېدو د تګلارې له چوکاټ څخه هدف دا دی چې هغه اصول، سازماني هوکړې او طراحي شوي معیارونه څرګند کړي چې د لوړو زده کړو د وزارت په واسطه د پانګونې په فعالیتونو په ځانګړې توګه زیربناوو تطبیق شي. په دې ترتیب سره د بیا استوګن کېدو له پاره له یوې جوړېدونکې لارې څخه، د ټولو فعالیتونو له پاره چې د ځمکې په استملاک او د ځای د بدلون له پاره داډ ترلاسه کړي.

د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ هغه عمومي اصول او احکام بیانوي چې باید په هغه کې د ځمکې هر ډول استملاک او بیا استوګن کېدل چې د پوهنتونونو او یا هم د لوړو زده کړو انستیتیوتونو په څېر د پروژې د پلي کېدو چې د لوړو زده کړو وزارت په مرسته به کېږي، پلي شي. د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ د نوي بیا استوګن کېدو دتګلارې

يوه تعديل شوې نسخه وه چې د استملاک د ۲۰۰۹ ز کال د قانون له احکامو او د ځمکو د مديريت د ۲۰۰۸ ز کال او همداراز د نړيوال بانک له ۴،۱۲ عملياتي تګلارې سره سم په بيا استوګن کېدو کې غيرعمدي ده. د بيا استوګن کېدو د تګلارې اصلي چوکاټ د انرژي او اوبو د وزارت په واسطه رامنځ ته شوی او د وزراتونو تر منځ د کمېټې په واسطه د ۲۰۱۰ ز کال په دسمبر کې منظور، وروسته د بېلو وزارتونو او انستيتيوتونو لکه، DABS، د کار او ټولنيزو چارو وزارت، د کانونو او پټرولو وزارت او کابل ښاروالۍ له خوا يې په خپل زړه تيارېږي. د بيا استوګن کېدو د تګلارې حاضر چوکاټ جنوبي آسيا ته د مرکزي آسيا د برېښنا د لېږد (کاسا ۱۰۰۰) د پروژې په بنسټ دی.

### 1.1.3. لاره (ميتودولوژي)

د اجتماعي مديريت او د ژوندانه چاپېريال د مديريت چوکاټ د يوې داسي وسيلې په توګه جوړ شوی چې په اجتماعي او محيطي اغېزو د خبرو اترو له پاره چې په زيربنايي فعاليتونو پورې تړلې وي او د وړانديزونو په پلي کولو سره چې بايد د لوړو زده کړو تر دويم ستراتيژيک پلان لاندې (NHESP II) تمويل شي کارول کېږي. له دې چوکاټ څخه مقصد دا دی چې: (الف) د ازوني، خارني، منظورۍ او د پانګونو د پلي کولو له پاره څرګندې لارې او کړنلارې چې بايد د دې پروژې له خوا څخه تمويل شي، رامنځ ته کوي. (ب) مناسب رولونه او مسوليتونه مشخص کوي او د پروژې د پانګونې په اړه د محيطي او اجتماعي اندېښنو د څارنې له پاره د روښانه او د راپور ورکونې لازمي کړنلارې خلاصه کوي. (ج) د زده کړې اړتياوې، تخنيکي مرستې او د ظرفيت لوړوالی به د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت د چوکاټ د احکامو د ښه او برياليتطبيق له پاره مشخص کوي او (د) د کار وړ او ګټورو معلوماتو سرچينه به د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت د چوکاټ د تطبيق له پاره برابره کړي.

### 1.1.4. د سيمې بيا کتنه او مشورې

د لوړو زده کړو وزارت د افغانستان د لوړو زده کړو (NHESP II)د دويم ملي ستراتيژيک پلان له پاره د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت د چوکاټ برابرول، له بېلابېلو ګډون کوونکو سره د يوه کال پرلپسې مشورو په لړ کې چې د نړيوال بانک د اجتماعي مسايلو او ژوندانه د چاپېريال کارپوهان په کې و خبرې اترې وکړې. په ځانګړې توګه دا چې په نورو هېوادونو کې نړيوال د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت د چوکاټ په اړه کومې تجربې لري، همداراز د سازماني هوکړو او څارنې د توافقاتو په ځانګړې توګه د ژوندانه د چاپېريال د مديريت (EMP) د تطبيق به اړه به چورلي.د مشورتي غونډو لاسته راوړنو وښوده چې تر وړانديز شوې پانګونې پورې تړلې مثبتې اغېزې شته دي او بالقوه منفي محيطي او اجتماعي اغېزې کولای شي په آسانی سره د ژوندانه د چاپېريال د مديريت د يوه پلان له لارې کمښت ورکړل شي. د دې مشورتي مجلسونو خلاصه په شپږمه برخه کې ياده شوې ده.

### 1.1.5. خلکو ته معلومات

د لوړو زده کړو د پراختيا (HEDP)او د نړيوال بانک تګلاره د پروژې په څېړ پروژو له پاره، چې معلوماتو ته د لاسرسي له پاره تينګار کوي او دا چې د ساتنې وړ اسناد بايد تر ارزونې مخکې (الف) د معلوماتو په دفتر کې او (ب) په داسې عامه ځايونو کې چې د ټولو خلکو د لاسرسي وړ وي شريک شي.

د لوړو زده کړو وزارت له خلکو او ګډون والو سره د معلوماتو د شريکولو له پاره يو آسانه سيستم په عامه ځای کې جوړوي چې د هغې پروسې په اړه چې بايد د شکايتونو د ثبت له پاره ترې پيروي وشي خبرتيا ترلاسه کړي. د لوړو زده کړو وزارت به د اجتماعي مديريت او د ژوندانه چاپېريال د مديريت چوکاټ به د څو اړخيزو ارګانونو لکه نړيوال بانک په واسطه مخکې د هرې پروژې تر منل کېدو پلې کړي.

د اجتماعي مديريت او ژوندانه چاپېريال چوکاټ به په پښتو، دري او انګليسي ژبو له خوا تکثير شي او د لوړو زده کړو په وېبپاڼه (www.mohe.gov.af) کې به خپور شي.

## 2. د پروژې تشریح او شالید

### 2.1. په بشپړه توګه د لوړو زده کړو د ستراتیژۍ بیا کتنه

په اوس وخت کې د لوړو زده کړو وزارت د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان (۲۰۱۵-۲۰۲۰) طرحه تر کار لاندې لري. د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان اصلي هدف دا دی چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو د سیستم کنټرول، مدیریت او کیفیت ته لاسرسی وشي.

د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان هدف په افغانستان کې د د لوړو زده کړو د سیستم پیاوړي کول دي چې د افغانستان د پرمختګ او ودې د اړتیاوو ځواب ویونکی وي. همدارنګ د لوړو زده کړو دویم ملي ستراتیژیک پلان د لوړو زده کړو له ارګانونو سره په ځان د بسیا کېدو مرسته کوي چې لایق او د شرایطو لرونکي کسان فارغ کړي. په ځانګړې توګه، د لوړو زده کړو ملي ستراتیژیک پلان غواړي لاندې هدفونه په جمعي توګه د پراختیایي پروګرامونو له لارې لاس ته راوړي:

- د اکادمیکو کارکوونکو د تجربو او پوهې ډېروالی
- د زده کړې او درس ورکولو د لارو چارو پیاوړي کول
- معلوماتي او مخابراتي زېربناوې او د کتابتون سرچینې
- د نویو زېربناوو او تاسیساتو جوړول
- د دولتي پوهنتونونو د څارنې او ارزونې له کیفیت څخه ډاډه کېدل
- په افغانستان کې د لوړو زده کړو دولتي او خصوصي سیستم رامنځ ته کول او وده ورکول، د مالي او اکادمیکو خپلسریو په بنسټ سره او د هېواد د اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو رلرې کول.
- د زده کړو د سرچینو د ښه والي او همدارنګ د مطالعې او څېړنو له پاره له ډاډمنې فضا څخه ډاډه کېدلو له پاره د نویو ودانیو بیا رغونه او جوړول.
- د پوهنتونونو او لوړو زده کړو د انستیتیوتونو د زېربناوو او اکادمیکو پوهنځیو د ظرفیت وده.
- پوهنځیو ته د تلو له پاره، د کانکور د آزموینې له پاره د یوه خپلواک ریاست د جوړولو مرسته چې په نړیواله کچه د کانکور له آزموینې څخه ډاډمن شو.
- د هېواد کورنیو او نړیوالو اکادمیکو اړتیاوو له پاره د زده کړو د یوه ځواب ویونکي نصاب رامنځ ته کول.
- د کار د بازار له اړتیاوو سره سم د نویو څېړنیزو او د زده کړې د سیمو رامنځ ته کول.
- د هېواد د لوړو زده کړو په ارګانونو کې د ماسترۍ او دوکتورا د پروګرامونو د ایجاد له پاره مرسته.
- په پوهنتونونو کې د د تحقیقي او تدریسي لابراتوارونو ښه والی
- په لیلیو (شپه غالو) کې د محصلینو د ژوند او زده کړو د شرایطو ښه والی
- په نړیوالو معیارونو سره د اوږدمهاله اهدافو په توګه د لوړو زده کړو د اررګانونو د کیفیت له ښه والي ډاډه کېدل
- د ولسواکۍ، مساواتو او برابرۍ له اصولو سره سم د بشري حقوقو د اصولو ترویجول

### 2.2. د پروژې هدف

د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان په ملاتړ، د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه د دوو عمده عنصرو په بنسټ ترتیب کېږي: (الف) د لوړو زده کړو د پراختیا پروګرام او (ب) ابتکار، د ظرفیت لوړول، همغږي او څارنه او په مشخصه توګه د لوړو زده کړو د پراختیایي ستراتیژۍ د تطبیق له پاره له لوړو زده کړو وزارت سره مرسته کول دي. دغه عناصر او تر کار لاندې فعالیتونه یې د یوې مشورتي پروسې له لارې البته د لوړو زده کړو وزارت، مالیې وزارت، پوهنتونونو، د لوړو زده کړو ارګانونه، دولتي او خصوصي کار ورکوونکي، اکادمیک او محققین او د ټولو شریکانو په مشوره سره برابرېږي.

## 2.3. د پروژې برخې

**لومړۍ برخه: د لوړو زده کړو د پراختیا پروګرام**
دغه یوه جامع او ستراتیژیکه برخه چې د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان څخه به ملاتړ وکړي. دغه برخه په شپږو نورو برخو تکیه لري:
(الف) د کیفیت ښه والی او د زده کړې او درس ورکولو اړیکې؛
(ب) د اکادمیکو کارکوونکو مسلکي وړتیاوو ښه والی؛
(ج) په عصري توګه جوړول، له کیفیت او باور څخه ډاډه کېدل؛
(د) د لوړو زده کړو د سکتور د اداري د ډول پیاوړي کول؛
(هـ) برابر ګډون رواجول، په ځانګړې توګه د هلکانو او نجونو ګډون؛ او
(و) د نوښت او تحقیق هڅونه. دویمه برخه د تخنیکي مرستي، د څارني او ظرفیت د لوړولو او ارزوني له لارې د لومړۍ برخې په تطبیقولو کې مرسته وکړي. هیله کېږي چې د ظرفیت لوړول به د لوړو زده کړو د وزارت او لوړو زده کړو د انفرادي موسسو په ګټه وي.

**1.1 برخه**: د کیفیت ښه والی او د زده کړې او درس ورکولو اړیکې
په افغانستان کې سملاسي اړتیا ده چې په پوهنتونونو کې د زده کړې او درس ورکولو کیفیف ښه کړل شي. په اوس وخت کې، په پوهنتونونو کې درس ورکول په عمده توګه د معلم د ستني میتود په ډول دی. دغه پروژه له پوهنتونونو سره مرسته کوي چې په پایله ولاړ درسي میتود عملي او داسي تدریسي سیستم رامنځ ته کړي چې شاګرد په کې محور وي. د اکادمیکو کارکوونکو د زده کړې دغه فرعي برخه چې زده کړې یې په پایلو او داسي چې شاګرد په کې محور وي ملاتړ کوي. همدارنګه د زده کړو دا ډول پروګرامونه له پوهنتونو سره مرسته کوي چې له زده کړو او تدریس څخه ورځ په ورځ ډېره ګټه ترلاسه او د ګډې زده کړې په لور حرکت وکړي چې به هغې کې به د دیجیټلي سرچینو په مرسته زده کوونکي له استادانو سره مخامخ اړیکې نیسي.

**1.2 برخه:**د اکادمیکو کارکوونکو د مسلکي وړتیاوو ښه والی
اکادمیک، په شرایطو پوره او لایق کار کوونکي د لوړو زده کړو د هر ډول کیفیت لرونکي سیستم له پاره د ارزښت وړ دي. په دې برخه کې، یو سملاسي پلان شته دی چې د افغانستان په پوهنتونونو کې شته بشري سرچیني وده وکړي. په اوس وخت کې د پوهنتونونو اکادمیک غړي له ۴۰ سلنه لږ د ماسټرۍ او یا له ماسټرۍ لوړې زده کړې لري. سربېره پردې، ډېری اداري او تخنیکي کار کوونکي باید خپلې وړتیاوې لوړې کړي، څو پوهنتونونه په خپلواکۍ سره په ځان متکي او تر مدیریت، کړنلارې او اداري پورې یې وتړي. دغه پروژه به د اکادمیکو کارکوونکو له پاره د بشري سرچینو د پراختیا له پروګرام څخه، د ماسټرۍ او دوکتورا د بورسونو په برخه کې مرسته وکړي. کسانو ته به په ځانګړې توګه ترجیع ورکړل شي: (الف) د مشخص شوو درجو له پروګرام څخه به اکادمیک کارکوونکي د اقتصادي پراختیا له پاره لومړیتوب ولري، او (ب) د پوهنتونونو استاداني. هدف د پوهنتونونو د ټول وخت کاروکوونکي دي.

**1.3برخه:**په عصري توګه جوړول، له کیفیت او باور څخه ډاډه کېدل
د لوړو زده کړو پروژه به له دولتي او خصوصي پوهنتونو سره د سیستم د رامنځ ته کولو په برخه کې د نننی کیفیت ملاتړ وکړي. دا کار به په پوهنتونو کې د داخلي کیفیت د ښه کولو چې اوس یې نه لري شي، په هغو پوهنتونونو کې د داخلي کیفیت جوړوني د واحدونو رامنځ ته کول چې د ابتدایي واحدونو لرونکي دي، په پوهنتونونو سره د طرحې په برخه کې مرسته کول، پلان جوړونه او سازماني ارزونو ترسره کول، د پوهنتونونو د پراختیایي پلانونو د طرحې او تطبیقولو له پاره د پوښتنو او ځواب ورکولو له ارزونو څخه د لاسته راوړنو راوړل او په پوهنتونونو کې د زده کړو او تدریس د پرله پسې کیفیت د پروسې د ښه والي بنسټیزه کول دي. له کیفیت څخه د ډاډ ورکولو د واحدونو سیستم به د ملي او نړیوالو تجربه لرونکو ارزوونکو له ملاتړ څخه د لوړو زده کړو د پراختیایي پروژې د تمویل له لارې برخه من شي.

په ملي کچه، د لوړو زده کړو د رياست پراختيا پروژه به د کيفيت او باور د ډاډ له پاره د يوې نړيوالې شبکې په ملاتړ او اعتبار(لکه، د آسيا د آرام سمندرګي د سيمې له کيفيت څخه د ډاډ شورا (APQN)) به د ارزولو او تخنيکي معلوماتو د وړاندې کولو په برخه کې مرسته وکړي. د دولتي او خصوصي پوهنتونونو له پاره به د اعتبار سيستم هم رامنځ ته شي، البته د پروتوکولونو او کړنلارې له لارې به د لوړو زده کړو د وزارت د کارکوونکو د زده کړې چې وکولای شي د جواز د صادرېدو او ثبت کليدي پړاوونه، له کيفيت څخه ډاډ او په پای کې د موسسو په وړاندې باور پيداکول هم د روښانه معيارونو له مخې و ارزوي او مخته يوسي. د کيفيت، باور جوړولو او د ګډو هڅو له پاره د ډاډ له نړيوالو شبکو سره، د ډاډ د يوه خپلواک رياست جوړول، د دې له پاره چې کيفيت او ارزښت د ډاډ په برخه کې و ارزوي. دا چې په افغانستان کې د دولتي او خصوصي لوړو زده کړو د موسسو باور پيداکولو پروسه، له منل شوو نړيوالو معيارونو سره سم مخته يوړل شي مرسته کوي.

## **1.4 برخه:**د لوړو زده کړو د سکتور د اداري د ډول پياوړي کول

اوس وخت په افغانستان کې د لوړو زده کړو د اداري ډول تر ډېره مرکزي دی. غيرمرکزي اداري ډول ته د لوړو زده کړو د سيستم بدلول چې له مخې يې پوهنتونونه له اکاډميک، کړنلارې او مالي پلوه ډېره خپلواکي ولري، د تګلارې له مخې څنګه چې د لوړو زده کړو به د ملي ستراتيژۍ په دويم پلان کې يې انعکاس کړی د لوړو زده کړو يو مهم هدف شمېرل کېږي. دې هدف ته د رسېدو په برخه کې به له څو اصلي لارو د نوموړې پروژې ملاتړ وشي. لومړی، دغه پروژه پوهنتونونه د پراختيايي ستراتيژيکو پلانونو د برابرولو او تطبيق په برخه کې چې ليدلوری، ماموريتونه او فعاليتونه يې د يوه منځني مالي چوکاټ په ګډون، د لوړو زده کړو د دويم ملي ستراتيژيک پلان سره سم په څرګنده توګه بيانوي، ملاتړ کوي. د کار د پرمختګ کلني راپورونه اجازه ورکوي چې د کار له پرمختګ او له ابتدايي هدفونو څخه د سرغړونې په صورت کې د لازمو اصلاحي اقدامونو په نيولو سره منظمه څارنه کېږي.

دويم، د پوهنتونونو سازماني پراختيا به د استادانو او سلاکارانو د يوه پروګرام له لارې پياوړې شي. د پوهنتون مخکښ استادان به د پوهنتونونو د ستراتيژيک پراختيايي پلانونو اهدافو ته د لاسرسي له پاره د زده کوونکو په څېر عمل وکړي. له استادانو هيله کېږي چې د پوهنتون له مخکښو مسولينو سره نيږدې اړيکې ټينګې کړي. خپلواکي به تر تشويقي کړنلارو پورې تړلې او په ځان متکي وي. په ځان متکي خپلواکي به د پوهنتونونو تر منځ د درسي پروګرامونو، د ارزونې په لارو کې لازم بدلونونه، د زده کړې او درس ورکولو فعاليتونه او همدارنګه د درسي موادو لرونکې وي.

دريېم، له پوهنتون سره به ياده پروژه، د پوهنتون په کچه د لازمو مديريتي وړتياوو، لکه پلان جوړونه، بوديجه جوړولو، اداره، تهيه او تدارکات، مالي مديريت او څارنې په برخه کې مرسته وکړي. د پوهنتونونو دغه ملاتړ به د ډېرې خپلواکۍ لور ته د تللو او همدارنګه ترلاسه شوی صلاحيت، تحقيق، د يوه منشور له خوا برابر شوي پراختيايي کورسونه او مشورتي خدمتونو له لارو څخه ګټه اخيستل چې په وروستيو کې د پارلمان له خوا تصويب شوي مرسته کېږي.

څلورم، د ستراتيژيکې پلان جوړونې‌نه موجوديت له امله، د بوديجې اجرا او برابرول، مديريت، د لوړو زده کړو د نظام له اصلاحاتو څخه د ملاتړ اداره او د لوړو زده کړو په وزارت کې به د ستراتيژيکې پلان جوړونې يو وړوکی دفتر جوړ کړل شي. دغه دفتر به له پوهنتونونو سره د خپلواکۍ په لور د تلو مشوره او مرسته کوي او په عيني حال کې به د ځواب ورکولو کافي سطحې وساتي.

## **1.5برخه:د برابر ګډون ترويجول**

د لوړو زده کړو په وزارت د پام وړ فشار شته دی چې په پوهنتونونو کې د شاګردانو د شموليت کچه لوړه کړي، ځکه چې په اوس وختونو د شاګردانو د جذب کچه ډېره ټيټه ده. د لوړو زده کړو وزارت په نظر کې لري چې د لوړو زده کړو په دولتي او خصوصي موسسو کې د شموليت کچه لوړه کړي خو سره له دې چې د بې کنټروله ډېر شموليت څخه چې د کيفيت له ګواښونو سره به مخ وي هم په وېره کې دی. همداراز، د لوړو زده کړو د وزارت د ستراتيژۍ لومړيتوب د کار له بازار سره تړلی دی. د افغانستان د حکومت د لوړو زده کړو د پراختيا پروژه به د يوې مناسبې پروژې د تطبيق له پاره د پلان جوړونې د پروسې او د شاګردانو د جذب د پراختيا د مديريت په برخه کې مرسته کوي. د زده کړو له پاره به په پوهنتونونو کې د نجونو د ګډون د محدوديتونو د کمښت له پاره به ډېر اقدامات وشي. د پروژې د تيارېدو په بهير کې مشورې ښيي چې د نجونو د فعال ګډون د پرمختګ له پاره ډېر

عوامل شته دي چې پوهنتون ته تر تلو مخکې د ښځو د پوهېدو له پاره پروګرامونه لکه امنیت او ټرانسپورت، د اوسېدو مناسبې آسانتیاوې او روغتیا شامل دي. په تحصیلي پروګرامونو کې له بې وزله محصلو نجونو سره مالي مرسته چې دا هم د دې هدف د ترلاسه کولو له پاره یو ګټور ګام دی. د یوې پروژې له خوا به د دې فعالیتونو ملاتړ وشي. فزیکي آسانتیاوې او لازم تجهیزات، کله چې د شمولیت کچه لوړېږي، د لوړو زده کړو د وزارت د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان له خوا به برابر شي.

**1.6برخه: د څېړنې او نوښت دودول او هڅول**

د څو لسیزو جګړو له امله د پوهنتون ډېرى تکړه استادان او په پوهنتونونو کې د څېړنې فرهنګ له منځه تللى دى. د لوړو زده کړو وزارت په نظر کې لري چې د څېړنې فرهنګ یو ځل بیا رامنځ ته کړي. د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه به د لوړو زده کړو وزارت د دغه پروګرام له بېلابېلو لارو څخه ملاتړ وکړي.د فوق لسانس تحصیلي بورسونو له پاره، د پوهنتونونو او زده کړو له پاره د تحقیق بودیجه چې اکادمیک کارکوونکي تحقیق په کې وکړي، په نظر کې نیول شوې ده. دغه پروژه به همداراز د تحقیق د یوه رقابتي وجهي صندوق د جوړولو له پاره هم مرسته وکړي. دغه بودیجه به د تحقیق متفکرانه پروګرامونه چې د ماسترئ او دوکتورا د پروګرامونو نوماندان، په بهر کې له پوهنتونونو سره تحقیقي ګډون، د تحقیق له لارې د پوهنتونونو د عوایدو ډېرېدل او فعالیتونو ملاتړ به وشي. یاده بودیجه به د دولتي پوهنتونونو او د خصوصي لوړو زده کړو د موسسو په وړاندې سیالى ته وړاندې شي. د معیارونو کړنلارې، په یوه لارښود کې عیني او رڼېتاکنې چې کېدای شي د پروژې د تطبیق په لومړي کال کې برابر شي چې د نړیوالو منل شوو معیارونو انعکاس کوونکى دى، تشریح شي.

**دویمه برخه:د پروژې د مدیریت، ظرفیت لوړولو، څارنې او ارزونې برخه**

د دې برخې مقصد دا دى چې د لوړو زده کړو او پوهنتونونو وړتیا لوړه کړي چې د زده کړو د پراختیا د پروژې اهدافو ته ورسېږي. دغه برخه د لاندې سیمو ملاتړ کوي: د پروژې همغږي، تخنیکي مرسته، څارنه او ارزونه، څېړه او د تګلارې مطالعې او محکمه غوښتنه او اړیکې. د تګلارې مطالعې کولاى شي د ګټه اخیستونکو د خوښې سروې ګانې که هغه د لوړو زده کړو شاګردان او که کار کوونکي دي او همدارنګه د دې پروژې له خوا ملاتړ شوي کسان او د فارغینو په اړه مطالعې اړینې دي چې په بازار کې یې د کار تجربه څنګه ده.

د محکمې غوښتلو او اړیکو له پاره سرچینې کولاى شي د لوړو زده کړو د موسسو مالکان په دې وتوانوي، ډاډ ورکړي چې د دوی د پراختیا نوښتونه په مناسبه توګه چاراوکو، پالیسي جوړوونکو، د پوهنتون اکادمیک غړي او محقیقین، شاګردانو او له عامو خلکو سره شریک کړل شي. همداراز دا برخه له لوړو زده کړو وزارت سره مرسته کوي چې د پالیسي اصلاحات لکه د آزموینتي ابتکاري ارزونو پروګرام چې څه ډول کولاى شو نجونې د لومړیتوب په پروګرامونو کې شاملې کړو. دغه برخه له اجراآتو او څارنې څخه د ملاتړ عملیاتي لګښت چې ټاکل شوې ده د لوړو زده کړو په وزارت کې رامنځ ته شي، برابر کړي.

### 2.4 له پروژې ګټه اخیستونکې کسان

په پوهنتونونو کې ډېرى افغان ځوانان د پوهنتونونو استادان، د پروژې د مدیریت د برخې کارکوونکي به د فعالیت په جریان کې ګټه ترې واخلي. ډېرى غیرمستقیم ګټه اخیستونکې په لاندې ډول دي: (الف) د خصوصي سکتورونو کار کوونکي چې وبه کولاى شي لایق او د شرایطو وړ فارغین په مسلکي، مدیریتي او فني دندو وګماري، (ب) د افغانستان حکومت چې وبه کولاى شي تکړه فارغین د ملکي خدمتونو او د عامه خدمتونو په بېلابېلو برخو کې په کار وګماري، (ج) د پوهنتونونو د کارکوونکو او راتلونکي نسل د شاګردانو چې د لوړو زده کړو د سیستم له رامنځ ته کېدو څخه به ګټه اخلي، (د) د خدمتونو او اجناسو وړاندې کوونکي چې له پروژې سره به تمویل شي.

## 2.5 وړاندیز شوې پانګونې

د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه به د پانګونې د تمویل له سند څخه د تمویل د مدل په بنسټ چې په پایلو به ولاړه وي استفاده وکړي. تر لومړۍ برخې لاندې (په پایلو ولاړه د تمویل برخه)، دلوړو زده کړو د وزارت په کلنۍ بودیجه کې د مشخصو اساسي اقلامو په وړاندې د پروژې طریقې (د لګښت د شرایطو وړ پروګرامونه) تر مشخصو پیسو پورې ورکړل شوې او تر اړونده توافق شوو شاخصونو له مخې به تنظیم کړل شي. لومړۍ برخه، د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان له پراختیایي پروګرامونو څخه ملاتړ کوي او په پایلو ژوره کتنه کوي. نړیوال بانک، له همکارو حکومتي ادارو سره په مشوره، د لوړو زده کړو د سکتور بشپړ پروګرام او د لګښت د شرایطو لرونکي ټاکل شوي پروګرامونه چې د لوړو زده کړو د بودیجې د نه برابرښت په اقلامو خبرې اترې کوي. د لګښت د شرایطو لرونکي ټاکل شوي پروګرامونه عبارت دي له (الف) معاشونه او سهمیې، (ب) بورسونه، (ج) د څیړنې له پاره مرستې. دویمه برخه د دودیزې پروژې د پانګونې د تمویل په توګه ورکوي او د لومړۍ برخې فعالیتونه بشپړوي.

سره له دې چې د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه مدني کارونه په مستقیمه توګه نه تمویلوي، هیله کېږي چې د حکومت د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژي د دویم پلان په پوهنتون کې د لکچر د کوټو، د معلوماتي تکنالوژۍ مرکزونه، لابراتوارونه، کتابتونونه، اوبه، روغتیا، د اوسېدو سیمې، د موجودو آسانتیاوو نوي کول، لیلیه، په ځانګړې توګه د نجونو له پاره د ټول هېواد په کچه په څو پوهنتونو کې، د جوړولو له پاره، مرسته وکړي. دغه فعالیتونه د ساده ودانیو د جوړولو او مدني چارو له پاره و چې د جوړولو طرحه یې پېچلې نه وي.

د دې ډول فعالیتونو پراخي او موقعیت معلوم نه دی چې تر ډېرې کچې د لاسرسي وړ ډېرو مالي سرچینو او راتلونکو ارزونو اتکا کوي. هیله کېږي چې محیطي بالقوه اغېزې او زېربنایي فعالیتونه چې باید د حکومت تر پروګرامونو لاندې یې ملاتړ وشي، معتدل او سیمه ییز وي. د دې پروژې تر دویمې برخې لاندې د تګلارې د طرحې د ملاتړ، د پروژې مدیریت، څارنه او ارزونه او تخنیکي مرستې فعالیتونه تمویل کېږي.

د ښار جوړولو د نویو فعالیتونو په بنسټ، حکومت د لوړو زده کړو د پروژې د تطبیق په جریان کې د ځمکې هېڅ ډول استملاک نه تمویلوي. په ځانګړې توګه نوې آسانتیاوې، په ځمکه د زېربناوو پراختیا چې تر دې وړاندې د لوړو زده کړو د وزارت او دولتي پوهنتونونو په ملکیت کې واقع شوي وي ترسره کېږي. د فزیکي کار تر پیل مخکې، د لوړو زده کړو وزارت د ټاکل شوې ځمکې دولتي مالکیت تصدیقوي. همدارنګه اسناد برابروي چې وښیي ځمکه له هر ډول غصب او نورو ستونزو پاکه ده. د موجودو آسانتیاو یا هم نویو ودانیو په جوړولو او بیارغونه کې، د لوړو زده کړو وزرات لازمې آسانتیاوې برابروي، څو د معلولیت لرونکو کسانو اړتیاوې له نړیوالو معیارونو سره سمې رفع کړي.

### 2.5.1 له پروژې بهر فعالیتونه

د فرعي پروژو ملاتړ چې د لاندې لیست شوو ځانګړتیاوو لرونکې وي، د لوړو زده کړو تر پراختیایي ستراتیژۍ (۲۰۲۰-۲۰۱۵) لاندې په افغانستان کې د منلو وړ دي.

| عمومي ځانګړنې |
| --- |
| د کتنې وړ طبیعي مهمو ځایونو بدلون او یا ویجاړول، نه هر ډول فعالیتونو لکه:<br>▪ د وحشي الوتوکو د را ټولېدو د ځای ولاړې اوبه؛<br>▪ د آجر دره (وړاندیز شوې) د وحشیانو تر ژوند پورې ځانګړې شوې؛<br>▪ د ناور دښته د وحشي الوتونکو د اوسېدو سیمه؛<br>▪ لوی پیغمبر (وړاندیز شوی) د وحشي حیواناتو پناه ځای؛<br>▪ د امیر بند ملي پارک؛<br>▪ د حشمت خان کول(وړاندیز شوی) د وحشي حیواناتو پناه ځای؛ |

| عمومي ځانګړنې |
| --- |
| |
| د فرهنګي ځمکو ويجاړول نه منونکي تکرار، هر ډول فعاليت نه چې لاندې سيمې ترې اغېزمنې شی:<br>▪ د هرات تاريخي ودانۍ (د جمعه مسجد په ګډون، د سراميکي کاشيو کارخانه، د مصلاح مجتمع، پنځه مناره، د ګوهرشاد مقبره، علي شېر نوابي او د شهزاده ګانو د مقبرو مجموعه)؛<br>▪ د باميانو تاريخي ودانۍ (د فولادي په ګډون، ککرک، د غلغلې ښار او ضحاک ښار)؛<br>▪ د آی خانم تاريخي سيمه؛<br>▪ د غزني سيمې او تاريخي ودانۍ؛<br>▪ د جام منار؛<br>▪ د حاجي پاينده مسجد / نهه ګنبدې، د بلخ ولايت؛<br>▪ د ګلدرې ستوپه او ګنبده؛<br>▪ د لښکري بازار تاريخي ودانۍ او سيمې، بوست؛<br>▪ د سره کوتل تاريخي سيمې |
| د ځمکې غيرارادي استملاک / بېړه لازمه ده او يا هم دخلکو هر ډول بيا استوګن کېدل |
| د ناکاره پرې شوي لرګي کارول يا هم د سون لرګي په کې شامل دي. |
| زيان لرونکې مادې په کې شاملې دي. |

## 3.محیطي کلیدي مسائل

### 3.1 اجتماعي او محیطي ابتدایي اطلاعات

افغانستان د (افغانستان اسلامي جمهوریت) په نوم سره تر وچې پورې تړلی هېواد دی چې د آسیا په مرکزي او جنوبه خوا کې موقعیت لري. دغه له ۳۰ څخه تر ۳۵ میلیون پورې نفوس لري. تقریباً ۸۰ سلنه نفوس یې په مستقیمه توګه د اکو سیستم په خدمتونو ولاړ دی، له بده مرغه چې د اکو سیستم خدمتونه په افغانستان کې په سختی د مدیریت په سطحه پېژندل کېږي. (GEF-NEPA-UNEP-2009). هغه عمده خنډونه چې په اوس وخت کې افغانستان ورسره لاس او ګرېوان دی، عبارت دي د دې سرچینو په لګښت کې له افراط څخه کار اخیستل، لکه (ځنګلونه او اوبه)، طبیعي آفتونه، طبیعي سرچینو ته لږ لاسرسی، د توغندیو په زهري موادو سره د سون د توکو ککړتیا، د تېلو تیت پرک کېدل، ځمکني ماینونه او د ځمکې د بې ثباته کاروني چټک بدلونونه. د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي ANDS 2008 لومړیتوب لرونکي محیطي مسائل چې پاملرنې او کړنې ته ډېره اړتیا لري، مشخص کړي دي:

- د اوبو سرچینې
- څړځایونه، ځنګلونه او د اوسېدو بېلابېل ځایونه
- له ځمکې، خاورو او کرنې څخه استفاده کړل
- د ژوندانه ښاري چاپېریال
- طبیعي فاجعې او د اقلیم بدلون

د معلوماتو د کمښت له امله سخته ده چې په اوس وخت کې د افغانستان د ژوندانه د چاپېریال یو روښانه تصویر ترلاسه کړو. د ژوندانه د چاپېریال او پراختیا په اړه د سرچینو د ککړوالي او همدارنګه یې له ناروغیو او د خلکو له روغتیا سره د اړیکو په اړه لېږد او ترل چې په دې کې شک او تردید ډېر شته دی. د ځمکې د ککړتیا د ناتوانی ډېرېدل، همدارنګه د هغې معلوماتو اقتصادي پایله هم په لاس کې ده.

### 3. د ژوندانه د مدیریت طریقې او لازم شرطونه

دغه سند د نړیوال بانک له حفاظتي تګلارې، د افغانستان د اسلامي جمهوریت او څنګه چې لاندې خلاصه شوې ده، سره سم جوړه شوې ده. په داسې ځای کې چې د ننیو مقررو او نړیوال بانک د تګلارې تر منځ یو تفاوت شته وي، د نړیوال بانک تګلارې ته ترجع ورکول کېږي.

### 5.1. د نړیوال بانک حفاظتي شرطونه او تګلارې

د لوړو زده کړو د پراختیا پروژه په دې فرضیې سره چې هیله نه کېږي، د وړاندیز شوو فعالیتونو ډول دې څرګند ناوړه محیطي او اجتماعي اغېزې ولري او هغه اغېزې چې پېژندل شوې دي کولای شي د کمښت ورکوونکو او کافي نظارتي، محیطي او اجتماعي اقداماتو له لارې ترسره شی. د (ب) په کټګورۍ کې د ژوندانه د چاپېریال ارزونې ځای به ځای شوې دي. د تطبیق وړ دوې تګلارې عبارت دي له:

د بیا استوګن کېدو ۴,۱۲ عملیاتي تګلاره په داوطلبانه توګه ترسره کېږي. د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان له مخې تولې زېربناوې په دولتي ځمکه جوړېږي، په دې برخه کې هېڅ استثنا نشته چې دغه پروژه به د ځمکې استملاک تمویل کړي. له همدې امله په نظر کې ده چې د بیا استوګن کېدو غیرارادي احتمالي ګواښ، یا هم د ځمکې استملاک ډېر لږ دی. د نویو آسانتیاوو په اړه، د زېربنا پراختیا په داسې یوه ځمکه کېږي چې تر دې وړاندې د لوړو زده کړو، دولتي پوهنتونونو او یا هم نورو دولتي ځمکو په ملکیت کې وي. د همداسې زېربنا د جوړولو په پیل کې به د لوړو زده کړو وزارت د ځمکې تصدیق راوړي او داسې اسناد به وړاندې کوي چې نوموړې ځمکه د غصب او نورو ستونزو څخه پاکه ده.

خو په ډېرو لږو پېښو کې، چېرته چې د ځمکې استملاک لازمي وي، د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ د بیا استوګن کېدو یوه تګلاره تر کار لاندې نیسي چې په هغې کې د پانګې د استملاک، ځمکې، استحقاق او جبرانول، د افغانستان له اوسنیو قوانینو له احکامو سره سم د ځمکې د مصادرې، له پاره لارښودونه چې احکام یې په ۲۰۰۹ ز کال کې نافذ شوي او د ځمکنیو چارو د مدیریت قانون ۲۰۰۸ ز کال (چې دواړه تر تعدیل لاندې دي) او همداراز د نړیوال بانک د ۱۲.۴ عملیاتي تګلارې سره سم چې په غیر ارادي توګه بیا استوګن کېدل په کې شامل دي. په هغه ځای کې چې دولتي ځمکه د ودانۍ د جوړول له پاره په کارېږي، اسناد به یې دا ښیي چې دغه ځمکې له ناقانونه اوسېدونکو او نورو ګډوډۍ راوړونکو مسایلو څخه پاکه ده، پر دې سربېره د ځمکې په قانون کې ځینې کمزورۍ هم شته دي. د دوی عمده کمزوري دا حقیقت دی چې تر اوسه یوازې یو پر دریو برخه ځمکې د املاکو په دفتر کې ثبت شوې دي او دا چې په ښاري سیمو کې ډېرې ځمکې تر عرفي قوالي لاندې په غیررسمي توګه ودانې دي.

د لوړو زده کړو د وزارت له خوا د بیا استوګن کېدو د تګلارې (RPF)چوکاټ، د اوسنۍ تګلارې د چوکاټ په اساس چې د بېلابېلو وزارتونو له خوا لکه (د کلیو د پراختیا او بیارغوني وزارت، د اوبو او برېښنا وزارت، د کابل ښاروالي) رامنځ ته شي، طرح شوی دی. په قانون کې (چې اوس تر تعدیل لاندې دی) د اوسنیو نیمګړتیاوو په نظر کې نیولو سره، د لوړو زده کړو وزارت د سکتوري بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ د اوسني بیا استوګن کېدو د تګلارې په بنسټ برابره شوې ده. (لومړی ضمیمې ته مراجعه وکړئ.)

(۴,۱۱ عملیاتي تګلاره) فزیکي او فرهنګي سرچینې نه ترسره کېږي او د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ د یوه منفي لیست لرونکی دی چې په هغه کې ټول هغه فرهنګي میراثونه او سیمې چې په هغې کې د فعالیت اجازه نشته لیست شوې دي. د افغانستان د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان مدني چارې کېدای شي چې فزیکي او فرهنګي چارې او درېیمه ضمیمه وګوري. د ۶مې شمېرې تخنیکي لارښود، د نړیوال بانک له تګلارو او د افغانستان له نافذه قوانینو سره سم د آثارو د کتلو له پلاره کړنلارې لري. د اجتماعي مدیریت چوکاټ، ژوندانه چاپېریال او د سیمه ییزو اغېزو د برابرولو چې د بالقوه اغېزو د ارزونې، فزیکي او فرهنګي سرچینو او د آثارو د کتنې له پاره به لارښودونه ولري.

[د ژوندانه د چاپېریال ارزونه (عملیاتي تګلاره/ د بانک کړنلاره /GP 4.01)]

دا چې وروستی ټاکنه او د ساتنې او جوړولو پرلپسې فعالیتونو مفصلې طرحې د ارزونې په وخت کې نه مطرح کېږي، د ښاري خدمتونو ځانګړنې او دقیق موقعیتونه تر اوسه هم باید مشخص کړل شي، په همدې سره یو کاري چوکاټ جوړېږي چې بالقوه سیمه ییزې او اجتماعي اغېزې او ورانډیز شوي فعالیتونه مدیریت کړي. نو ځکه هم د ژوندانه تر چاپېریال پورې اړوند ځینې سندونه، یعنې (الف) د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ او (ب) له بهترینو نړیوالو تګلارو سره سم د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ، همداراز د نړیوال بانک حفاظتي تګلاره او د افغانستان د حکومت له مقرراتو سره برابره شوې ده. د عملي لارښودونو دغه اسناد تر راتلونکو فرعي پروژو پورې اړوند د اجتماعي او محیطي بالقوه مسایلو د مدیریت له پاره د افغانستان د لوړو زده کړو تر دویم ملي ستراتیژیک پلان لاندې او همدارنګه د لوړو زده کړو د وزارت (NHESP II) ټولې پروژې برابروي.

د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ سند د لوړو زده کړود وزارت په واسطه کارول کېږي څو ډاډ ترلاسه شي چې اجتماعي او محیطي حفاظت په کافي اندازه په نظر کې ونیول شي. د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ اصلي موخه دا ده چې (الف) د ژوندانه د چاپېریال او اجتماع د ارزونې، څارنې، منظورۍ او پانګونو د تطبیق له پاره چې باید تر دې پروژې لاندې تمویل شي، څرګندې کړنلارې او طریقې ولري، (ب) مشخص مسولیتونه او دندې مشخصوي او د مدیریت له پاره د راپور ورکونې لازمي کړنلارې او د محیطي او اجتماعي څارنې د اندېښنو اړوند به د پروژې له پانګونې سره طرحه کړي، د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت، د زده کړې د پروګرامونو او وړتیا د لوړولو د احکامو د بریالي تطبیق له پاره به لازمي تخنیکي مرستې وټاکي، او (د) د کار وړ معلوماتي سرچینې به د اجتماعي مدیریت او ژوندانه د چاپېریال د تطبیق له

پاره برابر کړي.

## 4.2 د افغانستان د ژوندانه د چاپېریال د مدیرت له پاره حقوقي چوکاټ او تګلاره

اړوند لومړني قوانین او مقررات چې اجتماعي او محیطي مسایل په ځنګ کې نیسي عبارت دي له: د افغانستان د ژوندانه د چاپېریال قانون (۲۰۰۷) ز کال، د ژوندانه د چاپېریال ملي ستراتیژي (۲۰۰۸)، د ژوندانه د چاپېریا د اغېزو د ارزونو ملي مقررات، د اوبو قانون (۲۰۰۹)، د اوبو د سکتور اړوند د افغانستان د حکومت ستراتیژي، د ځمکې د صادرېدو قانون (۲۰۰۵) او د تاریخي او فرهنګي میراثونو د ساتنې قانون (۲۰۰۴).

### 4.2.1 د افغانستان د ژوندانه د چاپېریال قانون (۲۰۰۷)

د افغانستان د ژوندانه د چاپېریال قانون چې په ۲۰۰۷ ز کال کې په رسمي توګه تصویب شو، په بشپړه توګه یو جامع قانون دی چې د طبیعي سرچینو د مدیریت ډېر بعدونه تر پوښښ لاندې لري. دغه قانون همداراز تاکید کوي چې د تلپاتې پاینښت، بیارغونې، تاریخي میراثونو د ساتنې، ځنګلونو، څړځایونه او ټولې طبیعي سرچینې، د هوا د ککړتیا مخنیوي او کنټرول او له منفي اغېزو څخه د ژوندانه د چاپېریال د بیارغونې او ساتنې له پاره پلان جوړونه، باید چې له ځمکې څخه د کار اخیستو د ټولو ملي او سیمه ییزو پلانونو او د ټولو وزارتونو او ملي ارګانونو له خوا د طبیعي سرچینو د طرحه شوو پلانونو له پاره یو الزامي عنصر ولرو. (۲۳ مه ماده). همداراز د افغانستان د ژوندانه د چاپېریال قانون د سیمې د ساتنې او لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژۍ د پراختیا له پاره یو بشپړ چوکاټ (۲۰۲۰-۲۰۱۵) برابروي.

سربېره پردې، دا قانون څرګندوي چې د سیمې خلک باید د طبیعي سرچینو د مدیریت له پاره د تصمیم نیونې په بهیر کې شامل شي (۲۳ مه ماده، ۱۰ مه فقره) او اغېزمنو کسانو ته باید فرصت ورکړل شي چې د دې پروژې په هر پړاو کې برخه واخلي (۱،۱۹ ماده)

### 4.2.2 د ژوندانه د چاپېریال ملي ستراتیژي (۲۰۰۸)

د ژوندانه د چاپېریال ملي ستراتیژي د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ یوه برخه ده چې د ستراتیژۍ یو لاربنود د امنیت، حکومت دارۍ، اقتصادي ودې او فقر د له منځه وړلو مسایلو ته د رسېدنې تګلاره برابروي.

د ژوندانه د چاپېریال د ملي ستراتیژۍ هدف د افغانستان په انکشافي پلان کې د ژوندانه د چاپېریال تګلارې او اندېښنو له منځه وړل دي. د تلپاتې اقتصاد او پراختیا د دغې شریکې ستراتیژۍ هدف له زوال پرته په طبیعي محیط ټینګار کوي او همداراز په سکتوري تګلارو کې د محیطي ستراتیژۍ مسائلو په شاملولو ټینګار کوي، تر دې چې د پروژو په ډیزاین، تطبیق او څارنه کې په نظر کې ونیول شی. همدارنګه دغه ستراتیژي د چاپېریال ساتنې مسائلو ته د رسېدو له پاره په پراختیایي پروژه کې له یوې څېړنیزې کړنلارې څخه د تصمیم نیونې په بهیر کې ملاتړ کوي تر دې چې د ژوندانه د چاپېریال منفي اغېزې کمې شي.

### 4.2.3 د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې ملي مقررات

د ژوندانه د چاپېریال د ارزونې مقررات د ژوندانه د چاپېریال د قانون له ۲۲ مې مادې سره سم صادرېږي او منفي اغېزه لرونکو فعالیتونو سره تطبیق کېږي. د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې مقررات د چاپېریال ساتنې ملي ادارې (NEPA) ته اختیار ورکوي چې د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزونې د هغو پروژو له پاره چې بالقوه محیطي منفي اغېزې لري، وارزوي او یوه د تطبیق تصدیق پاڼه صادره کړي او یا یې هم صادره نه کړي. همداراز د ژوندانه د چاپېریال قرارادیان او تطبیقوونکی اداري هڅوي چې د پروژو د فعالیتونو د منفي اغېزو د کمښت په وخت کې تر ټولو ښې نړیوالې لارې عملي کړي.
همدارنګه د ژوندانه د چاپېریال ملي اداره صلاحیت لري چې د پراختیایي پروژې د سروې ټول راپورونه واخلي او د راپورونو له اخیستلو ۳۵ ورځې وروسته تصمیم ونیسي. د تطبیق تصدیق پاڼه به په ۴۵ ورځو کې د ژوندانه د چاپېریال د ادارې له خوا د اغېزو د ارزونې د وروستیو راپورونو له ترلاسه کولو وروسته صادره شي.

د لوړو زده کړو پراختیایي پروګرام د لوړو زده کړو د وزارت د ورو بیارغونو کارونو ته اړتیا نه لري، له همدې امله د دې پروژې فعالیتونه د سیمه ییزو اغیزو د مقرراتو د ارزونو له مخې په دویمه کټګورۍ کې راځي، یعنې هغه فعالیتونه چې د انسان د ژوندانه په چاپیریال کې د پام وړ منفي اغیزې لري او یا هم له محیطي پلوه حساسې سیمې چې تر سیمې پورې اړه ولري په ډېرو حالاتو کې نه ګرځېدونکې دي. پر دې سربېره، پراختیایي اړتیاوو ته په پام سره، د ژوندانه د چاپیریال ملي اداره تصدیقوي چې د محیطي ارزونو اغیزې نه باید چې د پراختیایي اجندا په اوږو ډېر درووند بار وي. یوه لنډمهاله پروسه طرحه کېږي چې د بې ځایه ځنډ مخنیوی وشي له همدې امله شکایت کېږي چې د پروژو د تطبیق د محیطي اغیزو ارزونې به له ځنډ سره مخ کړي (د محیطي ارزونو د اغیزې، ۲۰۰۸).

### 4.2.5 د ځمکې د استملاک قانون ۲۰۰۵

دغه قانون د عامه ګټو او هغو ودانیو په اړه چې له وړاندې جوړې شوې وي، د ځمکې د استملاک د مصادرې د مدیریت احکام، د دولتي زیربناوو جوړول یا د هغې ځمکې استملاک چې فرهنګي یا علمي ارزښت ولري او هغه چې ښه حاصل ورکوي او لوی باغونه وي وضع کوي. د دې تر څنګ دا قانون څرګندوي چې: (الف) د دولتي استفادې له باره د یوې ټوټې ځمکې یا د یوې ټوټې ځمکې د یوې برخې ځمکې استملاکول چې د وزیرانو د شورا له خوا به یې په اړه تصمیم نیول کېږي او په یوه بالانصافه بیه چې له بازار سره سمه وي (۲ مه ماده) جبران کېږي، (ب) د ځمکې د استفاده کوونکي یا مالک حق، د ودانیز کار له پیل څخه درې میاشتې مخکې او کله چې د ځمکې مالک ته ټولې پیسې ورکړې پای مومي. (۶مه ماده)، (ج) د ځمکې ارزښت، په ځمکه کې د جوړو شوو کورونو او ودانیو ارزښت او په هغې ځمکه کې د ونو او نورو پانګونو ارزښت، د جبران له پاره په پام کې نیول کېږي، (۸مه ماده) جبران به د وزیرانو د شورا له خوا ټاکل کېږي. په اوس وخت کې دغه قانون تر تعدیل لاندې دی.

خو دغه قانون، د بیا استوګن کېدو په برخه کې غلی پاتې شوی. دغه قانون د بیا استوګن کېدو له پاره هېڅ ډول ځانګړی حکم نه لري یا په بله وینا دوی د بیا استوګن کېدو له پاره کوم تدابیر نه لري. په ۶مه برخه کې د صادر شوي قانون د احکامو او د نړیوال بانک د علمیاتي کړنلارې تر منځ یوه پرتله کېږي.

### 4.2.6 د ځمکې د چارو د مدیریت قانون(۲۰۰۸)

په افغانستان کې د ځمکو حقوق د مدني قوانینو، سنتي او دیني اصولو یوه ګډوله اداره کوي په داسې حال کې چې یوازې یو پر درېیمه برخه ځمکه د املاکو په دفتر کې ثبت شوې ده. د وزیرانو شورا به ۲۰۰۷ ز کال کې د ځمکې تګلاره جوړه کړه چې د غیررسمي اوسېدني حقوق رسمي کړي او هڅه یې وکړه چې په دې اړه اداري مداخلې ته لاسرسی پیداکړي. په ۲۰۰۸ ز کال کې، د ځمکې چارو د مدیریت قانون تایید شو چې په اوس وخت کې تر تعدیل لاندې دی. د ځمکو چارو د مدیریت قانون څو ډوله ځمکې تعریف کړې وې چې د ځمکې څه ډول دعوه په رسمیت پېژندل کېږي.

### 4.2.7 د تاریخي او فرهنګي ځایونو د ساتنې قانون (۲۰۰۴)

د فرهنګي او تاریخي ځایونو د ساتنې قانون په ۲۰۰۴ ز کال کې تصویب شو. دغه قانون د اساسي قانون د نهمې مادې له مخې تصویب شوی دی. دغه قانون فرهنګي او تاریخي ځایونه دا ډول تعریفوي:

*"(1) د انساني کار هر ډول محصول، منقول او غیرمنقول، چې د پام وړ تاریخي، هنري، علمي او فرهنګي ارزښت لرونکی وي او لږ تر لږه سل کاله عمر ولري، فرهنګي او تاریخي بلل کېږي"*

"(2) هغه چې له سلو کلونو لږ عمر ولري، خو د علمي، هنري او فرهنګي ارزښت له مخې باید د ساتنې وړ توکو په څېر وپېژندل شي."

له قانون سره سم، د افغانستان خلک د فرهنګي او تاریخي آثارو لرونکي دي، په داسې حال کې چې دولت او خلک دواړه د فرهنګي او تاریخي آثارو د ساتنې مسولیت لري. د داسې تاریخي او فرهنګي آثارو د لیدو یاد پراختیایي کارونو د تطبیق په وخت باید لاندې لارښودونه په نظر کې ونیول شي:

أ) د آثارو د پېژندني کمېټه د ټولو تاريخي او فرهنګي ارزښت لرونکو سيمو د ارزوني، ساتني او مراقبت مسوليت په غاړه لري.
ب) که چېرې کوم کس له تاريخي او فرهنګي آثارو سره مخ کېږي بايد چې د آثارو د پېژندني کمېټې ته خبر ورکړي. که چېرې تاريخي او فرهنګي آثار د پروژې د کار له امله له ګواښ سره مخ کېږي، بايد چې د لازمو پلانونو تر نيولو پورې د پروژې کار د هغې مصنوعاتو د ساتني له پاره ودروي.
ت) د هر ډول تصنعي اثر د ليدو په وخت کې بايد تر دوو اونيو پورې سيمه ييزو او ولايتي چارواکو ته خبر ورکړل شي، وروسته به نوموړي چارواکي د تاريخي آثارو د پېژندې کمېټّ خبروي. (۱۱)
ث) که چېرې د داسي توکو د ليدو په وخت کې چارواکو ته خبر ورنه کړي، داسي کس ته به د ټاکل شوي وخت په تېرېدو سره به له قانون سره سم جزا ورکول کېږي.

د تاريخي او فرهنګي آثارو د ليدو په وخت کې، د تصنعي آثارو د ساتني تطبيقوونکي کمېټه، تر هغې چې د تاريخي آثارو پېژندونکي کمېټې ته نه وي رسېدلي د غلا او ضرر ورته د رسېدو مخنيوی کوي.

## 4.3 د لوړو زده کړو تر دويم ملي ستراتيژيک پلان لاندې د فرعي پروژو د ژوندانه د چاپېريال ارزونه (NHESPII)

د لوړو زده کړو د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت د پراختيا د پروژې له چوکاټ او له سيمه ييز مقرراتو سره سم، د فرعي پروژو د لاندې کټګوريو په اړه به اجراآت ترسره شي. کټګورۍ په دې ډول دي:

- **<u>الف کټګوري</u>** هغوی ته ويل کېږي چې (نظر په ميزان، ډول او د پانګوني په موقعيت) د پام وړ محيطي او اجتماعي اغېزې په ځای پرېږدي او د منظورۍ له پاره به سيمي ته په کتو سره د محيطي اغېزو د شنني اړتيا وي.<u>د لوړو زده کړو د پراختيا د پروژې د ملاتړ له پاره داسي فعاليتونه د منلو وړ نه دي.</u>

- **ب کټګوري** (د بېلګې په توګه د نويو درسي ټولګيو جوړول، آسانتياوې، د موجودو اسانتياوو بيارغونه او ليليه) متوسطي او محدودې اجتماعي او محيطي اغېزې لري چې کولای شي د ژوندانه چاپېريال د مديريت د يوه پلان له مخې (EMP) او د حفاظت د مديريت د پلانونو له لارې مديريت شي. د بېلګې په توګه، د پوهنتون له پاره د يوې ودانۍ جوړول کېدای شي د ډيزاين او د فرعي پروژې د تيارېدو په وخت کې د ژوندانه د چاپېريال د پلان مديريت ته اړتيا ولري څو ډاډ تر لاسه شي چې له محيطي پلوه يې امکان لرل او د انجنيرۍ د انتخاب په نظر کې نيولو سره ډاډه دی.

- **<u>ج کټګوري</u>** (د بېلګې په توګه د تکنالوژي، فرنيچر او د معلوماتي تکنالوژي د وسايلو برابرول او نور) محيطي او اجتماعي منفي اغېزې ډېرې لږې او يا هم هېڅ منفي اغېز نه لري. په ودانيزو او څارونکو قراردادونو کې د ژوندانه په چاپېريال پورې اړوندې فقرې ځای په ځای کول کفايت کوي.

هيله کېږي چې د لوړو زده کړو د پراختيا د پروژې اکثريت پانګوني د ب په کټګورۍ کې په پام کې ونيول شي او وکولای شي د ژوندانه د چاپېريال د مديريت د يوه پلان په واسطه او په هغه ځای کې چې د تطبيق وړ وي د حفاظتي مديريت د پلانونو په واسطه په اغېزمنه توګه مديريت کړل شي.

## 6. د اجتماعي او محیطي مدیریت په چوکاټ کې سازماني هوکړې، رول او مسولیتونه

د لوړو زده کړو وزارت مسول دی داډ ورکړي چې د ژوندانه چاپیریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ د لوړو زده کړو (NHESP II) د دویم ملي ستراتیژیک پلان له مخې له ټولو تمویل شوو پانګونو سره یو ځای به په تحصیلي سکتور کې راتلونکي پروژې هم عملي شي. د چاپیریال ساتنې ملي اداره په افغانستان کې د ژوندانه د چاپیریال له پاره تطبیق کوونکی او مسوول ارګان دی چې د لزوم په وخت کې به د ژوندانه د چاپیریال د تیارو شوو اغېزو په منظورۍ او ارزونه کې د فرعي پروژو له پاره برخه واخلي.
په ولایتي او سیمه ییزه کچه، د ژوندانه د چاپیریال اړوند کارکوونکي د ژوندانه د چاپیریال د مدیریت د پروژو په څارنه او ارزونه کې برخه اخلي.

د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله به د لوړو زده کړو د وزارت د بیا استوګن کېدو د کاري پلانونو او ژوندانه د چاپیریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تطبیق او سازماني هوکړو په ترسره کولو کې همکاري وکړي. په لوړو زده کړو وزارت کې د پلان او پالیسۍ ریاست، د ټولو هغو پروژو چې د لوړو زده کړو وزارت او د دولتي پوهنتونونو په غاړه دي د عمومي ارزونې او ساتنې مسلویت لري. د اجراآتو او څار ملاتړې ډله به د ژوندانه د چاپیریال د ساتنې یو متخصص او یو اجتماعي حفاظتي متخصص په کار وګماري چې د پروژې په جریان کې به د ژوندانه د چاپیریال، د اجتماعي مدیریت چوکاټ او د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ د تطبیق مسولیت ولري او دوی به د لوړو زده کړو د وزارت د پالیسۍ او پلان رییس او د اجراآتو او څار د ډلې رییس ته راپور ورکوي. دوی د لوړو زده کړو په وزارت کې د ژوندانه د چاپیریال دمدیریت د پلانونو د برابرولو او تر ساحې پورې تړلې د مدیریت اړوندو پلانونو له پاره د قناعت ورکوونکو هوکړو د رامنځ ته کولو په برخه کې او د اړتیا په وخت کې د رغنده فعالیتونو له پاره د پروژې په جریان کې له لوړو زده کړو وزارت سره همکاري کوي او همدارنګه د لوړو زده کړو د وزارت او پوهنتونونو د پلان او پالیسۍ په چوکاټ کې د ژوندانه د چاپیریال او اجتماعي اړخونو د مدیریت په برخه کې د اړوندو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو مرسته وکړي. دوی به همداراز د لوړو زده کړو او پوهنتونونو کارکوونکي د ژوندانه چاپیریال د مدیریت د پلانونو او د ژوندانه د چاپیریال د اړوندو پلانونو د ګواښونو د کمښت له پاره د تطبیق د څار په برخه همکاري وکړي. دوی د پروژې د اطاعت منلو په برخه کې اړوندې برخې د ژوندانه د چاپیریال او اجتماعي مدیریت په قناعت ورکوونکي تطبیق سره، د کار د پرمختګ په راپورونو کې د شمولیت له پاره چې د اجراآتو او څار د ډلې له خوا به برابر شي مرسته کوي.

د لوړو زده کړو د وزارت اړوند، ژوندانه د چاپیریال، ارګانونو، تطبیق کوونکي سلاکاران او قراردادي کارکوونکي د ژوندانه د چاپیریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ په تطبیق او تر سیمې پورې تړلي د ژوندانه چاپیریال د پلانونو په مدیریت کې زده کړې وکړي. د ژوندانه د چاپیریال کارکوونکي، د اجراآتو او څار د ډلې د رییس په همکارۍ، د ژوندانه د چاپیریال د څار مسول او د ملاتړ شوو اجتماعي اړخونو د کارونو به د لوړو زده کړو د دویم پراختیایي ستراتیژیک پلان په واسطه کېږي.

## 6. د خلکو مشورې

### 6.1 د مشورو د پایلو خلاصه

د اجتماعي او محیطي څارنې او اجراآتو ملاتړې ډله د افغانستان د حکومت د لاس لرونکو نمایندګي کوونکو، په کابل کې د لوړو زده کړو لوړپوړو چارواکو او د پوهنتون له استازو سره ملاقات درلود. د ننګرهار او بدخشان ساحوي پوهنتونونو څخه لیدنه وشوه چې له دولتي پوهنتون سره د نژدې اوسېدونکو د ستړګو له لیدلي حال څخه خبر شي.

د مشورتي مجلسونو په جریان ولیدل شول چې د پوهنتون د کارکوونکو او د شاګردانو اوسېدونکو تر منځ د اجتماعي او محیطي اغېزو په اړه د پوهې کچه ډېره ټیټه ده. په کابل کې د لوړو زده کړو د وزارت له لوړپوړي چارواکي سره د خبرو په وخت کې خبر ورکړل شو چې د لوړو زده کړو وزارت د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټونو تجربه نه لري. د لوړو زده کړو وزارت د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ مفکورې ته ښه راغلاست ووایه او د دې کار ملاتړ یې وکړ. د لوړو زده کړو د وزارت اصلي اندېښنه د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي چوکاټ د تطبیق د وړتیا په اړه ده چې وروسته به د لوړو زده کړو د پراختیایي پروژو په مرسته رامنځ ته شي. د لوړو زده کړو وزارت غوښته وکړه چې نړیوال بانک باید په لوړو زده کړو وزارت کې د د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د ایجاد له پاره مالي تخنیکي مرسته وکړه.

د مشورو، څېړنو او ارزونو په بنسټ، د دولتي پوهنتونونو د جغرافیایي موقعیت، دغې ډلې د پام وړ منفي بالقوه اغېزو سره د پوهنتونونو موقعیت پیدانکړ. د خبرو مشورتي خلاصه به د ۲ ضمیمې په څېر برابر کړي.

## 7. د ګواښونو د کمولو د وړاندیز شوو اقداماتو د اغېزو شننه

فکر نه کېږي چې د لوړو زده کړو پراختیایي وړاندیز شوې پروژه له پام وړ اجتماعي او محیطي منفي اغېزو سره مخ شي کېدای شي دغه پروژه د بیارغونې یا عمران له امله تر سیمې پورې د ټرلو منفي اغېزو لرونکې وي چې د ساختماني کثافت ټوکره یو، د دوړې او خاورې ککړوالي، غږیز ککړوالی یعني د جوړولو په وخت کې چیغې او شور، د ساختماني مواد د لېږد رالېږد د ډېروالي اغېزې، اجتماعي او روغتیایي اغېزې او نور به د کارکوونکو د لنډمهاله پنډغالو له امله وي. د دې اغېزو ډېرې یې مشهورې دي چې کولای شي د ساختماني ښو او معیاري لارو په کارونې سره د ښار جوړونې د چارو په قراردادونو کې کمښت ورته راشي.

### 7.1 کلیدي اجتماعي او محیطي مسائل او تر دې پروژې پورې تړلې اغېزې

لاندې برخه کلیدي اجتماعي او محیطي مسائل چې تر وړاندیز شوې پروژې پورې اړه لري، د یوې دفتري ارزونېپه بنسټ، له ساحوي پوهنتونو (ننګرهار، بدخشان او کابل) څخه کتنه، د ۲۰۱۴ ز کال د اګسټ او اکتوبر په منځ کې له لاس لرونکو مراجعو سره مشورتي مجلسونه جوړول. کلیدي پېژندل شوي مسائل تعلق لري لکه: اوبه، ځمکه، عمومي ناآراموونکي (چیغې، غږ، هوا او کثافات) وړاندیز شوې حل لارې هرې وړې او منځنۍ زېربنا ته د تطبیق وړ دي او په نظارتي او د اقداماتو د کمښت تطبیق ته پوره اړتیا لري.اغېزې کولای شي تر جوړېدو او اجراآتو پورې تړلې اجتماعي او منفي اغېزو ووېشل شي، چې په ځانګړې توګه د لاسوهنې په اندازه او ډول، د ساحې موقعیت، او اغېزمن لوري لکه: (خلک او ټول لاس لرونکي) اړوند کېږي.

### 7.2 مثبتې محیطي او اجتماعي اغېزې

د وړاندیز شوې پروژې هدف دا دی چې د پوهنتونونو د زده کړو پیوسته والي او کیفیت ته ښه والي ورکړي، تر دې چې زده کوونکي کارېدونکي وړتیاوې زده او د کار د بازار غوښتنه هم پوره شي.

په لوړو زده کړو پانګونه د اجتماعي او خصوصي ګټو د خوندونو د بېلابېل والی لامل کېږي. په ټولو بشري ثابتو پانګونو کې لوړې زده کړې تر ټول لوړ عاید لري او په عمومي توګه د پوهنتونونو تر منځ د عایداتو کچه لوړه وي. همدارنګه په لوړو زده کړو کې په کیفیت پانګونه د تحصیلي سکتور په ټیټ ترین ردیف هم اغېزه لري. پوهنتونونه د ښوونځیو او لېسو له پاره د ډېرې ډلې لایقو ښوونکو په فارغ کولو کې یو مهم رول لوبوي. د لېسو هغه ښوونکي چې له پوهنتون څخه د فراغت سند لري په ډېر احتمال سره په ښه کیفیت سره درس ورکوي او په پای کې د لیسې د شاګردانو تر منځ د زده کړو پایلې ښه والی مومي. په دې سره، په لوړو زده کړو په پانګونې سره ترلاسه شوې ګټه د زده کړو په ټولو سکتورونو مثبته اغېزه لری.

د بیارغونې او ساختماني کارونو د په غاړه اخیستلو په اړه، ځیني مثبتي اغېزې شته دي چې د ساختماني او تاسیساتي چارو لکه د سیمه ییزو کارکوونکو په کار ګمارنه، د دندې ترلاسه کول، د شته زیربناوو شته والی لکه (فرعي سرکونه، د پلې لارو بیارغونه، د کثافت ټوکریو د ځای په ځای کولو امکانات او روغتیایي آسانتیاوې) او د ساختماني کار په بهیر کې د ورو خامو موادو په وړاندې کوونکو اقتصادي مثبتي اغېزې دي.

## 7.3 محیطي او اجتماعي بالقوه منفي اغېزې

دا چې ډېری فعالیتونه په عمده توګه ساختماني کارونه د موجودو پوهنتونونو په سیمو کې کېږي، بالقوه اغېزې یې چې کېدای شي ورسره مخ شو، په لاندې ډول دي:

- **د سیمې پاکول:**د سیمې د پاکولو په بهیر کې، هر ډول بوټي چې په سمه توګه له منځه یونه وړل شي کولای شي لښتي او د اوبو لارې بندې کړي او همدارنګه کولای شي ډول ډول مزاحمت کوونکي توکي جوړ کړي.

- **د خاورې کمزورې کېدل او د اوبو ککړېدل:**که چېرې شګه او یا لېږدول شوې خاوره په ښه توګه ذخیره نه شي او د طبیعي عناصرو په وړاندې واقع شي کولای شي ویالو، د کرنې وړ ځمکې، سمندرونه او یا هم له سمندر ښکته سطحه کې خپرې شي چې د رسوب لامل کېږي. په سیمه کې د باران له امله د فاضله اوبو تراکم کولای، د ښوونځیو او ساختماني کارونو د مزاحمت او ناراحتي لامل شي. د مکتبونو او لابراتوارونو ناوړه ځای کولای شي په ویالو کې د ځمکې د اوبو او د څښلو د اوبو د سرچینو د ناراحتی او مزاحمت لامل شي. همداراز د ساختماني کار په جریان او د کارکوونکو په کمپونو کې تولید شوې فاضله اوبه کولای شي د څښلو د اوبو سرچینې ککړې کړي که چېرې په سمه توګه کنټرول نه کړل شی.

- **د فاضله موادو تولید او کثافات ټوکرۍ:**په پوهنتونونو کې د بیارغونې کار کولای شي، د ضررمنو پوهنځیو بیارغونه وي چې له امله یې خځلي او کثافات ډېرې چې باید لرې واچول شي. له اړوندو فعالیتونو څخه زیات شوي او پاتي مواد به د ودانی په کاري ساحه او د کارکوونکو په کمپ کې په ځای پاتې شي که چېرې یې مدیریت په سمه توګه ونه شي کولای شي د یوې پرېشانی لامل شي. سربېره پردې، کثافات او اضافي توکي که چېرې په سمه توګه پرځای او لرې وانه چول شي، کولای شي په سیمه کې د ناروغیو د خپرېدو او اوبو د خرابېدو لامل شي.

- **ټرانسپورټ:**د ښوونځي د درسي ساعتونو په وخت کې سیمې ته د موادو لېږدول د مزاحمت لامل کېږي او همداراز کېدای شي د ماشومانو د ټپي کېدو لامل شي او په سیمه کې د ټرافیکو د راټولېدو لامل شي.

- **د کار کوونکو د اوسېدو ځای کمپونه (پنډغالي):**دا چې ساختماني کار په ډېرو ځایونو کې د ښوونځي په سیمه کې کېږي، که چېرې د کارکوونکو کمپ ته اړتیا پېښه شي، د کارکوونکو او شاګردانو سروکار به منفي اجتماعي اغېزې ولري. سربېره پردې، د کارکوونکو په کمپونو کې د کارکوونکو چلند کولای شي په نېغه توګه اجتماعات او فرعي ټولنې اغېزمنې کړي چې منفي لوري ته به یې د رسنیو پام شي او خلکو ته به د ځواکمنو امنیتي ګواښونو لامل شي.

- **په امن یا محفوظ کېدل:**د کارکوونکو، شاګردانو او د سیمې د خلکو امنیت ساتل به یوه مسئله وي. تر ساختماني کار پورې اړوند اجراآت کولای شي کارکوونکو ته د ګواښونو د رامنځ ته کولو لامل شي. کله چې د ښوونځي په چاپېریال کې ساختماني کارونه وشي، که چېرې کاري سیمه په حفاظتي کمربند ونه تړل شي، کولای شي شاګردانو او د شاوخوا سیمو خلکو ته د ګواښ لامل شي.

- **شور او غږ:**د کار د سیمې تیارول او یا هم د ساختماني کار په جریان کې، د ساختمان د جوړېدو د اړوندو کارونو له امله شور او زوږ راپورته کېږي. دغه شور غږونه د ښوونځي د درسي ساعتونو په بهیر کې د شاګردانو د صنفي فعالیتونو د اخلال لامل کېږي او همداراز د شاوخوا اوسېدونکو خلکو د پرېشانی سبب کېږي.

- **خاورې او دوړه:** د ساختمان د پاکولو او کار په وخت کې د هغو شاګردانو له پاره چې په تنفسي سیستم کې ستونزه لري له ستونزو سره مخ کړي او د شاګردانو په درسي ساعتونو کې د شاګردانو د درس د اخلال لامل کېږي. خاوره، رنګ او یا جغل چې د اوږده وخت له پاره له وړ پوښښ پرته ساتل کېږي هم کېدای شي د خاورې او دوړې لامل شي چې د درسي ساعتونو په جریان کې به د شاګردانو او سیمې د خلکو د پرېشانۍ لامل شي. کاري سیمې ته د کاري توکو وړل هم د خاورې او دوړې لامل کېږي. د ودانۍ رنګول هم د خاورې او دوړې لامل کېږي چې روغتیا ته ډېر ضرر لري.

## 7.4 د ساختماني کار او فعالیتونو په بهیر کې اجتماعي او محیطي اندېښنې

که د وړو او منځنیو زیربناوو له جوړولو څخه رامنځ ته شوې اغېزې په پام سره مدیریت شي، د یادولو وړ اندېښنې نه شي رامنځ ته کوی. دغه اندېښنې په معمولي توګه، بوخت کېدل، روغتیا او خوندیتوب (OHS) او د مدیریت وړ وي او کولای شي په آسانۍ د ساختماني چارو په قراردادونو کې په کمونکو اقداماتو سره ورته رسېدنه وشي.

په ځانګړې توګه ساختماني کار په څنګ کې لاندې اجتماعي منفي اغېزې لري:

- د ساختماني کارونو له پلوه د شور او چیغو، د کثافت تولیدونکو جوړول، اضافي مواد او کثافات او نورګواښونه، په سوداګریزو مرکزونو او کورونو کې لنډمهاله اغېزې بللی شو؛
- کېنتونو، د ژوندانه نورو سرچینو او پانګو ته د لاسرسي محدودیت؛
- تاریخي او د اوسېدو ځایونو او نورو سیمو ته ګواښ؛
- د خلکو خپل منځي شخړې؛
- له سیمې څخه د بهرنیو کارکوونکو له پاره امنیتي ستونزې؛
- په ګاونډ کې د ډېرو شاګردانو حضور کولای شي، اجتماعي ژوند یا هم د خلکو دودونه (فرهنګي، اقتصادي او اجتماعي) ګډوډ کړي؛
- د بوخت کېدو، روغتیا، او خوندیتوب (OHS) ګواښونه چې د بوختیا، روغتیا او خوندیتوب کافي اقدامات نه وي کارول کېږي به داسې حال کې چې د شخصي ساتنې وسایل هم نه وي.
- د کار او کارکوونکو شرایط، د کار د نړیوال کنوانسیون په ګډون د ملي قوانینو منل، د په کار ګمارنې دودونه او د کار له معیارونو څخه سرغړونه.

د کار په بهیر کې عمومي مسائل په لاندې ډول دي:

- د فعالو روغتیا امکاناتو چې مراقبت شوي وي موجودیت، (چې د اوبو د کمښت له امله نه شي فعال کېدای)؛
- د فاضله اوبو لرې اچول (د بېلګې په توګه: په یوه ودانۍ کې د ساختماني کارونو په بهیر کې کېدای شي فاضله اوبه د ژوندانه د چاپېریال له ارزونې پرته په ژورو ځایونو کې لاړې شي، نو مهمه ده چې د حساسیت کچه یې وپېژندل شي او ولیدل شي چې څواکمن محیطي او روغتیایي ګواښونه لري کنه)؛ او
- د دې پروژې او (نورو څواکمنو سرچینو) له خوا د رامنځ ته شوو جامدو کثافاتو ناوړه مدیریت. د دې پایله داده چې د پروژې شاخوا کثافات ونیسي.
- د روغتیا او خوندیتوب ګواښونه د کافي امنیتي اقداماتو په نشتوالي پورې تړلي دي (د بېلګې په توګه: له اور اخیستنې څخه د ژوند او خوندیتوب پلان، د بېړنیو حالاتو له پاره تیاری او نور)

## 7.5 راټولې شوې څواکمنې اغېزې

په عمومي توګه، د افغانستان د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ دویم پلان کولای شي په یوازې توګه هم لږې منفي، محیطي او اجتماعي اغېزې ولري. خو د متعددو فرعي پروژو په څنګ یا هم د له بېلابېلو حکومتي او د خصوصي سکتور له فعالیتونو سره کولای شي یوه دوه ګونې لوېه او ډېره اغېزه ولري. دغه اغېزې په ډېر احتمال سره د بوټو او د ځمکې لاندې د اوبو په پاکولو او یا هم د سطحې اوبو په ککړتیا سره رامنځ ته شي.

په ځانګړي توګه به دغه اغېزې په ډېري شونتیا سره لاندې چاري وي:

- په ساختماني چارو او کورونو په جوړولو کې د کارولو له پاره د ځنګلونو وهل. د لوړو زده کړو ( NHESP II) دویم ملي ستراتیژیک پلان به لازم اقدامات ونیسي څو ډاډه شي چې د ځنګلونو وهل او له سرچینو یې ګټه اخیستل له جواز پرته مخنیوی وشي او د امکان تر کچې پورې یې حد اقل ته ورسوي؛
- د ساختماني کارونو له امله د ځمکې لاندې اوبو کمېدل؛
- د ساختماني کارونو د برابرولو له امله د اوبو د سطحې ټیټېدل؛

سربېره پردې، دغه بیا استوګن کېدل د ځمکې د استملاک له امله کولای شي، د سیمې خلک د (خدمتونو، کار او نورو) له امله کډوالی ته اړباسي او په ځانګړو ځایونو کې په طبیعي سرچینو ډېر فشار راوړي. د دوه ګونو اغېزو د مخنیوي له پاره اړتیا ده چې: د انفرادي پروژې د اغېزو مخنیوی، د لازمي تخنیکي پوهې په بنسټ محتاطانه پلان جوړونه، موقعیت، اندازه او د زېربنایي پروژو لازم توکي.

## 7.6 د څارني او ګواښونو له پاره وړاندیز شوي اقدامات

تر دې پروژې لاندې فعالیتونو پورې تړلو اغېزو مخنیوی او یا هم ډېرې لږې کچې ته رسول، د کمښت اقدامات باید د فرعي پروژې د اجراآتو او ساختمان د یوې برخې په توګه تطبیق کړل شي څو له ملي، نړیوالو، محیطي او اجتماعي معیارونو له لارښودونو څخه اطاعت وشي. دغه اقدامات باید د ژوندانه چاپېریال د مدیریت د پلان د یوې فرعي پروژې په توګه وشمېرل شي او د هرې فرعي پروژې په تخنیکي ځانګړنو کې باید بودیجه وکړل شي.

**تخنیکي لارښودونه**،تیاری نیول شوی چې د کمښت له پاره لازم اقدامات محیطي او اجتماعي اغېزو ته د ځواب ویل خلاصه کوي. (۳مې **ضمیمې ته**دې مراجعه وشي.). دغه لارښودونه باید وکارول شي چې د ژوندانه د چاپېریال او د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د شننې په تیارولو کې مرسته وکړي او لاندې چارې په کې شاملې وي:

1: د خاورې د خرابېدو مخنیوی او ساتنه
2: د ځمکې د ښویېدو ساتنه او مخنیوی
3: د کان له ډېرې استفاده
4: د ضرر لرونکو مادو په ګډون د خوسا شوو توکو دفع کول او یا لرې اچول.
5: د دوړې او خاورې مدیریت
6: د فرهنګي او تاریخي ځایونو ساتنه
7: د سون توکو او تېلو مدیریت
8: روغتیا او سلامتي

پر دې سربېره، سپارښتنه کېږي چې د بوخت کېدو، روغتیا او خوندیتوب له پاره تر ټولو ښه لارښودونه، څنګه چې د (آی، ایف، سي) په بوختیا، روغتیا او خوندیتوب
[http://www.ifc.org/wps/wcm/connect/554e8d80488658e4b76af76a6515bb18/Final+-+General+EHS+Guidelines.pdf?MOD=AJPERES](http://www.ifc.org/wps/wcm/connect/554e8d80488658e4b76af76a6515bb18/Final+-+General+EHS+Guidelines.pdf?MOD=AJPERES)
کې خلاصه شوي دي عملي کړي. په دې لارښودونو کې تر ټولو ښې نړیوالې طریقې په پام کې نیول شوې دي چې د ډیزاین، ساختمان او هر ډول زېربنایي پروژو له پاره کارول کېږي.

د څارنې یوه اندازه شاخصونه تر کار لاندې نیول کېږي چې ملي او نړیوال معیارونه تصدیق کړي او د ناتوانه فرعي پروژو له پاره د کار اصلاحي کچه او د دې معیارونو پوره کول وپېژندل شي. دغه شاخصونه د نظارتي کلنیو راپورونو د جوړولو په وخت کې تطبیق کړل شي.

## ۰6 د تطبيق او څارنې د فرعي پروژې د تيارولو بهير

د محيطي او اجتماعي د کړنلارو دغه برخه، د راپور ورکولو سيستم او هغه مسوليتونه چې بايد د تطبيق کوونکو ارګانونو په واسطه د لوړو زده کړو (NHESP II) د ملي ستراتيژۍ د دويم پلان له پاره رامنځ ته شي بيانوي. د ارزونې د دې سيستم ډيزاين د نړيوال بانک له حفاظتي تګلارې او د افغانستان د حکوت د چاپېريال ساتنې د اغېزو د ارزونې او اړوندو لارښودونو له مقررې سره سم ترسره شوي دي.

دغه برخه د هغو مسائلو په جزياتو سره چې بايد ترسره کړل شي او ټاکل شوي وروستي ګامونه چې بايد واخيستل شي پيل شوې او د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت د اجرايي لارښودونو او وسيلو په توګه د برابر شوو وسايلو او لارښودونو په واسطه يې ملاتړ کېږي. دغه برخه د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت د چوکاټ بېلابېل عناصر چې لاندې چارې په کې شاملې دي څرګندوي.

- هغه ګامونه چې بايد د څارنې، ارزونې، وړانديز شوو غوښتنو او د پانګونې د ارزونې له پاره واخيستل شي؛
- د فرعي پروژو له پاره د اړوند مديريت او د ژوندانه د چاپېريال د مديريت د پلانونو د تيارولو له پاره کړنلارې؛
- د پروژې د پانګونې په اړه د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي اغېزو لارښودونه؛ او
- د اجابت ميکانيزم

لاندې جدول د فرعي پروژې د څارنې، ارزونې او د اجتماعي مديريت تر چوکاټ لاندې د څارنې لازم شرايط او د تطبيق رولونه او کليدي مسوليتونه خلاصه کوي.

**8.1 جدول، د فرعي پروژې تطبيق او د ژوندانه د چاپېريا ل او اجتماعي پلان جوړونې رول او مسوليتونه**

| فعاليت | شخص / مسوله اداره |
|---|---|
| سروې او په سيمه کې ابتدايي ټاکنه | د ژوندانه د چاپېريال د ساتنې متخصص، د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله او د ټولنيز محافظت متخصص |
| د ژوندانه د چاپېريال کتګوري | د ژوندانه د چاپېريال د ساتنې متخصص، د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله |
| د سروې د پايلو تحليل او ټاکل اود ژوندانه د چاپېريال د اغېزو د تحليل تيارول، د ژوندانه د مديريت پلانونه، د اجتماعي اغېزو تحليلونه او د بيا استوګن کېدو کاري پلانونه | د لوړو زده کړو د وزارت مشاورين، د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله او خپلواک سلاکاران |
| د ژوندانه د چاپېريال د جواز صادرول چې ثابته کړي د ژوندانه د چاپېريال د اغېزو تحليل قناعت ورکوونکی دی. | د ژوندانه د چاپېريال د ساتنې ملي اداره |
| د ژوندانه د چاپېريال د مديريت د پلانونو تطبيق او د بيا استوګن کېدو کاري پلانونه | خپلواک قراردادي |
| د ژوندانه د چاپېريال نظارت | د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله، د لوړو زده کړو وزارت، د ولسواليو په کچه د ژوندانه د چاپېريال دفترونه |

ټاکنه، ډيزاين، قرارداد کړل، له لارښودونو سره د د افغانستان د حکومت تر نظر لاندې ساختماني پروژې، لاندې فرمانونه او مقررې دي:

- يو استثنايي ليست چې وښيي آيا وړانديز شوې فرعي پروژه د ملاتړ له لازمو شرايطو بې برخې ده کنه؛
- د سروې يوه فورمه او د ژوندانه د چاپېريال او اجتماع ټاکل؛

- د ژوندانه د چاپېریال پلان او د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې یو نمونوي تمپلېټ؛
- د بیا استوګن کېدو کاري پلان؛
- د عمومي مشورې او شریکېدو پلان؛
- هغه لازم شرایط چې د ماین پاکونې د مرکز له لارې تصدیق کېږي دا چې تر کار لاندې سیمې چې باید هلته ساختماني کار وشي له ماینونه پاک دي؛
- د قراردادیانو سره د ژوندانه د چاپېریال لارښودونه؛
- د بدلون د کړنلارو او د فرهنګي ځایونو په اړه لارښودونه؛
- له پروژې څخه د اغېزمنو کسانو د بیا استوګن کېدو له پاره لنډ کاري پلان.

## 6.1. د ارزونې او سروې پروسه

د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ (NHESP II) دویم پلان د یوه کټګوري شوي پروګرام (ب) په توګه ډلبندي کېږي؛ خو هغه پانګې چې باید د لوړو زده کړو تر پراختیایي پروژې لاندې تمویل کېږي، کېدای شي ډېرې لږ ې منفي اغېزې ولري او ځینې نور یې د منځنیو اجتماعي او محیطي اغېزو لرونکي دي چې سروې ته اړتیا لري چې د اغېزو پراخي یې وټاکي.

دا چې په اوس وخت کې د بیارغونې او نویو ساختماني کارونو موقعیت معلوم نه دی، د ژوندانه د چاپېریال او اجتماع د سروې بهیر (د سروې پروسه) د انجنیري، د نویو آسانتیاو او د موجودو آسانتیاوو د بیارغونې له پاره د پلانونو ارزونه او منظوري ضروري ده. د سروې د بهیر هدفونه عبارت دي له:

- د لازم ژوندانه د چاپېریال د کار د کچې معلومول (یعنې: آیا دغه اروزنه د لازم ژوندانه د چاپېریال ده کنه؛ لازم شرایط او د ژوندانه د چاپېریال د ساحې پلان باید برابر شي؛ آیا د ساده اقداماتو تطبیق به کافي کمښت وي؛ یا دا چې د ژوندانه د چاپېریال په برخه کې هېڅ اضافي کار لازم نه دی)؛
- که چېرې لازم وي نو د اغېزو د تحلیل د سطحې جوړول (یعنې: آیا د اجتماعي اغېزو یوې ارزونې ته اړتیا ده)؛
- منفي اغېزو ته د رسېدو له پاره د کمښت د وړ اقداماتو معلومول؛
- د دې معلومول چې په ډېرې شونتیا سره د بیارغونې او ساختماني چارو کوم فعالیتونه د ځواکمنو اجتماعي او محیطي منفي اغېزو لرونکي دي؛
- د فرعي پروژو د سروې د پایلو د منظورۍ او ارزونې آسانتیا؛
- د ساختماني چارو، بیارغونې او د فرعي پروژې د اجراآتو په بهیر کې د محیطي او اجتماعي پارامترونو د څارنې له پاره د لارښودونو تیارول؛

همدا چې یوه فرعي پروژه د تمویل له پاره وړاندې کوي، پانګونه د سروې له پاڼې څخه په ګټه اخیستو چې په **۴مه ضمیمه** کې وړاندې شوې، آزمویل کېږي. کله چې د سروې پاڼه بشپړېږي، د یوې مناسبې محیطي کټګورۍ (الف، ب یا ج) د ټاکلو په اړه معلومات چې یو ځانګړی فعالیت ولري، د نویو آسانتیاوو د برابرولو له پاره یا هم د موجوده ودانیو بیارغونه کوي.

د سروې په جریان کې، د ساتنې متخصص هم ټاکي چې آیا د اجتماعي اغېزو یوې ارزونې ته اړتیا ده که نه. د اجتماعي اغېزو د ارزونې له پاره د فعالیت محدوده په **۵مه ضمیمه** کې یاده شوې ده.

**8.1 شکل، د فرعي پروژو د اجتماعي او محیطي سروې ګانو د پاګرام جریان**




## 8.2 منظوري او ارزونه

### 8.2.1 ارزونه

د برابرو شوو معلوماتو له ارزونې وروسته د اجتماعي او محیطي سروې په پایه کې، د محیطي وړ کټګورۍ له ټاکلو وروسته د ژوندانه د چاپېریال ساتنې متخصص ټاکي چې آیا (الف) په تخنیکي لارښودونو کې د کمښت د ساده اقداماتو تطبیق به کافي وي؛ (ب) د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو یوه ارزونه باید ترسره شي، د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې د ملي لارښودونو په کارولو یا هم د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د یوه پلان تیارول؛ یا (ج) د ژوندانه تر چاپېریال پورې به تړلی هېڅ اضافي کار لازم نه وي.

### 8.2.2 د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي اغېزو د ارزونې له پاره د یوې ارزونې تیارول

د پروژې د فعالیتونو له پاره لکه، زېربنایي خدمتونه چې د (ب) د کټګورۍ د یوې پروژې په څېر سروې او کټګوري شوې وي، د کار د ترسره کولو مسول مکلف کېږي چې د ژوندانه د چاپېریال یو پلان تیار کړي. که د (ب) په کټګورۍ کې وي، ډېره شونتیا ده چې د ځینو منفي محیطي او اجتماعي اغېزو لرونکې وي، نو په دې صورت کې د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو یوې ارزونې ته اړتیا ده. د ژوندانه د چاپېریال اجتماعي او محیطي ځواکمنې اغېزې د خپلو پلان شوو فعالیتونو له پاره پېژني او اروزي، د بدیل حل لارې ارزوي او د څار او مدیریت له پاره د کمښت اقدامات وړاندې کوي. د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت په پلان کې د دغه اقدامات یا هم د بیا استوګن کېدو کاري پلان چې د هرې فرعي پروژې له پاره تیاریږي نقل کېږي. د ژوندانه د چاپېریال د

مدیریت پلان او د محیطي اغېزو د ارزوني تیارول او یا به هم د ټولو لاس لرونکو اړوندو مراجعو او له پروژې له اغېزمنو خلکو سره په مشوره د بیا استوګن کېدو کاري پلان ترسره شي.

د اجتماعي اغېزو یوه ارزونه ترسره کېږي که هیله وشي چې فرعي پروژه به په ګاونډیو اجتماعاتو د پام وړ اغېزه ولري (یعنې هغه ډلې چې د کارکوونکو له راتلو او د اقتصادي انډول له نابرابرۍ څخه به اغېزمن شي)، په کار کې اخلال او د ساختماني کار په جریان کې سیمه ییز فعالیتونه، روغتیا، عام خوندیتوب او نور. د محیطي اغېزو د ارزوني د ترسره کول د ډول جزیات په **۶مه ضمیمه** کې او د اجتماعي اغېزو د ارزوني له پاره په **۵مه ضمیمه** کې برابرېږي.

### 8.2.3 د ژوندانه چاپېریال د مدیریت د یوه پلان تیارول

د کار د ترسره کولو مسول د ژوندانه د چاپېریال له متخصص سره په مشوره سره ارزیابۍ ترسره کوي. د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزونه او د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان د اجتماعي او محیطي ابتدایي سروې له پایلو څخه برابرېږي.

د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلانونو له پاره شکل، په ۴،۰۱ عملیاتي پلان کې درج شوي لازم شرایط او د ژوندانه د چاپېریال د ساتنې په ملي اداره کې د درج شوو شرایطو سره ورته والی لري. د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلانونه باید د ژوندانه د چاپېریال د ارزوني د بهیر د یوې برخې په توګه برابر شي او د (ب) کټګورۍ د پروژو له پاره تطبیق شي. د هغو فرعي پروژو له پاره چې د فرهنګي ځمکو په اړه حفاظتي تګلارې ته اړتیا لري، یوه پلان ته اړتیا ده (د بېلګې په توګه د فرهنګي سرچینو د مدیریت پلان). د ژوندانه د چاپېریال پلان باید یو خلص او آسانه له (۵ څخه تر ۱۰ پاڼو) پورې وي او څه ډول چې په ۷مه ضمیمه کې ښودل شوي ده باید اړینې برخې ولري. د کمښت او څارنې اقدامات د اجرایي او تخنیکي په بهترینو لارښودونو مشخص کېږي.

د ژوندانه د چاپېریال د قرارداد فقرې باید په تخنیکي مشخصاتو کې شامې وي او د فرعي پروژو د پانګونې د تطبیق د ټولې بودیجې د یوې برخې په توګه ځواب ویونکې وي. د همداسې فقرو بېلګه په ۸مه ضمیمه کې او د ځمکنیو ماینونو ګواښ په ۹مه ضمیمه کې راغلي دي.

د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلان اغېزمن تطبیق به ډاډ ورکړي چې د هر ډول ځواک لرونکو اغېزو د مخنیوي له پاره چې له وړاندیز شوو فعالیتونو څخه رامنځ ته شوي او یا هم د کمښت د مناسبو اقداماتو د کمولو له پاره کارول شوي دي.

د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان د هرې پانګونې له پاره لازمه او مناسبه بودیجه ځانګړې کوي چې د کمښت اقدامات او څارنه تطبیق شي. همدارنګه دغه پلان د زده کړې لګښت او د ظرفیت لوړولو لازم پروګرامونه هم راښیي. لګښتونه باید د برابر شوو اټکلونو له مخې او د قراردادیانو په واسطه د کمښت د هر ډول لازمو اقداماتو له پاره د ساختماني چارو د کارونو په جریان کې محاسبه کړل شي. د بېلګې په توګه:

- د مناسبو میکانیزمونو له پاره لګښت او د کیندنو د کار په وخت کې خاوره او دوړه باید محاسبه کړل شي او د داوطلبۍ په اسنادو کې شامل کړل شي؛
- د وسیلو د له منځه تلو د کنټرول لګښت باید د انجنیرۍ د لګښتونو د یوې برخې په توګه آټکل کړل شي؛
- د محیطي، عملیاتي، روغتیا او خوندیتوب د مسایلو په اړه کارکوونکو ته زده کړه ورکول باید په مفصله توګه خلاصه کړل شي؛ او
- د ساختماني کار په جریان کې د شور او غږ لګښتونه باید د نظارت د شمېر او وسایلو د لګښت په توګه محاسبه کړل شي.

## 8.2.4 د مدیریت د پلانونو تیارول تر بیا استوګن کېدو پورې اړوند او فزیکي او فرهنګي سرچینې

که د سروې د پروسې له لارې د فرعي پروژې له پاره د یوه لازم شرط په توګه په نظر کې ونیول شي، د بیا استوګن کېدو کاري پلان او د آثارو د څرګندېدو کړنلارې په څنګ یا هم د فرعي پروژو د مدیریت د پلان د یوې نه پرې کېدونکې برخې په توګه برابر کړل شي.

أ) <u>د بیا استوګن کېدو کاري پلان</u>

که چېرې د اجتماعي اغېزو ارزونه وښي چې د پروژې له امله خلک ځمکه، پانګه او ژوند له لاسه ورکوي او په منفي توګه اغېزمن کېږي، د بیا استوګن کېدو کاري پلان به جوړ شي. **لومړۍ ضمیمه** د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ کړنلارې لري چې لارښودونه او کړنلارې چې باید تعقیب کړل شي مطرح کوي په داسې حال کې چې د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان د فرعي پروژو له پاره د بیا استوګن کېدو کاري پلان ته اړتیا شي.

ب) <u>د فزیکي او فرهنګي سرچینو مدیریت</u>

دا چې د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک (NHESP II) پلان پانګونه کېدای شي د کیندنې او ساختماني کار په جریان کې په فرهنګي ځمکو اغېزې ولري، نو مهمه ده چې د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزونه هم اغېزو ته د رسېدو بهیر یا پروسه د آثارو د کتلو د کړنلارو له لارې مشخصه کړي. اقدامات باید د ژوندانه د چاپېریال په پلان کې شامل کړل شي چې لاندې ساحو ته رسېدنه وشي:

- د په نښه شوو منفي اغېزو کمښت یا مخنیوی؛
- د آثارو د څرګندېدو له پاره مقررې؛
- د اداري وړتیاوو د پیاوړې کولو له پاره اقدامات؛ او
- د دې فعالیتونو د پرمختګ د تعقیب له پاره نظارتي سیستمونه.

دغه پلان باید د افغانستان د جامعي تګلارې د چوکاټ او ملي قانون، د نړیوال بانک عملیاتي پلان ۴,۱۱ د فزیکي او فرهنګي سرچینو له پاره جوړ دی او باید چې تر مدیریت او د فرهنګي او فزیکي سرچینو د ساتنې په اړه توانایی په نظر کې ونیول شي.

## 8.2.5 منظوري

د اجراآتو او نظارت په ملاتړې ډله کې (د ژوندانه د چاپېریال ساتنې له ملي ادارې سره په مشوره) د ژوندانه د چاپېریال د حفاظت متخصص د ژوندانه د چاپېریال پلانونه او که لازم وي د ژوندانه د چاپېریال د اغېزې ارزونې ارزوي، څو ډاډ ترلاسه شي چې ټولې محیطي او اجتماعي اغېزې پېژندل شوې دي او د کمښت اغېزمن اقدامات وړاندیز شوي او په فرعي پروژو کې کارول شوي دي باید چې په اړونده بودیجې د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت یو پلان برابر شي. که د محیطي اغېزو ارزونې لازم وي، باید و ارزول شي او د شریکولو له پاره باید نړیوال بانک او د ژوندانه د چاپېریال ساتنې ملي ادارې ته څرګند شي. په **۱۰مه ضمیمه** کې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تصفیې د ابلاغ له پاره برابر شوي دي.

مهمه ده، پام ولرو چې دغه د ارزونې او منظورۍ پروسه باید د تخنیکي، اقتصادي، مالي، منظورۍ او ارزونې سره په موازي توګه ترسره شي. د فرعي پروژو تطبیق نه شي کولای د اجتماعي او محیطي ابعادو تر ارزونې او د کمښت د وړ اقداماتو تر نیولو پورې پیل شي.

دا چې د ځمکې استملاک په څنګ کې اجتماعي اغېزې لري نو د فرعي پروژو تطبیق نه شي کولای د بیا استوګن کېدو او جبران د پلانونو تر تطبیق پورې پیل شي

## 8.3 د خلکو مشورې او معلوماتو وړاندې کول

د افغانستان د حکومت د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې د مقرراتو او نړیوال بانک له لارښودونو سره سم، د فرعي پروژو له پاره چې له مخې یې د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزونه ضروري وي، د عمومي ارزونې له پاره د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې سند په داسي یوه ځای چې د سیمي خلک لاسرسی ورته ولري (د بېلګې په توګه، په هغې سیمه کې دولتي دفتر)، په یوه ډول، طریقه او ژبه چې هغوی پرې پوه شي ورته ورسېږي. د عمومي مشورتي پلان له پاره یو تمپلیت په **۱۱مه ضمیمه** کې برابرېږي او د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې له پاره د نمونه ابلاغیې یو یادښت په **۱۲مه ضمیمه** کې وړاندې شوی دی. د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت او د مشورې له پاره د بیا استوګن کېدو کاري پلانونه او دا چې خلک په کې شریک کړل شي د محیطي اغېزو د ارزونې د بهیر پیروی ته اړتیا نه لري.

## 8.4 کلنې راپورونه او نظارت

د اجراآتو او څار ملاتړې ډله په ولسوالیو کې د اړونده ریاستونو په هکاری، د ژوندانه تر چاپېریال پورې تړلې د کمښت د اقداماتو تطبیق، د فرعي پروژو د قراردادي پلانونو په بنسټ وڅاري.

### 8.4.1 د فرعي پروژو د مدیریت او ګواښونو د کمښت د پلانونو راپور ورکول او نظارت

د اجراآتو او څار ملاتړې ډله/ د لوړو زده کړو د وزارت تطبیق کوونکي ارګانونه( پوهنتونونه) چې د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ په دویم پلان کې ګډون کوي، لازم بولي چې یو مناسب محیطي نظارتي پلان جوړ کړي او د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان د فرعي پروژې له پاره د سرتاسري پلان په چوکاټ کې نظارت شي. له دې امله، د ژوندانه د چاپېریال د پلان له پاره د نظارت هوکړې د مدیریت د پلان د تطبیق د جدي ګواښونو، د نظارت څرنګوالی همداراز د پروژې په تطبیق کې ګواښونه او د کار د سرته رسوونکي سره به په هوکړو تمرکز وکړي.

د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلان نظارت، د پروژې په ټولو اړخونو کې، د نظارت، اروزنې او راپور ورکونې په څنګ کې نیوونکی او ورته طرحه شوې ده چې:

- مشخصه کړي چې آیا دا پروژه د ژوندانه له چاپېریال او قانوني هوکړو سره سمه ترسره کېږي؛
- ستونزې دې په نښه کړي څکه چې دا ستونزې د پېښې د تطبیق په جریان کې هم پېښېږي او د دې ستونزو له پاره د حل لارو سپارښتنه هم وکړي؛
- د پروژې د ډیزاین او د ترسره کولو طریقې په اړه بدلونونه، څه ډول چې مناسب وي او نظر د پروژې په بشپړوالي او یا هم د شرایطو په بدلېدو سره دې وړاندیز وکړي او د پروژې په پایښت سره دې جدي ګواښونه په نښه کړي او د خطر د مدیریت د مناسبو ستراتیژیو په اړه دې د کار د ترسره کولو مسول ته سپارښتنه وکړي.

مهمه ده چې په څرګندو هدفونو سره دې یو محیطي مناسب پلان جوړ شي چې ډاډ ترلاسه شي چې د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلان تطبیق په بریالي توګه ترسره شو.

د اجراآتو او نظارت ملاتړې ډله به په ولسوالیو کې د کمښت د اقداماتو د تطبیق له ځای په ځای شوو دفترونو سره چې د ژوندانه تر چاپېریال پورې تړلي دي، په یوه نمونه فرعي پروژه کې په ربعواره توګه نظارت کوي او په هره ربع کې به نړیوال بانک ته د پایلو راپور ورکوي. د اجراآتو او څار ملاتړې ډله د لوړو زده کړو له وزارت سره په هکاری هر کال د فرعي پروژې د اجراآتو یوه داخلي ارزونه د پروژو د بشپړ نظارت د پروګرام په توګه ترسره کوي.

د اجراآتو او څار ملاتړې ډله د پروژې له ترسره کوونکي سره د پروژې د تطبیق د همغږۍ کېدو او د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت په پلان کې، د کمښت د اقداماتو او د نورو اړوندو مدیریتي پلانونو څارنه کوي. د اجراآتو او څار د ملاتړې ډلې د ژوندانه د چاپېریال د ساتنې متخصص، د انجنیرۍ له ډلې سره په همکارۍ د څارنې له پروژو څخه د منظمې څارنې، د راتلونکو اصلاحي اقداماتو تعقیب، څنګه چې لازم دي مسولیت یې په غاړه لري. دغه څارنه د ساختماني فعالیتونو د ځای کتنه ده څو تصدیق شي چې پېژندل شوي اقدامات د ژوندانه د چاپېریال د پلان په بندونو او د سند په فقرو کې شامل دي او تطبیق دې شي. دغه څارنه د یوه نظارت کوونکي انجنیر له عادي دندو سره ورته والی لري. د انجنیر دنده د هغې څارنه ده چې د کار له کیفیت څخه ډاډه شي او وګوري چې د قراردادي اجراآت له معیار سره سم دي.

د فرعي پروژې د تطبیق په پیل کېدو سره باید د څارنې منظم ماموریتونه اجرا شي، (دریم شخص ته ترجیح ورکول کېږي) او د څارنې کلنی راپور باید د لوړو زده کړو وزارت، د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډلې او نړیوال بانګ ته د ارزونې له پاره ولېږل شي.

د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت په چوکاټ کې د څارنې او تطبیق لګښت د لوړو زده کړو وزرات د تمویل شوو پروژو په ټوله بودیجه کې، په ځانګړې توګه د ژوندانه د چاپېریال یو متخصص د اجراآتو او نظارت په ملاتړې ډله او د وړتیاوو د لوړولو د فعالیتونو په تطبیق کې شامل دی.

### 8.5 کلنۍ ارزونې

هر کال د ژوندانه د چاپېریال او اجتماع یوه خپلواکه ارزونه کېږي. د ارزونې ډله د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډلې او نړیوال بانګ، د لازمو اصلاحي هر ډول اقداماتو رهبري کوونکو ته راپور ورکوي. یوې ارزونې ته اړتیا ده چې ډاډ حاصل شي(i) چې د اجتماعي مدیریت چوکاټ او د ژوندانه چاپېریال بهیر په مناسبه توګه تطبیق شي(ii) او د کمښت اقدامات وپېژندل او تطبیق شي. دغه ارزونه کولای شي د اجتماعي مدیریت او ژوندانه د چاپېریال د طریقې په چوکاټ کې هر ډول تعدیل چې د اغېزمنتیا ښه والي ته اړتیا لري په ښه کړي.

د کلنۍ ارزونې په راپور کې لاندې توکي شامل دي:

- د لوړو زده کړو د دویم ملي ستراتیژیک پلان (NHESP II) او ژوندانه تر چاپېریال پورې تړلو اجراآتو خلاصه د اجتماعي اغېزو او ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلانونو د ارزونو پر بنسټ؛
- د فرعي پروژو د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلانونو د تطبیق د یوه پرزنتیشن وړاندې کول؛
- د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت یا هم د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې له پلانونو څخه د سرغړونې د کتبي اخطارونو شمېر د پروژې د ترسره کولو مسول ته؛
- د فرعي انفرادي پروژو د نظارت کوونکو اقداماتو او د ژوندانه د چاپېریال د څارنې د پایلو یوه خلاصه (څنګه چې د ژوندانه د چاپېریال په مدیریت کې، د ژوندانه د اغېزو ازونې څرګندې شوې دي.)

همداراز د اجراآتو او څارنې ملاتړې دله (د قراردادیانو له لارې) د فرعي پروژو یوه کلنۍ ارزونه د ژوندانه د چاپېریال او اجتماع د ارزونې د پاڼې په استفادې سره په **۱۳مه ضمیمه** کې ترسره او لوړو زده کړو وزارت ته یې سپاري.

## 7. شکایتونو ته د رسېدنې میکانېزم

د هرې ورځې په ډېرېدو سره په اګاهانه توګه د برخه اخیستنې تمرکز، هغوی چې له هرې پروژې څخه لکه هغه یوه پروژه چې د لوړو زده کړو په پراختیایي ستراتیژي (۲۰۲۰-۲۰۱۵) کې وړاندیز شوي ګټه پورته کوي، اغېزمن شي وجود لري. د مدني ټولنې ارګانونه په همداسې حالتونو کې د مهمو فعالیتونو په ځېر په نظر کې نیول کېږي. له دې لپاره یې هغه لارې دي چې د پراختیایي ارګانونو په واسطه د شخړې وړ مسائلو د حل له پاره هڅول کېږي، شکایتونو ته د رسېدنې لاره لومړی او لویه لاره ده چې د یوې شخړې د پورته کېدو مخنیوی وکړي، په دې طریقه د خبرو او اورېدو له لارې د یوې جنجالي مسئلې حل کولای شي ډېری سرچینې وساتي چې په خلاف د دې هغه سرچینې په آسانۍ سره یوه شخړه کېږي. همداراز دغه کار عملیاتي ګواښونه کموي چې په پایله کې کولای شو د عملیاتي فعالیت له پاره ډېرې سرچینې وساتو.

## 9.1 شکایتونو ته د رسېدنې د میکانېزم هدف

د لوړو زده کړو د وزارت د دویم ستراتیژیک پلان په تطبیق کې د شفافیت او ځواب ورکونې څخه د ډاډه کېدو په معنی، د لوړو زده کړو وزارت شکایتونو ته د رسېدو له پاره په بشپړو څرګندو هدفونو سره او همداراز به د ثبت او شکایتونو ته د رسېدو له پاره د کړنلارو ټولګه رامنځ ته کېږي. د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تطبیق له پاره د اړوندو شکایتونو د رسېدو له پاره د لوړو زده کړو وزارت یوه کمېټه جوړه کړي چې د لوړو زده کړو یو کس رییس، د لوړو زده کړو په وزارت کې د پلان او پالیسۍ د لوړو زده کړو د پراختیایي پروژې له پاره د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله، د پروژې د اجتماعي او محیطي حفاظي متخصصین، په ټولنه پورې اړوند استازي او یا ګروپ او یا غړی د داسې یوې موسسې چې خپله تر اوسه پېژندل شوې نه ده او د سیمې یو مشر کس دی. له شریطو وړ شکایتونو ته د رسېدو د کمېټې غړي، تجربه لرونکي، او لایق کسان به وي چې وکولای شي د اغېزمنو کسانو احترام او باور تر لاسه کړو. شکایتونو ته د رسېدو میکانیزم باید په لاندې کړنلارو کې وی:

- ثبت ، یادښت او د شکایتونو ډلبندي؛
- د شکایتونو د لومړنۍ ترسره کېدنې یوه اجرا؛
- اړوند کس یا برخو ته د شکایتونو بېرته ګرځېدل؛
- له کاره د ګوښه کېدو او حل مشخص کول؛
- د پارامترونو او د تصمیم نیونې له پاره دقیق تصمیم نیول،
- د تصمیمونو د ترسره کولو له پاره د اړونده مسولو ارګانونو هدایت کول؛
- د شکایت کوونکو خبرول او د شاوخوا اغېزمن کسان او د شکایت کوونکو خبرول، د برطرفیو د بهیر او پایلې؛ او
- پلټنه، څارنه، داسنادو برابرول او ارزونه

د شکایتونو له څرنګوالي څخه د دوی په نوعیت او شدت، شکایتونو ته د رسېدو کمېټه، له پروژې څخه له اغېزمنو کسانو سره مشوره به شکایتونو ته د رسېدو یوه لاره وړاندې کړي او د هغې له مخې به تصمیم ونیسي. کوم ځای چې وړ وي، اغېزمن شوو کسانو ته به وخت ورکړل شي چې خپل عرض او د خپل جبران غوښتنه وړاندې کړي. له پروژې څخه اغېزمنو کسانو ته به همداراز دا توان ورکړل شي او د جبران په ترلاسه کولو کې به له دوی سره مرسته وشي.

د ودې زېربناوو لرونکو پروژو کې کېدای شي د ساختماني کار اړوند شکایتونه ډول ډول وي او تطبیق کوونکي ارګان او یا قرارداد له مخې یې د مدیریت مسئولیت قراردادي ته متوجه دی. دا ډول شکایتونه معمولاً د محیطي اغېزو په توګه تعریف کېږي. دا ډول مسائل عبارت دي له خاورې او دوړې، سېلاب، انفجار (شور، ټکان او تخلیه)، د لاسرسي له لاسه ورکول، ژوند ته ګواښ، د ثقیله وسایلو له امله عامه سرکونو ته زیان رسېدل، د اوبو د اندازې او کیفیت خرابول، جایداد او حاصلاتو ته زیان رسول، د خاورې سولېدل او نور دي.

## 9.2 د شکایتونو ډولونه

د زېربنايي پروژو له تطبيق څخه رامنځ ته شوي شکايتونه کولای شي پېښېدونکي او د منلو وړ نه وي. څنګه چې تر اوسه څرګنده ده چې ډېرى شکايتونه د سيمه ييزو چارواکو او يا هم د لوړو زده کړو د وزارت له خوا اوار شوي وي. نور شکايتونه که چېرې په ياد شوو ځايونو کې حل نه شي، بايد چې د شکايتونو د رسېدو کمېټې ته راجع شي او د شکايت د ثبت د يوې پروسې تابع شي. دا چې ډېرى شکايتونه د اوسېدونکو له خوا کېږي، امکان لري د برابروونکو ارګانونو کسانو خدمتونه او يا هم له فرعي پروژې بهر ټول ارګانونه هم شکايتونه وکړي. شکايتونه کېدای شي په لاندې ډول وي:

أ) د خلکو تر منځ شخړې: د پروژې تطبيق کولای شي د خلکو په ژوند او پانګونو مستقيمي او غيرمستقيمي اغېزې ولري.

ب) تدارکاتي په ځانګړې توګه داخلي مسائل: تطبيقي کړنلارې، د رقابتي مناقصې د بهير له لارې له خصوصي ساختماني شرکتونو سره قرارداد کول څرګندوي. دغه کار کولای شي د ټاکنو او قراردادونو د مديريت، يا په ساحه کې د ترسره شوو کارونو او انتقال شوو موادو په کيفيت سره پای ومومي.

ت) د بهير ځنډېدل: د پراختيايي او اجتماعي پروژو د بې‌لابېلو پروسو په تطبيق کې کېدای شي ځند پيداشي چې دا کار به د سيمو د خلکو له پاره ځوروونکی وي.

ث) د امنيتي ځواکونو له حضور څخه راپيداشوي شکايتونه

ج) په ساحه کې د ښځو شکايتونه

ح) د خدمتونو د وړاندې کولو شکايتونه

خ) له ساختماني کار څخه راپيداشوي شکايتونه

د) د قومونو د لويانو تر منځ شکايتونه، هغه کسان چې پوهنتون ته د خپل فرهنګ او دودونو په وړاندې د تهديد په سترګه ګوري.

## 9.3 شکايتونو ته د رسېدنې سيستم

په ځانګړې توګه د پوهنتون د جوړېدو په اړه يوه څرګندونه او يا هم په شفاهي او کتبي توګه له وړاندې شوو خدمتونو او آسانتياوو څخه ناخوښي، له لږ او يا ناسم کار کولو څخه اندېښنه ښودل چې دا کولای شي په انفرادي او ډله ييزه توګه ترسره شي. شکايتونه کولای شي د پوښتنې يا هم د ځرنګوالي په اړه استعلام وړاندې کړي او يا هم د وړانديزونو په توګه چې کولای شي په هغه کې کوم مقصد تر لاسه شي مطرح کېږي. (۹،۱ شکل ته دې مراجعه وشي).

شکايتونو ته د رسېدو د سيستم مقصد دا دی څو ډاډه شو چې له ساختماني کار او د پوهنتون د فعاليتونه د ترسره کولو په اړه د اغېزمنو کسانو اندېښنو او څرګندونو ته غوږ ونيول شي بيا د يوې رڼې او اغېزمنې لارې څخه هغې ته رسيدنه وشي.

په څرګنده توګه دا ممکنه نه ده چې شکايتونو ته د رسېدو له پاره له وړانديز شوي سيستم څخه ټولو او يا هم يو څه شکايتونو ته رسېدنه وشي چې کولای شي د يوې ډلې کسانو مخه ونيسي چې اختلافات يا هم نه توافق يې نه يوازې دا چې کولای شي د پروژې فعاليتونه اغېزمن کړي، بلکې د پروژې د کارکوونکو له توانه به وتلې وي. په همدې دليل، څنګه چې د شکايتونو د سيستم وړانديز کېږي. په لومړيو کې هغه مسايل تر کار لاندې نيسي چې د پوهنتون له ساختماني فعاليتونو څخه راپيداشوي وي، يا هم کولای شي چې د توجيه وړ وي او د يوې لاسته راوړنې په توګه تشريح شي.

دا مهمه ده چې شکايتونو ته د رسېدو او ثبت ډله په جدي توګه همدې ميکانيزم ته ژمنه ده دوی له پروژې بهر شکايتونه نه اخلي څو وکولای شي خپله بې طرفي وساتي.

## 9.1 شکل، شکایتونو ته د رسېدنې د میکانېزم مډل



### 9.4 اصول، کړنلارې او د وخت میعاد

لاندې چارو ته درسېدو له پاره باید وړاندیز شوي سیستمونه د دریوو ابتدایي (خدمتي معیارونو) په واسطه ترسره شي:

أ) په لیکل شوي توګه ټول وړاندېز شوي شکایتونه، ګمارل شوو کارکوونکو ته په رسمي ډول شکایتونو ته د رسېدو د میکانیزم په توګه ثبتېږي او یو تحریري تصدیق یې صادرېږي.
ب) شکایتونو ته د پیوسته کېدو په بنسټ رسېدنه کېږي؛ هغه شکایتونه چې په سیمه بیزه توګه حل کېدای شي او هغه شکایتونه چې په سیمه بیزه توګه حل کېدای نه شي، د شکایتونو کمېټې ته دې راجع کړل شي. په داسې حال کې چې نړیوال بانک تل د دې بهیر، پایلو او د خنډونو په اړه ځان خبروي.
ت) هر ډول هڅه دې وشي چې شکایتونه په یوه ټاکلي وخت کې حل شي، دا به یو شاخص وي چې د هغو اجراآتو په اړه شکایتونو ته د رسیدو سیستم و ارزول شي:

- لیکل شوی شکایت به تصدیق په **۵ کاري ورځو** کې شکایت کوونکي ته صادر شي.
- که چېرې شکایت په لومړي سر کې د ځارني د کارکوونکو له خوا د کار په ځای کې حل نه شو، په **۴اونیو** کې د شکایت له ثبت او یا هم په لیکلي توګه له ترلاسه کولو وروسته، د خبرو له پاره د شکایتونو کمېټې ته د بحث له پاره لېږل کېږي.
- که شکایتونو ته د رسېدو کمېټې مشکل په وخت او قناعت کوونکي توګه حل نه کړ، شکایت په **۲اونیو** کې د آجراآتو او ځارني د ډلي له خوا د لوړو زده کړو وزارت ته لېږل کېږي.

### .10 د زده کړې او وړتیا لوړوالی

د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ تطبیق به تکیه ولري پر: (الف) د اجراآتو او ځارني د ملاتړې ډلې د توانایي لوړول څو ډاډه شو چې فرعي پروژې په مناسبه او سمه توګه سروې او ارزول کېږي؛ او (ب) منظمه ځارنه او راپور ورکول چې د فرعي پروژو له اجراآتو څخه ځارنه وشي. د پروژې کارکوونکي، د لوړو زده کړو په وزارت کې د ننه او د اجراآتو او ځارني ملاتړې ډله له پروژې ځارنه او همغږې کوي. سره له دې چې د اجراآتو او ځارني ملاتړې ډله د پروژې د همغږۍ مسولیت لري خو له یوه متخصص او زده کړې کس پرته به د کار حجم ته د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت په چوکاټ کې په رسېدو ونه توانېږي څو دغه برخه د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ په تطبیق کې مرسته وکړي.

له دې څخه ډاډه کېدل چې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ احکام، د اجراآتو او ځارني د ملاتړې ډلې او لوړو زده کړو د وزارت تر منځ په څرګنده او رڼه توګه وپېژندل شي. د کړنلارو او د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ محتویاتو د توضیح کولو له پاره باید د پروژې د پیل په لومړۍ میاشت کې د تطبیق کوونکو ارګانونو له پاره د وړتیاوو د لوړولو د پروګرام د یوې برخې په توګه یو ورکشاپ جوړ کړل شي. د وړتیاوو د لوړولو او زده کړو پرلپسې تمویل شوي پروګرامونه به د همدې پروژې تکمیلوونکي وي.

### 10.1 د ژوندانه د چاپېریال ساتنې او اجتماعي مدیریت د متخصصینو ټاکل

د اجراآتو او ځارني ملاتړې ډله د لوړو زده کړو له وزارت سره د تعریف شوو سازماني هوکړو ځای په ځای کولو کې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت په چوکاټ کې همکاري کوي. د اجراآتو او ځارني ډله د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ یو یو متخصص په کار ګماري چې د پروژې په جریان کې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ تطبیق په غاړه واخلي. هغوی به تر ساحې پورې ترلې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د پلانونو د برابرولو له پاره د لوړو زده کړو په وزارت کې د قناعت کوونکو هوکړو په رامنځ ته کولو چې د دې پروژې د تطبیق په وخت کې هر ډول ساختماني فعالیتونو ته اړتیا پیداشي مرسته وکړي. او د لوړو زده کړو د وزارت او پوهنتونونو د پلان او پالیسی د ادارې په چوکاټ کې د کارکوونکو د وړتیا

د لوړولو په برخه کې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت په چوکاټ کې مرسته کوی. هغوی د پروژې د برابرولو په اړه اړونده برخې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ او ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلانونه برابروي چې د پروژې د بهیر په راپورونو کې د شاملېدو له پاره د اجراآتو او څارنې د ملاتړ دلې له خوا برابرېږي.

په اوږده مهال کې د کارکوونکو د وړتیاوو د لوړولو د پیل په منظور د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي محافظت له پاره، د ځمکې او اړوندو سیمو مدیریت په هغو لومړیتوب لرونکو پروګرامونو کې چې تر دې پروژې لاندې باید ترویج شي، شاملوي.

## 10.2 زده کړه

د اجتماعي او محیطي ساتنې مختصص به د لوړزو زده کړو د وزارت په واسطه د تمویل شوو پروژو د انجنیری د ډلې له اړوندو کارکوونکو سره، د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تطبیق په برخه کې د ورکشاپ په توګه چې په ۹،۱ برخه کې یې وړاندیز شوی زده کړې وکړي. له پروژې څخه د څارنې په وخت کې، د لوړو زده کړو وزارت د خپلو څو ملیتي همکارانو په مرسته لکه، نړیوال بانک، د چوکاټ تطبیق په مستقیمه توګه او یا هم د درېیمګړي له خوا ارزول کېږي او که لازمه وه د ډېر ملاتړ وړاندیز به وکړي.

د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ په تطبیق کې د وړتیا د ودې په منظوربه د وړتیا لوړولو ته دوه ارګانه اړتیا ولري: د ژوندانه د چاپېریال د ملي تګلارې قانون او د لوړو زده کړو د انجنیری او پالیسی ادارې.

د ورکشاپ ګډون کوونکی به دځنګلونو د برخو د سیمه ییزې شورا، د ژوندانه چاپېریال، کرنې، روغتیا او اوبو څخه پنځه کسه مسولین وي. د لوړو زده کړو وزارت په واسطه ساحوي غونډې، د ژوندانه د چاپېریال اداره، د ځمکو اداره او د ارزښت ټاکلو ته به آسانتیا او تنظیم ورکړل شي. په ورکشاپ کې به د ګډون کوونکو له پاره د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت په چوکاټ کې د ثبت شوو لارښودونو او د ابتدایي تطبیق، د مناسبو وسایلو په کارولو لکه، د سروې پاڼه، د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان، د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د کلني راپور ورکولو پاڼه او نور تدریس کړل شي. د اړتیا په صورت کې به لنډمهاله مقدماتي کورسونه د پروژې په جریان کې جوړ کړل شي.

یاد ورکشاپ به د سیمه ییز مشاور په واسطه چې په وړاندیز شوو برخو کې به کافي تجربه ولري چې همداراز د E&S اړوند د زېربناوو په پراختیا کې ډېره تجربه ولري ترتیب او مخته یوړل شي څو د مطالې له پاره یوه بنه موکه برابره شي.

**جدول 10.1 د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تطبیق له پاره د زده کړې وړاندیز شوی پروګرام**

| بېلګه | وخت |
|---|---|
| **لومړی ورځ**<br>پېژندنه<br>• د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت او د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ هدف<br>• هغه اړونده مراجع چې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت او د بیا استوګن کېدو د تګلارې په چوکاټکې رول لري.<br>• د نړیوال بانک د حفاظتي تګلارو نظم او تحکیم او تقنیني اسناد<br>• د اړوندو دولتي او غیردولتي موسسو جوړښت او د ادارو رول چې د علمي آسانتیاوو په برابرولو کې لاس ولري. | یوه ورځ |

| بېلګه | وخت |
|---|---|
| **دویمه ورځ** | |
| د فرعي پروژو د لاربښودونو خلاصه | یوه ورځ |
| • سروې<br>• ارزونه او منظوري<br>• افشأ<br>• کلنۍ اروزنه<br>کلنۍ راپور ورکونه | |
| د وړتیا د لوړولو شرایط | 0.5 |
| د ژوندانه د چاپېریال د پلانونو، د مدیریت اړوندو پلانونو، د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلانونه او د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ټولو مدیریتي پلانونو له پاره د درجې ټاکل | 0.5 |
| مجموعه | **۳ ورځې** |

## 11. د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تطبیق بودجه

د لوړو زده کړو په وزارت کې به د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ کلنۍ بودیجه ۳۵۰۰۰۰ امریکایي ډالره وي چې ددوو تنو کارکوونکو لګښت او د یوه کال په موده کې به اړوندو ادارو ته د وړتیاوو د لوړولو او زده کړې د پروګرامونو د وړاندې کولو لګښت شامل وي. هیله کېږي چې دغه بودیجه به د زده کړو پروګرامونه او د وړتیاوو د لوړولو پروګرامونه په ټولو ۱۳ دولتي پوهنتونونو کې او د زده کړو پروګرامونه به په ملي کچه تر پوښښ لاندې ونیسي. یاده بودیجه به همدا راز د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د پلان د متخصص لګښت او د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د پلان د تطبیق له پاره به یو تن کارکوونکی د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ په دویم پلان کې شامل کړل شي. کوم موضوعات چې تر پوښښ لاندې نیول کېږي په لاندې توګه دي:

- د لوړو زده کړو د ستراتیژۍ له پلان (۲۰۲۰-۲۰۱۵) سره سم د زېربناوو د فعالیتونو پراختیا
- د اجتماعي او محیطي سروې د پروسې له پاره لاربښودونه؛
- د بیارغونې او ساختماني کارونو له پاره د ژوندانه د مدیریت د پلانونو تیارول؛ او
- جنسیتي ارزونه او د پروژې د کاري فعالیتونو آسانتیا.

لاندې چې کوم لګښتونه یاد شوي کېدای شي د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تطبیق په ډول او وخت په نظر کې نیولو سره بدلون وکړي، له همدې امله هیله کولی شو چې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ وړاندیز شوې بودیجه به کېدای شي له منل شوي کاري پلان سره ډېره او یا لږه شي.

### 11.1 جدول د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ‌تطبیق له پاره اټکل شوې بودیجه

1. د لوړو زده کړو په وزارت کي د ژوندانه د چاپېریال د حفاظتي متخصص او اجتماعي د حفاظتي متخصص په کار ګمارل= $200,000

2. په پوهنتون کي له اړوندو مراجعو، ملي او سیمه ییزه کچه د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تطبیق له پاره د ورکشاپونو جوړول، = $50,000

3. د اجتماعي اغېزو د ارزوني د تطبیق او څارنه/ د محیطي مدیریت پلان/ د وړاندیز شوو پوهنتونونو له پاره د محیطي اغېزو ارزونه/ کتني =$100,000

# د افغانستان حکومت

د لوړو زده کړو وزارت

## د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ

د لوړو زده کړو پراختیايي پروژه

## عملیاتي وسایل او تخنیکي لاربښودونه

**لومړۍ ضمیمه: د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان له پاره د بیااستوګن کېدو د ټګلارې سکتوري چوکاټ**

د بیااستوګن کېدو د ټګلارې د دغه چوکاټ، عمومي اصول او هغه ګامونه چې د ځمکې د هر ډول استملاک او بیا استوګن کېدو په اړه وي او د ځینو پروژو د تطبیق په جریان لکه پوهنتون، د لوړو زده کړو موسسې یا هم د لوړو زده کړو د وزارت په همکارۍ رامنځ ته کېږي تشریح کوي. د لوړو زده کړو د وزارت د بیا استوګن کېدو د پالیسۍ له چوکاټ او د بیا استوګن کېدو د ټګلارې چوکاټ چې د مرکزي او جنوبي آسیا (CASA 1000)د بریښنا د لېږد د پروژې له پاره طرحه شوی، د بیا استوګن کېدو د ټګلارې په بنسټ واضح شوی او د یوې بین الوزارتي کمیټې په واسطه د ۲۰۱۰ ز کال په ډسمبر میاشت کې د اوبو او انرژۍ وزارت له پاره تنظیم شوی دی.

په حکومت کې د بیا استوګن کېدو معمول معیارونه او طریقې د دې ډول پروګرامونو د مدیریت اغېزمنتیا ډېروي. مسولین په آسانۍ سره کولای شي څه ته یې چې اړتیا وي ترلاسه کړي؛ ظرفیت کولای شي وده وکړي او اغېزمن کسان به په ټولو پروژو کې ډېر باور ولري چې له دوی سره د انصاف له مخې چلند کېږي، نو د ناخوښیو احتمال، د حقوقو خنډونه او نورې ټولې ستونزې د بیا استوګن کېدو په لاره کې چې کولای شي د پروژو تطبیق وځنډوي کمېږي. د استفادې وړ معمول معیارونه، همداراز د بیا استوګن کېدو د یو ملي قانون رامنځ ته کول به هغه وخت چې دولت هغه لوري ته د تلو تصمیم ونیسي اسانه کوي.

**د بیا استوګن کېدو د ټګلارې په چوکاټ کې د استفادې وړ عباراتو او اصلاحاتو تعریف**

**اغېزمن کسان(APs):**د بیا استوګن کېدو د ټګلارې د دې چوکاټ له مخې، ټول هغه کسان دي چې په مستقیمه توګه د پروژې اړوندې ځمکې د استملاک له امله اغېزمني شوي وي چې دغه کار په فزیکي توګه بې ځایه کېدل، د پانګې له لاسه ورکول او یا هم پانګې ته لاسرسی خو په ژوندانه د بدې اغېزې په لرلو سره تمامېږي.دغه اغېزمن کېدل د اشخاصو او کورنیو دي چې( ځیني وخت له پروژې څخه د اغېزمني شوې کورنۍ په نوم سره یادېږي) شرکتونه یا خصوصي او عمومي ارګانونه چې د پروژې د اړوندو ځمکو د استملاک له امله یې (i) د ژوند کچه ډېره اغېزمنه شوې وي، (ii) حق، استحقاق یا منافع په ټولو یا د یو کور په هره برخه، ځمکه (د اوسېدو، سوداګریزو، د خپلواکو معدن کاري ځمکو،کرنیزو ځمکو، ځنګلونو او د حیواناتو د څرځایونو په ګډون) د اوبو سرچینې یا ټولې منقولې پانګې یا ثابتي او استملاک شوې، ملکیت شوې، یا هم په کوم بل ډول ډېرې اغېزمنې دي، یوه اندازه یا هم په بشپړه توګه، به دایمي یا هم په لنډمهاله توګه؛(iii) او یا کار، دنده، د کار ځای یا سکونت، یا هم دا چې داستوګنې سیمې ډېرې اغېزمنې شوې یا هم له بې ځایه شوو پرته دي. له همدې امله اغېمن کسان هغه دي چې په مستقیمه توګه اغېزمن شوي،(i) دوی د لارې له حق او یا هم د ساختماني کار له سیمې بې برخې شوي دي؛ (ii) هغه کسان چې کرنیزې ځمکې یا هم نورې تولیدي دارایی لکه د کانونو د استخراج سیمه ونې او غلې دانې یې اغېزمنې شوې دي؛(iii) هغه کسان چې فعالیتونه یې اغېزمن شوي دي چې کېدای شي د ځمکې د استملاک له امله دعوایدو ضرر ووینې؛(iv) هغه کسان چې دندې یې د پروژې اړوند ځمکو د استملاک له امله له لاسه ورکوي؛ او (v)هغه کسان چې تر پروژې اړوند ځمکې د استملاک له امله د اجتماعي دارایي سرچینو ته لاسرسی له لاسه ورکوي.

**سرشماري:**له ارزونې مخکې د احتمالي اغېزمنو کسانو له نفوس شمېرنې څخه عبارت ده. چې د کلي له مخې د شمېرلو او یا هم د کلي له مخې یا نورو اطلاعاتو په بنسټ برابرېږي.

**جبران:**عبارت دی له نقدي یا غیر نقدي ورکولو څخه چې یوه دارایي د پروژې یا پانګونې له امله اغېزمنه کېږي.

**د وخت ټېرېدل:**عبارت له هغه نېټې څخه دی چې په هغه کې د جبران د شرایطو لرونکي نه حسابېږي، په دې شرط سره چې هغه د اغېزمنو کسانو په لیست کې څنګه چې د سرشمېرنې په تعریف کې یاد شوي نه دي شامل شوي.

**بې ځایه کېدل:** د فزیکي یا اقتصادي بې ځایه کېدو څخه عبارت دي چې په مستقیمه توګه تر پروژې پورې د اړوندو ځمکو له استملاک څخه عبارت دي.

**د مفصل پرتله کولو سروې:**د ضررونو له مفصلې موجودۍ څخه عبارت دي چې له مفصلې طرحې او د پروژې د سرحدونو له ټاکلو وروسته بشپړېږي.

**تجاوزکوونکي:**له هغو کسانو څخه عبارت دي چې دوخت او نېټې له ټېرېدو وروسته د پروژې ساحې ته ننوزي نو له همدې امله هغه پرتله کوني او د شرايطو وړ جبران چې د پروژې له خوا برابر شوی وي نه وي.

**استحقاق:**له یو لړ نقدي او غیرنقدي د جبران له پرتلې څخه عبارت دي، د عاید د جوړولو مرسته، د لېږد مرسته، د عاید ځای په ځای کول، د اغېزمنو کسانو او سوداګرۍ د برابرولو له امله بې ځایه کېدل، له ډول سره سم، د هغوی د ضررونو ځرنګوالی او کچه، اقتصادي او اجتماعي بنسټ يې برابروي.

**د ژوند برابرول:** د ډاډ د ترلاسه کولو له پاره چې اغېزمن شوي کسان حد اقل د ژوند بدیل لري، که چېرې يې ژوند نه وي برابر شوی او سرچینې يې په اختیار کې وي . د ټولو اغېزمنو خلکو د ژوند برابرول د نړیوال بانک د بیاستوګن کېدو د تګلارې له کلیدي هدفونو څخه دي. دغه کار لازموي چې د خلکو له پاره لازمي مرستې او وسایل برابر شي څو د دوی ژوند او د ژوند شرایط يې به پروژې مخکې حالت څخه ښه او یا هم حد اقل حیا شوي وي.

**د ضررونو موجودي:**د داراييو له ارزونو مخکې موجودي لکه د اغېزمنو شوو يا له منځه تللو داراييو لومړنی یاددښت.

**جرېب**د افغانستان د اندازه اخیستنې د لومړي واحد په معنی دی. یو جريب د دوه سوه زره متره مربع ځمکې معادل دی. یو هکتار ځمکه له پنځه جرېبه ځمکې سره برابره ده.

**د ځمکې استملاک:**عبارت له هغې پروسې څخه دی چې له مخې يې یو کس د یوې عامه ادارې په واسطه اړ کېږي د خپلې شخصي ځمکې یوه برخه یا ټوله ځمکه د عامه ګټې اخیستنې یا د سملاسي او منصفانه جبران په مقابل کې ورکړي. په دغه استملاک کې مستقیم او د ارتفاق یا جوړښت حق شامل دي.

**غیرمستقیم کسان:**د هغو کسانو په معنی دي چې حقوق او یا هم د تشخیص وړ ځمکې چې اخلي يې دعوه ولري او هغه کسان شامل دي چې له اجازې پرته له شخصي او یا دولتي ځمکې کار اخلي.

**فقیر کسان:**هغه کسان دي چې د ملګرو ملتونو د پرتلنې له مخې تر فقر لاندې دي هغه داسې چې ورځنی عاید يې یو امریکايي ډالر چې د ۵۷ افغانیو معادل دی ولري.

**بیا استوګن کېدل:**د سیمې څخه اغېزمنو اشخاصو له فزیکي لېږد څخه عبارت دی چې د پروژې له تطبیق مخکې په کې اوسېدل او فعالیت يې لاره.

**احیأ:**له ډېرو اغېزمنو کسانو سره له برابرې شوې مرستې څخه عبارت دی چې د استملاک شوو داراييو د جبران د بشپړوالي له پاره، یا هم لږ تر لږه د دوی د ژوند د ټولو هغو معیارونو بشپړ برابرولو چې د پروژې تر تطبیق وړاندې يې ګټه ترې اخیسته.

**د بېرته په ځای کولو لګښت:**د داراييو د ارزښت د ټاکلو له تګلارې څخه عبارت دی چې د له لاسه تللي دارايي د بېرته په ځای کېدو له پاره د کافي پیسو په ټاکلو کې مرسته وکړي او د معاملې لګښتونه تر پوښښ لاندې ونیسي. د ارزښت د ټاکلو د تطبیق په دې طریقه کې، د ودانیو استهلاک او دارايي نه باید په پام کې ونیول شي. د هغو ضررونو له پاره چې په آسانۍ سره نه شو کولای هغه پرتله او یا يې د پیسو په بدل کې جبران کړو (لکه، عامه خدمتونو ته لاسرسی، پیرودونکي، وړاندې کوونکي، یا هم د کانونو د راویستنې ځایونو ته لاسرسی، د کب نیونې سیمې، څرځایونه یا ځنګلونه)، هڅې کېږي چې په د هغې په معادل او یا يې د منلو وړ سرچینو په اړه له فرهنګي او عایداتي فرصتونو له لوري لاسرسی ورته پیداشي.

**بیااستوګن کېدل:**له ټولو دایمي، اجتماعي او اقتصادي اغېزو(i) څخه عبارت دی چې د ځمکې استملاک او ټولې ثابتې (ii) دارايۍ، له ځمکې د استفادې تغییر، یا (iii) هم د پروژې د تطبیق په پایله کې په ځمکه وضع شوي محدودیتونه يې لامل شوي دي.

**د بیا استوګن کېدو پلان:**د مشخص کاري زماني چوکاټ څخه عبارت دی، په هغې بودیجې سره چې د بیااستوګن کېدو ستراتژیو هدفونه، حقوق، اقدامات، مسولیتونه او څارنه او ارزونه په کې تشریح شوې وي.

**ډېر اغېزمن شوي کسان:** له هغو کسانو څخه عبارت دي چې په لاندې تعریف کې له ځای په ځای شوی پاملرنې له اغېزو څخه اغېزمن شوي وي.

**د پام وړ اغېزې:** په دې معنی چې تر پروژې پورې اړوند (i) اغېزمن شوي کسان په فزیکي توګه له خپلو کورونو څخه بې ځایه شوي وي، (ii) یا یې هم له لسو یا له لس سلنه ډېره تولیدي دارایي (عایداتي دارایي) له لاسه ورکړې وي.

**برخه لرونکي کروندګر او اجاره لرونکی بزګر:** هغه چاته وایي چې د ځمکې خاوند ورسره نه وي خو د دواړو د هوکړې له مخې د کښت یوه برخه حاصل اخلي.

**ودانۍ:** له ټولو هغو ودانیو څخه عبارت دي چې د پروژې په واسطه اغېزمنې یا استملاک شوې دي لکه د اوسېدو کورونه، څاګانې، لاسي پمپونه (بمبې)، کرنيزې ودانۍ ځکه چې د وریجو ذخیرې، د حیواناتو غوجل، امبارونه، سوداګریزې ودانۍ د دکانونو او د سرک د غاړې د لاسوهنو په ګډون.

**غیرقانوني اوسېدونکي:** د غیرمستحقو کسانو په معنی دي، یعنې داسې کسان دي چې له قانوني حق پرته، ځمکه یا ودانۍ تصرف کوي او کار ترې اخلي. د نړیوال بانګ تګلاره حکم کوي، د ژوندانه د جوړولو په برخه کې له داسې کسانو سره مرسته کول، چې دوی خپله هم له دې انکار نه شي کولی چې حق نه لري.

**لندمهاله بې ځایه کېدل:** د داسې بې ځایه کېدو په معنی دي چې په هغې کې یو تصرف کوونکی یا د ځمکې مالک د ځمکې د خالي کولو له پاره د یوې محدودې دورې له پاره وټاکل شي چې د عامه چارو ترسره کولو ته آسانتیا برابره شي چې بیا وروسته کولای شي ځمکې ته بېرته راشي او له ځمکې څخه له بې ځایه کېدو د مخکې په څېر ګټه واخلي.

**ضررمن کسان:** د هغو کسانو په معنی دي چې کېدای شي ډېر اغېزمن شوي وي یاهم د بیااستوګن کېدو په پایله کې په حاشیه کې د پاتې کېدو له ستونزې سره مخ شي، یعنې (i) داسې کورنی چې یو کس په کې وي له خپلوانو سره، (ii) هغه کورنی چې په کور معلولیت ولري، (iii) بېوزله کورنی، (iv) د بې عایده سپین ږیرو کورنی، هغه کورنی چې ځمکه ونه لري (v) او یا هم د دندې امنیت ونه لري (vi) او قومي اقلیتونه.

## 1. د بیا استوګن کېدو د چوکاټ هدفونه او د پروژې شالید

### 1.1 د پروژې منځپانګه (محتوا)

د لوړو زده کړو وزارت تصمیم لري چې لوړو زده کړو ته په ټول افغانستان کې پراختیا ورکړي، ارګانونه او تمویل کوونکو موسسو د زده کړو له پاره د اړتیاوو په رڼا کې، له دې وزارت سره مرسته او تخنیکي ملاتړ پراخ کړی څو دغه وزارت خپل پلانونه له نړیوالو معیارونو سره سم پلي کړي.

د پوهنتونونو یا لوړو زده کړو د موسسو په جوړولو سره کېدای شي په یوه سیمه کې خلک بې ځایه شي او په اتوماته توګه ددې لامل کېږي چې د ځینو ټاکلو نړیوالو او سازماني معیارونو پیروي وشي. د لوړو زده کړو د یوې موسسې جوړول یوه هېواد او یوې ټولنې ته ډېرې ګټې لري له همدې امله باید د اجتماعي شدیدو اغېزو د احتمال مخه ونیسو څو ډېرې لږې شي.

### 1.2 وړاندیز شوی هدف

له بیااستوګن کېدو سره د پروژو سروې او نفوس شمېرنې کړنلارې د نورو اکثریتو پروژو د کړنلارو په پرتله، په عمده توګه توپیر کوي: وروستی تخنیکي طرحې تر هغې چې د پروژې په شرایطو پوه نه شو، نه شي کولای په معمولي توګه معلومه شي، نو همدا د پوهنتون یا لوړو زده کړو د موسسې هدف دی. د حل لاره داده چې نفوس شمېرنې او عمده سروې

ګانو ته پراختیا ورکړل شي څو په اعظمي توګه د اغېزو پوښښ په کې شامل شي یا هم د پروژو د تطبیق په ساحو کې د بیااستوګن کېدو اغېزه اټکل کړل شي.

د پوهنتون جوړول کېدای شي د بې ځایه کېدو لامل شي. د جوړولو کار به پراختیا او همدا راز کولای شي د ملکیت استفاده اغېزمنه کړي. له ځمکې څخه د استفادې محدودیتونه کولای شي عواید اغېزمن کړي. لکه د ځمکې د استملاک جبران چې یو فیس یې د ارتفاق حق کېږي همدارنګه غله جاتو ته په واردو شوو زیانونو، کېدای شي د دوره یې لاسرسي د جبران مناسبه لاره وي. د ارتفاق د حق فیس له پنځو څخه تر شل سلنه پورې د اغېزمنې ځمکې د ځای په ځای کېدو لګښت جوړوي. په ډېرو مواردو کې، د ساختمان د جوړولو په پایله او د ملکیت د ارزښت د کمښت له پاره هېڅ ډول جبراني پیسې نه ورکول کېږي.

د بیا استوګن کېدو د پالیسۍ چوکاټ، پورته یادو شوو مسائلو ته د رسېدو په هدف طرح شوی، د ارزونې، د جبران او ضررونو کمښت، د بیااستوګن کېدو له فعالتونو څخه د راولاړو شویو شخړو د حل په صورت کې که چېرې په ځینو مواردو کې لنډمهاله هم وي، یو څرګند چوکاټ تشریح کړی دي.

## 1.3 د بیااستوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ هدف

هغه فعالیتونه چې ټاکل شوې د لوړو زده کړو د وزارت د دویم پلان د ملي ستراتیژۍ په واسطه تمویل شي په دې پړاو کې وروستي شوي نه دي او نه شي کولای وروستي شي، نو په دې پړاو کې امکان نه لري چې تر سیمې پورې د اړوند،د بیا استوګن کېدو یو پلان، په ټولو جزیاتو سره، ټول هغه اغېزمن کسان چې باید احتمالاً کډه شي یا هم تر پروژې پورې اړوندو ځمکو د استملاک له اغېزو څخه ضررمن شي، رامنځ ته کړي. د لېږد د کړښې د فعالیت برخې چې د هغې له پاره د بیااستوګن کېدو د پالیسی چوکاټ لازم دی عبارت دي د ځمکې له پېرودلو، د ارتفاق د حق فیس، د بې ځایه کېدلو ځینې نور موارد په هغو ځایونو کې چې کېدای شي له هغې لارې د لېږد کرښه تېره شي. د لېږد کرښه په دې وخت کې وروستۍ شوې نه ده او نه شي کولای چې وروستۍ شي، نو په دې پړاو کې امکان نه لري چې تر ساحې پورې تړلی یو پلان رامنځ ته کړو، داسې یو پلان چې د ټولو اغېزمنو کسانو جزیات چې کېدای شي په نورو سیمو کې ځای په ځای کړل شي، یا هم د پروژې اړوند ځمکو د استملاک له سختو اغېزو څخه ضررمنې شوې وی. د بیااستوګن کېدو د پالیسۍ له چوکاټ څخه هدف د بیا استوګن کېدو د اصولو څرګندول، سازماني هوکړې او د لېږد د کرښې په مشخصو فعالیتونو د تطبیق وړ طرحې معیارونه هغه وخت کې ترسره کېږي وي. په همدې ډول، د بیااستوګن کېدو د کار یوه ثابته لاره، د بې ځایه شوو او ځمکې د استملاک د ټولو فعالیتونو له پاره به تعقیب شي.

سربېره پردې، د بیااستوګن کېدو د پالیسی یو چوکاټ کولای شي د لوړو زده کړو په وزارت کې د تخنیکي وړتیا د پراختیا له پاره په لاندې ډولونو سره مرسته وکړي:

(i) **د پروژې د همغږۍ له برخې سره د تخنیکي همکارۍ برابرول:** په وزارت او ساحوي دفترونو کې یې چې د پروژې د تطبیق، د پروژې مدیریت، تدارکات، د قراردادونو مدیریت، مالي مدیریت، د سروې له جوړښت څخه څارنه او د کنټرول کیفیت، اجتماعي او محیطي مدیریت، په برخه کې لاس ولري.

(ii) **د لوړو زده کړو په بېلابېلو برخو کې د وړتیاوو د لوړولو ملاتړ:** د تدارکاتو په برخه کې تخنیک، د قراردادونو مدیریت، مالي مدیریت، داخلي تفتیش، څارنه او ارزونه او د محیطي او اجتماعي مسایلو مدیریت

(iii) **د سیمه ییزو ارګانونو د وړتیا د لوړولو ملاتړ:** د اجتماعي ډلو په ګډون، پوهنځي، سیمه ییز صنایع او ساختماني

(iv) **د څارنې او ارزونې د فعالیتونو د پیاوړتیا او ادامې ملاتړ:** د موادو، محصول، پروسې او له پایلو څخه د څارنې په ګډون به د بېلابېلو برخو د کار له پرمختګ څخه، د پروژې د څارنې د تطبیق د یوې عمده برخې په توګه ترسره شي. د پروژې د همغږۍ برخه به د راپورونو د تطبیق او فزیکي پرمختګ د څارنې مسوله وي. د څارنې او ارزونې د برخې په

واسطه د پایلو څارنه چې په خپلواکه توګه د پروژې د همغږۍ له برخې څخه دي ترسره کېږي. دغه برخه د هئیت د اطلاعاتو د تحلیل او راټولونې مسوله، د موردي مطالعو د محدود شمېر ترسره کول او د پروژې د همغږۍ د برخې له پاره د پرلپسې نظرونو برابرول به د پروژې همغږي کوونکې برخه وي.

د څارنې او ارزونې برخه به د کارکوونکو او متخصصینو د برابرولو او زده کړو له لارې پیاوړې شي.

څو اړوندې مسئلې شته دي چې باید تګلارې د پېژندنې له لارې حل شي. لومړی، د بیاستوګن کېدو د تګلارې چوکاټ لازم دی چې د نړیوال بانګ له ۴،۱۲ عملیاتي تګلارې سره چې باید له غیرداوطلبانه بیا استوګن کېدو او موجودو داخلي قوانینو او تګلارو سره ورته والی ولري. هر وخت کې د دې دواړو تر منځ ورته والی نه وي، د نړیوال بانګ تګلاره ارجحیت لري خو دا چې سیمه ییز شرایط د اغېزمن کس له پاره لوړه ګټه یا لوړ معیار وټاکي.

دویم، مخکې تر دې چې د بیا استوګن کېدو تګلارې د چوکاټ جزیات طرحه او تشریح کړل شي، کېدای شي اساسي اصول او د بیاستوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ هدفونه وټاکل شي خو له هغه ځایه چې د ۴،۱۲ عملیاتي تګلاره د داسې اصولو او هدفونو لرونکې ده، په افغانستان کې هېڅ قانون او تګلاره، بیاستوګن کېدو ته رسېدنه نه کوي. اړوند قوانین شته دي چې وروسته به خبرې پرې وشي. په بنسټیزه توګه د ۲۰۰۸ ز کال د ځمکو د چارو د مدیریت قانون چې تعدیل شوی دی (د وړاندیز شوو تعدیلاتو په ګډون) او د ځمکې د استملاک د ۲۰۰۹ ز کال قانون، خو له دې قوانینو څخه هېڅ یو هم د غیرداوطلبانه بیا استوګن کېدو ته رسېدنه نه کوي. نو د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ د اصولو ټاکل، په پیل کې یو له هغو څخه رامنځ ته کول، له شک پرته د بیا استوګن کېدو په اړه د نړیوال بانګ تګلارې ته لومړیتوب ورکوي.

د بیاستوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ اصول په لاندې توګه دي:

- لومړی، په کورنیو او اشخاصو سختې اغېزې چې شوني ده د پروژې په واسطه به اغېزمن شي، مخه ونیسي او یایې ډېر کوچنې حالت ته ورسوي، ډاډ ترلاسه شي په داسې حال کې چې د ځمکې له استملاک څخه ځان نه شي ساتل کېدای.
  - د پروژې د ترسره کولو په اړه له اغېزمنو کسانو سره مشوره کېږي،
  - اغېزمن کسان د له لاسه وتلو دارایيو جبران د ځای په ځای کېدو پانګې سره ترلاسه کړي،
  - له اغېزمنو کسانو سره دې مرسته وشي څو د دوی ژوند او د ژوند معیارونه، که چېرې بې ځایه شوي وي، بېرته هغه حالت ته ورسېږي چې تر بې ځایه کېدو مخکې یې لرل.

د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ تشریح کوي چې دا اصول به څه ډول ورکړل شي. په پیل کې باید وویل شي چې د افغانستان قوانین کېدای شي دا موضوعات په مفصله توګه تشریح نه کړای شي، کېدای شي په یادو قوانینو کې کوم حکم نه وي چې د دې اصولو د تطبیق خنډ شي.

## 2. د بیا استوګن کېدو له پاره تګلاره او حقوقي چوکاټ

### 2.1 د ځمکو د استملاک په اړه د افغانستان تګلاره او قانون

په افغانستان کې تر دې هېواد پورې ځانګړې د بیا استوګن کېدو هېڅ ډول تګلاره نه شته. په ۲۰۰۷ ز کال کې د ځمکې یوه جامعه تګلاره د کابینې له لورې منظوره شوه خو تر اوسه په بشپړه توګه اجرا شوې نه ده. د افغانستان اساسي قانون چې د ۲۰۰۷ ز کال په لومړیو کې تصویب شو، درې مادې دي چې د بیا استوګن کېدو او جبران لورې ته ډېرې نیږدې دي. د عامه ګټو په منظور، لکه د عامه زېربنا جوړول یا هغه ځمکه چې فرهنګي او علمي ارزښت ولري، هغه ځمکه چې لوړ کرنیز محصول ولري، لوی باغونه، د ځمکو د استملاک قانون چې په ۲۰۰۹ ز کال کې تصویب شوی دی په لاندې توګه صراحت لري:

(i) د عامه استفادې له پاره د یوې ټوټې ځمکې د استملاک کولو په اړه د وزیرانو شورا پرېکړه کړې چې د بازار له نورمونو سره سم به په منصفانه بیه جبران کېږي. (۲مه برخه)؛

(ii) د یوې ټوټې او یاد ځمکې د یوې برخې د استملاک له امله نه باید چې مالک یې د ځمکې د نورې برخې له مکلفیت څخه منع شي یا هم د هغې د کارولو مانع شي. که دا ستونزه رامنځ ته شي. ټول ملکیت به یې استملاک شي. (۴مه برخه)

(iii) د ځمکې د مالک یا استفاده کوونکي حق، په پروژه د مدني کارونو له پیل څخه درې میاشتې مخکې او کله چې بېرته مالک یا استفاده کوونکي ته ورکول کېږي کار یې پای مومي. کله چې پای مومي مالک یې کولای شي وروستی حاصل یې ترلاسه کړي، له غیرمنظره اخراج په استثناء سره(۶مه برخه)؛

(iv) د ځمکې د استملاک په صورت کې، د جبران له پاره لاندې عوامل په نظر کې نیول کېږي:

- د ځمکې ارزښت؛
- په ځمکه د کورونو او ودانیو ارزښت؛
- په ځمکه د باغونو، ونو او ټولو پانګونو ارزښت (۸مه برخه)؛

(v) د ځمکې ارزښت د هغې تر جغرافیوي ارزښت پورې تړلی دی (۱۳مه برخه) (او همداراز دې د ۲۰۱۲ ز کال د ډسمبر د میاشتې خپرې شوې ځمکې، د مدیریت د قانون د نوې وړاندیز شوې ۴۵ مې فقرې ته مراجعه وشي.)؛

(vi) د کوم چا د اوسېدو ځمکه چې استملاک شوې وي، د خپلې ارزښت سره سم به یوه بله ځمکه ترلاسه کړي. هغه کولای شي چې د اوسېدو ځمکه وټاکي یا یې هم په بدل کې په یوه دولتي ملکیت کې کور واخلي البته د (۱۳مې برخې) له دقیقو کړنلارو سره سم؛

(vii) هر وخت چې د ځمکې خاوند وغواړي خپله اغېزمنه ځمکه د دولت له سمې ځمکې سره تبادله کړي او که چېرې د دولتي ځمکې ارزښت د ده خپلې له منځه تللې ځمکې څخه ښکته وي، توپیر یې محاسبه کېږي او د اغېزمنې ځمکې خاوند ته ورکول کېږي. (۱۵مه برخه)؛

(viii) د باغونو، د انګورو د تاکونو او په ځمکه کې د نورو ارزښت به د استملاک په وخت کې د اړوندې سیمه ییزې ادارې له خوا وټاکل شي. (۱۶مه برخه)؛

(ix) د ملکیت ارزښت د سیمې له موجوده بیې سره سم ټاکل کېږي. مالک یا استازی یې باید د ارزښت د ټاکلو په وخت کې حاضر وي.

جبران د وزیرانو د شورا په واسطه ټاکل کېږی. تصمیم به د لاندې کمېټې د غړو د وړاندیز په بنسټ ټاکل کېږي:

(i) د ملک خاوند یا د ځمکې استفاده کوونکی یا یې هم استازی؛

(ii) د ځمکې د پیداکوونکي اداري رسمي استازی (د بېلګې په توګه، د لوړو زده کړو وزرات)؛

(iii) د سیمې د ښاروالۍ استازی؛

(iv) د مالیې وزارت استازی؛ او

(v) د عدلیې وزارت استازی.

د ارزونې پروسه او د ځمکې د استملاک د قانون تعدیل جریان لرې خو د ۲۰۱۳ ز کال د نوومبر له میاشتې را په دې خوا د تعدیلاتو په اړه هېڅ تصمیم نه دی نیول شوی. همداراز د یادولو وړ ده چې په دې قانون کې دوه ستونزې په ځانګړې توګه د بیاستوګن کېدو د تګلارې په چوکاټ کې شته دي. لومړی، په دې قانون کې د لنډې مودې بې ځایه کېدو د ستونزو د اورې په اړه هېڅ حکم نشته لکه له ځمکې د ارتفاق حق چې په مشخصه توګه به د برجونو د جوړونې له یادولو پرته د لېږد د کرښې (چې وروسته له دې به په دې سند کې د لندمهاله بې ځایه کېدو په نوم یادېږی.) یوه ځانګړنه وي. کله چې

برجونه جوړ شي، د ځمکې تصرف کوونکي او مالکان به وتوانېږي چې بېرته ځمکې ته وګرځي. له هغو به له یو لړ محدودیتونو (له هغې ځمکې په استثنا چې هلته برج جوړ شوی وي.) سره سم استفاده کوي. دویم، د شپنو په اړه یوه جزیي ستونزه شته ده چې هغوی به هغه څرځایونه چې له پخوا یې د خپلو حیواناتو له پاره کارول کېدای شي د یوې لنډې مودې له پاره له لاسه ورکړي. دې دوو ستونزو ته به په لاندې توګه رسېدنه وشي.

## 2.2 د جبران، بیااستوګن کېدو او استملاک په اړه د نړیوال بانک د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې اصول

دغه برخه به د بیااستوګن کېدو په اړه د نړیوال بانک ۴,۱۲ عملیاتي تګلاره تر بحث لاندې ونیسي. په بدل کې یې د ۴,۱۲ عملیاتي تګلاره د کلمې په ډول د تکرار له پاره به هڅه کېږوره وي چې د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې د شرایطو د ټاکلو له پاره په داسې توګه هڅه وشي چې هغوی وکولای شي، د قانوني احکامو په هر بنډل یا دا چې وړاندوېینه وشي چې د اداري ارګان له لارې د هغوی په اړه څنګه د ځمکې د استملاک د یوې منطقي لارې له مخې رسېدنه وشي.

د تګلارې بنسټیز اصول چې د ځمکو د استملاک او بیااستوګن کېدو په اړه د نړیوال بانک موقف ټاکي او د بیا استوګن کېدو د تګلارې له دې چوکاټ سره سم به د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ تعقیب کېږي چې په لاندې ډول به وي:

(الف) د غیرداوطلبانه بیا استوګن کېدو دې د امکان تر حده مخنیوي وشي ترڅو چې دا بهیر ډېر لږ شي او د پروژې ټولې شونې طرحې وپلټل شي.

(ب) هر وخت چې د بیا استوګن کېدو مخنیوی شونی نه وي، د بیا استوګن کېدو فعالیتونه باید د پرلپسې پراختیا د پروګرامونو په توګه په نظر کې ونیول شي او ترسره شي ترڅو د پروژې په واسط د بې ځایه شوو کسانو له پاره د پانګونې د کافي سرچینو په برابرولو سره وتوانېږي چې د پروژې د ګټو یوه برخه ترلاسه کړي. له بې ځایه شوو کسانو سره باید په سمه توګه مشوره وشي او هغوی ته باید د بیا استوګن کېدو د پروګرامونو په تطبیق او پلان جوړونه کې د برخه اخیستو وخت ورکړل شي.

(ج) له بې ځایه شوو کسانو سره باید د ژوندانه د ښه والي په برخه یا هم لږ تر لږه د دوی ژوند هغه کچه چې تر بې ځایه کېدو مخکې یې لرله، هر یو چې لوړ وي مرسته وکړي.

(د) که مستحق نه وي، نه شي کولای چې د جبران او اغېزمنو کسانو د ګټه اخیستو خنډ وګرځي.

(هـ) د خساراتو جبران به د بیااستوګن کېدو له لګښت سره برابر وي.

(و) د جبران ورکړې باید د لازمو دارایيو له پیداکولو مخکې ورکړل شي.

**لومړی ګام: مقدماتي موضوع ګاڼي: آیا استملاک لازم دی؟**

لومړی پړاو چې ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې کتنه ورته کړې، د امکان په صورت کې، له استملاک او بیااستوګن کېدو مخنیوی دی. د ځمکې استملاک او بیا استوګن کېدو ته نه باید د لومړی ساده ټاکنې په سترګه وکتل شي، بلکې باید د وروستی ټاکنې په سترګه ورته وکتل شي.

دا نظر چې د لومړي پړاو د شرایطو د پوره کولو له پاره د دولت کوم اقدام لازم دی، اړینه ده چې د محیطي اغېزو د ارزونې تر څنګ، د اجتماعي اغېزو او د وړاندیز شوې پروژې د مالي تحلیل یوه ارزونه وشي.

- د هغې ځمکې چې باید استملاک شي یوه مقدماتي ارزونه او تحقیق وشي.

- هغو کسانو ته چې په احتمالي توګه له پروژې څخه اغېزمن کېږي او ټولو ذينفع کسانو ته بايد وخت ورکړل شي چې د وړانديز شوې پروژې د سيمې، د وړانديز شوې ځمکې د استملاک اړتيا او همداراز همکاري وکړي او خپل نظر ورکړي. د اغېزمنو اشخاصو دا ډول برخه اخيستل چې د هر ډول بيااستوګن کېدو په پلان جوړونه کې بايد ترسره شي جلا کوي.
- د وخت د ټېرېدو نېټه بايد د هر ډول همکارۍ او د اغېزمن شوو کسانو د وروستني جبران له پاره بايد وټاکل او اعلان شی. له هغې نېټې وروسته، هر شخص چې د پروژې د احتمالي سيمې په ساحه کې ځمکې او يا کور ته ورغلل او يا يې ترلاسه کړ، د جبران مستحق نه دی. د بيا استوګن کېدو د دې مشخص چوکاټ په صورت کې مشخصه تګلاره، دغه ګام بايد د يوه برج يا د فرعي ستيشن د جوړولوله پاره څو ځله پورته شي. په راتلونکي کې به احتمالي پروژو د تطبيق د غير رسمي آوازو ګواښ شته وي. دې موضوع ته بايد په دقيق توګه وکتل شي.

**دويم ګام: د بيا استوګن کېدو او استملاک د يوه پلان برابرول**

په پروسه کې دويم ګام، د بيا استوګن کېدو او ځمکې د استملاک د يوه پلان برابرول دي چې بايد داسې اقداماتو کې شامل او تضمين کړي داچې د ۴,۱۲ د عملياتي تګلارې په متن کې دي:

(i) اغېزمن کسان د بيا استوګن کېدو ټاکنو او حقوقو په برخه کې، خبر کړل شي.

(ii) د وړانديز شوو ټاکنو او اقتصادي او تخنيکي له پلوه د امکان لرلو په صورت کې له اغېزمنو کسانو سره مشورې وشي. ټاکنې کېږي.

(iii) د هغو دارايو د زيانونو جبران چې په مستقيمه توګه د پروژې له پاره استملاک شوې ځمکې په سملاسي توګه اغېزمنو کسانو ته ورکړل شي.

که اغېزې د فزيکي ځای په ځای کېدو له امله وي، د بيا ځای په ځای کېدو پلان يا هم د همدې پلان تګلاره د ډاډ د ترلاسه کولو له پاره د داسې اقداماتو لرونکي ده چې:

الف) د ځای په ځای کېدو په جريان کې، مرسته (لکه د پيسو واړه کول) ترلاسه کړي، او

ب) داوسېدو کورونه، يا د اوسېدو سيمې، يا هم له اړتيا سره سم، هغه سيمې چې د ځواکمنو او سيمه ييزو توليدي امتيازونو ترکيب او ټول عوامل چې لږ تر لږه د پخوانيو سيمو د امتيازونو معادل وي ترلاسه کوي.

د اړتيا په صورت کې، تګلارې ته د لاس رسېدو په منظور، د بيا استوګن کېدو پلان همداراز بايد د ډاډمن کېدو له پاره په داسې اقداماتو کې شامل وي دا چې بې ځايه شوي کسان بايد:

الف) له بې ځايه کېدو وروسته، د يوې انتقالي مودې له پاره، د يوه دليل لرونکي اټکل په بنسټ چې کېدای شي د ژوند د جوړولو او ژوندانه له کچې سره يې لازم وي، د ملاتړ وړانديز ترلاسه کړي.
ب) د جبراني اقداماتو سربېره انکشافي مرسته لکه د ځمکې تيارول، د پور آسانتياوې، د بوختيا او زده کړې موقع ترلاسه کړي.
ج) د بيا زده کړې موقع پيداکړي څو هغوی وکولای شي يو ډول نوی ژوند پيل کړي يا هم د زده کړې د ترلاسه کولو له لارې، يوه ښه وړتيا لاس ته راوړي.

په دې اړه چې بايد په قانون يا اداري هوکړو کې کومې چارې يا هم په دواړو کې د ډاډ د ترلاسه کولو له پاره دغه شرايط ځای په ځای شي، لاندې چارې بايد د بيا استوګن کېدو او د ځمکې د استملاک په هر پلان کې راوړل شي:

- هغه ځمکه چې بايد استملاک شي.
- هغه کسان چې د دارايو، عايد او د ژوندانه د سرچينو له پلوه ضررمن شي.
- هغه کسان چې بايد بل ځای ته ولېږدول شي.

- هغه سیمه او سیمې چې هلته دا ډول اشخاص کډه کوي
- د سیمې شرایط چې هلته کسان لېږدول کېږي، یعنې دا چې:
  - آیا ځمکه تصرف شوې د چا له خوا؟
  - په اوس وخت کې ځمکه د څه له پاره استفاده کېږي؟
  - د ځمکې وضعیت او اسانتیاوې یې
- هغه هوکړې چې باید له مخې یې د بیاستوګن کېدو ته آسانتیا ورکړي او یووالی راشي.
- د توپیر ډول او د جبران ورکول
- کسانو ته د ورکړې وړ جبران
- د ورکړې د وړ جبران اټکل او د بیااستوګن کېدو لګښتونه
- هغه کړنلارې چې باید د پلان د ترسره کېدو په وخت کې تعقیب کړل شي.
- د پلان د ترسره کولو په وخت کې د اغېزمنو کسانو د شاملولو هوکړې.
- د پلان او جبران د ترسره کولو په وړاندې د خنډونو له پاره څه فرصتونه شته دي؟

په عمل کې، د دې پلان برابرول باید د انکشافي پروژې د کار د یوې برخې په توګه وي ځکه چې نوموړی پلان د پروژې یوه برخه شمېرل کېږي خو د پروسې له نظره بهتره ده دغه موضوع چې آیا د ځمکې کوم استملاک او بیا استوګن کېدل لازم دي، له هغې موضوع نه چې کوم ډول بیااستوګن کېدل ترسره شي او څنګه توپیر شی.

همداراز دغه دویم ګام باید اغېزمن کسان د پلان په جوړولو کې شریک کړي، نه دا چې یوازې دوی ته وخت ورکړل شي چې په یوه پلان چې د مسولینو له خوا جوړ شوی نقد کړي او نظر پرې ورکړي. ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې دغه موضوع په ډېره څرګنده توګه په لاندې ډول شرحه کړې ده:

(الف) بې ځایه شوي کسان او د هغوی ټولنې، د دوی کوربه ټولنې، باید اړوند معلومات په خپل وخت سره ترلاسه کړي، له دوی سره د بیااستوګن کېدو د ټاکنې په ډول مشوره وشی، په پلان جوړونه کې اشتراکي فرصتونه او دوی ته باید د بیااستوګن کېدو له ځایه د تطبیق او څارنې وړاندیز وشي. دوی ته باید شکایتونو ته د رسېدو له پاره د لاسرسي وړ او مناسب میکانیزمونه ورکړل شي.

(ب) د بیا استوګن کېدو په نویو سیمو یا کوربه ټولنو کې، له اړتیا سره سم د ښه والي له پاره زېربنایي او عامه خدمتونه، احیا، د کوربه ټولنو او بې ځایه شویو کسانو له پاره د خدمتونو کچه او لاسرسی، برابرېږي. ورته سرچینې باید اجتماعي سرچینو ته د لاسرسي د له لاسه ورکولو (لکه، د کب نیونې سیمې، څرځایونه، د سون توکي یا واښه) د جبران په منظور برابرې شي.

(ج) له نویو شرایطو سره د مناسب اجتماعي ارګان طرحې باید د طرحه شوو ټاکنو له مخې د بې ځایه شوو اشخاصو په واسطه وي. د امکان تر کچې باید کوربه ټولنې او د کورونو برابروونکې موجود فرهنګي او اجتماعي ارګانونه وساتل شي او د برابروونکو ترجیعاتو ته په ځانګړې توګه په هغو ټولنو او ډلو کې ځای په ځای کېدل چې له پخوا څخه شته و، درناوی وشي.

د یوه پلان د برابرولو په پراختیایي جلسو کې باید ډېر اغېزمن کسان او د عمومي خلکو عامه مشورې شاملې وي. هره ورځ باید رسمي جلسې د اغېزمنو کسانو، د لوړو زده کړو د وزارت سیمه ییز کارکوونکي او نورو اړوندو مراجعو کې ترسره شي. په فرعي پروژو کې د مشورې رسمي پروسه باید په لاندې ډول وي: (الف) له کورنیو او شرکتونو سره چې په مستقیمه توګه اغېزمن شوي مخامخ جلسې، (ب) د ټولنې او کلي جلسې، (ج) له دولتي مسولینو سره عامه جلسې. معلوماتي مواد باید برابر او د جلسې له جوړېدو مخکې د فرعي پروژو په ساحو کې ووېشل شي. دغه موضوع په تفصیل سره لاندې تشریح شوې ده.

**درېیم ګام: د جبران ورکول، د بې ځایه شوو ځای په ځای کول او د ځمکې استملاک**

درېیم ګام د پلان اجرا کول دي: یعنې د ځمکې استملاک او د استملاک په پایله کې د بې ځایه شویو بیا استوګن کېدل. دغه د استملاک او بیا استوګن کېدو اصلي پروسه وه چې باید په څو فرعي ګامونو ووېشل شي. دغه ټول فرعي ګامونه په

مشخصه توګه د ۴،۱۲ په عملیاتي تګلاره کې نه دي تشریح شوي؛ خو دغه د ځمکې د استملاک او بیا استوګن کېدو لازمه برخه ده چې باید د عملي کېدو له پاره د بیا استوګن کېدو د تګلارې په چوکاټ کې ولیکل شي.

مخکې تر دې چې هر فرعي ګام خلاصه کړل شي، د حقوقي چوکاټ په اړه باید یو عمومي ټکی مطرح شي. له څرګندو قواعدو څخه باید په ۳ ګام کې یو بنډل ترتیب شي. دغه د قواعدو بنډل باید لاندې چارې تر پوښښ لاندې ونیسي.

- له پروسې څخه د اجرا، تنظیم او څارنې  له پاره ارګانونو ته اختیا ورکول.
- کومو مسولینو ته اختیار ورکول کېږي چې اقدامات وکړي او حکم صادر کړي.
- دغه مسولین کوم اقدامات او حکمونه تر لاس لاندې لري او باید چې صادر یې کړي.
- د مشورې او ګډون ارګانونه او پروسې
- دغه اقدامات او احکام به په کومو اغېزمنو او نورو کسانو تطبیق شي
- د لازمو اقداماتو او احکامو د پیروۍ له پاره باید اغېزمن کسان څه کارونه وکړي.
- په قانون کې د درج شوې دارایۍ د حقوقو او امتیازاتو د ترلاسه کولو له پاره باید اغېزمن کسان څه وکړي؟
- د جبران په اړه:
  - د جبران ډول او محدوده
  - د جبران د توپیر ډول او په ځانګړې توګه د جبران توپیر که چېرې په لنډمهاله توګه بې ځایه شوي وي.
  - د جبران د ورکولو او دعوې د وخت ډول او چوکاټ
  - د جبران په اړه عریضې او د تصمیم نیولو پروسه
- د بې ځایه کېدو او بیا استوګن کېدو په اړه:
  - د بیا استوګن او بې ځایه کېدو پروسه او کړنلارې
  - د بیا استوګن او بې ځایه کېدو په برخه کې مالي مرسته (د بې ځایه کېدو په صورت کې، دغه مرسته په لنډمهاله توګه د ځمکې کوچنې کول او بېرته ځمکې ته ګرځېدل دي.)
  - د بیا زده کړې په برخه کې مرسته یا هم د نوي ژوندانه برابرول.
- شخړې ته د تصمیمونو د کشولو اړوند ارګانونه او پروسې.

په فرعي ګامونو د بحث پایله حکم کوي چې د قواعدو دا ډول بنډل باید ترتیب کړل شي.

**لومړی فرعي ګام**

د ځمکې د استملاک د پروسې لومړنی فرعي ګام دی چې په هغې کې د نظر وړ ځمکو ټولو مالکانو، تصرف کوونکو او مستحقینو ته د هر ډول استملاک شوې ځمکې د جبران او استملاک په اړه خبر ورکول کېږي. دغه پروسه په لاندې ډول ده: د ځمکې له مالکانو او تصرف کوونکو سره د پراخه شخصي ارتباطاتو برابرول او د دې په اړه چې څه به پېښ شي د شفاهي څرګندونو وړاندې کول او په دې برخه کې باید تصرف کوونکي او مالکان کوم کارونه وکړي چې ډاډه شي، دوی یې د ځمکې د تصرف له پاره پېژندنه او جبران ترلاسه کړي دي. د لنډ مهاله بې ځایه کېدو په صورت کې د دې ډول بې ځایه کېدو د حالاتو بشپړه توضیح، د څومره وخت له پاره، تصرف کوونکي به په لنډمهاله توګه چېرته ځای په ځای شي او د اوسېدو ځای به یې څه ډول وي، آیا جبران به ورکړل شي، لازم دي.

**د تصرف کوونکو د شرایطو معیارونه**

د ځمکې د تصرف کوونکو په اړه، ۴،۱۲ عملیاتي تګلاره حکم کوي چې تصرف کوونکي لاندې کسان دي:

(الف) هغه کسان چې د ځمکې رسمي قانوني حقوق ولري (د هېواد په قوانینو کې درج شوي سنتي او عرفي حقوق)؛

(ب) هغه کسان چې د نفوس شمېرنې د پیل په وخت کې د ځمکې د قانون رسمي حقوق نه لري خو د همداسې ځمکې او دارایيو دعوه لري. په دې شرط چې دا ډول دعوې د هېواد په قوانینو کې پیش بیني شوې دي او یا هم د یوې ټاکل شوې پروسې له مخې د بیا استوګن کېدو په پلان کې مشخص شوي وي.

(ج) هغه کسان چې تر تصرف لاندې ځمکه کې يې حق ولري او يا هم مشخصه قانوني دعوه ولري.

د ۴،۱۲ عملياتي تګلاره حکم کوي چې دوې لومړۍ ډلې تصرف کوونکي د خپلو ځمکو د له لاسه ورکولو له امله د جبران مستحق دي؛ درېيمه ډله د بيا استوګن کېدو د مرستې د ترلاسه کولو مستحق دي. سره له دې چې دا حکم بايد په ۴،۱۲ عملياتي تګلاره کې د درج شوي حکم په رڼا کې وويل شي چې داسې دی: د پروژې د ساحې د تشخيص په وخت کې، د هغو کسانو په ساحه کې چې له پروژې څخه اغېزمن او بايد مرسته ورسره شوې وای يوه نفوس شمېرنه بايد وشي. هغه کسان چې د وخت له ټاکل شوي وروسته چې د نفوس شمېرنې د بشپړېدو وخت دی، د پروژې ساحه غصب کړي، د جبران او يا نورې مرستې مستحق نه دی.

له همدې امله، عملياتي تګلاره دغه ټکی مشخص کوي چې غير قانوني اوسېدونکي، تر پروژې پورې اړوند اغېزمن شوي کسان د وړاندوېينې له حق پرته (په قانون يا عرف کې) بايد د بيا استوګن کېدو په برخه کې يو څه جبران او مرسته ترلاسه کړي. د دې حکم مبنا دا ده چې دا ډول کسان د ټولنې بېوزله پاړکی دی او هغه کسان چې د بې ځايه کېدو له امله له لويو زيانونو سره مخ شوي دي. سره له دې چې دا ډله په ځمکه قانوني حقوق نه لري خو د دې له پاره چې د ژوند د يوې برخې احيا يې شوې وي بهتره ده چې په اړوندو چارو کې، داسې حل لارې برابرې شي چې په هغې کې دا ډاډ رامنځ ته شي چې اغېزمن کسان بايد په نوې امنيتي سيمه دنده ولري، البته په ځانګړې توګه هغه کسان چې په فزيکي توګه بې ځايه شوي وي يا هم دوی د ځمکې په بدل کې د ځمکې وړانديز کېږي.

**دويم فرعي ګام**

دويم فرعي ګام د جبران د دعوو ټاکل، د جبران د پيسو پرتله او د جبران ورکول دي. ۴،۱۲ عملياتي تګلاره د بيا استوګن کېدو په اړه د جبران، مالي او غيرمالي مرستې تر منځ توپير وکړي. دا په بشپړه توګه يو منطقي کار دی ځکه چې دا تګلاره څرګندوي چې کسان د له لاسه تلليو دارايو په وړاندې(که بې ځايه شوي وي که نه وي) د جبران مستحق دي. خو که جبران لکه پيسې، د پيسو ارزښت، ځمکه او يا د دې له پاره بله مرسته وي چې شخص يو ځل بيا د ځمکې له استملاک څخه د پخوا په څېر شي (د ودانيو او د ځمکې په سر طبيعي سرچينې) په نظر کې ونيول شي. يا هم د ساتل شوې ځمکې ارزښت کم شي يا هم شخص د ځمکې پرېښودو ته اړ شي او بل ځای ته کډه شي، په دې صورت کې کولای شو د دارايي په مقابل کې پيسې ورکړو سره له هغې چې د بيا استوګن کېدو په نوم يې يادوو.

د ۴،۱۲ عملياتي تګلارې د پيروۍ په منظور، بايد د دې فرعي ګام محتوا په لاندې توګه وي:

- د جبران له پاره دعوې
- په دعوو کې د اغېزمنو کسانو له پاره د مرستې برابرول
- د دعوو ارزونه
- د دعوو مشخص کول او عريضې کتل
- د جبران ورکول

په جبران کې لاندې شيونه شامل دي:

- د ځمکې د بدلېدو بشپړ لګښت د بازار د ارزښت په بنسټ په نظر کې نيول شوی دی د معاملې ټول لګښت (لکه د ثبت فيس، د اخيستو او پلورلو ماليې او نور)
- د امکان تر کچې، په عين مساحت او کيفيت بله ځمکه
- ځمکې ته د ضرر رسېدو جبران
- د بيا استوګن کېدو لګښتونه (چې په دې منظور په لنډمهاله بې ځايه کېدو کې شامل دی) چې په خپل نوبت سره په لاندې توګه دي:
  - د کډه کړلو لګښت (د خوړېدو جبران)
  - د استوګنځي د برابرولو په برخه مالي مرسته
  - د نوې زده کړې په ګډون د ژوند د بدلېدو او عايد په برخه کې مرسته

په ۴,۱۲ عملیاتي تګلاره کې د ځای د بدلېدو د لګښت موضوع تر پوښښ لاندې ده چې په لاندې توګه ده:

"د ځای بدلېدو لګښت" د دارایيو د ټاکلو د ارزښت له طریقې څخه عبارت دی چې د کافي پيسو د ټاکلو په کار کې د ځای بدلېدو د لګښت او له لاسه تللو دارایيو په برخه کې مرسته کوي او د معاملې لګښتونه تر پوښښ لاندې نیسي. د ارزښت د ټاکلو په دې تطبیق کې، د ودانیو استهلاک او دارایۍ نه باید په نظر کې ونیول شي. د ضررونو له پاره چې په آسانۍ سره یې نه شو پرتله کولای او نه یې هم د پیسو په مقابل کې جبران کوی شو (لکه، عامه خدمتونو ته لاسرسی، پېرودونکي، وړاندې کوونکي، د کب نیونې سیمو ته لاسرسی، څړځایونه، او یا ځنګلونه) هڅې کېږي چې په معادل او د منلو وړ سرچینو یې د فرهنګي او عایداتي فرصتونو له نظره لاسرسی وشي.

د جبران د مواردو د محاسبې د ډول جزیات په لاندې توګه محاسبه کېږي:

**درېیم فرعي ګام**

درېیم فرعي ګام د واقعي ځمکې د اخیستلو په اړه دی. یعنې د استملاک د مرجع له لارې د ځمکې د ملکیت اخیستل او همداراز د اغېزمنو کسانو د کډه کولو او نوې ځایونه ورته تیارول. دغه موضوع باید له حساسیتونو سره سره ترسره شي او اغېزمنو کسانو ته باید ډېره پاملرنه وشي. د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې په مشخصه توګه د دې فرعي ګام په اړه څه نه دي ویلي خو دغه ګام د استملاک د پروسې، بې ځایه کېدل او بیا استوګنې لازمي برخه ده.

د بیا استوګن او بې ځایه کېدو په برخه کې مرسته په لاندې ډول ده:

- د بار تړلو او کډه کولو په برخه کې مرسته کړل، د لنډمهاله بې ځایه کېدو وروسته د نوي ځای ته تلو په ګډون.
- د هغو کسانو له پاره د ټرانسپورټي آسانتیاوو برابرول چې د بیا استوګنې ځایونه ورته برابرېږي.
- د حساب له ټولنې سره همکاري او د هغوی له پاره د اضافي سرچینو برابرول.
- د هغو کسانو له پاره مشوره او مرسته برابرول چې د بیا استوګنې ځایونه ورته برابرېږي.
- د ځمکې تیارول، د آسانتیاوو او اوسېدو د ځای برابرول.

د ځمکې د پرېښودو ټوله پروسه، تر یوې نوې ټولنې پورې اړوند ي بلې سیمې ته کډه کول او د نوي ژوند پیلول، کېدای شي ډېر زور وغواړي. اړتیا ده له اغېزمنو کسانو سره په کسیزه توګه او د دوی د استازو له خوا، په داسې چارو کې چې ډېری اغېزمن کسان شته وي، منظمې اړیکې ونیول شي. د جبران د ورکولو د تصمیم نیولو په برخه کې، یو عمل چې دوښمنانه نه وي بلکې د دواړو خواوو خوښې په کې وي په نظر کې نیول کېږي.

مهمه ده چې تشخیص کړل شي، له پروژې څخه اغېزمن شوي کسان پوه شي چې هغوی په کومه ژبه خبرې کوي، آیا د سیمې په اړه معلومات لري او کنه. له همدې امله، لازمه ده د بیا استوګن کېدو د کاري پلانونو په رامنځ ته کولو کې، د بیا استوګن کېدو د دې تګلارې په چوکاټ کې، له هرې ټولنې سره په بېله توګه، د دوی په خپله طریقه د بیا استوګن کېدو او لنډمهاله بې ځایه کېدو په برخه، کې خبرې وکړي.

په افغانستان کې عرف او قانون د ځمکې د استملاک له ډول او بیا استوګنې سره لکه څنګه یې چې د ۴,۱۲ په عملیاتي تګلاره کې وړاندوېینه شوې ورته والی لري؟ په همدې لحاظ، دغه راپور د یوه جدول لرونکی دی، دوه سیستمونه سره پرتله کوي چې د توحید کېدو لارې یې ښیي. سربېره پردې د ملي قوانینو او نړیوال بانک عملیاتي تګلارو تر منځ توپیر، د دواړو عملیاتي تګلارو د خلاوو تر منځ، د نړیوال بانک تګلاره د تطبیق وړ ده، خو دا چې سیمه ییز شرایط یو لوړ معیار څرګند کړي یا هم د اغېزمنو کسانو له پاره امتیاز څنګه یې چې د بیا استوګن کېدو د تګلارې په دې چوکاټ کې وړاندوېینه شوې، تطبیق شي.

**2.1 جدول:  د ځمکو د استملاک قانون او د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې تر منځ پرتله او د توحید له پاره یې وړاندیزونه[1]**

| د ځمکي د استملاک قانون | د نړیوال بانک عملیاتي تګلاره | د ځمکي د استملاک د قانون او د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې تر منځ خلاوې، له کتنو سره | د خلاوو له پاره ممکنه حل لارې | د بیاستوګن کېدو د تګلارې چوکاټ باید څه برابر کړي. |
|---|---|---|---|---|
| برخه | لومړی | مخکې تر | استملاک | کړنلارې |
| 1.د اغېزمنو او نورو کسانو له پاره قانوني فرصتونه نه دي برابر شوي. ترڅو استملاک او یا وړاندیز شوې بیاستوګن کېدل له خنډونو سره مخ کوي یا یې هم تر بحث لاندې نیسي او همدارنګه د عامه مناظرې یو فرصت او د وړاندیزونو منظوري نه دي برابر شوي. په عمل کې لومړني بحثونه ترسره کېږي. | دا چې د امکان په صورت کې د غیرداوطلبانه بیا استوګن کېدو مخنیوی وکړي بحث د استملاک لازم والی، بیا استوګن کېدل او د هغې ټاکنې کوي | اصلاً پر عملیاتي تګلاره ۴,۱۲ پسې په کابل کې په عملي توګه تعقیب شوې خو د دې موضوع په اړه په قانون کې څه نشته. | د دې له پاره چې اجراآت ولې نه شي کولای د کابل په نورو سیمو کې ترسره شي، کوم دلیل نشته. | په ځواکمنه توګه اغېزمن شوي کسان باید د پروژې د تطبیق له مسولینو او وزارت سره په خبرو اترو سره چې استملاک او ټاکنو ته یې اړتیا وي. |
| 2. مسولین له هر ډول رسمي اقدام مخکې د ځمکې د ارزښت د پرتلې له پاره ساحه ګوري؛ دغه پرتله د جبران د ارزښت پرتله تشکیلوي. دغه کار په داسې حال کې ترسره کېږي چې د ځمکې د استملاک په قانون کې د کړنلارو او د پخواني استملاک د پروسو په اړه هېڅ هم نه دي ذکر شوي. | د ځمکې ارزښت د پروژې له تطبیق څخه مخکې ارزښت او یا هم له بې ځایه کېدو مخکې ارزښتو هر یو چې لوړ وي له همغې سره پرتله کېږي. | هېڅ ډول واقعي خلا نشته، د عیني اړتیا له پاره ، یوزاې د دعوو او جبران د محدودولو له پاره، بېلابېلې لارې شته دي. | هېڅ خلا نشته | د استملاک له پیل څخه مخکې ټاکل شوې نېټه باید دځمکې له پاره وټاکل شي. دغه تاریخ باید د وخت د پرې کېدو تاریخ وي. |
| 3. په کابل کې عملاً هڅې کېږي چې د جبران او بیا استوګن کېدو مستحق کسان مشخص شي. | د هغو کسانو نفوس شمېرنه چې په ساحه کې شوې، هغه چې له شرایطو سره سم دي د مرستې د ترلاسه کولو له پاره مشخص شوي چې د هغو کسانو هجوم چې د شرایطو وړ نه دي محدود شي. | په دې ځای کې هېڅ خلا نشته. | په کابل کې د معمولو اجراآتو په نظر کې نیولو سره، د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې د منلو له پاره چې هغه اجراآت چې باید د بیا استوګن کېدو په چوکاټ کې تعقیب شي، هېڅ ډول ستونزه به نه وي. | یو قانوني چوکاټ دی چې د شرایطو لرونکو اغېزمنو کسانو نفوس شمېرنې ته اړتیا لري چې باید د پروژې له تطبیق مخکې پړاو کې ترسره شي.. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 4. د ځمکې د استملاک د قانون له شپږمې مادې سره سم د ځمکې د مالک يا استفاده کوونکي حق د پروژې له عملي پیل درې میاشتې مخکې پای مومي. نو د ځمکې د استملاک کېدو معلومات له استملاک کېدو څخه درې میاشتې ورکول کېږي. غیررسمي بحثونه د هغې ځمکې په اړه چې استملاک کېږي او هغې ځمکې په اړه چې جبران یې ورکول کېږي<br><br>په همدې پړاو کې هغو کسانو ته بلنه ورکول کېږي چې ځمکه یې ورکړي. | د پروژې د ډول دتطبیق او بیاستوګن کېدو برابرولو په اړه د بیا استوګن کېدو د پلان برابرول. د پروسې د تیاري او پروژې د تطبیق په تیاریو کې د اغېزمنو کسانو په برخه اخیستو ټینګار<br><br>ډېرو اغېزمنو کسانو ته چې کېدای شي نوي استوګنځي ورکړل شي د پخوانیو معلوماتو په ورکولو ټینګار. | د ځمکې د استملاک په قانون کې د هغې څه په اړه چې د ۴,۱۲ عملیاتي تګلاره یې لازم بولي، د کوم څه وړاندوېینه نه ده شوې. د پروژو د پخوانیو پلان جوړونو یوه برخه به ترسره شي چې له اغېزمنو کسانو سره به غیررسمي بحثونه، برخه اخیستل او ګډون په څنګ کې ولرى. | د ځمکو په استملاک کې هېڅ داسې څه نشته چې د استملاک د ګډون د ډول، څنګه چې په عملیاتي تګلاره کې صراحت لري، خنډ شي. درې میاشتنۍ قاعده کولای شي دا ډول تفسیر کړي، «له میاشتې څخه لږ نه» چې د استملاک او پایلو په اړه یې د خبرو اجازه ورکړي. | د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ په اړه یو قانوني چوکاټ، د استملاک د ګډون د طریقې اجازه ورکوي چې د بیاستوګن کېدو تطبیق او پلان جوړونه به د ځمکې د استملاک له قانون سره په مخالفت کې نه وي چې بهترین راهکار به وي. |
| 5. د ځمکې د استملاک په قانون کې د بیاستوګن کېدو له پاره کوم ځانګړی حکم او یا هم کومې هوکړې وړاندوېینه نه ده شوې. | د بیاستوګن کېدو د پلان برابرول: منځپانګه به یې په لاندې توګه وي:<br><br>د اغېزمنو کسانو برخه اخیستل او له دې څخه ډاډ حاصلول چې هغوی لاندې حقوق ترلاسه کوي:<br><br>(i) جبران<br><br>(ii) د ځای په ځای کېدو مرسته<br><br>(iii) پراختیایي مرسته<br><br>په نوي ځای کې. د بشپړو او وړو پلانونو تر منځ پرتله شوې. البته د کسانو د شمېر له مخې چې هغوی | د ض عمده خلا | 1. د ځمکې د استملاک په قانون کې د بیا استوګن کېدو په اړه څه نه دي ویل شوي خو په دې قانون کې هېڅ داسې څه نشته چې د بیا استوګن کېدو د پلان په غیرقانوني والي یا هم د بیا استوګن کېدو د پلان په تطبیق دلالت وکړي.<br><br>2. د بیا استوګن کېدو پلان د اداري کړنلارو له لارې تطبیق شوی خو<br><br>3. د ځینو مقررو له خوا یې ملاتړ کېږي. | د ۲ او ۳ شمېرې د نظر وړ ټاکنې دي. |

| برخه | دویم | استملاک | | ځمکه |
|---|---|---|---|---|
| | ته نوی ځای برابرېږي. | | | |
| **برخه** | **دویم** | **استملاک** | | **ځمکه** |
| 6. د وزیرانو شورا د استملاک قانون تصوییبوي. د پخواني قانون پر خلاف، په دې قانون کې هېڅ داسې کوم حکم چې د استملاک د مراحلو په وخت کې د ځمکې مالک یااستفاده کوونکی حاضر وي نشته. دغه موضوع ښیي چې د استملاک پروسه مخکې تلای شي که مالک شته وي او کنه خو د ځمکې د استملاک له قانون سره سم، د ښاروالۍ له خوا باید یوه کمېټه وټاکل شي چې د استملاک په وخت کې د پېښو شوو خساراتو چې له جبران سره توپیر لري استازیتوب وکړي. خسارات د ځمکې د استملاک د قانون په آتلسمه ماده کې تشریح شوي دي.<br><br>له دوه ویشتمې مادې سره سم، مالک او نور کسان مکلف دي چې تر ځمکې پورې ټولې اړونده چارې د استملاک تر ادارې پورې اړوندې کړي. | د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې هېڅ ډول مشخصه کړنلاره لازمه نه ده بللې خو د نوي استوګن کېدو د پلان متن ښیي چې اغېزمنو کسانو د استملاک په ټولو برخو کې برخه اخیستې او برخه به ولري. | د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې روحیه د نه ګډون او برخه اخیستې په حکم سره، د پنځمې مادې د درج شوو چارو په استثنا، مخالفت لري. څرګنده نه ده چې دا ولې تر ښاروالۍ پورې تړاو لري. د ډېرو غیرحاضرو، د مالک په غیابت کې د استملاک اجازه ورکول، به نظر کې نیولو سره کېدای شي د منلو وړ نه وي. | د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې دغه مخالفت کولای شو د ځمکې د مالک په غیاب کې د استملاک د چارو د ترسره کولو او یا ملاتړو احکامو سره له منځه یوسو. د استملاک د جزیاتو په اړه د ځمکو د استملاک د قانون ګونګ والی یوه تشه ده چې کولای شي د ګډون د مناسبو هوکړو په واسطه په مشروعه توګه ډکه شي. کوم دلیل نشته چې ولې د آتلسمې مادې د خساراتو احکام، په برابره توګه د ځمکې په ټولو استملاکونو تطبیق شي. | په استملاک کېدونکې ځمکه د حاضرو مالکینو ګډون او د غیرحاضرو مالکینو ډېر ملاتړ، باید په هغه قانون کې چې د بیااستوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ یوه برخه ده برابر شي، همداراز کولای شي چې د ترتیب شوو مقررو یوه لومړنۍ طرحه د د۲۲مې مادې له ۵مې فقرې سره سم عمل وکړي. |
| 7. د ځمکې د استملاک د قانون له شپږمې مادې سره سم، د مالکیت له لېږد وروسته مالک کولای شي استملاک شوې ځمکې ته ورشي او | | د ځمکې د استملاک قانون د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې څخه مخکې په دې اړه صراحت لري. | ښه حکم دی. سره له دې چې دا حکم نه څرګندوي چې د ځمکې د استملاک قانون د کرنیزې ځمکې په اړه و او د څرځایونو په مسایلو | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| خپل حاصل راټول کړي. له هغو حالاتو په استثنا سره چې له ځمکې څخه د سملاسي استفاده يې خنډ شي. | نه دي ياد شوي | | او د شپنو له چارو سره کار نه لري. | بدلون نه دی شوی |

| برخه | درپیم | جبران | ورکړه | کړنلارې |
|---|---|---|---|---|
| 8. د ځمکې د استملاک لويه برخ د جبران په اړه ده خو دا چې څوک د جبران مستحق دی څه يې نه دي ويلي. فرضيه دا ده چې مالکين د جبران مستحق دي خو قانون د مالکينو کلمه نه ده تعريف کړې. پخواني قانون، هغه کسان چې د قانوني حق او هغه کسان چې د عرفي حق لرونکي دي او يا هغه کسان چې جبران نه ورکول کېږي توپير کړي دي.<br><br>په کليو کې د اجراآتو ډول په ځانګړي توګه هغه کسان چې عرفي حقوق لري په بشپړه توګه مناسب و.<br><br>په کابل کې د اجراآتو ډول په داسې توګه دی چې په هغه کې د جبران د ادعا له پاره مدارک غوښتل کېږي. | د عملياتي تګلارې ۴،۱۲ بنسټيز اصل دا دی چې ټول ځمکه لرونکي د جبران مستحق او د بيا استوګن کېدو منصفانه مرسته به ورسره کېږي، پرته له دې چې په نظر کې دوی د ځمکې مستحق دي کنه. | په قانون کې عمده خلا نشته خو په کليو کې د دې اجراآتو د ډول په نظر کې نيولو سره دا خلا دومره لويه هم نه ده چې حل نه شي. | د ۴،۱۲ عملياتي تګلاره دې له اړتيا سره سم د اجراآتو د ډول په بدلېدو سره اصلاح شي.<br><br>د «مالک» د قانوني تعرف د نشتوالي له امله به د عرفي حقوقو لرونکي کسان چې کېدای شي ډېري يې د پروژې په ساحه کې وي، ممکنه استفاده ترې وشي. | د وړاندوېينې له مخې په راتلونکې کې د ډېرو هغو کسانو له پاره چې د خپلې ځمکې قانوني حقوق نه لري په نظر کې نيولو سره، بايد د ځمکې د استملاک قانون په داسې ډول تفسير شي څو هغه کسان چې د نفوس شمېرنې په وخت کې په خپله ځمکه ژوند يا کار کوي، جبران او د استوګن کېدو مرسته بايد په منصفانه توګه واخلي. لکه د پورته ۶مې شمېرې په څېر، د بيا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ کولای شي د ټولو ځمکوالو له پاره د جبران د ورکړې يو قانوني چوکاټ جوړ کړي چې دا به کولای شي د راتلونکو مقررو له پاره يوه بېلګه شي چې د استملاک له قانون سره سم ترتيب شي.<br><br>دا يوه عمده ساحه وه په داسې حالاتو کې چې د استملاک د قانون او د بيا استوګن کېدو د ۴،۱۲ تګلارې تر منځ يو د پام وړ توپير |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | راغلی. لازمه ده چې د ۴،۱۲ تګلاره وکارول شي. |
| 9. اساسي قانون د جبران د مخکې ورکړې او انصاف په کړلو ټينګار کوي. (له انګليسي ژباړه). د استملاک د قانون دويمه ماده د جبران د پوره او مخکې ورکړې حکم کوي. په داسي توګه چې د انصاف له مخې او په کافي اندازه تفکيک کړل شي، په داسي صورت کې د اساسي قانون حکم په ځانګړې توګه د منصفانه لفظ ته ترجيع ورکول کېږي.<br><br>آتمه ماده حکم کوي چې جبران د ځمکې، کور، ونو او نورو قيمت دی. لسمه ماده حکم کوي چې د وزيرانو شورا يې ارزښت ټاکې. خو د پنځه لسمې مادې حکم دادی چې د ښاروالی او کرني اداري به د ونو او نور ارزښت ټاکي. ديارلسمه ماده د استوګني د ځمکو د حالاتو، په داسي توګه چې د شخص ځمکه استملاک شوې وي په مفصله توګه تشريح کړې ده، په هره اندازه چې ځمکه استملاک شوې وي په هماغه اندازه به جبران ورکول کېږي.<br><br>د په تکليف کېدو له امله د جبران وړاندوبينه نه ده شوې.<br><br>جبران کولای شي د ځمکې په بدل | د ۴،۱۲ عملياتي تګلاره حکم کوي چې د سيمه ييز بازار له ارزښت سره سم دې اغېزمنو کسانو ته د ټولو ضررونو په وړاندې نقدي اغېزمن جبران ورکړي.<br><br>د له لاسه وتلي ژوند له پاره جبران لازمي دی.<br><br>د تکليف رسېدو له امله جبران لازمی دی<br><br>د ځمکې جبران په ځمکې سره تشويق کېږي.<br><br>د بيا استوګن کېدو او د پيليزو مصارفو لګښت ورکول لازمي دي. له دې ټولو احکامو څخه کولای شئ شپنو او د کان کارکوونکو ته د جبران د وړاندوبيني له پاره کار واخلئ. | داسي ښکاري چې د ۴،۱۲ عملياتي تګلارې او د استملاک د قانون تر منځ يوه تشه شته. د ځمکو د استملاک قانون ډېرې تشې لري. د کار او باور وړ بازارونو د نشتوالي له امله، ښه ده چې د بازار په ارزښت ټينګار ونه شي.<br><br>د اوسېدونکو له پاره د جبران د لويې تشې آواري غيرقانوني دی او آن چې په بهترينو اجراآتو يې هم د جبران يوه برخه غيرمستحقو کسانو ته رسېږي.<br><br>په بانک کې د جبران د ورکړې توحيد، د جبران په سملاسي ورکړې سره آن دا چې که اغېزمن کسان غير حاضر هم نه وي، سخت کار دی. | 1. عملياتي ۴،۱۲ تګلاره بايد اصلاح کړل شي. د بيا استوګن کېدو ټولو پلانونو چې د افغان نړيوال بانک د پروژو اړوند رامنځ ته شوي، لږ او ډېر يې د ځمکو د استملاک قانون له پامه غورځولی، د جبران د ورکړې او پرتلې له پاره يې مفصل چوکاټ برابر کړی دی.<br><br>3. د جبران د محتوا (د ديارلسمې مادې په استثنا سره) په اړه د ځمکو د استملاک په قانون کې د جزياتو نشتوالی، د يوه بنډل څرګندو، جامع، او منصفانه کړنلارو د رامنځ ته کولو اجازه، د ټولو استملاکونو له پاره د بيااستوګن کېدو او نوې زده کړې په ګډون چې کولای شي د موجوده قانون له ماتولو پرته، د اوسېدو ځيني چوکاټونه نوي وي ورکړي. | د اساسي قانون ۴۰مه ماده وړانديز کوي چې ۳ ټاکني ته بايد ترجيح ورکړل شي. دغه حکم بايد د کړنلارو د تطبيق د لارښود په توګه بشپړ شي. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کې ځمکه وي.<br><br>د پخواني قانون پر خلاف، له هغې سره سم جبران کولای شي په بانک کې ورکړل شي، د ځمکې د استملاک په قانون کې د ورکونې د ډول په اړه څه نه دي ويل شوي. د اغېزمنو کسانو له پاره، د بانک د لاسرسي په برخه کې چې جبران يې ترلاسه کړي د هېڅ ډول مرستې وړاندوينه نه ده شوې.<br><br>د اجراآتو ډول دقيق دی. | | | | |
| 10. په قانون کې د بيااستوګن کېدو په اړه هېڅ ډول حکم نشته.<br><br>داسې ښکاري چې د اجراآتو ډول يو څه اتفاقي دی چې د اغېزمنو کسانو د قانومندۍ په تصرف چې کډه کوي متمرکز دی. | عملياتي تګلاره د بيا استوګن کېدو د پلان په تطبيق کېدو چې منځپانګه يې په پورته ۴مه شمېره کې ياده شوې حکم کوي. | ځنګه چې په پورته ۴مه شمېره کې راوړل شول عمده تشه شته ده. | په داسې حال کې چې په پورته ۴مه شمېره کې ترحيح ورکړل شوې ټاکنه ومنل شي، د بيا استوګن کېدو پلان د يوې ستونزې په توګه پاتې کېږي.<br><br>له پورته څخه ښکته د ګډون تر منځ د ټاکنې او د اغېزمنو کسانو ګډون چې د ۴,۱۲ عملياتي تګلاره يې په اړه حکم کوي. | د بيا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ په ځانګړې توګه د بيا استوګن کېدو د پلان د برابرولو په اړه (پورته ۵مه شمېره) صراحت لري چې بايد د ګډون په طريقه تطبيق شي. |
| **برخه** | **ځلورم** | **اداري** | **او قضايي** | **کړنلارې** |
| 11. د ځمکې د استملاک قانون حکم کوي چې اجرايي ارګانونه بايد د استملاک پروسې مديريت کړي يا هم د جبران چارې ترسره کړي. | په ۴,۱۲ عملياتي تګلاره کې د قضايي او اداري هوکړو په اړه څه نه دي ويل شوي. | اداري موجودو هوکړو او شکايتونو ته د رسېدو د ميکانيزمونو، د ځمکې د استملاک په قانون کې د عمده خلا شتون، د ۴,۱۲ عملياتي | شکايتونو ته د رسېد طريقه دې رامنځ ته شي خو دوی بايد په حقوقي توګه نه بلکې په اداري توګه | د قانون او لاربښودونو د ترکيب اجراآت کولای شي تر ټولو ښه راهکار وي. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اغېزمن کسان د جبران د چارو د ترسره کولو د کمېټو یوه برخه دي.<br><br>هېڅ حکم په ځانګړې توګه د محکمو لاسوهنه یا هم د عریضو له پاره نشته.<br><br>په واقعیت کې کمېټې کولای شي، شکایتونو ته د رسېدو له پاره عمل وکړي.<br><br>د حقوقي همکاریو له پاره چې له اغېزمنو کسانو سره د دعوو په برخه کې مرسته وکړي هېڅ حکم نشته.<br><br>په اجراآتو کې لږ ترلږه په کابل کې هڅه شوې چې له اغېزمنو کسانو سره مرسته وکړي. | د هغو کسانو له پاره چې بیا استوګنه ورته برابرېږي د شکایت له پاره د وړ او لاسرسي وړ میکانیزمونو د رامنځ ته کولو اړتیا شته<br><br>د عطف منطق یا له اغېزمنو کسانو سره «مفهوم لرونکې مشوره» له اجتماعي موسسو، انجیوګانو، د تصمیم نیونې پروسه چې د اداري برخه نه شمېرل کېږي ترجیح ورکوي. | تګلارې د توحید طریقه سخته کړې<br><br>په پخوانیو قوانینو کې، د جبران ورکړه د قاضي په غیاب کې ترسره کېده او د اعتراض غوښتنې د وړاندې کولو اجازه د قاضي له خوا یوه وزیر ته ورکول کېده. | باقي پاتې شي.<br><br>د اداري او جبران د تصمیمونو له مخې په یوه خپلواک ارګان کې د عریضو له پاره د قانوني حکم رامنځ ته کول. | شکایتونو ته د رسېدو میکانیزمونه چې په هغې کې له شوراګانو سره همکاري او د اغېزمنو کسانو په سیمه کې اجتماعي شوراګانې په نظر کې ونیول شي. د دوی له پاره د بیا استوګنې د تګلارې د چوکاټ برابرول |
| 12. د ځمکې د استملاک قانون د پروسې یا هم بهرني څارونکي ارګان په اړه صراحت نه لري. | عملیاتي ۴,۱۲ تګلاره حکم کوي چې پور اخیستونکی د څارنې او ارزونې او په سند کې د بیا استوګن کېدو د درج شوو فعالیتونو مسول دی. | د کړنلارو په اړه عمده تشې شته وې خو څارنه د استملاک برخه نه وه نو په ترسره کېدو کې یې هېڅ خنډ نشته. | د نړیوال بانک د پروژو څارنه څنګه چې د ۴,۱۲ په عملیاتي تګلاره کې لازم بلل شوې.<br><br>د استملاک او بیا استوګن کېدو کار د ټولو پروژو له پاره د څارونکي متخصصي ادارې جوړول<br><br>د پروژو د ارزولو له پاره سیمه ییزو اوولایتي ادارو ته اختیار ورکول | په ۴,۱۲ عملیاتي تګلاره کې د مفهوم لرونکې څارنې وړاندوېینه شوې. نوې ادارې باید په حد اقله توګه وسائل شي. له ولایتي ادارو او انجیوګانو څخه د استفادې په برخه کې باید پاملرنه وشي. منظم راپورونه باید برابر او خپاره شي.<br><br>انجیوګانو ته باید پاملرنه وشي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|

## 3. د جبران اخیستلو د شرایطو لړل

### 3.1 عمومي شرایط لړل

د شرایطو وړ والی په لاندې ډول تعریف شوی دی: "ټول کسان چې ځمکه، کورونو ،ودانی، ونې او غلې، سوداګری، عاید او ټولې دارایی یې د پروژې د تطبیق په پایله کې په رسمي ټاکل شوې نېټه، وخت ټاکي چې دوی د پروژې اغېزمن کسان شمېرل کېږي." د دې چوکاټ له مخې د بیا استوګن کېدو تګلاره، د جبران د عمومي شرایطو د وړ والي مفاهیم دا چې اغېزمن کس به څوک وي، همداراز هغه کسان په کې شاملېږي چې کېدای شي په لنډمهاله توګه بې ځایه شي خو کېدای شي له دې امله چې د یوه برج یا فرعي ستیشن له پاره یې یوه اندازه ځمکه له لاسه ورکړې د یوې اندازې جبران مستحق وشمېرل شي.

سره له دې چې ډېر اغېزمن کسان د احیا یا جبران مستحق دي په دې دلیل چې هغوی یې د پروژې تر کار لاندې ډېرې ځمکې له لاسه ورکوي. همداراز باید بیان شي چې مستحق کسان څوک دي او تر یوې مستحقې پروژې لاندې څه دي:

(i) ټول اغېزمن کسان چې ځمکه له لاسه ورکوي، که حق ولري او یا یې ونه لري، که هغوی د ځمکې رسمي او یا هم سنتي حقوق ولري.

(ii) برخه اخیستونکي بزګران او اجاره ورکوونکي، که ثبت شوي او یا نه وي ثبت شوي.

(iii) د ودانیو، غلې، فابریکو، او یا تر ځمکې پورې د اړوندو نورو شیانو مالکین.

(iv) هغه اغېزمن کسان چې سوداګري، عاید او معاشونه یې له لاسه ورکوي.

د جبران د شرایطو وړ والی به د وخت تر ټاکلې پورې محدود وي. د لوړو زده کړو وزارت به سیمه ییزې ټولنې ته د تاریخ د ټاکلو په اړه، د سیمه ییزو دفترونو او د دولتي سیمه ییزو اړوندو ادارو له لارې خبر ورکړي. خو هغه کسان چې د ټاکلې وخت له ټاکلو وروسته هم پاتې دي او ځمکه نه پرېږدي، د اغېزمنو ودانیو د تخلیې له پاره د پروژې تر تطبیق مخکې اطلاعیه ترلاسه کړي.

### 3.2 د ځمکې د تصرف او جبران حقوق

د ټولو پروژو په اړه، هغه کسان چې کېدای شي د جبران مستحق شي هغه څوک دي چې ممکن ډېره لږه ځمکه یې له لاسه ورکړې وي. نو لازمه ده چې د ګټو ډولونه چې دا خلک به یې په ځمکه کې ولري، که دا ګټې دوی د جبران مستحق کړي او کنه، باید چې په نظر کې ونیول شي. مهمه ده چې د ځمکې د موجودو ارتباطاتو او اسنادو په اړه او یا هم دغه څرګندونې چې په بېلو دارایيو او ځمکو دغه حقوق ښیي معلومات ولري. لاندې پاراګرافونه په افغانستان کې د رسمي او غیر رسمي بېلابېلو ډولونو خلاصه ده او د ځمکې د اغېزو بنسټ او تر ټولو مهمه پوښتنه به دا وي چې څوک له پروژې څخه د اغېزمنې ځمکې د جبران مستحق دي.

د افغانانو د دارایيو د حقوقو سیستم په دوو پراخه برخو وېشل شوی دی: رسمي او غیر رسمي، د ۲۰۱۲ ز کال د ځمکو د مدیریت په قانون کې وړاندیز شوي تعدیلات، د ځمکې مالکیت لکه دولتي ځمکه، شخصي ځمکه، د کلیو او یا کلي ځانګړې ځمکه او عامه ځمکه تعریف کړې ده. عامه ځمکه د مړې ځمکې په ګډون چې په عمومي توګه په عامه او خاصه مړه ځمکه وېشل شوې ده. پنځمه ځمکه د وقف ځمکه ده. د ځمکې د مالکیت لیکلي مدارک او د دارایيو د رسمي حقوقو، حقوقي اسناد او یاهم د قبالو بېلابېل ډولونه چې نقلونه به یې د محکمو د ثبت په کتابونو کې هم شته وي.

ځمکه د یوه کس په مالکیت کې د خپل ملکیت په څېر شمېرل کېږي. له شریعت سره سم، کسان کولای شي شخصي ملکیت په کسیز او یا هم په ټولیزه توګه به خپل مالکیت کې ولري. شخصي مالکیت کولای شي د (الف) اخیستلو، (ب) د ښاروالی تخصیص، (ج) د مالکیت لېږد چې د میراث معمولي ډول دی له لارې ترلاسه کېږي. سربېره پردې، شخصي

ځمکه کولای شي له اصلي لارې (مړه ځمکه) ترلاسه کړي. دغه ډلبندي ټول قانوني مالکان د خپلې اغېزمنې ځمکې په مقابل کې د جبران د ترلاسه کولو مستحق کوي.

د کلي ځمکه هغه ځمکه ده چې د افغانستان د ځمکو د ادارې په واسطه تایید او ټاکل شوې، له کلي او یا کلیو سره تړل شوې وي او د هماغه کلي یا کلیو اوسېدونکي د حقوقي اشخاصو په توګه وکولای شي په عادي توګه د هغې له ګټو او مشخصو مقصدونو له پاره ترې استفاده وکړي او ځمکه د دولت په مالکیت کې نه وي. د کلي یا کلیو خاصه ځمکه نه شي کولای، واخلي، وپلوري، ډالۍ یې کړي، چاته یې ور پرېږدي، بدله یې کړي، ګرو او یا یې په اجاره ورکړي، خو کولای شي په هغو صورت کې چې د افغانستان د ځمکو اداره هوکړه وکړي او ولسمشر یې منظوره کړي. ساتنه او د کلي او یا کلیو له خاصې ځمکې حفظ او مراقبت د کلي د عادي اوسېدونکو او یا اړوندو کلیو، په ځانګړې توګه د ځمکو انتخابي کمیسیون وي.

عامه ځمکه په لاندې توګه ډلبندي شوې ده او په هغه ځمکه یې اطلاق کېږي چې (الف) د دولت په ملکیت کې وي، (ب) د عامه حقوقو د اشخاصو په مالکیت کې وي، (ج) د عامه ګټو له پاره تخصیص ورکړل شوی وي، او (د) په قانون د عامه دارایی په توګه پېژندل شوې وي. په پورته ډلبندیو سربېره، د کرنې وړ ځمکه چې مالک ونه لري عامه ځمکه شمېرل کېږي. د استملاک قانون دا ډول ځمکه د دولت له اجازې پرته منعه کړې ده. دولت په وروستیو کې د وخت د تېرېدو په اساس په ځمکو خپل حاکمت پیاوړی کړی دی چې داسې فرمايي: د کسانو له خوا د ځمکې ټولې دعوې چې د دولت له خوا له ۳۷ کلونو را په دې خوا ثبت شوې دي لغو او دولت یې مالک بلل کېږي. یاد شوی فرمان حکم کوي ټولې هغه ځمکې چې په هغې کې مالکیت په قانوني توګه نه وي ټاکل شوی دولتي ملکیت شمېرل کېږي. د دې ډلبندي له مخې تصرف کوونکی د اغېزمنې ځمکې د جبران مستحق نه بولي خو داسې یو کس د ټولو هغو غیر منقولو دارایو د جبران مستحق دی چې په دايمي توګه په ځمکه کې ځای په ځای دي.

مړه ځمکه په اصطلاح کې تر هغې ځمکې پورې اړه لري چې د کرنې له پاره وړ نه وي. زموږ مفهوم درې برخې لري: ۱) د ځمکې د مالکیت شالید معلوم وي، ۲) ځمکه کرل شوې نه وي، ودانۍ هم نه وي پرې جوړه شوې، او ۳) په اوس وخت کې ځمکه د کوم چا په مالکیت کې نه وي. آن دا چې مړه ځمکه له مالک پرته د دولت په اجازه استملاک کېدای شي. د شریعت له مخې مړه ځمکه په عمومي توګه هغه ځمکه ده چې نه د دولت او نه هم د فرد په مالکیت کې وي او کولای شي چې د ودانۍ د جوړولو له پاره یې استملاک کړي. مړه ځمکه همداراز په قوانینو کې هم تصریح شوې ده خو هر څوک چې مړه ځمکه استملاک کړي باید په لومړي سر کې له ولسمشر څخه اجازه واخلي. نو د تیوري له نظره، باید چې د شخص ملکیت د همدې مفهوم له مخې استملاک کړي. که چې مړه ځمکه د قانوني استملاک تر پروسه لاندې وي یا هم د یوه کس له خوا استملاک شوې وي خو قانوني رسمي شرایط یې نه وي بشپړ کړي، مالک یې د خپلې اغېزمنې ځمکې په بدل کې د جبران د ترلاسه کولو مستحق دی.

د دارایی د غیررسمي حقوقو سیستم – له غیررسمي سیستم سره سم، دوه ډوله مالکان وجود لري، هغه چې له پروژې څخه د اغېزمنې ځمکې په بدل کې د جبران اخیستو مستحق وي. لومړی ډله چې د جبران د ترلاسه کولو مستحق دی، د ځمکې عرفي او سنتي مالکین او وارثین یې دي. دوی هغه څوک دي چې تصرف شوې ځمکې یې له نیکونو څخه له پنځوس کلونو ډېر وخت په میراث وړې دي. اصلي مالکان هغه څوک دي چې د فرمانونو یا قانوني مکتوبونو او نورو لارو یې د وخت له حاکمانو ځمکې اخیستې وي، دوی د ځمکو اصلي مالکان یا یې اولادونه وي چې ځمکه یې په سوله ییزه توګه څو نسلونو تصرف کړې وي. په کلیو کې، (۱) کېدای شي دغه تصرف کوونکي د مالیې پاڼې ولري یا یې هم نوم په مالیاتي اسنادو کې شته وي، (۲) غیر رسمي قبالې ولری او (۳) د پراختیايي شوراوو، جرګو او یا هم د سیمه ییزو مشرانو په توګه په مشروع توګه له ځمکې څخه استفاده کوي. د عرفي او سنتي قبالو لرونکي کورنۍ او اشخاص هغه کسان دي چې د ځمکې مالکیت یې په غیر رسمي توګه د ځمکې له مالکانو څخه په عرفي او سنتي توګه ترلاسه کړی وي.

دویمه ډله مالکان له غیررسمي سیستم سره سم چې د جبران مستحق دي د ځمکو غیر رسمي مالکان دي چې ځمکه یا کور یې له قانوني مالکانو څخه اخیستې دي خو د مالکیت قانوني رسمیات یې نه دي بشپړ کړي. معامله قانوني ده خو له صلاحیت لرونکي محکمې څخه یې د قبالې د اخیستو له پاره قانوني رسمیات نه دي بشپړ کړي. په ډېرو ځایونو کې، اخیستونکي او پلورونکي عرفي قراردادونه د باور او سنتي قواعدو په اساس تړي، دوی لازمه نه بولي چې معامله یې په صلاحیت لرونکې محکمه کې رسمي کړي. د ډېرو کسانو فکر دا دی چې د جایداد د مالکیت له پاره یې عرفي سند کفایت کوي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې اصلي مالک یې له ځان سره رسمي اسناد هم ولري.

د جایداد د حقوقو له غیر رسمي سیستم سره سم، د عرفي اسنادو له مخې چې د عرفي قبالې په نوم سره یادرېږي، دوه ډوله مالکیت وجود لري. دغه اسناد ډېرې وخت د ګاونډیانو یا په ځانګړې توګه دمشرانو او دیني عالمانو له خوا تاییدېږي. په دې اسنادو کې د اخیستو او پلورلو بېلونه، د ګروئ هوکړه لیکونه، وصیت لیکونه، د ځمکې د وېش هوکړه لیکونه او نور دي. په دې دوه ډوله غیررسمي مالکیت کې، شخص به د اغېزمني ځمکې په وړاندې له پروژې څخه جبران ترلاسه کړي.

له غیر رسمي سیستم سره سم د ځمکې دغه دوه ډوله حقوق نه شي کولای نور د عامه ځمکې په توګه ډلبندي کړل شي. په عرفي یا سنتي حقوقو کې، مالکیت د ټاکلي، پرانیستي، پرلپسې وخت لرونکی دی او د یوه ډېر اوږده وخت له پاره د مالکانو بېلوالی د دې لامل شوی چې هغوی په ځمکو د موجد وخت د تېرېدو له لارې د تصرف حق کوي، قانوني حقوق ولري. دویم ډول د ځمکې حقوق له غیر رسمي سیستم سره سم، د نظر وړ ځمکې، د عامه ځمکو له ډلبندئ څخه بهر شوې ځکه چې یادې ځمکې د پخوانیو مالکانو په نوم وې او د نویو مالکانو د لټې له امله چې د رسمي شرایطو پیروي وکړي او ځمکه یې تر خپل نوم لاندې د ځمکې شخصي والی نه بدلوي. نو دوه ډوله ځمکې تر رسمي سیستم لاندې د حقیقت له مخې شخصي ځمکې دي او په پایله کې، مالکان یې جبران ترلاسه کوي.

د ځمکو ډېری تصرف کوونکي چې د تصرف له ډلبندئ یا قانوني مالکیت څخه بهر دي، لکه غیرقانوني اوسېدونکي، د کومو ځمکو په وړاندې چې تصرف کوي جبران نه ترلاسه کوي خو د بیارغونو په بدل کې چې دوی په اغېزمنو ځمکو کې کړې دي، جبران او احیاء مرسته ترلاسه کوي. د ځمکې بل ډول تصرف کوونکي تجاوز کوونکي دي. دا هغه کسان دي چې د ټاکل شوي وخت له تېرېدو وروسته د پروژې سیمې ته کډه کوي نو د پروژې له خوا د جبران، احیاء او نورو مرستو مستحق نه شمېرل کېږي.

### 3.3 د جبران او ژوند کولو حقوق

په پروژه کې اغېزمن شوي کسان د بېلابېلو ډولو جبران او بیا استوګن کېدو د مرستې مستحق دي چې دوی د ژوندانه د برابرولو په برخه کې، لږ تر لږه له دوی سره د پروژې له تطبیق وړاندې ژوند په څېر مرسته وشي. دغه کسان د جبران او نوي استوګن کېدو د ترکیبي مرستې مستحق دي، البته نظر د له لاسه تللیو دارایيو او لږ اغېزې، د اغېزمنو کسانو د اقتصادي او اجتماعي ضررمن کېدو په ګډون. ټول اغېزمن کسان په مساوي توګه، د ژوند د جوړولو او نقدو پیسو د تر لاسه کولو مستحق دي (البته د حقوقو په توپیرونو سره)، پرته له دې چې د ځمکې د مالکیت وضعیت په پام کې ونیسي، څو ډاډ ترلاسه شي چې له پروژې اغېزمن شوي کسان ښه ژوند ولري. د جبران بنډل د ټولو له لاسه تللیو شیونو (لکه، ځمکه، غلې، ونې، ودانۍ، سوداګري، د معدن کارئ د فعالیتونو عواید او نور) لګښتونه دي چې جزیات یې په لاندې توګه دي:

- **د کرنیزې ځمکې اغېزې**–دغه اغېزې د ورځې له بیې سره سم ځمکه د پیسو په بدل کې تبادله کوي، پر اضافي جبران سربېره به په دریو میاشتو کې د انتقالي ژوند حقوق، جبران شي. د لوړو زده کړو وزارت به ټول انتقالي لګښتونه لکه فیس، مالیات او د اجرا وړ ټول لګښتونه چې له اړوندو قوانینو سره سم د سرچینو د ځای په ځای کولو او ټاکلو لامل ګرځي، ترسره شي.
- **په کرنیزه ځمکه بد خونده اغېزې**–کله چې د خلکو ۱۰ سلنه کرنیزه ځمکه اغېزمنه کېږي، اغېزمن کسان (مالکان، اجاره ورکوونکي، بزګران او برخه اخیستونکي) سربېره د پورته یاد شوي جبران د ترلاسه کولو، د بې خونده اغېزو په وړاندې د ورځې په ارزښت اضافي حقوق او په یوه کال کې به د له لاسه وتلې ځمکې د حاصلاتو خالص عاید ترلاسه کړي.
- **د اوسېدو او سوداګریزو ځمکو اغېزې**–دغه اغېزې به د ورځې له بیې سره سم په نقدو پیسو د بدلېدو په ارزښت، د انتقالي لګښت له کمولو پرته جبران شي.
- **کورونو ته پېښ شوي زیانونه، ودانۍ او (ثابتې دارايي)**–دغه اغېزې چې لګښت یې نقدي پیسې ورکوي، د استهلاک، خراب شوو موادو او د معاملې لګښتونه به جبران شي. جبران به د له لاسه تللیو آسانتیا لښکتونه لکه د اوبو خدمتونه، برېښنا او ټیلیفون وي.
- **کرایه او اجاره ورکوونکي**–د کرایې ورکولو له امله به د دریو میاشتو حقوق ترلاسه کړي چې د کرایې د بېړنیو حالاتو لګښتونه تر پوښښ لاندې ونیسي.

- **د له لاسه تلليو غله جاتو عوايد**–د دې اغېزې جبران به د نقدو پيسو له لارې د ورځې په بيې سره د يوه کرنيز فصل په ټولو حاصلاتو کې جبران شي. د حاصلاتو د برخې د اخيستو په صورت کې مالک او کرايې ورکوونکي ته د غله جاتو ورکول به د مشخصو هوکړو له مخې د حاصلاتو د اخيستو په برخه کې ورکړل شي.
- **ونو ته ورپېښ زيانونه**–دغه اغېزې به د نقدو پيسو په بدل کې د عايد د بدلېدو په اصل سره جبران شي. د ميوې د ونو ارزښت به دوني د عمر په بنسټ په دوو ډلو وټاکل شي: (الف) هغه ونې چې تر اوسه مېوې نه لري، او (ب) مېوې لرونکې ونې. د مېوې د ونو ارزښت د ورځې په ناخالص ارزښت، د يوه کال عايد د نوو ونو د اېښودو له پاره د لازمو کلونو د شمېر، د له لاسه وتلې ونې د مېوې کړلو په کچه. د بې مېوې ونو ارزښت د ځو کلنې پانګونې په اساس چې هغوی ته لازم دي، ټاکل کېږي. د بې مېوې ونو ارزښت به د وچو لرګيو د حجم له مخې چې د ورځې په بيه به وټاکل شي.
- **سوداګريز ضررونه**–د سوداګرۍ د ضررونو په وړاندې جبران د حقيقي عايد په بنسټ دی چې بايد د اړوندو رسيدونو يا نورو د شرحې وړ اسنادو له لارې وټاکل شي، له دې پرته به د سوداګرۍ د ضرر د حقوقو له مخې چې X افغانۍ کېږي په مياشت کې محاسبه کېږي وي. د سوداګرۍ د دايمي ضررونو جبران د حقيقي عايد يا هم د لازمې دورې له پاره د نقدو پيسو په بنسټ به د سوداګرۍ د احياء له پاره وي. د سوداګرۍ د لنډمهاله ضررونو جبران به په نقدو پيسو وي او د پرېکون د دورې عايد به د مياشتې د X افغانيو په اساس تر پوښښ لاندې ونيسي. د ورځنۍ سوداګرۍ ضرر به X افغانۍ، د عادي سوداګريو د خالص عايد منځنۍ کچه، لکه واړه دوکانونه، ورکشاپونه، د خوراکي توکو واړه دوکانونه محاسبه کړل شي. جزيات يې بايد د بيا استوګن کېدو د کاري پلانونو يوه برخه وي.
- **کارکوونکو ته د عوايدو ضررونه**–د له لاسه تلليو معاشونو په وړاندې جبران د پرېکون له دورې بيا تر دريو مياشتو پورې.
- **اجاره ورکوونکي، برخه اخيستونکي کروندګر او د کرنيزو ځمکو کارکوونکي**–اغېزمن اجاره ورکوونکي به د نقدي جبران په توګه د ځمکې د يو کال له لاسه وتلی حاصل ترلاسه کړي. برخه اخيستونکي کروندګر به يې د حاصل برخه دورځې په بيې سره د نورو غله جاتو په اضافي جبران سربېره ترلاسه کړي. د کرنيزو ځمکو کارکوونکي، د نه پرې کېدونکو قراردادونو سره، نقدي جبران د نقدي معاش معادل يا هم غيرنقدي يا به دواړه د حاصل د پاتې برخې له پاره ترلاسه کړي.
- **د کورونو مالکان او کرايه ورکوونکي**–د کورونو کرايه ورکوونکي او مالکان چې له کورونو يې په زور بې ځايه کېږي په مقابل کې يې X افغانۍ د لازم وخت له پاره ترلاسه کوي او د بل ځای د ترلاسه کولو په برخه کې به له هغه سره مرسته وشي.
- **اجتماعي ودانۍ او عامه آسانتياوې**–په بشپړه توګه به بدل يا ورغول شي چې له کار څخه يې د پروژې له تطبيق وړاندې په څېر داړه شي.
- **زيان منونکي کورنۍ**–هغه کسان چې ضرر ورته رسېدلی (هغه اغېزمن کسان چې په بېوزلۍ کې دي، چې مېرمن د کور مشره وي، هغه کورنۍ چې مشران يې دماغي ناروغي ولري او نور) په يو ځل X افغانۍ مرسته ورسره کېږي او د دندې له پاره به د پروژې په اړوندو کارونو کې لومړيتوب ورکړل شي.
- **د اوبو لګونې په کانالونو اغېزې**–پروژه به داډ ورکړي چې د اوبو لګونې د کانالونو تګلوري به بدل کړو او د پخوا په څېر به يې ورغوو.
- **د انتقالي ژوند حقوق**– اغېزمن کسان چې له مجبورۍ بې ځايه شوي دي د ژوند کولو له پاره به X افغانۍ د معيشت د پرېکون تر وخته تر لاسه کړي. د انتقالي ژوند حقوق د معاشونو د موجوده قاعدې په بنسټ د لازم وخت له پاره په ورځ کې X افغانۍ محاسبه کړل شي. دا به همدارازد له لاسه وتليو معاشونو د نقدي جبران وي. که چېرې بې ځايه کېدل لنډ مهاله وي او له دريو مياشتو لږ وخت ونيسي، د معيشت حقوق به يوازې د همغې لنډ مهالهه دورې له پاره ورکړل شي.

**د ځمکې ورکوونکې ارزښت:**د يوې سروې له مخې به د پروژې په سيمه کې د ځمکو بيې د دريو مخکې کلونو په بهير کې پرتله شي. د ځمکې ارزښت او د نورو دارايو له مخې به يې جبرانول د صلاحيت لرونکو مراجعو او اغېزمنو کسانو تر منځ تر بحث لاندې ونيول شي. په دې شرط سره چې د ځمکې د ورځنۍ بيې په اړه اطلاعات موجود نه وي.

د بيا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ له مخې د ارتفاق حق عبارت د لارې له حق څخه دی چې يو کس (مالک، د ځمکې تصرف کوونکی يا استفاده کوونکی يا تر دې لوړ) په ښکته ځمکه بل کس لري. ښکته تصرف کوونکی مکلف دی چې لوړ تصرف کوونکي ته اجازه ورکړي چې د ده له ځمکې تېر شي او د لوړې ځمکې تصرف کوونکی مکلف دی چې د لاندې

ځمکې له یوې مشخصې لارې تېر شي. دا په بشپړه توګه شوني ده چې د ارتفاق حق د هغې تر مشخصې محدودې پورې اړه لري، یعني د لارې حق کولای شي چې د مشخص هدف تر استفادې پورې محدود وي او نه باید د عمومي لارې د حق په توګه، د لوړې ځمکې تصرف کوونکي ته په ښکته ځمکه تعبیر شي.

د ارتفاق حق د ځمکې د یوې برخې حق دی چې کولای شي د بازار د یوې معاملې تابع وي، د یوې ښکته ځمکې تصرف کوونکی کولای شي د لوړې ځمکې په مالک د لارې حق وپلوري. په قانون کې هېڅ حکم نشته چې یو کس له لاندې چارو څخه منع کړي (الف) د ورته لارې د حق اخیستل یا ترلاسه کول، د بل کس په ځمکه د ارتفاق حق، (ب) سره له دې چې به الف کې درج شوی کس د ځمکې مالک نه دی چې وکولای شي د ارتفاق له حق څخه په ګټه اخیستنې په ب کې د درج شوي شخص په ځمکه ګټه ترلاسه کړي.

## 4. د واحد جبران بودیجه او قواعد

### 4.1 د بیا استوګن کېدو او ځمکې د استملاک له پاره د قواعدو رامنځ ته کول

څنګه چې په پورته جدول کې یادونه وشوه، د ځمکو د استملاک د قانون ۹مه او ۱۰مه فقره سملاسي او کافي جبران ته اشاره کوي خو د جبران د جزیاتو په اړه یې څه نه دي ویلي، د بیا استوګن کېدو په اړه یې مشخص حکم نه لاره او د جبران په اړه یې د تصمیم نیولو صلاحیت د وزیرانو شورا ته ورکړی دی. دغه احکام له هغه څه څخه چې په ۴,۱۲ عملیاتي تګلاره کې لازم بلل شوي وروسته پاتې دي خو په جدول کې یاد شوي دي چې د جزیاتو د نشتوالي له امله کولای شی د قواعدو د جوړولو او جبران د اصولو په ګټه استفاده وکړئ. یاد شوي قانون د جبران په اړه د مفصلو قواعدو رامنځ ته کول نه دي منعه کړي او دا حقیقت چې مقررې کولای شي له قانون سره سمې ترتیب شي ښیي چې په پای کې جزیات هم رامنځ ته کېدای شي. د بیا استوګن کېدو د تګلارې د دې چوکاټ په متن کې د جزیاتو د راوړلو د مفصلو قواعدو د نشتوالي له امله او په پروژو یې تطبیقول له قانون سره مخالفت نه لري.

د نړیوال بانک د ۴,۱۲ عملیاتي تګلارې د پیروی له امله، د ځمکې او له لاسه تللیو دارایيو په وړاندې د جبران له پاره د استفادې وړ قواعد، باید چې د ارزښت بدل یې د ورځې له بیې سره سم وي، چې د تګلارې د هدف همغه برخه چې لږ تر لږه د کسانو د معیشت احیاء او له دې څخه ډاډه کېدل چې له پروژې څخه اغېزمن شوي کسان په بده ورځ کې نه دي پرېښودل شوي، پوره شي. د ۴,۱۲ له عملیاتي تګلارې سره سم د بدل ګڼلښت عبارت د دارایيو د ارزښت د ټاکلو له طریقې څخه دی چې د له لاسه تللیو دارایيو د بدیل او د معاملې د لګښتونو تر پوښښ لاندې راوستل، د کافي پیسو د ټاکلو په برخه کې مرسته کوي. د ارزښت د ټاکلو، د ودانیو د استهلاک او دارایيو د دې طریقې په تطبیق کې نه باید په نظر کې ونیول شي. د هغو ضررونو په اړه چې نه شي کولای په آسانۍ سره یې پرتله او یا یې د پیسو په توګه جبران کړي (لکه عامه خدمتونو ته لاسرسی، پیرودونکي، وړاندې کوونکي، یا هم د کب نیونې سیمو ته لاسرسی، څرځایونه، ځنګلونه یا د کانونو راویستنه)، هڅه وشي. څو یې په معادل او د منلو وړ سرچینو یې د عایداتي فرصتونو او فرهنګي نظره لاسرسی پیداشي.

له پروژې څخه د احتمالي اغېزمن شوو د سروې په نشتوالي، یا هم له اړوندو مراجعو سره د ترسره شوې مشورې او هغه شمېرې چې وروسته یادېږي د بیااستوګن کېدو د سند له پلان جوړونې‌د شمال- جنوب د دهلیز چې د مزارشریف د برېښنا د پل یوه برخه ده، له پروژې څخه اخیستل شوي او برابر شوي. د ۲۰۰۹ ز کال د اکتوبر په میاشت کې د فواید عامې وزارت په واسطه د یوه قرارداد په اړه چې د افغان نړیوال بانک له لورې به تمویل شي دی. دغه ارقام په دقیقه توګه د دې پروژې عیناً ارقام نه دي خو اصول یې یو ډول دي، د محاسبې طریقې اود جبران قواعد دقیق و او کولای شی هغه د بیا استوګن کېدو د تګلارې په دې چوکاټ کې تعقیب کړي.

د قواعدو په اړه یو بل ټکی هم باید یاد شی. په یوه مشخصه پروژه کې، د پروژې د یوې برخې په توګه د پروژې د یوه سند برابرول، لږ ترلږه کېدای شي یوه ځمکنۍ مقدماتي سروې چې ټاکل شوې د پروژې په واسطه اغېزمنه شي او د کسانو شمېر چې کېدای شي اغېزمن شي او د هغوی د اغېزمن کېدو لارې، د ځمکې له لاسه ورکول، د دارایيو له لاسه ورکول او یا کمېدل، د ژوند له لاسه ورکول او نور ترسره شوي وي. کېدای شي له داسې کسانو سره بحث شوی وي، نو دقیق اټکل کولای شي د دې په اړه چې دوی د مجرا په توګه د څه غوښتنه کوي شته وي. همداراز، د قواعدو د توضیح تر څنګ چې باید د جبران په ټاکلو کې تطبیق کړل شي، یوه بودیجه به ترتیب شي چې د لازمو پیسو بیانوونکې، له وړاندیز شوو قواعدو سره، د جبران د ورکړې د شرایطو د بشپړولو له پاره چې اغېزمنو کسانو ته یې ورکړې، د پروژې په ساحه کې وي.

د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ توپیر لري. د بیااستوګن کېدو د تګلارې چوکاټ هغه وخت برابرېږي چې د سیمې سمه پېژندنه او یا هم د پروژې په ترتیب کې اغېزمن شوي اشخاص (د مالي فعالیتونو منځګړیتوب او د څو فرعي پروژو لرونکې پروژه) امکان ونه لري او د هرې فرعي پروژې له پاره چې کېدای شي ځمکې ورسره استملاک شي له پاره د بیا استوګن کېدو کاري پلان، د فرعي پروژې له منلو څخه مخکې د بانګ د تمویل له پاره ترتیب کېږي. نو د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ نه شي کولای چې تر یوې بودیجې پورې تړلی وي چې د پروژې د ټول احتمالي لګښت بیانوونکی، د جبران د قواعدو چې د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ یې د تطبیق وړاندیز کړی وي. د بیا استوګن کېدو د هر کاري پلان د یوې برخې بودیجه چې د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ له منل کېدو او د پروژې د یوې مشخصې برخې له پیل کېدو وروسته مطرح کېږي.

د ځمکو، ودانیو، غله جاتو او ونو بیې چې کېدای شي د لوړو زده کړو وزارت د درج شوي لګښت په اټکلونو کې استفاده ترې وشي، کېدای شي د ارزونې او چټکو مشورو له لارې له اغېزمنو لوریو سره د سیمه ییزو مراجعو او د موجوده ضررونو سروې او نفوس شمېرنې له مخې په لاس راشي. ممکن له اغېزمنو کورنیو څخه وغوښتل شي چې د اغېزمنو دارایيو او ځمکې ارزښت یې خپله وټاکي. دغه به د بیا استوګن کېدو د ضروري پیلیزې یوه برخه وي.

په دې پړاو کې نه شو کولای په ډاډ سره د بیا استوګن کېدو مجموعي بودیجه وټاکو. بودیجه به یې د هرې پروژې په طرح او اندازه تکیه ولري.

سره له دې چې، د بودیجې د ترتیب اداره باید د بیا استوګن کېدو له پاره د بودیجې له موجودیت څخه ډاډ ترلاسه کړي، نه یوازې له پروژې څخه د اغېزمنو کسانو د جبران پیسې، بلکې د پروژې له خوا د مشورو د لګښتونو، شکایتونو ته د رسېدو د میکانیزم تعقیب، څارنه او ارزونه او له اړتیا سره سم د خپلواکو سلاکارانو په ګډون (یعنې د بیا استوګن کېدو د کاري پلان د تطبیق د وروستی ارزونې له پاره)

## 4.2 د ځمکې د ارزښت ټاکل

د یو متر مربع په حساب د ځمکې حقیقي ارزښت اغېز لرونکی دی: په هره اندازه چې ځمکه یوې جوړه شوې سیمې ته (د بېلګې په توګه یو کلي) ته نیږدې وي په هماغه اندازه د ځمکې ارزښت او د اغېزمنو کورنیو اطلاعات لوړ وي. نو د ځمکې د ټاکلو ارزښت د حد اوسط حقیقي ارزښت او دا چې اعمار شوې ځمکې ته څومره نیږدې ده له مخې ټاکل کېږي. د کرنیزې ځمکې د ارزښت په ټاکلو کې، د عادلانه ارزښت د ټاکلو له پاره د اوبو موجودیت یا هم د ځمکې ورځنی ارزښت ډېر مهم دی. د استوګنې او سوداګریزو ځمکو د ارزښت په اړه د سرک موجودیت ډېر د ارزښت وړ دی، نه د ځمکې د حاصلاتو وړتیا. د ځمکې ارزښت نظري ساحې ته ټاکل کېږي. ځمکه چې په هره اندازه مرکز ته نیږدې وي، په هماغه اندازه یې ارزښت لوړ وي.

## 4.3 د ودانیو د ارزښت ټاکل

د پروژو لکه د پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې په واسطه که ځمکه اغېزمنه شوې وي، ارزښت یې د جوړښت د ډول له مخې ټاکل کېږي. یوه ودانۍ کېدای شي له خاورې یا خاورې او خښتو، له دولتي ودانیو په استثنا سره چې په هغه کې وابنه او ګچ هم کارول کېږي، جوړه شوې ده یا هم سمنټ په کې کار شوي دي. د ودانیو ډلبندي (لنډمهاله، دایمي او نیمه دایمي) په هغو موادو کې چې په کې کارول شوي دي اړه لري.د ودانیو ارزښت ټاکل لومړی ډله، (خاوره/خښتې/د لرګیو دېوالونه، اخېړ شوي بامونه/آهن پوښ)، دویمه ډله (کاشي کاري شوی بام او عادي سمنټ شوی) درېیمه ډله (کانګریټي کور/ یو پوړیزه او دوه پوړیزه ودانۍ) له ځینو مالکانو، سیمه ییزو قراردادیانو او د سیمې یو شمېر ساختماني انجنیرانو سره به له بېلابېلو مشورو وروسته ترسره شي.

## 4.4 د ونو او غله جاتو د ارزښت ټاکل

د کرنیزو ځمکو مساحت د کرنې له پاره د استفادې وړ تخم د اندازې له مخې ټاکل کېږي. له دې امله، باید یوه شو چې وړه او مشخصه ټوټه یو کیلو ګرام تخم ته اړتیا لري او هیله کېږي چې حاصل یې هم یوه ټاکلې اندازه وي. نو د غله جاتو د ضررونو په محاسبه کې، د څلورو اصلي غله جاتو ترکیب کېدای شي د منځنی کچې د حاصل او بیې د پیداکولو له پاره ترې استفاده وشي. د ځمکې د ضررونو بیه په یو متر مربع کې وقف شوې چې څلور اصلي غله جات به یو متر مربع په

۵۰۰ افغانۍ د CASA۱۰۰۰ له پاره اټکل شوې خو د بیا استوګن کېدو د کاري پلان په وخت کې او د لوړو زده کړو د وزارت له پروژې سره سم به نور هم دقیق معلوم شي.

د یو کال د ناخالص ارزښ په بنسټ د CASE له پاره د مثمرو ونو جبران، د لازمو کلونو د شمېر له مخې چې یوه نوې ونه پکې اېښودل کېږي د له لاسه تللې ونې د حاصل له ظرفیت سره معادل دی. د غیر مثمرو ونو ارزښت د هغو د څو کلونو پانګونې له امله چې هغوی اړتیا ورته لري، ټاکل کېږي. سره له دې، چې د ونو د محصولاتو ښکته پورته کېدل به کېدای شي د آسانتیاوو له نشتوالي او له عرضې او تقاضا څخه اغېزمن وي. بزګران به د خپلې ونو مېوې وپلوري، کله چې په غیرفصلي میاشتو کې نور هم همدا کار کوي په پایله کې کېدای شي د ونو د محصولاتو ارزښت لوړ شي. د یوې میوه یي ونې له پاره د جبران قاعده لږ تر لږه د یوې ونې حاصل د ونې په عمر د ضرب له مخې ده.

غیرمیوه یي ونې چې د هغوی معمولي د ترویج طریق پیوند دی. بزګران دا ډول ونې اخلي، نوموړې ونې له دوو کالو وروسته کروندو ته د لېږد له پاره تیارېږي. په کال کې څلور ونې په حاصل ورکولو پیل کوي. همداراز، د غیرمیوه ونو ارزښت په دې توګه ټاکل کېږي. د غیرمثمر میوه ونو د جبران له پاره د ونې لګښت جمع د روزلو ارزښت، د پرې کېدو تر وخت پورې یې د پروژې د تطبیق په پایله کې وي.

## 4.5 د عاید د بیا ترلاسه کولو حقوق

ټاکل شوې ده چې د بیا استوګن کېدو ستراتیژۍ د ټولو له لاسه وتلیو دارایو له پاره د جبران د بدل د لګښت په توګه برابره کړي، څو د اغېزمنو کسانو د ژوند عواید په جدي توګه اغېزمن نه شي او د امکان په صورت کې به نور هم ښه شي. ټول اغېزمن کسان چې ژوند یې اغېزمن کېږي د عوایدو د ضررونو په وړاندې به یې ملاتړ وشي او د هغو کسانو له پاره چې ژوند یې په جدي توګه اغېزمن کېږي، د ژوند د برابرولو له پاره (د حقوقو او نورو ټولو مرستو په ګډون، د هغو کسانو له پاره چې په شدیده توګه اغېزمن شوي، بې وزلو او ضررمنو) به یې مرستې برابرې شي.

**د حاصلاتو د ضررونو په وړاندې د عاید د بیا ترلاسه کولو حقوق**–دغه اغېزې د ورځې په بیه د نقدي جبران له لارې د یوه کرنیز کال د بشپړو حاصلاتو جبران کېږي. د حاصلاتو د برخې اخیستلو په صورت کې، د حاصلاتو جبران هم مالک او هم اجاره ورکوونکي ته د مشخصو هوکړو په بنسټ ورکول کېږي.

**د سوداګرۍ د ضررونو په وړاندې د عاید د بیا ترلاسه کولو حقوق**–د لازم وخت له پاره په نقدو پیسو دایمي سوداګرۍ د ضررونو د جبران په اړه، د سوداګرۍ د احیا په خاطر به (x میاشتې) ترسره شي. دایمي سوداګري به په میاشت کې x افغانۍ د x میاشتو له پاره ترلاسه کړي. په نقدو پیسو د لنډمهاله سوداګرۍ د ضررونو جبران ترسره کېږي چې د پرېکون د دورې عاید به د میاشتې حقوق د x افغانۍ په بنسټ، تر پوښښ لاندې ونیسي.

**د کارکوونکو د عاید د بیا ترلاسه کولو حقوق**–د سوداګرۍ د پرېکون د دورې له پاره، له لاسه تللي معاشونه دي.

**په کرنیزو ځمکو د بې خونده اغېزو په وړاندې د عاید د بیا ترلاسه کولو حقوق**- کله چې د خلکو ۱۰ سلنه کرنیزه ځمکه اغېزمنه شي، اغېزمن کسان (مالکان، اجاره ورکوونکي او برخه اخیستونکي کروندګر) به د بې خونده اغېزو په وړاندې اضافي حقوق، په یوه کال کې د خالصو حاصلاتو د عایدو د ورځې په ارزښت د له لاسه تللې ځمکې څخه ترلاسه کړی. په دې پروژه کې دا کار د تحمل وړ نه دی.

**د ضرر منونکو ډلو حقوق**–هغه کسان چې ضرر ورته رسېدلی (هغه اغېزمن کسان چې په بېوزلۍ کې دي، چې مېرمن د کور مشره وي، هغه کورنۍ چې مشران یې دماغي ناروغي ولري او نور) په یو ځل x افغانۍ مرسته ورسره کېږي او د دندې له پاره به د پروژې په اړوندو کارونو کې لومړیتوب ورکړل شي.

**د انتقالي ژوند حقوق**– هغه اغېزمن کسان چې خپله ځمکه یا کور به له لاسه ورکړي او بې ځایه کېدو ته اړ کېږي، د معشیت د حقوقو له مخې به x افغانۍ د بیا ځای پر ځای کېدو او د معشیت د بیا احیا لپاره تر لاسه کړي.

**د کرایي حقوق**-- د کورونو کرایه ورکوونکي چې له کورونو په زور ویستل کېږي، د ورځې له بیې سره سم د کرایې حقوق تر هغې وخته چې یو وړ کور ورته پیداشي، ترلاسه کوي او د بل ځای د ترلاسه کولو په برخه کې به له دوی سره

مرسته وشي. ورته نورو کسانو ته چې د برج يا عمومي سټيشن د جوړولو له امله له خپلو کورونو څخه په لنډمهاله توګه بې ځايه کېږي هم ورکول کېږي.

تر پروژې پورې اړوندې دندې (د ساختماني کار په جريان کې غير تخصصي او نيمه تخصصي دندې) –

په شديده توګه اغېزمنو او ضرر رسېدليو ډلو ته به تر پروژې پورې اړونده د دندې لومړيتوب ورکړل شي چې دا دندې عبارت دي له ډرېورۍ، نجارۍ، معمارۍ، صفاکارۍ او کندنکارۍ او د امکان په صورت کې اداري ابتدايي کارونه.

## 5. سازماني هوکړې

### 5.1 عموميات

دغه برخه د پروژې د بريالي تطبيق له پاره د بېلابېلو ارګانونو د مسوليتونو او رولونو له پاره ده. لومړني ارګانونه چې د ځمکې په استملاک او د بيا استوګن کېدو په پروسه کې دخيل دي، په لاندې توګه دي: د افغانستان اسلامي جمهوريت، د لوړو زده کړو وزارت، په لوړو زده کړو وزارت کې د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې، د لوړو زده کړو وزارت د پلان او پاليسی د رياست په چوکاټ کې د محيطي او اجتماعي حفاظت د اطاعت منلو برخه، غيرحکومتي تطبيق کوونکې موسسې، د لوړو زده کړو چارواکي د سيمه ييز حکومت واحدونه او ولايتونو په کچه.

د بيااستوګن کېدو او احياء د پروګرام په تطبيق کې دخيلې اداری او پلان جوړونه: د لوړو زده کړو وزارت د اجرا کوونکې اداری او د حکومت د ولايتي دفتر په توګه له پورته يادو غيرحکومتي موسسو سره، په پروژه کې د لوړو زده کړو وزارت د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له لارې عمل کوي. دغه وزارت په ساحه کې کار کوي او پروګرام د پوهنتون د اجراآتو د همغږي کوونکو له لارې په ټولو ټاکل شوو پوهنتونونو کې د سلاکار انجنير او د تطبيق د سلاکار په ملاتړ چې د استوګنې د تطبيق ټول اړوند فعاليتونه همغږي کوي، تطبيقوي. ټول فعاليتونه له اړوندو ټولو دولتي ادارو او اجتماعي شوراګانو سره همغږې شوي چې له لوري به يې تطبيق شي.

### 5.2 د لوړو زده کړو د وزارت، اداره

د لوړو زده کړو وزارت به اجرا کوونکې اداره وي. وزير، اداري او مالي مرستيال به د ټولو تصميم نيونو، پلان جوړونو، تطبيق او د پروژې د فعاليتونو همغږي کولو مسول وي. ترسره کوونکې اداره به له ټولو دولتي ادارو سره لاندې ستونزو ته د رسېدو له پاره دقيقه همغږي ولري:

1. د ځمکې اسناد او مالکيت: د اسنادو او ځمکې د مالکيت په اړه د اړوندو ستونزو د حل له پاره د مرکز په کچه رامنځ ته او غږي به يې د لوړ زده کړو د وزارت، ماليې وزارت، جيولوژۍ او کارتوګرافي څخه وي.

2. د داراييو د ټاکنې ارزښت: د جبران له پاره د ځمکې او نورو ټولو داراييو ارزښت د ځمکې د استملاک له قانون سره سم د بيا استوګن کېدو د تګلارې په چوکاټ کې د درج شوو اصولو په اساس د وزيرانو د شورا له خوا ټاکل کېږي. د وړانديز له مخې به تصميمونه د يوې کمېټې له خوا چې له لاندې کسانو به جوړه شوې وي نيول کېږي: (i) مالک يا هغه څوک چې له ځمکې استفاده کوي او يا يې استازی، (ii) د ځمکې د استملاک کوونکې ادارې رسمي استازی، (لکه د لوړو زده کړو وزارت (iii)، د سيمه ييزې ښاروالی استازی (iv)، د ماليې وزارت استازی او (v) د عدليې وزارت استازی.

### 5.3 د پروژې تطبيق

#### 5.3.1 دلوړو زده کړو وزارت

د لوړو زده کړو وزارت به د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له خوا د بيااستوګن کېدو او د ځمکې د استملاک د پلان د تطبيق او منظورۍ مسول وي. د لوړو زده کړو په وزارت کې د اجراآتو او څارنې په ملاتړې ډله کې، د ځمکې د استملاک د پلان چارې او بيا استوګن کېدل (LARP) د دوو برخو له خوا چې په لاندې توګه تشريح شوې دي ترسره شي. د لوړو زده کړو د وزرات سيمه ييز دفتر او په سيمه کې د همغږۍ مسول اړوند سيمه ييز دولتي دفترونه د سروې ګانو، مشورتي

غونډو او د جبران د مشخصو قاعدو ټاکونکو په ګډون به د استملاک د تګلارې په چوکاټ کې د درج شوو اصولو په بنسټ وي. د پروژې د جبران د لارو برابرول او املاکو د اصلاح مسولیت د لوړو زده کړو د وزارت په غاړه دی او اغېزمنو کسانو ته د جبران د فزیکي تحویلی مسولیت به د لوړو زده کړو د وزارت له خوا یوې ټاکل شوې کمېټې ته چې غړي به یې له اړوندو سیمه ییزو دولتي ادارو څخه وي د څارني او اجراآتو د ملاتړې ډلې او سلاکارانو تر څارنې لاندې وي سپارل کېږي.

د پلان او پالیسی د ریاست په چوکاټ کې به یوه برخه شته وي چې د ځمکې د استملاک په پلان او بیا استوګن کېدو، په ځانګړې توګه د اطاعت منلو د اجتماع او ژوندانه د چاپېریال ساتنې په برخه کې به لاس لري. د ژوندانه د چاپېریال او اجتماع د ساتنې د اطاعت منلو برخه به د اجتماعي او محیطي حفاظتي مسایلو مسوله وي. د څارنې او اجراآتو ملاتړې ډله د ورځنیو ساحوي فعالیتونو، د بیا استوګن کېدو د چارو د پیل او تطبیق له پاره به د ټولو لازمي تصفیو مسول وي. دغه برخه به د اجتماعي او ژوندانه د ساتنې د اطاعت منلو له برخې سره د پروژې په تطبیق کې همغږي وکړي. د لزوم په صورت به د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله د کرنې له وزارت، د سروې او کادستر له ادارې، سیمه ییزو ادارو، غیر حکومتي موسسو او انتخابي سیمه ییزو شوراوو سره همغږي وکړي. د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله مسولیت لري ډاډ ترلاسه کړي چې د بیا استوګن کېدو، د جبران د ټاکنې او ورکول او ځمکې د استملاک د پروسې ټول پړاوونه په بشپړه توګه په اسنادو کې ثبت شوي دي او د اسنادو چاپي او الکترونیکي کاپي باید په خوندي او ډاډه ځای کې وساتل شي.

د لوړو زده کړو وزارت به دوه ملي متخصصین په کار وګماري چې یو به د ژوندانه د چاپېریال د اطاعت منلو او بل به د اجتماعي حفاظت د اطاعت منلو په برخه کې چې هغوی به محیطي او اجتماعي مسایلو ته مسول وي. دغه دوه ملي مشاورین به د ژوندانه د چاپېریال، اجتماعي مدیریت او د څارنې ډاډ له اجتماعي او محیطي حفاظتونو به د پروژې په جریان کې د چوکاټ د لارښودونو د تطبیق مسولین وي.

ملي متخصصین به همدارازد ظرفیت جوړونې او د لوړو زده کړو د وزارت د مدیرانو د لارښوونو مسولین وي څو: (۱) د اطاعت منلو او حفاظتي شرایطو څخه د ډاډ د ترلاسه کولو د پروژې د پراختیا په هر فرعي پړاو او له تخنیکي او سیمه ییزو ډلو سره کار کول. او (۲) نورو پراختیایي مرکزونو ته د پراختیا آسانتیا.

### 5.3.2 تطبیق کوونکي غیر حکومتي موسسه

د تطبیق کوونکي یا څارونکي غیرحکومتي موسسې مشخصې دندې به په لاندې ډول وي:

1. د پلان او پالیسی په ریاست کې د اجتماعي او محیطي حفاظت د اطاعت منلو له برخې سره په نژدې همغږۍ کې کارکول، د سیمه ییز حکومت ځانګې او د املاکو د اصلاح د پروژې د تطبیق له پاره د لوړو زده کړو د وزارت کارکوونکي.

2. د پلان او پالیسی په ریاست کې د اجتماعي او محیطي حفاظت د اطاعت منلو له برخې سره د پروژې د معلوماتو نشر او تر بیا استوګن کېدو پورې اړوند نورو ټولو معلوماتو په برخه کې همکاري.

3. د ژوندانه د برابرولو او اغېزمنو کسانو د فعالیتونو په اړه د معلوماتو د ورکولو او په دولتي پراختیایي پروګرامونو کې د ګډون په شمول د نورو هدفونو ټاکل.

4. د اغېزمنو کسانو د زده کړو د اړتیاوو تشخیصول، د عوایدو د تولید د فعالیتونو په منظور او له دې ډاډه کېدل چې دا فعالیتونه په سمه توګه تمویل شي.

5. د املاکو د اصلاح تر پروژې پورې اړوندو شکایتونو ته د رسېدو په منظور پوهاوی او مشوره ورکول او د بیا استوګن کېدو او ځمکې تر استملاک پورې اړوندو ناحل شوو شکایتونو د شخړو په اړه شکایتونو ته د رسېدو له پاره همکاري.

6. د منصفانه جبران د دعوو په اړه د تادیاتو د بشپړې ورکړې او ټولولو په ګډون له اغېزمنو کسانو سره همکاري.

7. د املاکو د اصلاح د پروژې په اړه د دوره يي راپورونو د وړاندې کولو تطبيق.

8. د ټولو هغو فعاليتونو ترسره کول چې کېدای شي د املاکو د اصلاح د پروژې د برياليي تطبيق له پاره لازم وي.

غيرحکومتي تطبيق کوونکي موسسه بايد يوه غيرانتفاعي موسسه وي، د يوې غيرحکومتي موسسې په څېر په دولت کې ثبت وي، لږ تر لږه يي درې کاله فعاليت کړی وي، لږ تر لږه درې معاش لرونکي کسان ولري، د جنسيتي مساواتو د اصولو له مخې يې په خپلو کارکوونکو متعهد وي، د يوه مديريتي او يا مشورتي بورد لرونکې وي، يو محاسبتي او کره مالي سيستم وساتي، د پروژې په اړونده سيمه کې اوږدمهاله او د باور وړ حضور ولري، له عمده دولتي ادارو سره کار وکولای شي، د پروژې د تطبيق له پاره د بيا استوګن کېدو په برخه کې د زده کړې د پروګرام د جوړولو له پاره حاضر وي.

### 5.3.3 سيمه ييز حکومت

د املاکو د اصلاح د پروژې په تطبيق کې د سيمه ييز حکومت د ځانګو همکاري او همغږي حياتي ده. دوی ولايتي حکومت، د ولسوالۍ حکومت، د کليو په کچه شوراګاني او سيمه ييزې اجتماعي شوراګاني دي. د دارايیو د ارزښت ټاکل، مالکيت او د ځمکې تر اسنادو پورې اړوند مسايل له دې لارې سرچينه اخيستي او يوازې هغه وخت د وزيرانو شورا ته لېږل کېږي چې دغه کمېټه مسايل په سيمه ييزه توګه حل نه کړای شي. ولايتي حکومت، که چېرې د ځمکې د ارزښت د ټاکلو په برخه کې شخړې شته وي نو د بيو د شخړو د مشخص کولو په منظور به يوه د ارزښتونو کمېټه جوړه کړي.

که چېرې د ځمکې د مالکيت په اړه شخړې موجودې وي، د ځمکې اسناد به د ولسوالۍ په کچه په دريو دفترونو کې کتل کېږي، (۱) د ولسوالۍ اداره، (۲) مستوفيت او (۳) د ولسوالۍ محکمه. دغه دفترونه د ځمکې د استملاک او د ځمکې د استحقاقونو د تاييد اړوند د ټولو موضوعاتو په اړه د قانون اختيار لري. د عوايدو (مستوفيت) د ادارې کارکوونکي به د استحقاقونو د تشخيص دندې او له سيمه ييزو ښاروالیو سره د مالکيت تاييد وکړي. هيله کېږي چې د ولسوال دفتر د همغږۍ رول ولوبوي

## 6. سلا او عامه ګډون

### 6.1 د عامو خلکو مشوره

له اغېزمنو کسانو سره، د خلکو د مشورې د پروسې د ميکانيزمونو دغه برخه، د بيا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ وړاندې کول او د املاکو د اصلاح پروژه چې خلکو ته د معلوماتو د وېشلو، د اغېزمنو کسانو تر منځ د دوی د حقوقو په اړه د پوهاوي خپرول، د جبران د ورکړې کړنلارې او د شکايتونو ته د رسېدو ميکانيزمونه تشريح کوي.

### 6.2عامه مشوره

د اغېزمنو کسانو تر منځ د ورځنيو غير رسمي غونډو سربېره، د لوړو زده کړو د وزارت ولايتي کارکوونکي او نورې اړوندې ادارې، د پروژې په اړه د رسمي مشورو پروسې رامنځ ته شوې او د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له خوا به د کلي د غونډو او له دولتي مسولينو سره د عامه مشورو په واسطه مديريت شي. له اغېزمنو کسانو، د املاکو د اصلاح د پروژې طرح او اغېزمنو کسانو ته يې څرګندول، د اساسي، اقتصادي او اجتماعي اطلاعاتو د ټولولو په بهير کې له دې ټولو طريقو او ميکانيزمونو څخه کار اخيستل، څنګه به چې لاندې تشريح کړل شي.

### 6.3 اجتماعي غونډې

په کلي کې به يو څه غونډې وشي چې په هغې کې به نفوس شمېرنه، اجتماعي او اقتصادي سروې ګانې تشريح او وروسته به عملي شي. د يوې پروژې هدفونه، مقصدونه او همداراز پروسو ته اړتيا او همداراز د لنډمهاله بې ځايه کېدو او بيا استوګن کېدو پايلې به تشريح شي. د ټولنو د مشرانو غونډې او اړونده مراجع به د ګډون کوونکو د حضور له مخې پروګرام کړل شي. د اجتماعي او ژوندانه چاپېريال د حفاظت اطاعت منل به د اجتماعي مشورې د پروې د ترسره کولو مسول شي.

د پروژې په اقتصادي او اجتماعي سروې کې، د مالکانو نومونه، د هغو دارایيو استفاده کوونکي چې کېدای شي استملاک کړل شي، په لنډمهاله توګه استفاده شوې او له منځه تللي دارايۍ چې د هغې په وړاندې به جبران ورکول کېږي، ليست کړي او د لوړو زده کړو وزارت به د ځمکې د استملاک او بيا استوګن کېدو يو پلان به د پروژې د هرې تعريف شوې برخې له پاره برابر کړي څو ډاډ ترلاسه شي چې د دې ټولو اغېزمنو دارایيو په وړاندې د انصاف له مخې جبران ترسره شي. د بيا استوګن کېدو او د ځمکو د استملاک منظور شوی پلان، به د ټولو کورنيو او اغېزمنو اشخاصو او ټولو ګټه اخيستونکو خواوو له پاره تشريح کړل شي. د سرشمېرنې سروې به په اغېزمنو ځمکو کې ترسره شي.

هر وخت ټول خلک هڅول کېږي چې د بيااستوګن کېدو په اړه يې نظريات څرګند کړي. دوی د خپل بيا استوګن کېدو د ټاکنې له پاره اړوند اغېزمن کسان دي. د دې غونډو اصلي موخه د کورنيو او اغېزمنو کسانو او کورنيو ټولنو له پاره د فرصتونو برابرول دي چې د پروژې په اړه يې انديښنې او نظرونه د څارونکو سلاکارانو په څنګ کې څرګند کړي. دا همداراز د سروې ګانو د لومړنيو پايلو توضيح کول او څرګندول دي او د هغو موضوعاتو په اړه چې په پوښتنپاڼه کې په کافي توګه تر پوښښ لاندې نه دي نيول شوې څېړنه کوي.

## 6.4 له له دولتي مسولينو او ټولو اړوندو مراجعو سره مشوره

څارونکي مشاورين به له ولايتي او سيمه ييزو مسولينو سره ملاقات وکړي چې ډاډ ترلاسه شي چې هغوی به د پروژې په اړه د تنظيم او د بيااستوګن کېدو او ځمکې د استملاک د پلان د تطبيق د جزياتو په اړه په بشپړه توګه و ارزول شي. د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله به د ځمکې د ارزښت د ټاکلو له کمېټې سره همغږي وکړي. له ولسوالانو سره چې د فرعي پروژو کاري ساحې يې تر کاري حوزې پورې اړه لري او د کليو له مشرانو سره به همغږي وشي. د جبران د بنډلونو او حق د ترلاسه کولو په اړه معلومات به له دولتي مسولينو او نورو اړوندو مراجعو سره شريک کړل شي.

## 6.5 تر پروژې پورې د تړلو معلوماتي موادو برابرول

تر پروژې پورې تړلي معلوماتي مواد به برابر او اغېزمنو کسانو ته به توزيع کړل شي څو د دوی تر منځ يې د حقوقو او د جبران د ورکړې د کړنلارو او شکايتونو ته د رسېدو ميکانيزمونو په اړه پوهاوی وشي. دغه مواد به لاندې توکي تر پوښښ لاندې ونيسي:

- د فرعي پروژو له پاره د بيا استوګن کېدو او ځمکي د استملاک پلانونه، به د يوه رسمي دولتي سند په توګه د ولسوالانو، د کليو د مشرانو، د مستقيماً اغېزمنو کورنيو او د لوړو زده کړو د سيمه ييزو کارکوونکو په اختيار کې ورکړل شي. د بيا استوګن کېدو د چوکاټ دغه تګلاره به د لوړو زده کړو د وزارت په وېبپاڼه کې هم خپره شي.
- د بيا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ خلاصه په مشخصه توګه په دې منظور برابره، په کورنيو ژبو ژباړل کېږي او د بروشرونو په ډول به د ټولو اغېزمنو کسانو په اختيار کې ورکړل شي چې اغېزمن کسان او سيمه ييزې ټولنې په دې توانا کړي چې دوی خپله يې ولولي او د هغو ګټو او جبرانونو په اړه چې د بېلابېلو اغېزمنو کسانو له پاره به برابر شي، څنګه چې د حقوقو په جدول کې څرګند شوې ده، پوهاوی ترلاسه کړي. د لوړو زده کړو سيمه ييز سلاکار او کارکوونکي، بروشرونه د اجتماعي غونډو له لارې وېشي، ميکانيزمونه، د مشورتي پروګرام کړنلارې او د اغېزمنو کسانو د چلند ډول د بيا استوګن کېدو په فعاليتونو او ټوله پروسه کې تشريح کړي.
- د چک د بيا ورکړې جدول- يا هم له پروژې څخه د اغېزمنو کسانو بانکي حسابونو ته د E پيسه له لارې د جبران د بنه لېږد، د نېټې، زمان او او د جبران چکونو د با ورکړې د محل په توضيح سره، چې هر اغېزمن کس ته يې د په ترسره کولو وړ ژبه برابر او ټولو اغېزمنو کسانو ته به تشريح کړل شي. دغه موضوع به د کلي په غونډو کې هم وړاندې شي.
- د لاندې معلوماتو لرونکی يو بنډل به هر اغېزمن کس ته تيار کړل شي:
  - د اغېزمن کس د ضررونو موجودي
  - د چک د بيا ورکړې جدول د تاريخ، زمان او د چک د ترلاسه کولو د ځای په يادولو د ځمکو تخليه او ودانيو ړنګول
  - په کورنيو ژبو بروشر يا جزوه
  - د اغېزمن کس په اړه ټول اړوند معلومات

## 6.6 معلومات

د کلي د غونډو او د اغېزمنو کسانو تر منځ د غیر رسمي خبرو، سلاکارانو او د اجراآتو او څارنې دملاتړې ډلې د کارکوونکو له خوا د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ کلیدي ځانګړتیاوې.

- د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې، د لوړو زده کړو سیمه ییز کارکوونکو، اغیزمنو کسانو، ولایتي او د ولسوالی کارکوونکو او د اړوندې اداري او ولسوالی نورو سیمه ییزو کارکوونکو ته په سیمه ییزو او انګلیسي ژبه د تګلارو برابرول.
- د کلي په غونډو کې د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ په اړه د معلوماتو وړاندې کول.
- د عامه معلوماتو له پاره به په ټولو ادارو کې د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ د لاسرسي وړ وي.
- د لوړو زده کړو په وېبپاڼه کې د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ خپرول.
- د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ په اړه د بېلابېلو رسنیو له خوا تبلیغات کېږي.
- د ټولو اغېزمنو کسانو له پاره د معلوماتي بنډل برابرول.

د حفاظت د برخې سیمه ییزو کارکوونکو یو ځل بیا د څارنې او اجراآتو د ملاتړې ډلې له کارکوونکو، د سیمه ییز حکومت له ځانګو او نورو دولتي ادارو څخه د معلوماتو د وړاندې کولو د یوې برخې په توګه، د بیا استوګن کېدو د چوکاټ په منځپانګه او میکانیزمونو د پوهولو له پاره ترسره شي. وروسته له دې چې د لوړو زده کړو وزارت، مالیې وزارت او نړیوال بانګ له خوا د بیا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ منظور شي، دوی به مسولیت ولري چې کلیو او اغېزمنو ټولنو ته وګرځي او د معلوماتو د وړاندې کولو فعالیتونه د کلي د غونډو او له اغېزمنو کسانو سره غونډې د دې پلان د واقعي تطبیق څخه مخکې آشنا شي.

## 7. مقدماتي اقدامات او د تطبیق زماني جدول

### 7.1 مقدماتي اقدامات

د لوړو زده کړو وزارت، د پروژې د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې د تطبیق برخه، وروسته له دې چې د نړیوال بانګ له خوا منظوره شي پیلېږي چې د بیا استوګن کېدو او د ځمکې د استملاک د پلان د تطبیق په اړه به د مقدماتي مشخصې دندې په توګه ځینې اقدامات تر لاس لاندې ونیول شي:

- د لوړو زده کړو د وزارت د څارنې او اجراآتو د ملاتړې ډلې له خوا د بیا استوګن کېدو او ځمکې د استملاک د پلان لومړنی تایید او نړیوال بانګ ته یې لېږل.
- د ځمکې، ونو او حاصلاتو د جبران په اړه بودیجه باید مخکې د مالیې وزارت سره همغږې شي.
- د چکونو د بیا ورکړې له پاره بیا ورکونې د کړنلارو، شرایطو او معیارونو رامنځ ته کول.
- د تطبیق د مشاور ټاکل چې د بیا استوګن کېدو او ځمکې د استملاک د پلان د تطبیق په برخه کې له لوړو زده کړو وزارت سره همکاري وکړي.
- د څارنې د داخلي کړنلارو او شاخصونو رامنځ ته کول

د لوړو زده کړو وزارت همداراز ژمن دی چې اغېزمنو کسانو ته مخکې خبر ورکړي او د ساختماني کار له پیل مخکې له شرایطو سره سم چې د بیا استوګن کېدو د تګلارې په دې چوکاټ کې تعریف شوي دي دعاید داحیاء او د ځای په ځای کېدلو په برخه کې لازم جبران ورکړي. د هغو کسانو چې ودانۍ او دارایی یې (کورونه، دکانونه او نور) اغېزمنې شوې دي، لږ تر لږه باید د ودانیو تر تخریب دری میاشتې (نوي ورځې) مخکې جبران ترلاسه کړي. دغه وخت دوی ته اجازه ورکوي چې د ساختمانونو د جوړولو، لاس وهنې او ټول بېکاره مواد لرې کړي.

د ودانیو به استثنا د دارایيو د جبران ورکول (ځمکه، حاصلات او ونې) لږ تر لږه د ځای له واقعي مالکیت نوي ورځې مخکې به د اغېزمنو کسانو د استفادې وړ شي. سره له دې چې د جبران په اړه د شخړې د رامنځ ته کېدو په وخت کې، تر ۷۰ سلنه پرتله شوې پیسې، د جبران ترلاسه شوی تخصیص به اغېزمنو کسانو ته ورکړل شي او پاتې پیسې به په یوه بېل حساب کې د اړوندو اغېزمنو کسانو په نوم د شخړې د اوارېدو تر وخته وساتل شي. د حقیقي مالکیت په سر د راولاړې شوې شخړې په صورت کې به د حقیقي مالکیت په اړه د شخړې تر اواري پورې پیسې په یوه بېل حساب کې

واچول شي. په داسي استثنايي چارو کي د لوړو زده کړو وزارت کولای شي ځمکه په بشپړه توګه پرته د جبران له ورکړې په خپل مالکیت کي راولي. عریضو یا شکایاتو ته (که موجود وي) د شکایتونو ته د رسیدو له کړنلارې سره سم چي د بیا استوګن کېدو د تګلارې په چوکاټ صراحت لري، ترسره شي. سره له دې چي د بیا استوګن کېدو او د ځمکي د استملاک اړوند ټول فعالیتونه د لېږد د کرښې په اړه د مدني کارونو له پیل کېدو مخکي، د فرعي برجونو او ستېشنونو جوړولو سره به د لندمهاله بې ځایه کېدو او بیا استوګن کېدو په اغېزو بشپړ شي. د غیرحاضرو مالکانو په اړه (لکه د جګړې له پایلو بې ځایه شوي کسان) د جبران پیسي په یوه بېل حساب کې ایښودل شوې چي د هویت له تثبیت او ادعا وروسته به، له پروژې اغېزمن شوي کس ته چي اصلي مستحق یې دی صادرې شي. دولت به ټول مناسب اقدامات (د لیکل شوو او برېښنایي رسنیو له لارې، شفاهي خبرې اترې او ډله بیزو اړیکو) د غایبو مالکانو د تشخیص له پاره تر لاس لاندې ونیسي او د دې هڅو اسناد به برابر کړي.

## 7.2 د بیا استوګن کېدو او ځمکي د استملاک د پلان د تطبیق پروسه

لاندې پاراګرافونه اغېزمنو کسانو ته د بیا ورکړې ډول دی او د مالي سرچینو د برابرولو اړتیاوې وروستیو ګټه اخیستونکو اړخونو ته تشریح کوي. دغه ګامونه د مالي سرچینو، امنیتي وضعیت او د سفر د وخت د فرضي د موجودیت په رڼا کي به تنظیم شي. په ولایتونو او ولسوالیو کي چي فرعي پروژې په کي تطبیق کېږي، احتمالي وضعیت په نظر کي نه نیول کېږي.

د ټولو شرایط وړ اغېزمنو کسانو له پاره د جبران د ورکولو ګامونه په لاندې توګه دي:

i. د بیا استوګن کېدو او ځمکي د استملاک د هر پلان په اړه د بودیجي له مخي د مالي سرچینو ترلاسه کول. د اجراآتو او څارني ملاتړې ډله د خپل سیال له پاره لازمي پیسي برابروي چي د ځمکي د استملاک یوه برخه د مالیي وزارت له لارې تمویل شي.

ii. د شرایط وړ اغېزمنو کسانو د لیست تصدیق: د اجراآتو او څارني ملاتړې ډله به د تطبیق د سلاکار له خوا د بیا استوګن کېدو او ځمکي د استملاک په پلان کي د درج شوو اغېزمنو کسانو لیست تصدیق کړي څو ډاډ ترلاسه شي چي ټول د شرایطو وړ اغېزمن کسان به جبران په سمه توګه ترلاسه کړي او هغه اغېزمن کسان چي په شرایطو پوره نه دي مستثنی شمېرل کېږي. د شرایطو وړ او د هویت د تضمین د ډاډ د ترلاسه کولو له پاره به کلي له مشرانو او اجتماعي شوراګانو سره د یاد لیست د مسایلو د حل له پاره مشوره وشي.

iii. د جبران د مفصل بنډل اطلاعیه: د څارني او اجراآتو ملاتړې ډله د تطبیق د مشاور له لارې، د اغېزمنو دارایيو په تړپېر سره یو مفصل بنډل، د هرې اغېزمني دارایي د بیې واحد او د جبران مجموعه برابروي او د هر اغېزمن کس په اختیار کې یې ورکوي.

iv. د وروستي استملاک/هوکړه: اغېزمن کسان چي د جبران د بنډل د درج شوو پیسو او د هغې د محاسبې په ډول موافق نه وي، د یوې جلسي له لارې چي د تطبیق د سلاکار له خوا به برابره شي،د دې مسایلود حل له پاره هڅوی ته وروستی فرصت ورکول کېږي. په داسي حال کي چي د اجراآتو او څارني ملاتړې ډله او اغېزمنه ډله تر اوسه هم موافق نه وي، د اجراآتو او څارني ملاتړې ډله به د استملاک موضوع صلاحیت لرونکي محکمي ته راجع کوي او له محکمي به غوښتنه کوي چي لوړو زده کړو وزارت ته د اغېزمني دارایي د مالکیت اخیستو اجازه ورکړي. د اجراآتو او څارني ملاتړې ډلي د شخړې وړ ۷۰ سلنه پیسي اغېزمن کس ته ورکوي او پاتې پیسي به په بانک کي په یوه بېل حساب کي وي.

v. د غیرحاضرو مالکانو پیداکول: د اجراآتو او څارني ملاتړې ډله به د تطبیق د مشاور او کلي د مشاورانو له لارې هڅه وکړي چي د اغېزمنو دارایيو غیرحاضر مالکان به پیداکړي. داسي څه هم شته چي مالکان یې په نورو سیمو کي ژوند کوي، د هڅوی د پیداکولو له پاره باید له هېڅ ډول هڅي ډډه ونه شي.

iv. خلکو ته اطلاعیه ورکول: له رسنیو او موجودو بل بورډونو په واسطه به د پروژې له امله خلکو ته د ځمکي د اغېزمن کېدلو معلومات ورکړي.دا به د اغېزمنو ځمکو د دعوه کوونکو له پاره یو کافي وخت وي چي د اغېزمنو ځمکو په اړه مخالفت یا دعوه وړاندې کړي.

vii. د بلونو برابرول: د هر شرایط لرونکي اغېزمن کس له پاره به د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې او تطبیق د سلاکار له خوا بلونه برابر شي. دغه سند هر اغېزمن کس ته حق ورکوي چې په بل کې درج شوې پیسې ترلاسه کړي.

viii. سیمه ییز بانک د پیسو لېږد: له لوړو زده کړو او مالیې وزارتونو څخه به فرعي پروژې ته په نژدې ښار کې یوه سیمه ییز بانک ته دعامه مالي سیستم له کارولو سره پیسې ولېږدول شي. د افغانستان په عامه مالي سیستم کې پیسې د مالیې وزارت د خزانې د ریاست په واسطه لېږدول کېږي، چېرته چې دمالیې وزارت کېدای شي د جبران پیسې هر بانک چې زړه یې وغواړي ولېږدوي. بانکي حساب به د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له خوا برابر شي چې ډاډ ترلاسه شي چې اغېزمن کسان پیسې په خپل وخت سره اخلي.

ix. ورکړه: اغېزمن شوي کسان له مالیې وزارت څخه په هېواد کې د پیسو د انتقال د سیستم په کاروني سره لکه بانکي حساب یا هم د نقدو پیسو چکونه، د جبران د پیسو یو مجموعي چک تر لاسه کوي. اغېزمن کس به د ټول جبران او د سقاط حق د ترلاسه کولو د تایید یو سند (دا چې هغه نور د خپلې اغېزمنې دارایي په اړه کومه ادعا نه لري. ) لاسلیک کړي. د چک د ترلاسه کولو په وخت کې به د پروژې د اسنادو له پاره د اغېزمن کس یو عکس واخلیسل شي.

x. اغېزمن کس به بانک ته د خپلې تذکرې په ښودول سره چک په نقدو پیسو بدل کړي، که چېرې د بانک کارت ونه لري. هغه کسان چې تذکرې نه لري باید اړوندې مرجع ته د تذکره نه لرلو دلایل وړاندې کړي.

اغېزمن کسان به وهڅول شي چې یو بانکي حساب چې په هر بانک کې ي خوښه وي خلاص کړي او کلیو ته یې یوازې لازمي پیسې ولېږدول شي چې په غیرقانوني توګه د پیسو د ورکیدو مخه ونیول شي. د سپما د یوه حساب ګټې د هغو معلوماتو برخه ده چې د تطبیق د مشاور له خوا برابرېږي.

## 8. شکایتونو ته رسېدنه

د ځمکي د استملاک له قانون سره سم، کله چې شخصي ځمکې د عامه ګټو په منظور استملاک کېږي، مالک ته جبران د کټګوری او اغېزمنې ځمکې د ځای په اساس ورکول کېږي او د جبران له پاره د ځمکې ارزښت د وزیرانو له خوا ټاکل کېږي. تصمیم د ځمکې د استملاک دکمېټې په بنسټ چې له لاندې کسانو جوړ شوی نیول کېږي:

- اغېزمن کس چې خپله استفاده کړي او یا یې استازی
- د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې په ګډون د لوړو زده کړو استازي
- د مالیې وزارت استازی،
- دعدلیې وزارت استازی، او
- د سیمه ییز ښاروالی استازی

د ځمکې د استملاک پروسه د ځمکې د استملاک د کمېټې په رامنځ ته کولو سره پیلېږي. هلته چې ځمکه او نورې دارایۍ د عامه ګټو په منظورۍ استملاک کېږي، قانون د دولت له خوا د یو کس د دارایي د استملاک کېدو په اړه د مخالفت اجازه نه ورکوي. معمولاً د دې استملاکونو په وړاندې ناخوښۍ شته دي چې ډېری یې د جبران د ارزښت په اړه دي. د ځمکې د استملاک کمېټه په یوې موضوع فکر کړي او د ارزښت ټاکل یې تر ارزوني لاندې نیسي او هڅه کوي په یوه داسې حل لاره فکر وکړي چې د ټولو په ګټه وي. ټوله پروسه د یوې مباحثاتي طریقې په بنسټ وه او دا چې د اغېزمن کس استازی د ځمکې د استملاک د همدې قانوني کمېټې غړی دی نو د له لاسه تللې دارایي او د ځای ناستي ارزښت په اړه عمومي هوکړه کېږي. له همدې امله د ځمکو د استملاک کمېټه شکایتونو ته د رسېدو د کمېټې دندې هم ترسره کوي.

که چېرې د خبرواترو د دې طریقې له تعقیب وروسته، ستونزه ناحله پاتې شي، اغېزمن کس کولای شي موضوع د حل له پاره شکایتونو ته د رسېدو کمېټې ته مراجعه وکړي. د یادولو وړ ده چې دا کمېټه د ځمکې د ستونزو د حل قانوني واک نه لري خو د یوې مشورتي یا آسانتیا برابروونکې مرجع په توګه د اغېزمنو کورنیو او د لوړو زده کړو د وزارت د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې تر منځ چې د ارزښت ټاکل د ځمکې د استملاک د کمېټې په اساس تطبیقوي او عمل کوي. شکایتونو ته د رسېدو کمېټه به له لاندې کسانو جوړه شوې وي:

- اغېزمن کس یا یې استازی،
- د سیمه ییز اداري استازی (د والي له دفتر څخه)،
- د لوړو زده کړو وزارت استازي- د چاپېریال ساتنې او اجتماعي حفاظت د اطاعت منلو څانګه،
- د سیمه ییزې حقوقي اداري استازی،
- د تطبیق کوونکي غیرحکومتي موسسي استازی

شکایاتو ته د رسېدو کمېټه ناحل شوی موضوع ثبت او د اواري له پاره يې جلسه جوړوي. دغه کمېټه به د ۷ او ۱۰ کاري ورځو په جریان کې یو وړاندیز وړاندې کوي. د تصمیم نیونې په وخت د هر غړي د غیرحاضرۍ په صورت کې به د اصلي استازو له خوا یو وړ کاندید معرفي شي. که چېرې په ۱۰ کاري ورځو کې د کمېټې له وروستۍ جلسې وروسته هم شکایتونو ته د رسېدو تصمیم ونه نیول شي، اغېزمن کس کولای شي موضوغ راتلونکي مرجع ته راجع کړي. اغېزمن کس حق لري چې د قانوني سیستم له لارې د حل لارو د پیداکولو له پاره له وروستۍ لارې استفاده وکړي. خو باید هڅه وشي چې د دې لارې مخنیوی وشي ځکه چې دا کار د اغېزمن کس د وخت او پیسو د ضایع کېدو لامل کېږي.

دا چې د اغېزمنو داراییو په وړاندې د منصفانه جبران مفکوره، د عامه ګټو او یا هم د افغانستان له پاره د مهمو سوداګریزو او یا زېربنایي فعالیتونو په منظور یوه نوې موضوع ده، محیطي او اجتماعي متخصصین او تطبیق کوونکي مشاور د دې مفکورې د ترویج په برخه کې د اغېزمنو کسانو تر منځ، د هغې د کړنلارو او شکایتونو وړاندې کول به د اړتیاوو په برخه کې بشپړه مرسته وکړي. شکایتونو ته د رسېدو پروسه د تصمیم نیونې او د چارو د مخته وړلو د آسانۍ د پروسې د چټکوالي په منظور ساده شوې ده. شکایتونو ته د رسېدو د کمېټې د اداري یو استازی او اغېزمن کس دی. هیله دا ده چې شکایتونو ته په موجود چوکاټ او د رسېدو په ځای کې رسېدنه وشي.

## 9. څارنه او ارزونه

### 9.1 عمومیات

د پروژې په فعالیتونو کې به د بهرنۍ او ننني څارنې فعالیتونه وي. ننني څارنه به د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له خوا د مشاور څارونکي په واسطه ترسره شي. بهرنۍ څارنه کېدای شي د دریېمې ډلې د څارنې یو استازی، د نړیوال بانګ له رهبرۍ او لوړو زده کړو وزارت سره په مشوره د اړتیا په وخت کې په کار وګمارل شي. همداراز هیله کېږي چې د مالیې وزارت کېدای شي د پروژې د تطبیق د پرمختګ په اړه د پروژې یوه خپلواکه څارنه مخته یوسي. خو دا کار کېدای شي ابتدایي، غیر عمومي او هر وخت پېښ نه شي.

### 9.2 داخلي څارنه

د لوړو زده کړو وزارت د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې په چوکاټ کې به د څارنې او ارزونې ډله، داخلي څارنه په ورځنۍ توګه ترسره کړي. د څارنې او ارزونې ډله به د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې په چوکاټ کې، لاسته راوړنې او پایلې نړیوال بانګ او لوړو زده کړو وزارت سره له پروژې څخه د منظمو راپورونو په واسطه شریکې کړي. د ننني (داخلي) څارنې شاخصونه به تر پروسې پورې اړوند او سملاسي پایله وي.دغه معلومات په مستقیمه توګه له سیمې څخه د کتنې په پایله کې راټول شوي او په میاشت کې یو ځل به د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډلې ته د پرمختګ د ارزولو له او د بیا استوګن کېدو او ځمکې د استملاک د پلان د تطبیق د پایلو او د کاري پروګرام د تنظیم له پاره راپور ورکول کېږي. د څارنې راپورونه همداراز مرسته کوي چې اندېښنو ته رسېدنه وشي او هغه د اندېښنو مسایل باید له اړتیا سره سم په کاري پلانونو کې تنظیم کړل شي. د میاشتنۍ څارنې راپورونه د څارنې په معیاري راپورونو کې تنظیم کېږي او وروسته نړیوال بانګ او لوړو زده کړو وزارت ته لېږل کېږي. سره له دې چې تر موضوع پورې تړلې خبره ده، د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله صلاحیت لري چې د پروژې له سیمې څخه د نظارتي کتنو شمېره ډېره او لږه کړي. د څارنې مشخص معیارونه په لاندې توګه دي.

- له اغېزمنو کسانو سره مشوره او د معلوماتو د وړاندې کولو کمپاین،
- د ځمکې د استملاک وضعیت او د ځمکې د جبران له امله ورکړه،
- د اغېزمنو ودانیو او نورو داراییوله پاره جبران،
- د اغېزمنو کسانو لندمهاله بې ځایه کېدل،

- د عاید د له لاسه ورکولو په وړاندې د بدل ورکول،
- د عاید د احیاء له پاره فعالیتونه،
- د شکایتونو ترلاسه کول او هغې ته د رسېدو وضعیت

## 9.3 بهرنۍ څارنه

د پوهنتون د پروژې تطبیق کېدای شي له یوه کال ډېر وخت ونیسي. نو لازمه به وي چې یو یا دوه ځله یې څارنه د یوه بهرنۍ درېیمې مرجع له خوا، نظر پراختیا او وخت ته چې یوه پروژه د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې او نړیوال بانک ته د راپور د پایلو د ورکولو له پاره د اطاعت منلو د شپږ میاشتنې راپور له لارې ترسره شي. (د بهرنۍ درېیمې مرجع کاري لایحه به د بیا استوګن کېدو او د ځمکې د استملاک د پلان یوه برخه وي.) سره له دې چې د پروژې د تطبیق په اړه رضایت شته، بیا هم د لوړو زده کړو وزارت له نړیوال بانک سره په مشوره کېدای شي د بیااستوګن کېدو او ځمکې د استملاک د پلان له تطبیق څخه د خپلواک نظارت د مخته وړلو له پاره د څارنې (نظارت) یوه خپلواکه اداره جوړه کړي. د یادې ادارې د کار محدوده په کاري لایحو کې چې د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له خوا برابرېږي او د لوړو زده کړو د وزارت او نړیوال بانک له خوا منظورېږي، په څرګنده توګه تشریح کېږي. څارونکی استازی به د مفصل اطاعت منلو یو راپور چې په ساحه کې د بیا استوګن کېدو او ځمکې داستملاک د پلان د تطبیق د لاسته راوړنو تایید به کوي، د لوړو زده کړو وزارت او نړیوال بانک ادارې ته به تسلیم شي. د بیا استوګن کېدو او ځمکې د استملاک د پلان د تطبیق له اطاعت منلو څخه د راپور ورکولو ډېروالی به په کاري لاریحه کې په مفصله توګه تشریح کړل شي.

همدارا‌ز به د اطاعت منلو او سپارښتنو د راپور یوه کاپي د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډلې ته د تعقیب له پاره تسلیم کړل شي.

## 9.4 د مدیریت د معلوماتو سیستمونه

د بیا استوګن کېدو د مسایلو اړوند ټول معلومات چې د ځمکې تر استملاک، د استملاک شوې ځمکې او اغېزمنو ودانیو په اړه اجتماعي او اقتصادي معلومات، د اغېزمنو اشخاصو په واسطه د ضررونو موجودي، جبران او استحقاق، ورکړه او د ځای تر بدلون پورې اړه لري. د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې له خوا له داخلي چاراوکو سره په همغږۍ او که چېرې د تطبیق ارګان وي، راټولېږي. د اطلاعاتو دغه بانک د بیا استوګن کېدو د پلان کارۍ د تطبیق د معلوماتو بنسټ، څارنه او د راپور ورکولو مقاصد تشکیلوي او د بیا استوګن کېدو اغېزمن مدیریت ته آسانتیا ورکوي.

## 9.5 د راپور ورکولو شرایط

د تطبیق اداره د بیا استوګن کېدو او ځمکې د استملاک د پلان د تطبیق او څارنې مسوله ده او د بیااستوګن کېدو د میاشتنې پرمختګ د فعالیت راپورونه برابروي او د ارزونې له پاره یې د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډلې ته وړاندې کوي. د تطبیق اداره همدارا‌ز د بیا استوګن کېدو د کاري پلان له تطبیق څارنه کوي او د لوړو زده کړو وزارت د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډلې، نظارت او نړیوال بانک ته ربع وار راپورونه وړاندې کوي. د یوه بهرنۍ څارونکې ادارې د شته والي په صورت کې، څارونکی ارګان د شپږمیاشتنۍ ارزونې راپور په مستقیمه توګه نړیوال بانک او د لوړو زده کړو د وزارت رهبرۍ ډلې ته وړاندې کوي او مشخص کوي چې د بیا استوګن کېدو اهداف ترلاسه شوي دي کنه او د کار د ښه والي له پاره مناسب وړاندیزونه کوي.

**9.1 جدول، د بیا استوګن کېدو له تګلارې سره سم د اقداماتو جدول**

**د بیا استوګن کېدو د تګلارې په چوکاټ کې اقدامات، تدابیر، حق او د جبران کتګورۍ**

| اقدامات | ته | تطبیق | | پروژې |
|---|---|---|---|---|
| **څه وخت** | **څه** | **څه وخت** | **ولې (هدف)** | **کتنې** |
| د لوړو زده کړو وزارت | له ټولو هغو وزارتونو سره د اړیکو ټینګول چې پروژې د تطبیق په کار کې دخیل دي. | که فرض کړل شي چې دغه هوکړې مخکې د پخوانیو پروژو یا هم اوسنیو چې د لوړو زده کړو وزارت په کې لاس لري هم شته دي، ډېر ژر هغه استفاده کوی چې د نورو راتلونکو نوو پروژو په اړه معلومات د وزارتونو په اختیار کې ورکړل شي. | د تطبیق د بهیر آسانتیا او له کومې ستونزې پرته د پروژې اجراآت | د پروژې په جوړېدو کې لومړۍ حیاتي پروسه |
| د لوړو زده کړو وزارت | د ژوندانه د چاپېریال د اطاعت منلو برخه جوړول او د پلان او پالیسی په چوکاټ کې اجتماعي حفاظت | د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ له منظورۍ وروسته د نړیوال بانک په واسطه | د بیااستوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ له پاره د وزارت داخلي هوکړې | د بیا استوګن کېدو د چوکاټ له منظورۍ مخکې مقدماتي کار ترسره شي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د اجتماعي حفاظت او ژوندانه د چاپېریال د اطاعت منلو د برخې له پاره د ساتنې د دوو داخلي متخصصینو استخدام | ښه به دا وې چې دغه کارکوونکي د پروژې له پیل مخکې وټاکل شي. | د بیااستوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ له پاره د وزارت داخلي هوکړې | د ژر زده کړې ټاکنه به دې کارکوونکو ته آسانتیا ورکړي. د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د اطاعت منلو د برخې له خوا د زده کړې تنظیمول. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د لوړو زده کړو وزارت | احتمالي اغیږمنو کسانو ته د وېشلو له پاره د بیا استوګن کېدو د چوکاټ په اړه د موادو برابرول | هر څومره ژر چې شوني وي. | د هرې پروژې په اړه د امکان تر کچې پخواني اعلانونه او د بیا استوګن کېدو د احتمالي اغیږمنو کسان بدلون. | لازمه نه ده چې د عملیاتي تګلارې د چوکاټ د منظورۍ له پاره نړیوال بانک ته منتظر پاتې شو. دا کار باید ډېر ژر پیل شي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د داخلي اجتماعي حفاظتي متخصصینو له پاره د وظایفو د لایحې برابرول | هر څومره ژر چې شوني وي. اعلانونه کولای شي د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ له منظورۍ مخکې ترسره شي خو ټاکنه به د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ تر منظورۍ پورې متکي وي. | د بیا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ له منظورۍ وروسته، د چټک استخدام له پروسو ډاډه کېدل | اړتیا ده چې په دې اړه د پام وړمشوره ترسره شي، نو دا کار باید ژر وشي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د غیرحکومتي موسسې ټاکل/ داسې مشاور چې د بیا استوګن کېدو پروسې مخته یوسي. | د کاري لایحې، د غیر حکومتي موسسې له پاره لومړني شرایط/ هغه مشاور چې د غوښتنې د شرایطو وړ وي او د غوښتونکو ارزونه د ټاکلو له پاره ابتدایي کار کولای شي د ۲۰۱۵ ز کال د جون په میاشت کې پیل شي. ټاکنه به د بیااستوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ تر منظورۍ پورې ترسره نه شي. | د بیا استوګن کېدو په ټولو چارو کې به غیرحکومتي تطبیق کوونکې موسسه مهم رول ولوبوي. | کله چې بیا استوګنه ترسره نه شي یا هم ډېره لږ وشي، د اجتماعي مدیریت او ژوندانه د چاپېریال د چوکاټ د اطاعت منلو د برخې حفاظتي مدیر کولای شي تطبیق کوونکې وي. خو هر څه ترې لوړ دي او په تطبیق کې یې غیرحکومتي موسسه شامله ه. |
| د لوړو زده کړو وزارت | که احتمالي بیااستوګن کېدل د پوهنتون په یوه ساحه کې برابر شي، د بیا استوګن کېدو د کاري پلان برابرول، د بیا استوګن کېدو د تګلارې تر چوکاټ لاندې پیل کړئ. | دغه اقدام باید پیل شي چې د ساحو د رامنځ ته کولو په پلانونو کې د اقدام له پاره شامل کړل شي. | ډاډه شو چې د تطبیق په پیل کې هېڅ ځنډ نه دی راغلی. | د بیا استوګن کېدو دپلان کاریو د برابرولو پروسې چې د بیا استوګن کېدو په راتلونکو تګلارو کې تشریح شوې دي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د فرعي پروژې په ساحه کې د احتمالي اغیږمن شوو کسانو او اوسېدونکو سرشمېرنه | د پروژې له مشخص کېدو څخه وروسته ډېر ژر | د بیا استوګن کېدو په پروسه کې لومړی ضروري ګام | د بیا استوګن کېدو د تګلارې په چوکاټ کې د دې د توضیح ارزښت |
| د لوړو زده کړو وزارت | له اغیږمنو کسانو سره مشوره او د | د اغیږمنو کسانو د سرشمېرنې | د بیا استوګن کېدو په پلان جوړونه | مشوره باید واقعي وي. هر څومره |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | تبلیغاتو د پروسې پیل | تر څنګ | کې لومړی ضروري ګام او د بیا استوګن کېدو له پاره د کاري پلان رامنځ ته کول. | معلومات چې ممکن وي باید د زیانمنو کسانو لپاره چمتو شي |
| د لوړو زده کړو وزارت | په پورته اجراآتو کې د اړوندو وزارتونو، ساحوي دفترونو او سیمه ییزو حکومتونو سره د اړیکو ټینګول او مشوره کړل. | له اغېزمنو کسانو د مشورې تر څنګ | لازمه ده داډه شو چې وزارتونه او سیمه ییز حکومتونه له هغه څه څخه چې واقع کېږي په جریان کې وي. | دې ارګانونو ته لازمه ده چې د کلیو د جلسوپه جوړولو او له اغېزمنو کسانو د مشورې په برخه کې مرسته وکړي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د پروسې ژمن کېدل او دعوه کوونکو کسانو ته بلنه ورکول چې د جبران، ارزونې، بحث او د اغېزمنو کسانو دعوو ته رسېدنه. | د مشورې او د بیاستوګنې د کاري پلان برابرولو د پروسې یوه برخه او دغه پلان باید د جبران د دقیقو جزیاتو لرونکی او بیا استوګن کېدو د بدل ورکړه وي. | د بیا استوګن کېدو د پروسې جبران، د بیا استوګن کېدو د کاري پلان او تطبیق کېدو محوري موضوع ده | د اجتماعي حفاظت او ژوندانه د چاپېریال د اطاعت منلو برخه، دلته به غیرحکومتي موسسه دخیله وي. |
| شکایتونو ته د رسېدو کمېټه | شکایتونو ته د رسېدو کمېټه، ممکنه شکایتونو ته د رسېدو په برخه او دهڅو په کار کې، اغېزمنو کسانو او د جبران په اړه به یې دخیل وي چې هغوی ته یې وړاندیز کېږي | شکایتونو ته د رسېدو کمېټه باید د پرتلې د پروسې له پیل او د جبران له ټاکلو څخه، اغېزمنو کسانو ته چې شمولیت ته تیار دي د ورکړې وي. | د جبران له پاره د دعوو د ارزولو په پروسه کې همکاري | شکایتونو د اورېدو کمیټه باید چټک کار او اطاعت منلو ته تیاره وي چې داډ ترلاسه شي. پروژه به په ډېرو اورېدو او طوفاني شخړو کې له سکتګی سره مخ نه شي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د بیا استوګن کېدو کاري پلان ته پای ورکول | د بیا استوګن کېدو د کاري پلان برابرول یوه پرلپسې پروسه وه چې د نفوس شمېرنې اړوند په مشورې سره پیلېږي. | د عملي اقدام له پاره یو لازم ګام | د بیا استوګن کېدو کاري پلان باید نړیوال بانک په واسطه منظور شي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د هر اغېزمن کس له پاره د معلوماتي بنډل برابرول. | د وېشلو له پاره معلوماتي بنډل د بیا استوګن کېو د کاري پلان له منظور کېدو وروسته. | نوموړې بسته ټول هغه معلومات چې یو اغېزمن کس یې د پوهېدو اړتیا لري وړاندې کوي. د بیا استوګن کېدو په اړه څه واقع کېږي؟ څومره جبران به ورکړل شي؟ جبران به په څه ډول ورکړل شي؟ د شکایتونو له پاره فرصتونه او د شکایتونو ارزونه. | دغه د بیا استوګن کېدل د کاري پلان یوه ډېره مهمه برخه ده. د هغه څه جزیات چې باید په معلوماتي بسته کې شته وي د بیا استوګن کېدو په چوکاټ شامل دي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د بیاستوګن کېدو د جبران د پروسو تطبیق | د بیا استوګنکېدو د کاري پلان له منظورۍ وروسته، باید هرڅه پراختیا ته تیار وي. | وروسته له دې چې جبران اغېزمنو کسانو ته ورکړل شو او رسېدنه ورته وشوه، زېربنایي | *په جدي توګه باید دغه موضوع په یاد ولرو چې د اغېزمنو کسانو ټولې دعوې (تر یوې محدودې* |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د بيا استوګن کيدو کاري پلان | | فعاليتونه به پيل شي. | *ستثنا پوري تړلي دي، يوازي د جبران د يوي برخي د ورکړي په وګه، ځنګه چي شخړه يي د بياستوګن کيدو د تګلاري په چوکاټ کي تشريح شوي، محکمي ه راجع کړل شي) بايد مخکي تر ي چي په احتمالي توګه ځمکي ته راشو، له کومي چي اغيزمن کسان نتقال شوي دي رسيدګي وشي او کيداى شي هلته زيربنايي کارونه پيل شي.* |
| غير حکومتي موسسه / تطبيق کوونکی سلاکار | 1. د ژوندانه د چاپيريال او اجتماعي حفاظت د اطاعت منلو له برخي سره نژدي همکاري، د جبران او بيا استوګن کيدو د ټولو اړخونو په اړه پوهاوی<br><br>2. له اغيزمنو کسانو سره نيږدې همکاري په بحث کي مرسته ورسره وشي څو په دعوو خبري وکړي او د اړتيا په صورت کي به دعوي د شکايتونو د رسيدني کميټي ته د جبران له پاره راجع شي.<br><br>3. د لوړو زده کړو وزارت او ښاروالۍ ته د منظمو راپورونو وړاندي کول. | د بيا استوګن کيدو د ټولو کاري پلانونو په ترسره کولو کي | د يوه خپلواک ارګان موجوديت چي اصلي دنده يي د اغيزمنو کسانو په استازيتوب عمل کول دي او د جبران له پاره د دوى د دعوو په برخه کي د دوى ملاتړ دى او د يوه تضمين په څير چي د ذاتي عدالت (اداري) په اصولو سره چي مطابقه کړنلاره ولري رامنځ ته شوى دى. | دغه د بياستوګن کيدو د تګلاري په چوکاټ کي يو کليدي عنصر دى. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شکايتونو ته د رسېدو کمېټه | د جبران په اړه د اغېزمنو کسانو شکايتونو ته رسېدنه | د جبران د ټاکلو د پروسې په جريان کې. منظمې ليدنې، په لسو کاري ورځو کې د شخړو د اوارې له پاره | د غيرحکومتي تطبيق کوونکي موسسې په څېر، شکايتونو ته د رسېدو کمېټه د اغېزمنو کسانو له پاره لوی تضمين و او دا ډاډ راکوي چې پروسه له ماهيتي (دويمه نظريه او د جبران په اړه خپلواکي) او کړنلاره يي (اغېزمن کس کولای شي د يوې قضيې په پرانيستلو سره کولای شي خپله دعوه روانه کړي) د انصاف خبره ده. | د بيا استوګن کېدو د تګلارې د چوکاټ په اړه يو بل کليدي عنصر، مهمه ده چې د شکايتونو د اورېدو د کمېټې غړي ځان خپلواک بولي او هماغه ډول عمل کوي. د دوی کار دا دی چې د دولت پيسې وساتي. |
| د لوړو زده کړو وزارت | د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې په واسطه داخلي څارنه | د بيا استوګن کېدو د کاري پلان د تطبيق د پروسې په جريان کې، نړيوال بانګ ته د منظمو راپورونو په ورکولو سره. | د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډله د پروژو د مديريت مسوله ده. دغه برخه د غيرحکومتي موسسو په چارو کې عمده رول نه لري. نو بهتره ده چې کوم څه چې پېښېږي څارنه او راپور يې ورکړل شي او دغه کار دې د ساحوي کارکوونکو له خوا د لوړو زده کړو په وزارت کې وشي. | د بيا استوګن کېدو د تګلارې چوکاټ يوه لازمه برخه وه ځکه چې د پروژې د ډاډ يو عنصر نړيوال بانګ ته د الف پروژې د تطبيق په اړه ورکوي. |
| د خپلواکې څارنې له پاره د بهرنۍ څارونکې ادارې په واسطه، بايد له ټولو برخو څخه چې د پروژې په تطبيق کې دخيل دي خپلواکه وي او په خپلواکه توګه عمل وکړي. | د بهرنۍ څارونکې ادارې په واسطه بهرنۍ څارنه. | د پروژې د تطبيق د پروسې په جريان کې، نړيوال بانګ ته د منظمو راپورونو په وړاندې کولو سره او ساحو، اغېزمن کسان، اسنادو، په بهرنۍ څارونکې اداره کې کارکوونکي او ټولې دولتي او خصوصي ادارو ته تظمين شوی لاسرسی ولري. | د پروژې د تطبيق بشپړه بيا کتنه | د بهرنۍ څارونکې ادارې خپلواکې بايد په قرارداد کې د دې ادارې او لوړو زده کړو تر منځ تضمين کړل شي. نړيوال بانګ د لوړو زده کړو وزارت او لاسته راوړنو ته ډېره علاقه لري نو کېدای شي د ټاکنې په بهير کې لاس ولري. |

## 9.2 دحق او د جبران د نورمونو جدول

| اغېزمن کسان | پېژندنه | له پاره | معيارونه | د شرايطو وړ والی |
|---|---|---|---|---|
| **کتنې** | **هدف څه دی** | **د شرايطو وړ والی او جبران به څه ډول ټاکو** | **د شرايطو وړ والی څه ته وايي** | **څوک د شرايط وړ دي** |
| ځنګه چې د ځمکې د استملاک قانون او عملياتي تګلاره ۴,۱۲ ښيي، د ځمکې د استملاک په قانون کې داسې کوم څه نشته چې د ۴,۱۲ تګلارې طريقې مانع شي. | د ۴,۱۲ عملياتي تګلارې هدف د ټولو کسانو له پاره د جبران ورکړل دي چې ځمکې يې له لاسه ورکړې دي. د ۴,۱۲ عملياتي تګلاره د قانون له تخنيکي احکامو او نورو مدارکو لوړه ده چې په اوس وخت کې د شخړو د پای ته رسولو په منظور او د تضمين له حق څخه د ډاډ تر لاسه کول. د ۴,۱۲ عملياتي تګلارې هدف د ساده او ذاتي عدالت تايمن دی. "که چېرې تاسې د اوږده مهال له پاره په دې ځمکه وی او په دې اړه ښه مدارک شته وي، په دې صورت کې تاسې ته بايد د ځمکې په بدل کې جبران درکړي." | 1. صادر شوي رسمي اسناد د حکومت له خوا يا هم د حکومت په استازيتوب<br><br>2. عرفي اسناد لکه عرفي او رسمي قانون له خوا پېژندل شوي اسناد چې د مالکيت حقوق تاييدوي.<br><br>3. شفاهي او نور شواهد له عرفي ارزښت سره چې دعوه کوونکی او کورنۍ يې ځمکه لږ تر لږه د ۳۵ کلونو له پاره د دوی په مالکيت کې وي.<br><br>4. په يوه اوږده وخت کې پرانيستی، پرلپسې او د اشخاصو نه پرېکېدونکی مالکيت په واقعيت کې د هغو ځمکو حقوق چې دوی اخيستې وي دوی ته ورکول کېږي. | د ځمکې او په ځمکه کې د حقوقو لرل له لاسه ورکول. | د جايدادونو مالکان |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لکه پورته شرحه. | دلته د جبران هدف غیرقانوني اوسېدونکو ته د لګښتونو په بدل کې دی نه خپله د ځمکې د ارزښت په بدل کې. | له دایمي ښه والي څخه څارنه، د ښه والي د راتلو د وخت، نقشو او ټولو مروجو اسنادو په اړه له ګاونډیانو او غیرقانوني اوسېدونکو څخه پوښتنې. | هغوی په هغو ځمکو کې اشغال کړې یې دي دایمي ښه والی پکې راوستلی دی. | غیرقانوني اوسېدونکي |
| لکه پورته شرحه. | د له لاسه وتلي عاید منصفانه اټکل | د یو کال حاصل د له لاسه ورکولو په وړاندې نقدي جبران | د عاید له لاسه ورکول | د کرنې او کانونو اجاره ورکوونکي |
| لکه پورته شرحه. | لکه پورته شرحه. | د حاصلاتو برخه یې د بازار په بیه جمعه د حاصلاتو یو اضافي جبران | د عاید له لاسه ورکول | برخه لرونکي کروندګر |
| د ځمکې د استملاک په قانون په مشخصه توګه نه ده څرګنده شوې خو په هغې کې داسې کوم څه نشته چې د ورکړې مخه ونیسي. | دغه د جبران له پاره په ټولو سیستمونو کې یو ډېر معیاري عنصر دی | د ځای د بدلون حقوق په میاشت کې x افغانۍ د مناسب ځای تر برابرولو پورې، د بدیل ځای د تشخیص په برخه کې همکاري. | بلې سیمې ته کډه شوي لګښتونه | د کورونو مالکان او کرایه ورکوونکي |
| دا یوه طریقه ده چې په افغانستان کې له پخوا څخه منل شوې ده. | د جبران د مناسبې پرتلې هدف د ژوند د له لاسه ورکولو په بدل کې و خو په دې هدف چې اغېزمن کسان په خپله نوې ځمکه کې هر څه منظم کړي. دایوه لنډمهاله مرسته یې برابره کړې، دا داسې پیسې نه دي چې د راتلونکې د راحت لامل هم شي. | 1. د ځای بدلولو ضررونه د نقدو پیسو په ارزښت، د ورځې د بیې له قاعدو او له اضافي پیسو سربېره په جبران شي. د x میاشتې له پاره د انتقالي معیشت د حقوقو په توګه.<br>2. کله چې د یو کس ۱۰ سلنه کرنیزه ځمکه اغېزمنه کېږي، نوموړي به د بدخونده اغېزو په وړاندې د ورځې د ارزښت معادل دځمکې د یو کال د خالص حاصل عاید د اضافي حقوقو په توګه ترلاسه کړي. | د ټولو ضررونو له مخې ځای ناستي لګښتونه | د کروندګرو د معیشت له لاسه |
| لکه پورته شرحه. | پورته شرحې ته مراجعه وکړئ، هماغه استدلال دلته هم صدق | په نقدو پیسو د ځای د بدلېدو ارزښت د بازار له موجوده قاعدو | د ټولو ضررونو له پاره ځای ناستي لګښتونه | د اوسېدو او سوداګریزې ځمکې اغېزې |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | کوي. | سره سم، د معاملې د لګښتونو په وړاندې له کسراتو پرته. | | |
| لکه پورته شرحه. | پورته شرحې ته دې مراجعه وشي. | په نقدو پیسو دغه اغېزې له کوم کسر پرته د ځای ټاکنې لګښت، د استهلاک لګښتونه، تر مودې تېر مواد او د جبران معامله به وشي. کرایه ورکوونکي او اجاره ورکوونکي چې کومه کرایه ورکوي د دریو میاشتو حقوق تر لاسه کوي چې د بېړنیو حالاتو د کرایي لګښتونه پوره کړي. | د ځای د ټاکنې لګښت | هغه کسان چې ساختمانونه یې له لاسه وځي یا یې هم ساختمانونه ضررمن کېږي. |
| لکه پورته شرحه. | پورته شرحې ته دې مراجعه وشي. | دغه اغېزې به په نقدي توګه د بازار له موجوده قاعدو سره سم د یوکال بشپړو کرنیزو حاصلاتو جبران شي. | د له لاسه وتلي عاید ځای ناستی | هغه کسان چې د ضررونو له مخې یې د حاصلاتو عاید له لاسه وزي. |
| لکه پورته شرحه. | پورته شرحې ته دې مراجعه وشي. | د عاید ټاکنه د له لاسه وتلو ونو له مخې | د له لاسه وتلي عاید ځای ناستی | هغه کسان چې د ونو د له لاسه ورکولو په پایله کې یې عاید له لاسه ورکړی. |
| لکه پورته شرحه. | پورته شرحې ته دې مراجعه وشي. | د سوداګرۍ په وړاندې د ضررونو جبران، د هغو حقیقي عاید له مخې چې د رسیدونو یا نورو اړوندو اسنادو په واسطه ټاکل کېږي، که چېرې د شرحې وړ وي، له دې پرته به د سوداګرۍ د ضرر د د حقوقو له مخې ټاکل کېږي. | د له لاسه وتلي عاید ځای ناستی | هغو کسانو چې په سوداګرۍ کې یې ضرر لیدلی |
| لکه پورته شرحه. | پورته شرحې ته دې مراجعه وشي. | د له لاسه وتلي حقیقي عاید له مخې جبران، د عاید د احیاء د وخت له پاره. | د یوې محدودې مودې له پاره د له لاسه وتلو معاشونو د ځای ناستی | هغو کسانو چې معاشونه یې له لاسه ورکړي. |
| لکه پورته شرحه. | | | د له لاسه وتلي عاید له امله اضافي جبران | ضررمنې کورنۍ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لکه پورته شرحه. | دا د جبران په ډېرو سیستمونو کې یو معیاري سیستم دی. | ضررمنونکي کسان (د بې وزلۍ تر کرښې لاندې اشخاص، هغه کورنۍ چې مشره یې ښځه وي، هغه کورنۍ چې مشران یې عصبي ناروغي ولري او نور) مرسته د یو ځل په توګه د X افغانیو معادل او د پروژې په اړوندو کارونو کې په کار د ګمارل کېدو له پاره به لومړیتوب ورکول کېږي.<br>اغېزمن کسان چې بې ځایه کېدو ته اړ شوي دي د ژوند کړلو حقوق یې د دریو میاشتو له پاره X افغانۍ ټاکل شوي دي. د انتقالي ژوند حقوق د معاشونو د موجوده قاعدې سره سم X افغانۍ په ورځ کې د انتقال د وخت له پاره محاسبه کېږي. | | |
| **استملاک** | **له پاره** | **قاعدې** | **ارزښت** | **ټاکل** |
| **کتنې** | **د شاخص ارقام** | **د اغېزمنو کسانو همکاري** | **ارزښت څه ډول وټاکل شي** | **ارزښت څه ډول وټاکل شي** |
| هېڅ | کېدای شي دلته برابر شوي ارقام بدلون وکړي. | هو خو خامخا قاطع نه وي | چټکه ارزونه: له اغېزمنو کسانو سره مشوره، له سرشمېرنو او سیمه ییزو چارواکو ترلاسه شوي معلومات | د ارزښت د ټاکلو د ډولونو تر منځ ګډ موضوعات |
| د ځمکې د استملاک په قانون کې د ځمکې د ارزښت په اړه مناسب حکم نشته دی. د وزیرانو شورا یې ارزښت ټاکلی دی خو یوه سیمه ییزه پورسه شته ده چې د ارزښت ټاکنه یې له لارې ترسره کېږي. | هېڅ | د امکان تر کچې د ځمکې ارزښت د عیني فکتورونو په بنسټ ټاکل شوی دی خو شوني نه ده چې د اغېزمنو کسانو فرضیې د ځمکې د ارزښت په اړه چې د ارزښت په ټاکنه کې رول نه لري په پام کې ونه نیسي. | د ځمکې د ارزښت د اوسط کچې ټاکل، د واقعي ارزښ په اساس دا چې یوې آبادې ساحې ته نیږدې وي ټاکل کېږي. د مشخصو قېمتونو له مخې د ځمکې د قیمت ټاکل. | ځمکه، په ځمکه د لارې د حق په ګډون |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د دې طريقې منل په ځانګړې توګه د ودانیو په برخه کې ښه څرګندېږي. ځینې اغېزمن کسان په داسې یوه باور و، د یوې ودانۍ چې د جوړښت څه وخت تېر شوی وي نو په ارزښت یې اغېزه لري خو دا فکتور د ارزښت په ټاکلو کې نه استفاده کېږي. | هېڅ | په هغه پروژه کې چې دغه طبقه بندۍ یې له مخې شوې دي، دوی له بېلابېلو مشورو وروسته له ځینو مالکانو سره چې په دې وروستیو کې یې خپل کورونه جوړ کړي دي، سیمه ییز قراردادیان او ځینې سیمه ییز ساختماني انجنیران هم همدې پایلې ته رسېدلي دي. | نو کېدای شي د استفادې وړ موادو په اساس په ساختمان کې طبقه بندي شي (لنډمهاله، دایمي او نیمه دایمي). دوی کېدای شي په لاندې توګه طبقه بندي شي ۱ (د خاورې دېوالونه/ خښتې/ لرګي، اخېړ بامونه/آهن پوښ)، ۲(کاشي کاري شوی بام او عادي سمنټ شوی بام)، ۳ (کانکرېټي کورنه، یو پوړیز او دوه پوړیزه) | ودانۍ |
| د ارزښت ټاکل د معتبرو معلوماتو د نشتوالي له امله د حاصل له مخې ستونزه لري. د اجتماعي او اقتصادي سروې پایلې معتبرې نه وې ځکه چې ډېری ځواب ورکوونکو د خپلو ځمکو د اندازو په اړه معلومات نه لرل. | په څلورو اصلي حالتونو کې به یو متر مربع وقف شوې ځمکه کې د حاصلاتو د ضررونو د واحد قیمت | | د حاصلاتو د ضررونو په محاسبه کې، د څلورو اصلي حاصلونو ترکیب تر استفادې لاندې نیول شوی تر اوسطې کچې به حاصل او قیمت ترلاسه شي. | حاصلات |
| عیناً پورته موضوع دلته هم صدق کوي. | د یوې میوه یي ونې د جبران قاعده په منځنۍ کچه د یوې ونې حاصل د ونې له عمر سره ضرب کېږي. | له اغېزمنو کسانو سره د ونو په اړه د مرکې په جریان کې، څرګندنه شوه چې د ډېرو اغېزمنو ونو د حاصلاتو ښکته او پورته کېدل، تر ډېرې کچې پورې له عرضې او تقاضا څخه اغېزمن او د حاصلاتو له اخیستو وروسته د آسانتیاوو نشتوالی دی. مېوه یې هغه وخت چې ټول بنوال خپلې مېوې وپلوري، پلورل کېږي. په کوم فصل کې چې په هغې کې مېوه نه وي، بیې لوړې وي چې ډېر لږ بنوال وتوانېدل چې حاصلات یې تر هغې وخته وساتي. | د ورځې د ناخالص ارزښت په اساس د مثمرو ونو له مخې د جبران محاسبه کول، د یو کال عاید د یوې ونې د ودې د کلونو په شمېر، نوې ونه د له لاسه تللې ونې د حاصل د ظرفیت په اندازه صورت نیسي.<br><br>د غیرمثمرو ونو ارزښت د پرلپسې کلونو د پانګونې په بنسټ ټاکل کېږي. | ونې |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | د غیر مثمرې میوه یې ونې جبران د ونې لګښت جمعه د ونې د روزنې لګښت د پروژې د تطبیق له امله یې د پرېکېدو تر وخت پورې دی. | |
| څنګه چې په ۳مه برخه کې وکتل شوه، دا کېدای شي څنګه چې ښکاري ساده نه وي. د اغېزمنو کسانو تر منځ کېدای شي شخړې رامنځ ته شي او د شکایتونو د اورېدو له کمېټې باید وغوښتل شي چې په اړه یې اقدام وکړي. | نه شو کولای شمېرې وړاندې کړو. | په ښکاره توګه د اغېزمنو کسانو له خوا څخه هېڅ همکاري نه ده ښودل شوې. خو کېدای شي د دې په اړه چې د شکایتونو د اورېدو دکمېټې او یا احتمالا د اجتماعي حفاظت او ژوندانه د چاپېریال د اطاعت منلو د کمېټې له لورې کوم کارکوونکي شامل کړل شي تر منځ د مالکانو او برخه اخیستونکو بزګرانو تر منځ شخړې وشي. | د ورځې له بیې سره سم نقدي جبران، د یوه کرنیز فصل د یوه بشپړ حاصل له مخې. په حاصلاتو کې د برخه اخیستنې له مخې، مالک او اجاره اخیستونکي ته یې د حاصلاتو جبران د دوی تر منځ د هوکړې له مخې چې څوک څومره برخه لري ورکول کېږي. | د عاید برابرول<br><br>1. د حاصلاتو ضررونه |
| دا بله ساحه ده چې کېدای شي د وړاندیز کوونکو او د جبران داخیستونکو تر منځ شخړې وشي. | یو کس د سوداګرۍ د دایمي ضررونو په وړاندې جبران په میاشت کې x افغانۍ به د شپږو میاشتو له پاره ترلاسه کړي.<br><br>د سوداګرۍ د لنډمهاله ضررونو په وړاندې جبران د څومیاشتو له پاره به x افغانۍ هره میاشت ورکړل شي. | فکر کېږي چې په راتلونکو برخو کې شمېرې بحث ته اړتیا ولري خو د دې په اړه چې یوه سوداګري دایمي ده که لنډمهاله چې له مخې یې اغېزمن کسان د مشورې غوښتنه کوي او غواړي چې نظرونه یې په نظر کې ونیول شي، ستونزه به رامنځ ته شي. | د دایمي سوداګرۍ د ضررونو په وړاندې په نقدي توګه جبران، د یوې لازمې دورې له پاره به د سوداګرۍ د برابرولو له پاره ورکړل شي.<br><br>د لنډمهاله سوداګرۍ د زیانونو په وړاندې جبران په نقدي توګه ورکول کېږي. | 2. د سوداګرۍ ضررونه |
| د پورته شرحې په توګه خو سربېره پر هغې، کېدای شي د آمر او مامور تر منځ د معاشونو په اړه شخړې وشي چې کېدای شي پروژه حاکمیت پرې وکړي. | وړاندې شوې شمېرې نه شي کولای ځکه چې نظر کار ته معاشونه توپیر لري. | فکر نه کېږي چې دا موضوع به ډېر بحث ته اړتیا ولري سره له هغو توپیرونو چې کوم توکي تر معاشونو پورې اړه لري کېدای شي رامنځ ته شي. | د سوداګرۍ د پرېکون په وخت کې د له لاسه وتلیو معاشونو په وړاندې جبران. | 3. د کارکوونکو او مامورینو له پاره د عیاد برابرول |
| سره له دې چې دا د مشخصو | وړاندې شوې شمېرې نه شي | د ستونزو په نظر کې نیولو سره د | کله چې د یو کس ۱۰ سلنه کرنیزه | په کرنیزه ځمکه د بې خونده اغېزو په |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دلایلو له امله شوي په درېیمه برخه کې هم همداسې ښکاري کېدای شي شخړې وشي چې باید د زړه سوي له مخې چلند ورسره وشي. | کولای څکه چې د پیسو دقیقه انداره به د ځمکې د استفادې تر ډول پورې اړه لري. | اغېزمنو کسانو د سهم پرتله، د حاصلاتو د ضررونو په اړه ۵مې برخې ته مراجعه وکړئ.- د دې محاسبه به سخته وي او له اغېزمنو کسانو سره دقیق بحثونه لازم دي. | ځمکه اغېزمنه کېږي، هغه د بې خونده اغېزو په وړاندې، د ورځې له ارزښت سره سم به اضافي معادل حقوق، د ځمکې د یوه کال د خالص حاصل عاید تر لاسه کړي. | وړاندې د حقوقو ټاکل |
| دا چې آیا دا به کافي وي چې په له لاسه تللي عاید تکیه وي. ښه به وي چې په دې برخه لږ ترلږه غاړه کېږدو. | ضررمنونکو اغېزمنو کسانو ته د یو ځل حقوق د لږ تر لږه X افغانۍ معادل دي او تر پروژې پورې اړوندې دندې لومړیتوب هم ورکول کېږي. | دقیقې او د زړه سوي وړ مشورې ته او دغې اغېزمنو کسانو سره به بحث ته اړتیا وي. | زیان لیدونکي کسان (د بېوزلۍ تر کرښې لاندې اغیزمن کسان، هغه کورنۍ چې مشره یې مېرمن وي، هغه کورنۍ چې مشران یې په یوه عصبي ناروغۍ اخته وي) مرسته به ترلاسه کړي. | د ضرر منونکې ډلې حقوق |
| دا یوازې یو اټکل دی. ښه به وي چې د همداسې شرایطو نظر ترسره شي. دلته همدارزا کلمې لکه (لږ اندازه) اضافه شوې چې یو څه غاړه اېښودل په نظر کې ونیول شي. | د انتقالي دورې له پاره په میاشت کې لږ تر لږه X افغانۍ | د یوې معیاري مشخصې څورول جبران دی خو له قواعدو سره سم د غاړه اېښودلو رضایت ته اړتیا لري څکه چې څورول یوه عیني موضوع ده. | اغېزمن کسان چې ځمکه یا یې کور له لاسه ورکوي او کډه کېدو ته اړ کېږي، د ژوندانه حقوق به ترلاسه کړي. | د انتقالي معیشت حقوق |
| د کرایې موجوده بیه له یوې سیمې څخه تر بلې سیمې پورې توپیر لري. لکه نور حقوق باید په پایله کې یو څه غاړه کېښودل شي. | د پروژې په سیمه کې د ورځې له بیې سره سمه د X میاشتو کرایه | له اغېزمنو کسانو سره بحثونه د دې ډول جبران د فعالیت محور دی. | د کورونو کرایه ورکوونکي چې د ځای پرېښودو ته اړ کېږي، د کرایې حقوق تر لاسه کوي او د بدیل ځای د پېژندو په برخه کې به مرسته ورسره وشي. | د کرایې حقوق |

**دویمه ضمیمه:  په کابل کې له اړوندو مراجعو سره مشوره(اګسټ الی اکتوبر،۲۰۱۴)**

| شمېره | اړوند مراجع | د مشورې نېټه | د بحث وړ موضوع | رامنځ ته شوي او بحث شوي مسایل | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | ښاغلی ولي مدقق، د ژوندانه د چاپېریال اداري ساتنې مرستیال او ښاغلی نور محمد، د تلپاتې پراختیا د برخې رییس | سپتمبر/۱۷/۲۰۱۴ | د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ، په لوړو زده کړو وزارت کې د ژوندانه د چاپېریال د قانون او د محیطي اغېزو ارزونه | د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ له پاره د ظرفیت ټیټ والی<br><br>د محیطي جوړښتونو او اوږدمهاله ګټو په اړه لږ پوهاوی<br><br>د ارګانونو تر منځ د محیطي مسایلو په اړه کمزورې همغږي | د ژوندانه د چاپېریال ساتنې ملي اداره باید د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ په تطبیق کې شامله وي<br><br>د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ یوه کاپي باید ژوندانه د چاپېریال د ملي ادارې په ولایتي دفترونو کې هم وي.<br><br>د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ د اجراآتو خلاصه اولارښودونه باید په ملي ژبو وژباړل شي. |
| 2 | آقای حبیب الله، د بدخشان د ژوندانه د چاپېریال اداره | اکتوبر/۱۶/۲۰۱۴ | په فیض آباد کې د بدخشان د پوهنتون کتنه او په بدخشان کې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تطبیق په اړه خبرې اترې | د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ په برخه کې د ډېرو کمو معلوماتو موجودیت، د ژوندانه د چاپېریال په ملي اداره کې د سرچینو کمښت، د ژوندانه د چاپېریال په ملي اداره کې د ادراي ظرفیت ټیټوالی، د دفتري سرچینو اړتیاوې او د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ له پاره د وړتیاوو د لوړولو فعالیتونه، په بدخشان | د ژوندانه د چاپېریال د ملی اداري کارکوونکي باید د وړتیاوو د لوړولو په پروګرام کې چې د لوړو زده کړو د وزارت تر نظر لاندې دی شامل شي.<br><br>د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټډ تطبیق په حالاتو کې کېدای شي اړتیا پیداشي، چې د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ یوه کاپي دې د نظر وړ ولایتونو سره هم شریکه شی. |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | کې د ژوندانه د چاپېریال د مسایلو په اړه کمزورې همغږي. | |
| 3 | | | | | |

**درېیمه ضمیمه:تخنیکي لارښودونه**

لاندې تخنیکي لارښودونه له مشاورینو څخه د استفادې په هدف، قراردادیان چې د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان د پروژو د اجرا، جوړښت او طرحې په برخه کې شامل و برابر شوي دي او د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي اغېزو د کمښت له پاره یې لازم اقدامات کړي تشریح کوي.

د محیطي اغېزو او د ژوندانه د چاپېریال د پلان د مدیریت د ارزونو د برابرولو په وخت کې چې د اجتماعي او محیطي سروې په پاڼه کې مشخص شوو مسایلو ته ځواب وایي، باید چې لارښودونو ته مراجعه وشي.

دغه ضمیمه لاندې لارښودونه په څنګ کې لري:

1تخنیکي لارښود: د خاورې له سولېدو او خرابېدو مخنیوی او پالنه
2تخنیکي لارښود: د ځمکې د ښویېدنې مخنیوی او ساتنه یې
3تخنیکي لارښود: له کانونو استفاده کړل
4تخنیکي لارښود: د مضرو موادو په ګډون د فاسدو موادو لرې کول
5تخنیکي لارښود: د ګرد او خاورې مدیریت
6تخنیکي لارښود: د سیمو ساتنه، فرهنګي او تاریخي آسانتیاوې
7تخنیکي لارښود: د تېلو او سون توکو مدیریت
8تخنیکي لارښود: روغتیا او خوندیتوب

سربېره پردې، وړاندیز کېږي چې د دندې، روغتیا او خوندیتوب له پاره له بهترینو لارښودونو څخه چې د IFCs په لارښودونو کې تشریح شول کار واخیستل شي.

http://www.ifc.org/wps/wcm/connect/554e8d80488658e4b76af76a6515bb18/Final+-+General+EHS+Guidelines.pdf?MOD=AJPERES

**لومړی - تخنیکي لارښود:** د خاورې له سولېدو او خرابېدو مخنیوی او پالنه

| ***د اغېزو شرحه*** |
|---|
| د خاورې خرابېدل د ځمکې د اختلال له حالت څخه دي چې په عمده توګه اوبه، باد او نور انساني فعالیتونه یې لامل کېږي. له دې لارښود څخه هدفد ودانولو په وخت کې د له لاسه تللې خاورې د کمیت کمښت، د ځمکې د پاکولو له امله دی. د خاورې د خرابېدو ستونزه اوارول، باید د معالجې په ځای له وقایې څخه کار واخیستل شي. په دې پروژه کې، د خاورې د خرابېدو له ښکته تر متوسطې هیله چې کېدای شي د نباتاتو پاک کارې یې لامل شي کېږي |

- طبیعي نباتات باید د امکان تر کچې حفظ، مراقبت یا بشپړ شي. نباتات باید په داسې توګه له منځه یوړل شي چې د خاورې خرابېدل کم کړي.
- لوی ساختماني تجهیزات نه باید د ساحې په ګلدان کې تصفیه او د ساختماني کار په جریان کې کېښودل شي. نقلیه وسایط (که شته وي) نه باید د ونو په سیمه کې چې د ساختماني کار په وخت کې باید وساتل شي، کېښودل شي.
- د کار په وخت کې ټول شوي ضایعات د ساختماني چارو په پړاو کې، ساختماني، کانګرېټي ضایعات، کیمیاوي مواد، کثافات او روغتیایي ضایعات لرې غورځول شوو موادو په ګډون نه تر دوی پورې تړلي، د شونتیا تر کچې هره ورځ یا په منظمه کچه باید د کار له سیمې و ویستل شي.
- د ساختماني کار او په کار ځای کې د انکشافي فعالیتونو په پایله کې هېڅ اغېزمنه ځمکه د خاورې په ځای کې له پوښ (ترپال یا پرده) پرته نه پرېښودل کېږي. د ساختماني کار په بهیر کې ټولې ساحې، د ودانۍ، ساختمان او پلې لارې په استثنا بشپړې شوې، هوا ته پرېښودل شوې چې بیا د لږ تر لږه شپږ سانتي متره په پلنوالي سره په نرمه خاوره پوښل کېږي چې وروسته د ژوندیو نباتاتو په ترکیب سره لکه چمن، ونې او بوټې پکې کرل کېږي او نور مواد لکه ګیاوې، ډبرې او شګه یې پر مخ فرش کېږي.

| د ګواښونو د کمېدو له پاره اقدامات | | |
|---|---|---|
| ***مسایل*** | ***د اغېزو عوامل*** | ***د ګواښونو د کمېدو له پاره اقدامات*** |
| *د خاورې سولېدل یا خرابېدل* | د خاورو د اخیستلو، ډکولو، د نباتاتو د له منځه وړلو او د ساختماني کار له پاره غوښتنه له لاسه د خاورې خرابېدل یا سولېدل | - د خاورې د وړلو کار تر وچې او نه باراني فصلونوپورې محدودول<br>- د سرې په واسطه د خرابې ځمکې د سطحې مراقبت<br>- د فاصله اوبو او جدا کوونکو خنډونو د کانالونو مراقبت، پوزې یا تکه<br>- د داسې حوضونو جوړول چې رسوب جذب کړي، د خرابې ځمکې کرل<br>- لکه په تصویر کې چې وینئ په نښو وهلو سره د نباتاتو ساتنه او د پیاوړي دېوال جوړول<br><br><br>- له خاورې څخه د خرابوالي په وړاندې د ساتنې او د مالونو د ذخیرو په سیمه کې د نباتاتو له سره کرل |
| | د مخ ښکتې له امله د خاورې خرابوالی | - د ماشینونو یا هم لاس په واسطه مخ په ځوړند ثبات<br>- د تندو بادونو او شدیدو بارانو په جریان کې د خاورې په مخ د کار مخنیوی<br>- ډېر ژر د خرابې خاورې په مخ د نباتاتو کرل |
| | د ساختماني برخې د خاورې خرابېدل | - د فاصله اوبو د خالي کولو سم وسایل نصب شي او د |

| | | |
|---|---|---|
| | نسبت فاصله اوبو ته | اوبو د خالي کولو له عمومي سېستم او یا هم له محلي سېستم سره وتړل شي.<br>- د اغېزمنو خاورو سیمې پورې، ساختماني فعالیتونه پروګرام کړئ. د بېلګې په توګه: د اوړي په موسم کې کله چې سېلاب راوړونکي بارانونه وشي، حد اقل ته ورسېږي.<br>- په هغه ځمکه کرنه وکړئ چې خاوره تري وړل شوې، د باران نفوذ ډېرېږي او د اوبو چټکتیا په مخ ښکته ځایونو کې د باران اورېدو په وخت کې کمېږي چې په پایله کې د خاورو ستونزه له منځه وړي. |
| | د خاورې خرابېدل د (نقلیه وسایطو او نورو) د ګرځېدو له امله چې د خاورې د کلک کېدو لامل کېږي او د ځمکې لاندې او سطحې اوبو د جریان د بدلون لامل کېږي او د کرنې په استفادې سره په راتلونکې کې ستونزه پېښوي. | - ځای ثابت وساتئ د خاورې د خرابېدو کنټرول کوونکي وسایل نصب او وساتئ څو هغه په ساختماني کارونو کې د هر ډول خنډونو په جریان کې ګټور پاتې شي.<br>- نقلیه وسایط په ځانګړو سرکونو کې وساتئ، د ساتنې له پاره ساحې په نښه کړئ، کارکوونکو ته لارښوونه وکړئ چې هغې ساحو ته درناوی وکړي.<br>- د شونتیا له مخې، ځانګړي سرکونه د مخ ښکته والي څخه وساتئ<br>- د شونتیا له مخې، له درنو تجهیزاتو ګټه اخیستل لږ تر لږه وساتئ. |
| | - د باد له امله د خاورې خرابېدل (فرسایش) | - له دې څخه ډاډ چې د ځمکې سطحه په ژوره توګه خیرې شي او همداسې نامنظمه وساتل شي څو د خاورې په سطحه د باد چټکتیا کمه شي.<br>- د باد د کنټرول له پاره د دېوالونو جوړول، په دې شرط سره چې دا کار د سیمې له پاره وړ دی. |

***سرچینه:***


Erosion & Sediment Control Guidelines For Urban Construction, December, 2006. http://www.rvca.ca/plan-reg/PDF/TRCA%20S&E%20Control%20GGHCA%20s%2040035.pdf

Arne Eriksson & Asfaw Kidanu (August, 2010) Guidelines For Prevention And Control Of Soil Erosion In Construction Works.
http://www.ilo.org/public/english/region/afpro/daressalaam/download/soil_prevention_kenya.pdf

Best Practice Environmental Management, Environmental Guidelines for Major Construction Sites (1996), Environment Protection Authority http://www.epa.vic.gov.au/~/media/Publications/480.pdf
Sediment & Erosion Control On Construction Sites Field Guide, Cooperative Extension Service University of the Virgin Islands (2003), http://www.coralreef.gov/transportation/sederosuvi.pdf


**2تخنیکي لارښود:** د ځمکې د ښویېدنې مخنیوی او ساتنه یې

| **د اغېزې شرحه** |
|---|
| په غرنیو سیمو کې د ځمکې ښویېدنه یوه لویه طبیعي فاجعه ده چې د مالي او ځاني زیانونو لامل کېږي. سخت بارانونه، مخ ځوړندې سیمې، هغه فعالیتونه چې د زلزلې لامل کېږي او د فاضله اوبو د خالي کولو کمزوری سېستم د ځمکې د ښویېدو لامل کېږي. د دې لارښود هدف اقداماتي وړاندیز دی چې وکولای شي د ځمکې د ښویېدو د مخنیوي یا کمښت په اړه مرسته وکړي. |

***له ودانولو مخکې پړاو:***

د ودانولو د فعاليتونو تر پيل مخکې، د ځمکې د ځانګړتياوو په اړه اشنايي ډېره مهمه ده. د ځمکې ښويېدل په طبيعي ځوړندوالو (سراشيبي) کې يا هم په هغو ځوړنوالو کې چې د بشري فعاليت (لکه ډېر کار، خاوره وړل، د کثافاتو غونډې) له امله رامنځ ته شوي پېښېږي. د ځمکې ښويېدل معمولاً په ځوړندوالو سيمو کې چې د ځوړندوالي کچه يې ۲۲ درجې (۴۰ سلنه مخ په ځوړندوالی) ده رامنځ ته شوې نو بايد مشخصه شي چې آيا غير طبيعي ځوړندوالي ستاسې په ځمکه کې هم شته يا هم باثباته ځمکه ده. د ښار جوړوني وزارت د معلوماتو د سېستم د تنظيم له ځانګې سره يو ځای د ځمکې د ښويېدنې د ګواښونو نقشه جوړه کړې ده، دغه نقشې کېدای شي د ځمکې د طبيعي ښويېدنې د قرباني کېدو په وخت کې ګټورې ثابتې شي.

***د ودانولو پړاو:***

د ځمکې د ښويېدو يو لوی لامل اوبه دي، کله چې خاوره په ځوړندوالو کې ډېره ډکه شوې وي، خپله توانايي له لاسه ورکوي او له ماتې سره مخ کېږي. نو بايد هڅه وشي چې اوبه د فاضله اوبو له طبيعي لارو څخه تېرې شي، يا يې هم بايد د فاضله اوبو په پايپونو کې تېرې کړئ، خو له ځوړندوالو څخه د اوبو له تېرېدو ډډه وکړئ. هغه تهداب چې ساختمان پرې جوړېږي بايد دقيق و آزمويل شي او هر ډول ځوړندوالي چې خاوره ترې وړل شوې او يا هم ډک شوي دي او له هغه سره نژدې د فاضله اوبو سېستم خالي کول بايد په پوره پاملرنې سره وشي چې د ځمکې له ښويېدو مخنيوی وشي.

***له ودانولو وروسته پړاو:***

معمولاً د ساختماني فعاليتونو تر بشپړېدو وروسته يو څه ځارنه هم کېږي. د ځمکې د ښويېدو د مخنيوي په خاطر وړانديز کېږي چې وياله او د اوبو لارې ورغول شي. د سېلابونو تړل شوې لارې لامل کېږي چې اوبه له ځوړندوالو څخه تېرې شي چې د دې اوبو له پاره نه دي جوړ شوي. دغه ستونزه کېدای شي د خاورې له اندازې ډېر ډک والي او ماتوالي لامل شي. همدارنګه ماتوالي د موټرونو د لارو په څنډو يا هم د ډکو شوو ځوړندوالو په ځايونو کې وليدل شي بايد راپور يې ورکړل شي.

| | | |
|---|---|---|
| **د ګواښونو د کمښت له پاره اقدامات** | | |
| ستونزه | (عامل) اغېزه | *د ګواښونو د کمښت له پاره اقدامات* |
| د ځمکې ښويېدل | ځوړندوالي | - په ځوړندوالو کې د ونو او نورو نباتاتو اېښودل چې د ځمکې د ښويېدو مخه ونيسي.<br>- له ځوړندوالو ساحو، سستې خاورې او ناکرل شوې ځمکې د سطحي فاضله اوبو د سېستم لرې ساتل<br>- سطحي اوبه بايد پرې نه ښودل شي چې په ځوړندوالو کې چې هلته د ځمکې د ښويېدو احتمال وي، راټولې شي.<br>- کمې اندازې ته د ځمکې د لړزې رسول چې علت يې د ساختماني کار په جريان کې هلته درانه تجهيزات اچول دي. |
| | د فاضله اوبو د خالي کولو کمزوری سېستم | - *د فاضله اوبو د خالي کولو په پايپونو کې د فاضله اوبو ټکلوری راګرځول، په بدل کې يې په ځوړندوالو لارو خوشې کول*<br>- له سستو خاورو، ځوړندوالو او ناکرل شوې ځمکې د سطحي فاضله اوبو د خالي کولو د سېستم لرل ساتل |
| | د ځوړندوالو بدلون | - د ځوړندوالو د بدلون په کمه اندازه ساتل |
| | د نباتاتو لرې کول | - په ځوړندوالو کې د ډېرو نباتاتو د لرې کولو مخنيوی، ځکه چې دغه نباتات د خاورې په ثابت ساتلو کې ډېره مرسته کوي.<br>- د هر ډول لرې شوو نباتاتو په وړاندې جبران |

**3تخنيکي لاربنود:**له کانونو استفاده کړل

| **د اغېزې شرحه** |
|---|
| ساختماني کار کېدای شي د ځینو موادو لکه رېگ، د خښتو له پاره خټه او لرگیو د راوړلو غوښتنه وکړي او دغه غوښتنه به یو ځل په سرچینو ور واچوي. له همدې امله، د رېگ او جغل د کان راویستنه به له کانونو او گودالونو اغېزې ولري.<br><br>قراردادي باید ډاډه شي چې ټول خام توکي لکه رېگ، د نړول شوو ساختمانونو اوارول، اوسپنه، لرگي او د ساختمان د جوړولو له پاره نور توکي له سرچینو څخه د جواز لرونکي دي. هر وخت چې قراردادي وغواړي له خپل کان یا گودال څخه رېگ راوړي، ټولې لازمي منظورۍ باید له اړوندو مراجعو څخه تر لاسه کړي. قراردادیان د دا ډول منظوریو نقلونه باید مسول پوهنتون ته وسپاري |

| ***د گواښونو د کمښت له پاره اقدامات*** | | |
|---|---|---|
| ستونزه | (لامل) اغېزه | *د گواښونو د کمښت له پاره اقدامات* |
| د ځمکي خرابېدل (فرسايش) د ډبرواو شگو ذخيره | د ډبرو د ویستلو ناکنټرول شوي تخنیکونه | - د ولسوالی او شرکت په کچه د کانونو د اداري د استازي د کاني او ترانسپورتي موادو د گټه اخیستنې قرارداد کول<br>- د جواز د صادرولو جواز تر هغو کسانو پورې محدودول چې د راویستنې په کار کې تجربه ولري.<br>- د راویستنې په کار کې د استفادې وړ تکنالوژي استفاده<br>- د ډبرو د پرېکولو له پاره د انفجار په ځای له بهترې تکنالوژۍ کار اخیستل |
| | د راویستونکو ځمکو د مقررې نشتوالی | - د ساختماني موادو د راویستنې شاملول لکه د کانونو په قانون کې له شگې، خاورې او کانگرېټو څخه جوړ شوي بلاکونه. |
| | *د راویستنې له پاره د مشخصې ځمکې نشتوالی* | - حکومت باید د راویستنې له پاره مشخصې ځمکې او خایونه وټاکي.<br>- سیمه باید د ولسوالۍ د معادنو د مامورینو له خوا مدیریت شي چې د ځمکې له دقیقې استفادې څخه ډاډه شي. |
| | | - |

**4تخنيکي لاربنود:**د مضرو موادو په گډون د فاسدو موادو لرې کول

| **د اغېزې شرحه** |
|---|

ذخیره کول او د ساختماني موادو په سمه توګه لرې کول، له ساختماني سیمې د خطرناکو ضایعاتو لرې کول چې دا توکي د سېلاب او اوبو په لارو کې د کثافاتو لامل کېږي.

د خطرناکو ضایعاتو مدیریت-
د خطرناکو ضایعاتو مدیریت – د پروژې د سیمې او کارکوونکو په وړاندې د ګواښونو د کمښت په منظور، قراردادیان او کالترانس کارکوونکي پوهې او هڅې ته اړتیا لري. دغه ابلاغیه د خطرناکو خنډونو د ارزونې د مدیریت او په ساختماني سیمو کې ضایعات او د ضایعاتو د مدیریت د عالي اجراآتو د شرایطو خلاصه، ګواښ لرونکي ده.

***معمول ګواښ لرونکي ضایعات:***

د ټولو خطرناکو ضایعاتو په وړاندې د مدیریت عالي اجراآت، د هغو خاورو په استثنا چې له هوا څخه سرب په کې ګډ شوي، ترسره کېږي. په ساختماني سیمه کې په معمولو خطرناکو ضایعاتو لاندې توکي شامل دي:

- د ساختماني موادو تویېدل لکه مواد د کانګریت مرطوب ساتونکي مواد تر هغې چې جوش خوري، د سفالت تولیدات، رنګ او نور.
- د پټرولیمو تولیدات د تجهیزاتو د مراقبت او ساتنې له کار څخه
- د سپټیک ضایعات
- د حشرو ضد او د بوټو د له منځه وړلو درمل
-

**معمول خنډونه**

*په ساختماني پروژه کې د خطرناکو ضایعاتو د مدیریت معمول خنډونه لاندې توکي دي:*

- د ساختماني برخې ټول کارکوونکي باید د خطرناکو ضایعاتو د مدیریت په برخه کې سمه زده کړه وکړي.
- د احتمالي خطر لرونکي ساختماني مواد باید په داسي ځایونو کې وساتل شي چې هلته اوبه نفوذ ونه کړي خو تر اوسه هم باید د اسانتیا له پاره وکارول شي.
- له پروژې څخه راټول شوي خطرناک ضایعات باید په داسې توګه وساتل او دفع شي چې د ضایعاتو د همغه مشخص ډول له پاره مناسب وي.
- قراردادي باید د رالوېدنې او تویېدنې (رېزش او تراوش) په وړاندې ځواب ته تیار وي چې د پروژې په ځینو برخو کې پېښېږي.
- د راتوییدنو او رالوېدنو د پاکولو په برخه کې لټي کول، د غیردقیقو خطرناکو موادو ذخیره کول، کولای شي تحلیل او نمونه شي.

په پروژه کې هر څوک د خطرناکو ضایعاتو په برخه کې مسولیت لري، یعنې کارکوونکي د تویې شوو موادو د پاکولو مسول دي او د اوبو د کثافت د کنټرول مدیر اړوندو ارګانونو د اطلاع په ورکولو مسول دی. د پروژې ټول کارکوونکي په ځانګړې توګه د خطرناکو ضایعاتو د پېژندنې او خوندیتوب او ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ډاډ د ترلاسه کولو له پاره د سم ځواب ورکولو په اړه باید زده کړه وکړي.

**د موادو د ذخیره کولو کړنلاره**

د ساختماني چارو ځینې معمول مواد د رالوېدنې او تویېدنې (رېزش او تراوش) په صورت کې خطرناک ضایعات شمېرل کېږي. په دې موادو کې د کانګرېټ مرطوب ساتونکي مواد د هغې د جوش خوړولو تر وخته، د سفالټو تولیدات، درنګ پاکوونکي مایع، د لرګیو ساتونکي، د بام قیر او استوګنځي وي. داسې مواد باید په داسې ځایونو کې وساتل شي چې هلته اوبه نفوذ ونه کړي چې له ترشح څخه یې د سېلابونو په لارو کې مخنیوی وشي. د اوبو ضد ځایونه، د اوبو ضد کانتینر کې د ذخیرو جوړول، د اوبو ضد بام لاندې ذخیره جوړول یا په یوه ودانۍ یا هم د لنډمهاله پوښ او قرنطین په واسطه ساتنه چې د سېلاب له اوبو او له سیمې څخه د اوبو د راتلو له اړیکې مخنیوی وکړي.

**د ضایعاتو دفع او ذخیره جوړول**

خطرناک ضایعات باید په ټاپه شوو کانتینرونو کې چې له مناسبو موادو جوړ وي او یو سرپښ شوی کاغذ لري چې په څرګنده توګه يې نښته او منځپانګه په کې لیکل شوي وي، ذخیره کړل شي. د ضایعاتو کانتینرونه په محدودیت لرونکو تاسیساتو کې چې د غیرکاري ورځو او باراني موسمونوپه جریان او د کال له بارانونو څخه مخکې پوښل شوي وي، وساتي.

رالوېدنه او تویېدنه (ریزش او تراوش):

*د رالوېدنې او تویېدنې په صورت کې باید له باران مخکې پاک کاري وشي. د تویېدنې د پاک کارۍ لوازم د ذخیرې په ځایونو کې وساتل شي څو پاک کارۍ ته آسانتیا او چټکتیا ورکړي. د ضایعاتو ریزش یا خطرناک مواد د هر ډول خاورې یا ککړو اوبو په ګډون د خطرناکو ضایعاتو په توګه ذخیره شوي او په سمه توګه دفع شي.*

| ***د ګواښونو د کمښت له پاره اقدامات*** | | |
|---|---|---|
| مشکل | (عامل) تاثیر | *د ګواښونو د کمښت له پاره اقدامات* |
| *خطرناکضایعات* | *د ساختماني موادو ریزش او تراوش لکه د کانګریټو د مرطوب ساتونکو موادو په څېر د جوش کېدو تر وخت پورې، د سفالټ تولیدات، رنګ او نور.* | - *د رنګ او سفالټ د تولیداتو د ریزش سملاسي پاک کاري.*<br>- *د ریزش د سرچینې د پای ته رسولو له پاره اقدام کړل.*<br>- *له زهري موادو نه باید د سون له پاره کار واخیستل شي.*<br>- *او په ساختماني سیمه کې د موادو دقیقه نښه کول او ډلبندي.* |
| | *د پټرولو تولیدات د کار او تجهیزاتو د ساتنې او مراقبت له پاره* | - *لاری باید د ریزش د مخنیوي په وسایلو مجهزې شي.*<br>- *استفاده شوي روغنیات باید په معیاري بنډلونو کې ځای په ځای کړل شي او په تایید شوي ځای کې دفع کړل شي.*<br>- *د پروژې د کار د بشپړېدو په وخت کې د ټولو ضایعاتو او پټرولیمي تولیداتو لرې کول.* |
| | د سیپټیک ضایعات | - *د خاورې د نباتي پوښ لرې کول باید لږترلږه وساتل شي.*<br>- *د سیپټیک ټانکرونه او تشنابونه باید د اوبو له موقعیتونو لرې وي.* |

| د اغېزې شرحه |
|---|
| ساختماني کارونه او د پاکولو په وخت کې تولید شوي ګردونه او دوړې کولای شي، شاګردانو ته په درسي ساعتونو کې تنفسي ستونزې پېښې کړي. خاوره او جغل چې د اوږده مهال له پاره له مناسبې پردې پرته وساتل شي کېدای شي خاورې او دوړې تولید کړي او د مکتب د ساعتونو په جریان کې او د سیمې د اوسېدونکو له پاره په ناراحتی بدل شي. سیمې ته د موادو وړل به هم د خاورې او دوړې لامل شي. موجودې ودانۍ له ګټه اخیستنې بهر کول هم کېدای شي د ګرد او خاورې د پیداکېدو لامل شي چې خطرناک به هم وي.<br>د خاورې او جغل په څېر مواد باید د لېږد په وخت کې وپوښل شي. د ساختمان شاوخوا باید اوبه وشنل شي چې د خاورې او ګرد تولید ډېر لږ شي. د ساختماني دورې په جریان کې د خاورې او ګرد د کثافت د مخنیوي له پاره، قراردادي باید هر وخت د ساختمان شاوخوا په اوبو لمده کړي او موجوده مواد په ساحه کې وپوښي څو د ګرد او خاورې د جوړېدو او د هوا په وسیله د نورو ذراتو د لېږد مخنیوی وکړي. ټول لېږدوونکي نقلیه وسایط هم باید وپوښل شي څو د رېزش او ګرد له لېږد څخه مخنیوی وکړي. هغه کارکوونکي چې د ناسوز د صفحو له نصبولو سره سروکار لري باید پام وکړي چې د ماسکونو په اغوستو او حمام په کړلو سره په ګرد او خاورو لړلی حالت لږ کچې ته ورسوي. د صفحو د ټړلو په وخت کې باید کاري جامې ومینځل شي او کارکوونکي د کارځای له پرېښودو مخکې باید جامې بدلې او پاکې جامې واغوندي.<br><br>قراردادي باید په ځانګړې توګه د ساختمان د ضایعاتو، د ساختمان د ویجاړې، بیکاره اوبو، سون توکو، خاورې او دوړې، اوسپنې، د نړول شوو ساختمانونو بې نظمۍ او لرګیو د دفعې له مقررو پیروي وکړي. د بې کاره اوبو په برخه کې چلند او د اوبو خالي کول باید د سیمې د اړوندې، د اوبو لګولو وزارت او د اوبو د سرچینو د پراختیا د مرجع له مقررو سره سم وي.د ناسون (ناسوز) توکو په ضایعاتو، پي سي بي ګان او نور خطرناک ضایعات باید له ملي مقررو سره سم او که لازم وي د تکره کارکوونکو په ځارنې رسېدنه وشي او دفعه شي. |

***د ګواښونو د کمښت له پاره اقدامات***

| ستونزه | د اغېزې لاملونه | *د ګواښونو د کمښت له پاره اقدامات* |
|---|---|---|
| **دوړه او خاوره** | په وچو میاشتو کې دوړې اوخاوې | له دې داده کېدل چې د پروژې په زماني جدول کې ځمکه پاکه شوې او د کال په وچو میاشتو کې، هغه وخت چې د خاورې او دوړو تولید ډېر زیات وي، ډېرې لږې کچې ته ورسول شي. |
| | د ګرځېدو له امله خاورې (نقلیه وسایط او نور) | *د ساختماني موادو د لېږد د سرکونو کاري چارې او په اوبو لمدول. د اوبو لمدولو شمېر به د اقلیم وضعیت او د خاورې د خرابوالي وړتیا ته په کتو سره ټاکل کېږي. که کیمیاوي مواد (یوازې د اړتیا په وخت کې) په اوبو کې د خاورې او دوړې د له منځه وړلو په هدف وکارول شي، نوموړي کیمیاوي مواد باید د سیمې په لندو اوبو بې خونده محیطي اغېزې ونه لري.* |
| | *د خاورو او دوړې نورې تولید کوونکي سرچینې، لکه د موجودو زېربناوو ویجاړول او نور* | - *د موجودې زېربنا کنټرول شوې ویجاړې (د اړتیا په صورت کې) د کثافت، دوړو، ضررونو او خاورې د مخنیوي له پاره له ساختماني دېوال سره.*<br>- *په سیمو اوبه شنل، د ساختماني موادو د لېږد د جادو په استثنا، په دې شرط چې د خاورې او دوړو سرچینه وي.*<br>- *له دې څخه داده کېدل چې د سطحې ځمکه په ژوره توګه وخېړل شي او په نامنظمه توګه وساتل شي چې د* |

| | | |
|---|---|---|
| خاورو په مخ د تند باد مخنیوی وکړي.<br>- د باد د کنټرول له پاره د دېوالونو جوړول، په دې شرط چې دا کار د سیمې له پاره مناسب وي.<br>- د بې ثباته موادو په انبار په لاس او یا هم د اوبو د شنلو د لندمهاله ماشین په نصب سره اوبه پاشل | | |

**6تخنیکي لارښود:** د سیمو ساتنه، فرهنګي او تاریخي آسانتیاوې

| بشپړه بیا کتنه | احتمالي اغېزې او په ځان د بسیا کېدو ستونزې |
|---|---|
| جغرافیوي سیمه چې اوس د افغانستان په نوم یادېږي د اوږده او پیاوړي فرهنګ او تاریخ لرونکې ده. له هغې ځایه چې افغانستان د لویو امپراتوریو لکه فارس، یونان، منګولیا او هند یوه برخه و، دغه هېواد د بېلابېلو فرهنګونو او تمدنونو په مقابل کې و، نو له همدې امله د پیاوړي فرهنګي او تاریخي میراثونو لرونکی دی.<br><br>همداراز یې بېلابېلې کشفونې او پېښې، د تاریخي او فرهنګي ارزښتونو لرونکې لوازم تجربه کړي دي.<br><br>په کلیو او ښارونو کې کېدای شي فرهنګي میراثونه، تر ځمکه لاندې یا د ځمکې پر مخ یا هم تر اوبو لاندې موقعیت ولري. فرهنګي ارزښت یې هم کېدای شي د ولایت، هېواد او یا هم نړیواله کچه مطرح وي. | له فرهنګي او تاریخي آثارو ساتنه، د ملت په فرهنګ او تاریخ کې د ډېر ارزښت لرونکې ده. که چېرې سم حقوقي او تخنیکي میکانیزم او چوکاټ نه وي، د پراختیایي پروژو د تطبیق په وخت کې به یې له ګواښ سره د مخ کېدو کچه لوړه وي. د ساختماني کار له پیل مخکې او د کار په جریان کې، باید لاندې چارې په نظر کې ونیول شي:<br><br>(i) <u>د پروژې ویستل شوې سیمې چې په ۲،۵،۱ کې لیست شوې دي.</u><br><br>له دې څخه ډاډه کېدل چې د فرهنګي میراثونو په مشخصو سمیو او د پروژې په راویستل شوو سیمو کې چې د ۲،۵،۱ په برخه کې لیست شوې د امکان تر کچې یې له کیندلو څخه چې په افغانستان کې یې څو زره ځایونه موقعیت لري مخنیوی وشي او په ساختماني سیمو او یا ورسره نیږدې د فرهنګي میراثونو د سیمو موجودیت مشخص شي.<br><br>(ii) <u>د آثارو د کتلو کړنلارې.</u><br>د باستان پېژندنې د سیمو د اثارو د کتلو په وخت کې یې، د باستان پېژندنې کمېټه د حقوقي کړنلارو له لارې پېژني، له غلا کېدو ساتنه او د آثارو کتنې ته رسېدنه، څنګه چې د ژوندانه چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ تشریح کړي، بدلون کوي. لاندې کړنلارې به د آثارو د کتنې د مدیریت په جریان کې د باستان پېژندنې د مصنوعي محصولاتو په ګډون تطبیق شي. |
| | |
| | |

| **د آثارو د کتنې کړنلارې** |
|---|
| د آثارو د کتنې کړنلارې د افغانستان د فرهنګي او تاریخي میراثونو د ساتنې په قانون کې (د ۲۰۰۴ ز کال د ۸۲۸ شمېرې د رسمي جریدې خپاره شوې) تعریف شوې چې د فرهنګي میراث په برخه کې د ګمارل شوو ارګانونو مسولیتونه او صلاحیتونه، د سیمو د پیداکېدو په صورت کې یا هم د پروژې د تطبیق په وخت کې مواد مشخص کوي. |

| |
|---|
| 1. د ساتني مسولیت، مراقبت او د آثارو او تاریخي ودانیو ارزونه، د اطلاعات او فرهنګ وزارت چې د ولایتونو په کچه نمایندګۍ لري، د باستان بېژندني کمېټې ته ورګرځي.<br><br>2. د فرهنګي او تاریخي آثارو د کتنې په صورت کې (منقول او غیرمنقول) د باستان شناسی کمېټه باید په جریان کې واچول شي. هر وخت چې د کار دوام فرهنګي او تاریخي آثار له ګواښ سره مخ کړي، د پروژې کار به د دې آثارو د ساتنې د حل لارې د پیداکولو له پاره، ځنډول شي.<br><br>3. هر وخت چې فرهنګي او تاریخي آثار که هغه منقول او یا غیر منقول وي د یوه ولایت په شاوخوا کې پیداکړل شي، ولسوال یا والي باید د دوو اونیو په بهیر کې خبر کړل شي او هغوی باید د باستان پېژندنې اداره خبره کړي. که چېرې تاریخي او فرهنګي غیر منقول آثار په یوه ښار کې پیداشي، د اطلاعات او فرهنګ د تاریخي او فرهنګي ارزښتونو د ساتنې ولایتي اداره باید د دوو اونیو په بهیر کې خبره کړل شي. که چېرې آثار په مرکز کې پیداکړل شي، باید چې باستان پېژندنې اداره په یوه اونۍ کې خبره شي.<br><br>3. له ټاکلي وخت څخه د آثارو د کتنې د راپور ځنډول به، له یوې اونۍ بیا تر یوې میاشتې پورې بندي خانه ولري.<br><br>5. که یو کس یو تاریخي یا فرهنګي اثر په قصدي توګه ویجاړ کړي، د اثر د معادل ارزښت په ورکړې سربېره به له یوې میاشتې بیا تر لسو کلونو پورې د جرم شدت ته په کتو سره بندي کړل شي. د یوه تاریخي او یا فرهنګي منقول او یا غیرمنقول اثر د لیدو په صورت کې، تطبیق کوونکی ارګان تر هغې چې مسولیت یې پورته یادې ادارې په غاړه وانه خلي، د اثر د غلا کېدو په وړاندې د ساتلو مسول دی. ددې کړنلارو د لازم کېدو په وخت کې، باید د ساختماني قراردادونو د احکامو په څېر مراجعه ورته وشي. |

**7تخنیکي لارښود:** د تېلو او سون توکو مدیریت

| **د اغېزې شرحه** | | |
|---|---|---|
| ککړې اوبه کېدای شي تر سطحي او یا تر سطحه لاندې خاوره کې شاملې وي چې د لمدېدو یا تر ځمکه لاندې اوبو له لارې به سطحي اوبه او دوی ته نژدې سیمې تر اغېز لاندې وي. هر وخت چې تر سطحه لاندې ککړې سرچینې ژر تبخیر کېدونکي مواد ولري، د خاورې بخار به هم په یوه انتقالي او څرګندېدونکې وسیله بدل شي او دغه ککړ مواد به د ساختمان د ننه فضا ته نفوذ وکړي. | | |
| ***د ګواښونو د کمښت له پاره اقدامات*** | | |
| **ستونزې** | **اغېزې** | ***د ګواښونو د کمښت له پاره اقدامات*** |
| د روغنیاتو رېژش | له خطرناکو موادو سره مخ کېدل، کارکوونکي له خطر سره مخ کوي. | - د خطرناکو موادو له انبار کولو مخنیوی. هر هغه وخت چې بیکاره مواد د استفادې وړ نه وي یا هم ژر دویم ځلې استفاده ترې ونه شي، هغه وسوزئ، د استفادې وړ توکي له درنو فلزو څخه په جوړو شوو جعبو کې ونه ساتئ.<br>- د لږ زهري تولیداتو استفاده او تحقیق |
| | کله چې د ماشین آلاتو د جوړولو له امله د هایدرولیک تېل واچول شي، د ماشین روغنیات یا هم نور میخانیکي مایعات مضر کېږي، ځمکه او سطحي اوبه ککړوي. | - د نقلیه واسطو او نورو درنو تجهیزاتو ترمیم باید په نورو ځایونو او یا هم د اوبو ضد سطحه کې لکه پلاستیکي صفحه ترسره شي. د خطرناکو موادو د انبار کولو مخنیوی.<br>- د فاضل تولي اوبه چې د ساختماني موادو په اړونده روغنیاتو ککړې وي باید راټولې (په ښه توګه رسېدنه ورته وشي) او یوه مناسب ځای ته ولېږدل شي چې په ځمکه او په کار ځای کې یې له تیتولو ډډه وشي. |

| | | |
|---|---|---|
| - د سون توکو اړوند ضایعات او نور ټول توکي باید په داسې توګه دفعه شي چې: (i)د اوبو لارې او د فاضله اوبو تګلورې باید بند نه کړل شي،(ii)دفعه شوې مواد نه باید د سېلاب په واسطه پاک کړل شي، (iii) نه باید د خلکو د څوړېدو لامل شي. | | |

**8تخنیکي لاربښود:**روغتیا او خوندیتوب

| ځواکمنې اغېزې | د ګواښونو د کمولو له پاره اقدامات او مخنیوی |
|---|---|
| د زلزلې له امله مړینه او ټپي کېدل:<br><br>د سېلاب له امله مړینه او ټپي کېدل؛<br><br>د ځمکې د ښویېدو او خاورې د شدید خرابوالي له امله مړینه او ټپي کېدل؛<br><br>د سوزېدو له امله مړینه او ټپي کېدل؛ | - د زلزلې ضد کم لګښته جوړو شوو طرحو تطبیق. د شونتیا له مخې، د زلزلو او هغه سیمې چې اور غورځوونکي غرونه لري په فعالو ساحو کې باید د کار مخنیوی وشي. که چېرې دا سیمې تر استفادې لاندې راځي، نو باید د ساختمان په ټول فعالیتونو کې د زلزلې په وړاندې د مقاوم ساختمان هڅه وشي او خبر ورکوونکي سیستمونه باید ولګول شي.<br><br>- په داسې سیمه کې چې سېلابونه په کې راځي د کار مخنیوی وشي. که دا ډول سیمې استفاده کېږي نو د زیربناوو دځمکې د سطحې لوړول، د فاضله اوبو د خالي کېدو تګلورې او د ساتنې دېوالونه ضروري دي. د سېلاب خبر ورکوونکي سیمه ییز سیستم باید نصب شي.<br><br>- د شدیدو بارانونو په موسم کې د فاضله اوبو د خالي کولو مناسبو سیستمونو ته اړتیا ده. په باراني موسم کې د خوندي تشنابونو جوړول د لازمو مدیریتي پلانونو د یوې برخې په توګه و.<br><br>- د ځمکې د ښویېدو او خاورې خرابېدو په وړاندې باید د معروضو سیمو مخنیوی وشي. که چېرې شونتیا وي، طبیعي نباتاب باید د ځمکې د ښویېدو په وړاندې په ضررمنو ځوړندوالو او ټوله سیمه کې وساتل شي، سیمه باید کلابنده شي چې د اوبو د نفوذ مخنیوی وشي او ودانۍ نه باید په معروضو ځوړندوالو (سراشیبي) کې د ځمکې د ښویېدو په وړاندې جوړې شي.<br>- د سوزېدنې په وړاندې خوندیتوب باید په مدیریتي پلان کې شامل کړل شي، د اخطاریو او تېښتې د وسایلو په ګډون، د سوزېدنې د ننه پراختیا، د سوزېدنې بهر پراختیا او د اور د مړ کولو د خدمتونو آسانتیاوې او لاسرسی. |
| د اوبو د کمښت او روغتیایي خدمتونو څخه رامنځ ته شوې ناروغۍ: | - له دې ډاډه کېدل چې ساختمانونه د پاکو او کفایت وړ تشنابونو او پاکو اوبو ته لاسرسي لرې.<br><br>- تر هغې چې یوې ثابتې مرجع د څښلو اوبه نه وي برابرې کړې، نه باید یوه سیمه وټاکل شي. |

| خواکمني اغېزې | د ګواښونو د کمولو له پاره اقدامات او مخنیوی |
|---|---|
| په سیمه کې د زهري توکو د شتون له امله مړینه او ټپي کېدل؛ | - د ځمکې په اوبو یا خاوره کې د زهري موادو د نشتوالي تایید<br><br>- له محیطي پلوه د خطرناکو سیمو د نشتوالي تایید (لکه سپټیک سېپټمونه) د یوه ساختمان د جوړېدو په ساحه کې.<br><br>- د هوا د ککړتیا د خطر د لرلو سیمو یا هم دا چې اوبه یې د صنعتي او سوداګریزو فعالیتونه څخه وي مخنیوی کړل.<br><br>- د کار سیمې نه باید د عمومي سرکونو په ۵۰ کیلومترۍ کې پرتې وي. که د کار د دې ډول سیمو مخنیوی ونه شي، وروسته به د کار په سیمه کې چې موقعیت یې سرک ته ډېر نیږدې دی فعالیت لږ شي او د شونتیا له مخې باید د سیمې د سرک په څنډو موانع ولګول شي څو کثافات او د پېښنو احتمال کم کړل شي. |
| د اوبو له کمزوري کیفیت څخه راولاړې ناروغی:<br><br>د تشنابونو د موادو، د ښار د اوسېدونکو د ضایعاتو او کرنیزو سیمو د نفود په پایله کې د ککړتیا خپرېدل<br><br>د لوړ منرال به لرولو سره د پېښنو تراکم.<br><br>د ولاړو اوبو د بدل رامخ ته کول. | - د کار د سیمې له پاره د فاضله اوبو د خالي کولو د یوه پلان جوړول چې د فاضله اوبو د خالي کولو د سېستم د طبیعي زېربنا لرونکی وي.<br><br>- په پایپونو کې د سوریو پیداکول او د پایپ د شبکې ترمیم ته لومړیتوب ورکول.<br><br>- د نوو سرچینو له نصبولو مخکې د پرتلې وړ نیږدې سرچینو څخه د اوبو د کیفیت کیمیاوي او باکتریایي آزموینه.<br><br>- له ککړتیا څخه د مخنیوي په وړاندې نوې طرحه، که چېرې د پرتلې وړ نیږدې سرچینې ککړې ثابتې شي.<br><br>- د نصب شوو او احیا شوو سرچینو وروستی ارزونه.<br><br>- د ولاړو اوبو د ډنډونو له جوړېدو څخه د مخنیوي له پاره د فاضله اوبو د خالي کولو سیستم د لوله یې او لاسي ځاګانو په شاوخوا کې مناسب ځای.<br><br>- د لاسي ځاګانو له ککړتیا څخه د مخنیوي له پاره د لاسي پمپ او پوښ برابرول.<br><br>- هر وخت چې له سنتي تشنابونو څخه استفاده وشي، باید چې د اوبو له سرچینو څخه لس متره فاصله ولري. تهداب یې باید حایق شي او تر ځمکه لاندې اوبو څخه باید لږ تر لږه په دوه متره ښه خاوره او یا شګوسره بېل شي.<br><br>- هر وخت چې عادي تشنابونه یا هم سپټیک ټانکرونه جوړ شول، هغوی باید حایق کړل شي. یوه ژورغالي ته یې د اوبو لاره باید د اوبو له سرچینو څخه لس متره لرې وي یا هم دا چې د فاضله اوبو د خالي کولو یو فعال سېستم نصب شي. |

| د ګواښونو د کمولو له پاره اقدامات او مخنیوی | ځواکمني اغېزې |
|---|---|
| - سم روغتیایي خدمتونه باید د ساختماني کار له پیل کېدو مخکې لږ تر لږه د سطحي اوبو له سیستم څخه ۳۰ متره او د ځمکې د تل له اوبو څخه ۵ متره لرې برابره شي.<br>- له تشناب څخه د کار اخیستو اجتماعي خنډونو ته د رسېدو او کافي تشخیص پاملرنه.<br>- د سپټیک ټانکرونو، تشنابونو د خالي کولو او له ساحې څخه لرې د راټولو شوو موادو لېږدونهاو ورته رسېدنې له پاره، د یوه باور وړ او خوندي سېستم له کاروني ډاډه کېدل، (یعنې د میخانیکي تشې یو پمپ، بل ټانکر یا کانټینر، د تشولو په وخت کې د ژورغالي د رڼګېدلو دمخنیوي له پاره له ډېرې کار اخیستل، د ساتونکو جامو اغوستل، د اوږدو لستونو لرونکې کمیسونه او پتلون، موزې، ربړي لاسپوښونه، ماسک، د سترګو ساتونکې، او همدارنګه د مینځلو کافي آسانتیاوو ته لاسرسی په تودو اوبو او صابون)<br>- له دې ډاډه کېدل چې راټولو شوو موادو ته په کافي اندازه رسېدنه وشي او په مستقیمه توګه ځمکه ته یونه وړل شي یا هم به ناسمه توګه دفع نه شي. | روغتیایي |
| - په سرکونو کې په مناسبو ځایونو کې د ساختماني کار نښې ولګول شي چې تېرېدونکو ته خبر ورکړل شي. د ساختماني کار اړ استوګنې په ساحه کې نه باید چې وسایط په ساعت کې له ۱۵ کیلومتر څخه ګړندي وي.<br>- د ساختمان له سیمې سره نژدې ټول کسان باید امنیتي خولۍ په سر کړي. له دې ډاډه کېدل چې د حفظ او مراقبت کارکوونکي د لومړنیو مرستو په برخه کې او تر روغتیا، په ساحه کې تر امنیت او زده کړو پورې ټولې تړلې برخې وويني. | له ساختماني چارو راو لاړېدونکي پېښې |
| - د اوبو د ذخیرې شاوخوا، د فاصله اوبو د یوه ښه سیستم له موجودیت څخه ډاډه کېدل او د ولاړو اوبو د ډنډونو د جوړېدو مخنیوی (یعنې، د مناسبې طرحې له لارې، نصب او ځانګړې ژورغالی)<br>- د اوبو د کنټرول له پاره د یوې وسیلې جوړول یا ورته سیستم چې په لاس او یا خوله له اوبو سره د خلکو د تماس مخه ونیسي.<br>- د اوبو په ذخیره کې د ککړوونکو موادو مخنیوی. | د ولاړو اوبو له ډنډونو څخه پېښې شوې ناروغۍ او تر اوبو پورې نورې اړوندې ناروغۍ |

**څلورمه ضمیمه: د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د سروې پاڼه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| **1. د پروژې معلومات** | | | |
| د ارزوونکي نوم: | | نېټه: | |

| | |
|---|---|
| 2 د فرعي پروژې ځانګړتیاوې: د موقعیت نقشه ورسره یو ځای کړئ (د طول البلد او عرض البلد همغږي (د جي پي آر ایس لوستل) | |
| د فرعي پروژې نوم: | |
| موقعیت:<br>(سیمه/ناحیه/کلی) | |
| د فعالیت ډولونه: | |
| اټکل شوی لګښت: | |

| | |
|---|---|
| د کار د پیل وړاندیز شوې نېټه: | |
| آیا نقشه/ تخنیکي ځانګړتیاوې تکرار شوې دي؟ | هو/نه |

| 2 فزیکي اطلاعات | څرګندونې |
|---|---|
| په هکتار د فرعي پروژې سیمه | |
| د موجودې ځمکې د استفادې په اړه پراختیا یا بدلونونه | |
| فرعي پروژې ته د لېږد په اړه د هر ډول موجوده ملکیت | |
| د نوې ودانۍ له پاره هر ډول پلان | |
| ایا مهمې طبیعي ودانۍ له سیمې سره نژدې شته دي؟ | |

| **2 د ځمکې او ژوندانه چاپېریال لومړني معلومات** | **هو/نه** | **څرګندونې** |
|---|---|---|
| آیا د دې فرعي پروژې له پاره د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزونې ته اړتیا شته ده؟ که اړتیا وي، نو د ترسره کولو له پاره یې جواز شته دی؟ | | |
| د فرعي پروژې یا مسولینو په وړاندې په ځانګړې توګه د ژوندانه د چاپېریال د طبیعت په اړه کوم شکایت یا دعوه شته؟ | | |
| آیا فرعي پروژه به د ځمکې استملاک ته اړتیا ولري؟ | | |
| د مالکیت وضعیت، ځمکه څه ډول ده (عرفي قباله، اجازه او که نور)؟ | | |
| آیا د اجاره شوې ځمکې کوم شواهد شته دي، (اقرار خط او یا کوم بل اسناد)؟ | | |
| آیا د ځمکې په اړه ناحل شوې شخړې شته؟ | | |
| په اوس وخت کې له ځمکې د کوم مقصد له پاره کار اخلي (کرنه، باغ او که نور)؟ | | مهمې سرچینې لیست کړئ |
| آیا وړاندیز شوي فعالیتونه به د اکو سیستم په خدمتونو، د ژوندانه بېلابېل مسایل او یا هم طبیعي استوګنځیو، اغېزه ولري؟ | | |
| آیا فرعي پروژه به د حشرو ضد درملو ته اړتیا ولري؟ | | |
| آیا غوښتونکی (شرکت) د محیطي مدیریت د یوه فعال سیستم لرونکی دی؟ | | |
| آیا غوښتونکي په اوس وخت کې له مناسبې تکنالوژۍ او بهتره طریقو کار اخلي؟ | | |

**5. د اغېزو پېژندل او تقسیم بندي کول:**

د یوې فرعي پروژې په نظر کې نیولو سره، د وړاندیز شوي سایټ حساسیت، د ورکړل شوو معیارونو له مخې په لاندې جدول کې وټاکئ. پورته نومره بندي خامخا د سایټ د نامناسب والي له امله نه ده. هغوی د اجتماعي او ناغوښتل شوو بې خونده محیطي اغېزو له پاره یو واقعي ګواښ ښیي چې کېدای شي اجتماعي او محیطي پلان جوړونې ته یې ډېره اړتیا وي څو احتمالي اغېزې په کافي اندازه کمې، مدیریت او مخه یې ونیسي. لاندې جدول باید د یوې مرجع په توګه وکارول شي.

| مسایل | د سیمې حساسیت | | |
|---|---|---|---|
| | ښکته | متوسط | لوړ |
| طبیعي استوګنځي | هېڅ ډول طبیعي استوګنځي نشته دي | هېڅ ډول مهم طبیعي استوګنځي نشته؛ وروسته طبیعي استوګنځي واقع کېږي. | مهم طبیعي استوګنځي شته دي. |
| د اوبو کیفیت، استفاده او د اوبو سرچینو ته لاسرسی | د اوبو جریان له موجودې تقاضا څخه ډېر دی؛ د اوبو ښکته استفادې؛ هیله کېږي چې د اوبو احتمالي ناجوړښتونه لږ شي؛ د اوبو د کیفیت په اړه احتمالي مسایل نشته دي. | د اوبو متوسطه استفاده؛ د اوبو متعدد استفاده کوونکي؛ د اوبو دکیفیت مسایل مهم وي. | له اوبو شدیده استفاده؛ د اوبو متعدد استفاده کوونکي؛ د ناجوړښتونو له پاره احتمال لوړ دی؛ د اوبو د کیفیت مسایل مهم دي. |
| طبیعي خطرونه، ضرر رسېدل، سېلابونه، د خاورې ثبات یا خرابېدل | اوارې ځمکې؛ د ځواکمنو ستونزو نشتوالی، د خاورې ثبات، د اورغورځوونکو غرونو د ګواښونو نشتوالی، زلزله او سېلاب | متوسط ځوړندوالي، د خاورې د خرابوالي احتمال؛ د آتشفشان، زلزلې، سېلاب او طوفان له امله متوسط ګواښونه. | غرنۍ سمیې؛ ځوړندوالي؛ بې ثباته خاورې؛ د خاورې د خرابوالي لوړوالی؛ د آتشفشان خطر، زلزله او سېلاب |
| فرهنګي ملکیت | د فرهنګي میراث سیمې نامعلومه وي یا هم تر شک لاندې دي. | تر شک لاندې فرهنګي میراث سیمې، تر لوی نفوذ لاندې معلومې فرهنګي سیمې | د پروژې په ساحه کې د معلوم میراث سیمې |
| غیرداوطلبانه بیا استوګن کېدل | د ښکته نفوس تراکم، متفرق نفوس، قانوني اجاره په ښه توګه تشریح شوې ده، د اوبو ښه حقوق تعریف شوي دي. | د نفوسو متوسط تراکم، ګډې دارایۍ، د ځمکې اجاره، د اوبو حقوق په ښه توګه تعریف شوي دي. | د نفوس لوړ تراکم، کلیدي ښارونه او کلي، ښکته عاید لرونکې کورنۍ یا هم د ځمکې غیر قانوني ملکیت، مشترک ملکیتونه، د اوبو ناڅرګند حقوق. |
| د سیمې خلک | غیر بومي نفوس شته دی | بومي ګډ او متفرق نفوس، ګډ بومي او متفرق نفوس، بومي ډېر فرهنګ پاله نفوس | بومي قلمرونه، ذخیرې او ځمکې، ضرر منونکي بومي نفوس. |

**6. د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي اغېزو د لیس کتل**

| د (د نویو ساختمانونو جوړولو) فعالیتونه | د بې خونده اغېزو احتمال | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | هېڅ یونه | ښکته | متوسط | لوړ | نامعلوم |
| د خاورې خرابوالی یا هم له سېلاب څخه اندېښنې (د بېلګې په توګه، د داسې خاور له امله چې د فرسایش لوړه وړتیا لري. | | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د عبوري او مزاحمتونو يو شمېر ويالې | | | | | |
| د باران د موسم کيندنې | | | | | |
| د کانونو د راويستنې د سيمو جوړول يا هم د خاورې اخيستنې ځانګړې ځايونه | | | | | |
| د نباتاتو عمده له منځه وړل | | | | | |
| د غير اهلي حيواناتو او نفوسو د استوګنې ځايونو اغېزمن کېدل | | | | | |
| له محيطي پلوه دحساسو سيمو اغېزمن کېدل | | | | | |
| د ديني يا فرهنګي سيمو اغېزمن کېدل | | | | | |
| د فزيکي يا اقتصادي بيا استوګن کېدو لازم والی | | | | | |
| د نوي استوګن کېدو د ايجاد فشار | | | | | |
| ټولې چارې دې (ځرګندې شي): | | | | | |
| د سرک جوړول نوی لاسرسی | | | | | |
| د فاصله اوبو د خالي کولو د موجوده شرايطو بدلون | | | | | |
| دنباتاتو له منځه وړل | | | | | |
| د باراني موسم د خاورې اغېزمن کېدل | | | | | |
| په ځنګلونو او يا نيږدې ځمکو د ساختماني موادو اغېزه | | | | | |
| د خاورې اخيستنې د ځانګړو ځايونو جوړول | | | | | |
| د ديني يا فرهنګي سيمو اغېزمن کېدل | | | | | |
| په موجوده ذخيره کې د اوبو د ذخيرې پراختيايي اغېزې | | | | | |
| د موادو د دفعې په موجوده سيمو د روغتيا د پراختيا اغېزه | | | | | |
| د موادو د دفعې په موجوده سيستم کې د طبي ضايعاتو اغېزې | | | | | |
| د اقتصادي يا فزيکي بيا استوګن کېدو لازم والی | | | | | |
| له پروژې څخه د ځواکمنو کسانو اغېزمن کېدل | | | | | |
| داخلي کډوالي/ د آسانتياو د پراختيا له پاره ځای په ځای کېدل | | | | | |
| د وړتيا نشتوالی/ د آسانتياوو په برخه کې بې تجربې والی | | | | | |
| ټولې چارې دې (وټاکل شي): | | | | | |

**7. د ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي شوني اغېزې او د فعاليتونو ډولونه وپېژنئ:**

**ممکنه اجتماعي او محيطي اغېزې څه دي او هغه ګواښونه چې تر پروژې پورې اړوند دي کوم دي؟**

8. د ګواښونو د کموالی او مديريت په اړه اقدامات چې استفاده به ترې وشي.

هغه اجراآت چې د ګوابنونو د مدیریت، کموالي او احتمالي اغېزو اړتیا ده لیست کړئ.

9. له سیمې څخه د لیدو له پاره د اجتماعي او محیطي ارزونو کتنې:

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

**10. د سروې د لاسته راوړنو په بنسټ د کټګورۍ ټاکل: ب______________**
**ج______________________**

| | |
|---|---|
| د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزونه | |
| د ژوندانه د چاپریال د مدیریت پلان | |
| د بیا استوګن کېدو کاري پلانونه | |
| د اجتماعي اغېزو ارزونه | |
| | |

کتونکي: ______________________________
لاسلیک ______________________________
نېټه: ______________________________

**پنځمه ضمیمه: د فرعي پروژې کاري شرایط چې د اجتماعي اغېزو ارزونه لازمي کوي.**

د سروې د پایلو او حدودو د ټاکلو په بنسټ به د اجتماعي اغېزو د ارزونې کاري شرایط برابر شي. یو مشورتي شرکت (یا یو کس) د اجتماعي اغېزو ارزونه مخ ته وړي چې راپور باید په لاندې توګه وي:

**پېژندنه او برخلیک:**
دغه برخه په یوه مشخص وخت کې بشپړه شوې ده چې د مطالعې د طریقې او تر محتوا پورې اړوند معلومات به په کې شامل وي.

**د مطالعې هدفونه**
دغه برخه د لاندې چارو ښودونکې ده: (۱) د پروژې هدفونه او فعالیتونه، (۲) هغه فعالیتونه چې کېدای شي د اجتماعي منفي اغېزو لامل شي او د ګواښونو د کمښت له پاره د کافي اقداماتو لازم والی ښیي.

**د کارونو ماموریت**
مشاور باید لاندې چارې په نظر کې ونیسي:

- د بیوفزیک د مشخصاتو شرحه چې په هغې کې به د پروژې فعالیتونه حقیقت پیداکړي او د کلیدي محدودیتونو تشخیص چې د پروژې د تطبیق په جریان او د ساحې په تیارېدو کې په نظر کې ونیول شي.
- د پروژې تر فعالیتونو پورې اړوند، د ګواښونو د کمښت له پاره د اټکلونو او لګښتونو په ګډون د کافي اقداماتو وړاندیز او پیاوړو اجتماعي اغېزو ارزونه؛
- ارزونه د جامدو او مایعو ضایعاتو مدیریت ته اړتیا او په خوندي توګه یې د دفعه کولو په برخه کې د وړاندیزونو وړاندې کول دي.
- د فعالیتونو د پیاوړتیا له پاره د وړاندیزونو وړاندې کول تر اجتماعي او هویتي محدودیتونو پورې اړوند په ملي او نړیواله کچه د سازماني، حقوقي او سیاسي چوکاټ بیاکتنه
- د مسولیتونو ټاکل، مسول کسان او د ګواښونو د کمښت له پاره د وړاندیز شوو اقداماتو تطبیقول،
- د ګواښونو کمښت، زده کړه، وړتیاوو د لوړولو او د هغو د لګښتونو د اټکل له پاره د وړاندیزونو وړاندې کول او د وړاندیز شوو اقداماتو د تطبیق په منظور موجوده وړتیاوو ته لاسرسی
- د پروژې له پاره د اجتماعي مدیریت د یوه پلان برابرول. د اجتماعي مدیریت په پلان کې باید لاندې چارې شاملې وی: (۱) د پروژې له فعالیتونو څخه رامنځ ته کېدونکې اجتماعي اغېزې، (۲) د ګواښونو د کمښت له پاره وړاندیز شوي اقدامات، (۳) د تطبیق له پاره سازماني مسولیتونه، (۴) د څارنې شاخصونه، (۵) د څارنې له پاره سازماني مسولیتونه او د ګواښونو د کمښت له پاره د اقداماتو تطبیق، (۶) د فعالیتونو لګښتونه، (۷) د تطبیق زماني جدول.

**عامه مشورې**
له سیمه ییزو ټولنو، غیر حکومتي موسسو، سیمه ییزو ادارو او نورو موسسو څخه چې په کلیدي توګه د پروژې په فعالیتونو کې شاملې وي، د ګواښونو د کمولو له پاره د وړاندیز شوو وړاندیزونو، اجتماعي اغېزو او ارزونو د پایلو په اړه تر بحث لاندې نیول کېږي. له دې عامه مشورو څخه به وړاندیزونه، د اجتماعي اغېزو په راپور کې شامل شي.

**د اجتماعي اغېزو د ارزونې د راپور طرحه**

- د پوښ پاڼه (Cover Page)
- د مطالبو فهرست
- د لنډونو لیست
- د اجراآتو خلاصه
- پېژندنه
- د پروژې د فعالیتونو شرحه
- په پروژه کې د ژوندانه د چاپېریال شرحه
- د پالیسی شرحه، قانوني او سازماني چوکاټ

- د لارو شرحه، هغه تکنیکونه چې په ارزونه کې ګټه ترې اخیستل شوې او د پروژې د اغېزو پروژه
- د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت چوکاټ د ګواښونو د کمښت له پاره وړاندیز شوي اقدامات
- د نظارت او تطبیق له پاره سازماني مسولیتونه، د ستراتیژۍ د مدیریت د پلان له پاره مختصر جدول
- وړاندیزونه
- مراجع
- د کسانو لیست/ملاقات شوي سازمانونه

**د مشاور لیاقت**

د هغې د ښوونیو کړنو په بنسټ او د ښووني کار د کیفیت له مخې به د اجتماعي اغېزو د ارزونو د مطالعې له پاره مشورتي شرکت وټاکل شي.

**د مطالعې وخت**

د مطالعې وخت به د فعالیت د ډول له مخې وټاکل شي.

**د وروستي راپور برابرول**

مشورتي شرکت به وروستی راپور د لوړو زده کړو وزارت او نړیوال بانګ څخه د څرګندونو له ترلاسه کولو یوه اونۍ وروسته برابر کړي. په وروستی راپور کې به د دې ارګانونو څرګندونې هم شاملې وي.

**شپږمه ضمیمه: د محیطي اغېزو د اجرا کولو د ډول جزیات**

**پیلیزه**: د ارزونو د اجراء کولو د ډول د جزیاتو توضیح.

**د شالید په اړه معلومات**: د دې وړاندیز شوې طرحې هدفونه، عمده برخې او د اړتیاوو مختصره شرحه،

**هدفونه**: د تیارۍ له پاره مهال وېش، ډیزاین او یا د پروژې د منظورۍ د طرحه کولو پروژه او د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونو د ترسره کولو د ډول خلاصه،

**د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزوني شرایط**: د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونو د ترسره کولو او یا یې د راپور د محتویاتو د مشخص کولو له پاره د مدیریتي لارښودونو او مقررو مشخص کول.

**د تحقیق ساحه**: د وخت، ځای او د دې څېړني د قضایي محدودې مشخص کول.

**کاري شاوخوا**: د هغو دندو مشخص کول چې باید ترسره شي، معلوماتي کمښتونه چې باید بشپړ کړل شي، مطالعې چې باید ترسره شي، میتودولوژي ګانې او نور.

**لومړۍ دنده**. د پروژې د مقصد توضیح: تر پروژې پورې اړوندو څانګو مختصره شرحه، که لازمه وي له نقشو کار اخیستل (په یوه کچه او مناسب میزان) برابرېږي.

**دویمه دنده**. د ژوندانه د چاپېریال په اړه توضیحات: راټولول، تر ارزوني لاندې سیمې اړوند د اساسي اطلاعاتو وړاندې کول. د پروژې له پیل مخکې د هر ډول منتظره بدلونونو په اړه د معلوماتو شاملول.

**درېیمه دنده**. تنظیمي او قانوني کتنې: د محیطي، سلامتي او خوندیتوب، د حساسو سیمو ساتنه، د انقراض د خطر، استوګنځایونو، له ځمکې څخه د کاروني کنټرول په وړاندې د حفاظت ډولونه (بوټي او ځناور) او نورو په اړه د پیاوړو معیارونو او مقررو شرحه.

**څلورمه دنده**. د وړاندیز شوې پروژې د پیاوړو اغېزو مشخص کول: د منفي او مثبتو هغو اغېزو توپیر کړل چې سترګې ور اوړي، مستقیمې او غیر مستقیمې اغېزې، سملاسي او اوږمهاله اغېزې. د هغو اغېزو مشخص کول چې د منلو او بدلون وړ نه وي. د شونتیا له مخې، د محیطي خوندونو او لګښتونو له مخې د یوې اندازې اغېزو شرحه کول.

**پنځمه دنده**. د وړاندیز شوې پروژې له پاره د بدیلو لارو تحلیل: بدیلې شرحې چې د وړاندیز شوې پروژې د طرحه

کولو په جریان کې آزمویل شوې وي او له هدف سره د ورته بې‌لابې‌لو بدیلو لارو مشخص کول.

**شپږمه دنده**. د منفي اغېزو د کمښت له پاره د مدیریتي پلان طرحه: د پام وړ منفي اغېزو کمښت د مخنیوي له پاره عملي او کم لګښته اقداماتو سپارښتنه، په معقولو درجو او د دې اقداماتو د تطبیق له پاره د ضروري عمل شرحه.

**اوومه دنده**. د ژوندانه د چاپېریال په ارزونه کې د سپارښتنو د تطبیق له پاره د سازماني اړتیاوو پېژندنه: په سیمه بیزه، ولایتي یا منطقوي او ملي کچه د ادارو د توانایۍ او صلاحیتونو ارزونه. د دې صلاحیتونو او توانایۍ د پراختیا او پیاوړتیا له پاره د مرحلو وړاندیز، تر دې چې د ژوندانه د چاپېریال په ارزونه کې د مدیریت پلانونه تطبیق کړای شي.

**اتمه دنده**: د څارنې د پلان طرحه کول: د کار او ساختماني فعالیتونو په جریان کې د پروژې د اغېزو د کموونکو اقداماتو د تطبیق د څارنې له پاره د یوه مفصل پلان برابرول.

**نهمه دنده**. د خلکو او غیرحکومتي موسسو برخه اخیستل او د ادارو تر منځ همغږي: د کورنیو غیرحکومتي موسسو، اغېزمنو ډلو، د مجلسونو د اسنادو او نورو فعالیتونو د هوکړو، ارتباطاتو، نظریاتو او د دوی د تایید په اړه د څرګندونو د لاس ته راوړلو، د توافقاتو د څرنګوالي شرحه.

**د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزونې راپور**:راپور باید تر محیطي او اجتماعي مسایلو پورې محدود وي. اصلي متن باید د ترلاسه شوو، جمعه بندۍ او سپارل شوي کار پورې متمرکز وي او راټول شوي معلومات او نقل قولونه به د مرجع په توګه د کارولو له پاره په ضمیمه کې ولري.

## اوومه ضمیمه: د ژوندانه د چاپېریال د پلان د مدیریت د ترسره کولو د ډول جزیات

د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان په داسې یوه لاره بیان شي چې کار اخیستل ورڅخه اسانه او ساده وي. په پلان کې درج شوی ماخذ به هم په څرګنده او آسانه توګه د تشخیص وړ وي. همداراز، د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلان اصلي متن باید د امکان تر کچې له مفصلو معلوماتو سره حواله شوی وي او د ضمیمو له پاره څرګند او خلاصه وي. د ژوندانه د چاپېریال پلان باید د پروژې له ټولو پلانونو لکه د بیا استوګن کېدو تر مسایلو پورې اړوند پلانونو سره اړیکه مشخصه کړي. د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلانونه باید لاندې چارې تر بحث لاندې ونیسي:

<u>د اغېزو خلاصه</u>:وړاندوېینه شوي منفي اجتماعي او محیطي اغېزې، چې کمښت ته اړتیا لری باید مشخصې شي او په مختصره توګه خلاصه کړل شي.

<u>د کمښت ورکوونکو اقداماتو شرحه</u>:د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان عملي او کم لګښته اقدامات مشخص کوي څو پیاوړي منفي محیطي او اجتماعي اغېزې د منلو وړ درجو ته راښکته کړي. هر کموونکی اقدام باید په مختصره توګه تر اړتیا وړ شرایطي او اړوندو اغېزو پورې عطف شي (د بېلګې په توګه، په پرلپسې یا هم په احتمالي توګه) تشریح کړل شي. دغه اقدامات باید په ډیزاینونو، توضیحاتو او عملیاتي کړنلارو چې د بې‌لابې‌لو اقداماتو د تطبیق د تخنیکي اړخونو جزیات برابروي، ضمیمه کړل شي. په هغه ځای کې چې کېدای شي کموونکي اقدامات د ثانوي اغېزو لامل شي، لاسته راوړنې یې باید و ارزول شي.

<u>د څارنې د پروګرام شرحه</u>:د ژوندانه تر چاپېریال پورې تړلي اجراآت او څارنه باید په داسې توګه طراحي کړل شي چې د کمښت د اقداماتو له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه شي، مطلوبه پایله لاس ته راشي او دا چې که کمښت ورکوونکي اقدامات کافي نه وي او یا هم د ژوندانه د چاپېریال د ارزونو په راپور کې کم اټکل شوي وي، باید چې نور د چارې وړ اقدامات په کار واچول شي. همداراز له ملي معیارونو، شرایطو او د نړیوال بانک له لارښودونو سره جوړجاړی هم و ارزول شي.

د څارنې پروګرام باید د تشخیص شوو اغېزو تر منځ اړیکي، د ژوندانه د چاپېریال د اغېزود ارزونې په راپور کې، د اندازې وړ شاخصونو، طریقې چې باید وکارول شي، د موقعیتونو نمونه اخیستل، د اندازه نیونې د دفعاتو شمېر، د محدودیتونو کشف (چېرته چې وړ وي)، او د ټاکلو حدودو پېژندنه او اصلاحي کړنو ته اړتیا په

ځرګنده توګه وښيي. سره له دې چې اړتيا نشته چې د څارنې بشپړ جزيات، د ژوندانه د چاپېريال د مديريت په پلان کې ولري، خو بايد داسې لارې تشريح کړي چې له مخې يې څارونکې وروستۍ هوکړې ترسره شي.

<u>سازماني هوکړې:</u>د کمښت او څارنې مسولیتونه بايد په ځرګنده او واضحه توګه تعريف شي. د ژوندانه د چاپېريال د مديريت پلان بايد د دغېزو د کمښت د بېلابېلو فعاليتونو تر منځ د همغږۍ هوکړې مشخصې کړي.

<u>بوديجه:</u>د څارنې او کمښت د اقداماتو د تطبيق له پاره د اټکلي لګښتونو مشخص کول.

د ژوندانه د چاپېريال د مديريت د پلان له پاره بايد مثالي فرمتونه برابر کړل شي.

د ژوندانه د چاپېريال د مديريت نمونه د ودانيو بيارغونې يا اعمار له پاره په ضميمه کې موجوده ده.

**د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان**

**الف. د کوابنونو کمښت**

| د پروژې فعالیت | د ژوندانه د چاپېریال احتمالي او اجتماعي اغېزې | د کوابنونو د کمښت له پاره وړاندیز شوي اقدامات (د قوانینو او مقرراتو د تطبیق په ګډون) | مسؤلیتونه | د لګښتونو اټکلونه | نظریات (د بېلګې په توګه، ثانوي اغېزې) |
|---|---|---|---|---|---|
| له ودانولو مخکې پړاو | | | | | |
| د ودانولو پړاو | | | | | |
| د اجراآتو، حفظ او مراقبت پړاو | | | | | |

**د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان**
**ب. څارنه**

| د کوابنونو د کمښت له پاره وړاندیز شوي اقدامات | هغه پارامترونه چې باید وڅارل شي | موقعیت | پرتلني (د طریقو او وسایلو په ګډون) | د پرتلني دفعه کوني | (د راپور او ارزوني په ګډون) مسولیتونه | د (وسایلو او کسانو) لګښت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| له ودانولو مخکې پړاو | | | | | | |
| د ودانولو پړاو | | | | | | |
| د اجراآتو، حفظ او مراقبت پړاو | | | | | | |

## د ودانیو د بیارغوني او جوړول له پاره د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلان نمونه

| اغېزه | د کمښت اقدامات | د څارنې شاخص | مسئولیت |
|---|---|---|---|
| **ډیزاین او سیمه** | | | |
| له ځمکې څخه د استفادې په ډول کې بدلون | له دې ډاډه کېدل چې د پروژې د کارځای سیمه تر نیوکې لاندې نه نیول کېږي او فعالیتونه وکولای شي په شاوخوا ځمکو کې د کارځای له ټاکنې مخکې ترسره شي. | په سیمه ییزه پلان جوړونه کې د سیمې د خلکو برخه اخیستل | د سیمې خلک/ غیرحکومتې موسسې/ په ولسوالیو کې د ځمکې د بیې معلومولو ادراه |
| د مهمو سیمه ییزو فرهنګي او تاریخي سیمو نړول | د دې تصدیق ارزونه چې سیمه ییزې وحشي ځېږې او یا تر ګواښ لاندې او مهم اکو سیستمونه په منفي توګه اغېزمن نه شي. که تشخیص کړل شي چې اغېزې ډېرې زیاتې جدي دي، له یوه بدیل ځای څخه باید استفاده وشي. | د ژوند ډول ډول درجې (د وحشي ډولونو شمېر) د پروژې د کار د سیمې په شاوخوا کې د پروژې له کار څخه د مهمو استوګنځیو اغېزمن کېدل. | د افغانستان د ژوندانه د ساتنې اداره/ په ولسوالیو کې د ژوندانه د چاپېریال ساتنې دفترونه |
| په فاضله اوبو او جامدو کثافاتو د اوبو او خاورې ککړېدل | د جامدو او انساني کثافاتو د له منځه وړلو د سیستمونو له پاره د سیمې ټاکل څو تر ځمکه لاندې او سطحې اوبو له ککړېدو مخنیوی وشي، په ځانګړې توګه خاوره او تر ځمکه لاندې او سطحې اوبو ځانګړتیاوې په نظر کې ونیول شي. د جامدو کثافاتو له پاره د مناسبو او کافي سیستمونو نصب کول. د بېلګې په توګه، له سطحي تشنابونو کار اخیستل (په کلیو کې دود شوي) په هغو سیمو کې هلته د اوبو سطحه لوړه ده. | په سیمه ییزه پلان جوړونه کې د خلکو برخه، د بیمارۍ پېښې | د سیمې خلک/ غیرحکومتې موسسې/ د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ولسوالی کارکوونکې |
| د ممکنه طبیعي ګواښونو له امله اوسېدونکو ته د ګواښ رامنځ ته کول | له دې ډاډه کېدل چې د پروژې کارځای د ځمکې ښوېېدو، اورغورځوونکو غرونو، یا سېلابونو په سیمه کې نه دی. تر ۲۰ سلنه ډېر نشیب ونه لري، یا په هغو ټیټو سیمو کې چې په احتمالي توګه د ځنګلونو د پرې کېدو لامل کېږي او یا هم د ځمکې پاکېدو ته اړتیا وي. | د شدیدو طوفانونو په جریان کې د باران د اندازې څارنه. په ورځ کې له درې انچو څخه تر څلور انچو ډېر باران، یا په ساعت کې نیم انچ د ځمکې د ښوېېدو لامل کېږي. د خاورې له بې خایه کېدو څخه څارنه، په ډېر ژوروالي سره د ژورغالو له امله کولای شي په مستقیمه توګه د شکل د بدون د ځانګړتیاوو منعکس کوونکې چې د ځمکې د ښوېېدو لامل کېږي.<br>په اقلیم، هوا پېژندنې او زلزلې پورې تړلو خبر ورکوونکو سیستمونو تکیه کول. | په ولسوالیو کې استوګن د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ادارې کارکوونکي |

| اغېزه | د کمښت اقدامات | د څارنې شاخص | مسئولیت |
|---|---|---|---|
| | که د پروژې کار ځای د طبیعي ګواښونو په سیمه کې وي، یوه بدیله سیمه باید وټاکل شي یا هم باید د ګواښ د کمولو له پاره مناسب اقدامات ونیول شي څو په سیمه کې ګواښ حد اقل ته ورسوي. اقدامات باید د اور د بندېدو د موانعو، د نشیبونو استحکام، د فاضله اوبو د شبکو جوړول، یا هم د اوسېدو سیمې په لوړو غونډیو جوړولو شامل وي. | | |
| له سیمې سره نژدې د انساني فعالیتونو له امله اوسېدونکي له ګواښ سره مخ کول. | له دې ډاډه کېدل پروژه په (۱ کیلومتري) ساحه کې، د ککړوونکو سرچینو تر اغېزې لاندې او یا هم د کارخانو او نورو په ګډون ګواښ جوړوونکي نه وي. له دې ډاډه کېدل چې پروژه د ککړوونکو سرچینو له خوا د بادونو د راتلو په لاره کې نه وي. | که د ځمکې لاندې اوبه د څښلو له پاره استفاده کېږي، د کیمیاوي موادو له پاره او په مکروب د ککړوالي له امله معاینه کړل شي. د صوتي ککړتیا د سرچینو تشخیصول او په منظمه توګه یې څارنه کول. | د سیمې خلک/په ولسوالیو کې استوګن محیطي کارکوونکي |
| د ځنګلونو د پرې کېدو لامل کېدل | که ځنګلونه ډېر وي یا هم ځینې سیمه بیزې ساحې د ارزښت وړ وي، بدیل کارځای باید ولټول شي. د هرې ونې د پرې کېدو په بدل کې باید د اوسېدونکو له لېږد ۶ میاشتې وروسته ۲۰ ونې ورته کېښودل شي. | د کار د سیمې هره ورځ تفتیش او د ارزښت لرونکو سیمو ارزول. د ساختمان د کار په وخت کې د یو شمېر ونو پرې کول او په ځای یې یو شمېر نورې ونې ایښودل. | په ولسوالیو کې استوګن د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ادارې کارکوونکي |
| د سون توکو لکه تېل، لرګي او برېښنا له کچې د ډېرو کارولو پیل | د ګاز او لمریزې برېښنا په ګډون د انرژۍ د ټولو ډولو هڅول | د انرژۍ له سرچینو ګټه اخیستل لکه ( ګاز، برېښنا او لمریزه برېښنا) | د سیمې خلک/ په ولسوالیو کې استوګن د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ادارې کارکوونکي |
| دهوا د بدلېدو نابشپړ سیستم | په داسې توګه د ودانۍ ډیزاین کول چې د هوا بدلېدو سیستم د ګرمېدو او یخلې په سرچینو کې په کافي اندازه وکارول شي. د باد د راتلو له تګلورې ګټه واخیستل شي. | د هوا پاکولو د سیستمونو هره ورځ کتل | په ولسوالیو کې استوګن د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ادارې کارکوونکي |
| د جامدو کثافاتو نابشپړ مدیریت | د کثافاتو د دفعه کولو له پاره د مدیریت د یوه پلان برابرول او تطبیقول، د سیستم د حفظ او مراقبت په ګډون، د کثافاتو له منځه وړل، تر ځمکه لاندې اوبو اغېزې او د باد لګېدو تګلورې. | د له حده ډېرو کثافاتو له امله د سیمې د خلکو شکایتونه، د پروژې په کار کې د ځمکې د لاندې اوبو کیفیت په ځانګړې توګه د اوبو سرچینو ته نیږدې. | په ولسوالیو کې استوګن د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ادارې کارکوونکي |
| د روغتیایي اسانتیاو د کمښت له امله (اوبه، فضلات او د جامدو کثافاتو | روغتیایي امکانات باید د پروژې په ډیزاین کې شامل کړل شي. له دې ډاډه کېدل چې ټول روغتیایي امکانات نصب شوي دي او د تصرف کوونکو له تګ | په سیمه بیزو پلان جوړونو کې د سیمې د خلکو برخه اخیستل | د سیمې خلک/ په ولسوالیو کې استوګن د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ادارې کارکوونکي |

| اغېزه | د کمښت اقدامات | د څارنې شاخص | مسئولیت |
|---|---|---|---|
| دفع کول) د روغتیایي زیانونو رامنځ ته کول | وروسته به هلته فعال وي. | | |
| د اوبو رسونې د سیستم ناخوندي کول | له دې ډاډه کېدل د اوبو رسولو د موقعیت ټاکل او د اوبو رسولو د تکنالوژۍ ټاکنه، روغتیا ته متوجه ګواښونه لږ کچې ته ورسوي. | د اوبو له کیفیت څخه د موسمي معاینات‌و ترسره کول، په ځانګړې توګه د کولیفورم او ارسنیک باکتریانو له امله معاینه. | په ولسوالیو کې استوګن د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د اداري کارکوونکي |
| د پروژې په سیمه کې د اجتماعي اغېزو لامل کېدل | یوه معاینه کړل، د شاوخوا سیمې د اوسېدونکو او ګډون کوونکو تشخیص، مخکې تر دې چې پروژه ډیزاین شي.<br>په هره ټولنه کې د پراختیایي پروګرام تطبیق، د ساختماني کار د پړاو په پیل یا جریان کې. | په سیمه بیزو پلان جوړونو کې د سیمې د خلکو برخه اخیستل | د سیمې خلک/ غیرحکومتي موسسې |
| **ساختماني کار** | | | |
| د سیمه بیزو اوسېدونکو او کارکوونکو د ټپي کېدو ګواښ | له دې ډاډه کېدل چې کارکوونکي د مناسبو شخصي حفاظتي وسایلو لرونکي دي، د کار خوندي ډول، د حفاظتي پړیو په ګډون، د انفجار په وړاندې د خوندیتوب مناسبه وسیله، له غږ څخه د ساتنې وسیله، له خاورو او دوړو څخه د ساتنې وسیله او دستکشونه وکاروي.<br>له دې ډاډه کېدل چې ژور وېوښل شي او یا هم د ساختماني کار په جریان کې مانع ترې تاو کړل شي. د په سملاسي توګه د جویو ژورول او بېرته ډکول، له ښویېدلو څخه د مخنیوي له پاره د کان د لمنو مدیریت | د ساختماني کار د دورو په جریان کې د پېښو شمېر<br>د کارځای هره ورځ کتل، د مناسبو شخصي حفاظتي وسایلو او د خوندیتوب د دندې د پلانونو په کارولو سره.<br>د کارځای نظري کتنه، د ګودالونو، جویو او د کان د شاوخوا په ګډون. | قراردادي |
| په سیمه بیز ټرانسپورټ کې اخلال | د ورځو او کمو مزدحمو ساعتونو د ساختماني چارو د کار د وخت ټاکل، د سرک د تړل کېدو د اغېزو د وېش له پاره د ساختمان کار مرحله بندي کول<br>په داسي طریقه د کار کول چې په سرک یو طرفه موټرو ته د تېرېدو اجازه ورکړي. | د ترافیکو د کمزوري مدیریت له امله د پېښو شمېر<br>د سرک، حفظ او مراقبی د کارونو ورځنی تفتیش | قراردادي / د قراردادي سیمه بیز دفتر |
| د سکوت او آرامی له منځه وړل | د کمو خو شور لرونکو ساختماني تخنیکونو کارول، اغېزې لږ کچې ته د رسولو له پاره د یوه کاري مهال وېش جوړول | د ګڼې ګوڼې په اړه د سیمه بیزو خلکو له خوا سیمه بیزو چارواکو ته. د دسیل له سطحي هره ورځ اندازه اخیستنه (د آواز د لوړوالي او ټیټ والي د اندازې د اخیستو واحد) د ملي مقرراتو په وړاندې | قراردادي / د ولسوالی سیمه بیز دفتر |

| اغېزه | د کمښت اقدامات | د څارنې شاخص | مسئولیت |
|---|---|---|---|
| د خاورو او دوړو یا ختو پیداکول | د خاورې او دوړې د کمولو له پاره د اوبو شنل او په خته شوو ځایونو کې د وچې خاورې شنل. د وچو او لمدو شرایطو د مخنیوي له پاره د ځمکې د پاکوالي او خاورو وړلو پروګرام او ورته فعالیتونه.<br>د خاورې او دوړو دکنټرول د هوکړه شوو اقداماتو تطبیقول، لکه د خامو سړکونو مرطوب کول، د نقلیه وسایطو مینځل چې له د ننه څخه بهر ته وزي او د دوړې او خاورې د خپرېدو مخنیوی. | د خاورو او دوړو په اړه د سیمې د خلکو شکایتونو د سیمې چارواکو ته | قراردادي / د ولسوالۍ سیمه ییز دفتر |
| د ناروغیو د ودې سیمه رامنځ ته کول (د خاورو وړلو په سیمه کې ولاړې اوبه او له ویجاړۍ څخه پاتې شوي مواد او ټوټې) | په سملاسي توګه د جویو ژورول او بېرته ډکول او د مناسبې او دایمي دفع له پاره تدبیرونه، د ساختماني کارونو پاتې شوني او د اوبو د سرچینو ویجاړول. د هغو ژورغالیو ډکول چې خاوره ترې وړل شوې، د فاضله اوبو له خالي کولو څخه ډاډه کېدل، له کم ژورو ځاګانو څخه کار اخیستل یا هم د ساختماني اوبو د برابرولو له پاره جویې، د ساختماني کارونو سیمې ته د طبیعي جریانونو ګرځول. | د ناروغیو پېښې یا مرض، دهغو ځایونو د پیداکولو له پاره چې هلته د باران اضافي اوبه درېږي، له معتدلو بارانونو وروسته د کارځای کتنه | قراردادي / د ولسوالۍ سیمه ییز دفتر |
| د خاورې خرابوالی | د خاورې د ساتلو اقدامات، باید په ډیزاین او تطبیق کې شامل کړل شي. سم او پر ځای اقدام مربوط کېږي د کار په سیمه او اغېزو په شدت پورې.<br>د درووڼکو نصبول، خنډونه، د پښو ګردونه، د وښو امبارونه، په نور بوټو سره چې د رسوب مخه بنده کړي. د ګډو شوو سیمو د بیا استوګن کېدو شین کول. | د حاصل ورکوونکې خاورې کیفیت<br>د سړک بې عیبي او د ساختمانونو جوړول<br>د سړکونو د خرابیو له امله ټکرونه<br>د پروژې په کار کې د ننه ساختمانونه<br>د اوبو د تخلیې په سیستم کې د اوبو درېدل | د سیمې خلک/ په ولسوالیو کې استوګن د ژوندانه د چاپېریال ساتنې د ادارې |
| د پروژې په کار ځای کې د کارکوونکو د اوسېدو اغېزه او په پروژه کې د کارکوونکو د تایید شوي کار شرایط | استخدام باید په دې هدف وي چې د ساختماني کارونو په ګاونډ کې د اوسېدونکو له پاره د مستقیم بوخت کېدو له اقداماتو ډاډ ترلاسه کړي.<br>قراردادي باید د کار د نړیوال سازمان او ملي قوانین د بوخت کېدو او کاري شرایطو له پاره رعایت کړي. | له ګاونډیو کلیو او ښارونو څخه د یو شمېر کارکوونکو استخدام کول.<br>د خلکو په وړاندې د افشا شوو کاري شرایطو ماتول او له کارکوونکو څخه د سیمې د خلکو شکایتونو ته رسېدنه | قراردادي / د ولسوالۍ سیمه ییز دفتر |
| **له کار وروسته/ ساختماني فعالیت** | | | |

| اغېزه | د کمښت اقدامات | د څارنې شاخص | مسئولیت |
|---|---|---|---|
| د غره ښوییږدل، د ځمکې سقوط یا ښوییږدل | له خاورینو او ککړوونکو سیمو ډډه کول، ښکته پورته لرونکي او د ځمک پوهني له مخې بې ثباته او هغه سیمې چې د سمندرونو په شاوخوا کې واقع دي.<br><br>د ونو او نباتاتو په اېښودو سره د سرکونو د پرې کړل شوو ځایونو په ځنګ کې د جویو جوړولو سره د ښکته پورته لرونکو سیمو محکم کول. څو اوبه له سرک څخه واړول شي. | د خرابوالي درجه<br>د بوټو بیا شنه کېدل<br>د اوبو د تخلیه کولو جوړول او بهتره کول | قراردادي / د څارونکي سلاکار |
| د خاورې خرابېدل د اوبو په جریان کې د خټو د پیداکېدو لامل کېږي چې کېدای شي د سرک د سطحې، اوبو د جریان، د ډبرو د کانونو سیمې، د خاورې خرابېدل او د فاضله اوبو د کنټرول د اقداماتو له امله کېدای شي چې په کافي اندازه یې حفظ او مراقبت نه وي شوی. | له سم په خپل وخت حفظ او مراقبت څخه ډاډه کېدل، د فرسایش کنټرول او د سرک په غاړه او د ډبرو په کانونو کې د فاضله اوبو د خالي کولو له پاره اقدامات، د اوبو د لارو او شاخوا کانالونو پاکول، هغه وخت چې خټې په کې بندې شي.<br>په ښه جغل سره د خټو د سوریو ډکول، له رسوب لرونکو حوضونو او د سرک د حفظ او مراقبت له پاره د رسوب له پاره له جوړ شوو ډنډونو څخه د اوبو استعمال | د خاورې کیفیت/ حاصل ورکول<br>د ودانۍ د جوړښتونو اسنجام<br>د سرک د خرابوالي له امله پېښې<br>د فاضله اوبو په سیستم کې د اوبو راټولېدل | قراردادي / د څارونکي سلاکار |
| د ډبرو کان چې د ساختماني کار له پاره کارول کېږي، کېدای شي د روغتیایي ګواښ لامل شي. | له ځاه څخه د کار اخیستو د ګټې په اړه بحث، چې دا حیواناتو د تجمع له پاره یو سرچینه ده. اوبو لګول او په سیمه ییزه اجتماع سره د ناروغیو د لېږد په مسایلو تاکید، دې ته اړتیا ده چې د څښلو، حمام کولو او لباس وینځلو مخنیوی وکړل شي. | د ناروغۍ واقع کېدل | قراردادي / د څارونکي سلاکار |

## 8: ضمیمه :د ساختماني چارو لپاره ساري او مادې

د ژوندانه تر چاپېريال پورې تړلی د ساختماني پروژو سم مدیریت کولای شي یوازې د سم ځای په ټاکلو او د پروژې په ډیزاین سره ترسره شي. په پایله کې د ژوندانه د چاپېریال ارزونه، د دخیلو پروژو له پاره په هر ډول نوي کار کې یا هر ډول بیارغونه کې، باید د اوسنیو پروژو له پاره معلومات د سیمې او ډیزاین له پاره د سروې د معیارپه ګډون سره لاندې چارې برابروي.

**د سیمې ټاکنه**

سیمې باید د خلکو له اړتیا سره سمې، د اضافي پروژو له پاره، د ځانګړې توپوګرافیک او جغرافیایي مشخصاتو سره چې یوه ټوټه ځمکه ورته ټاکل شوې ده، ټاکل کېږي.د سیمې د ټاکنې پروسه له سیمو او مطالعو څخه بیاکتنه ده څو (i) ښاري ځانګړتیاوې، له ښاره بهر یا کلیوال؛ (ii) ملي مقررات، په وړاندیز شوې ځمکه دولتي یا ښاروالي په دې ځمکه اثر لري؛ (iii) له ګنو فاصلو څخه لاسرسی او فاصله (iv) د ځمکې مالکیت، د غیرقانوني وګړیو د نشتوالي د تصدیق په ګډون او د ځمکې د استملاک اړوند نورې پیاوړې حقوقي ستونزې،(v) له طبیعي زیانونو څخه د سیمې مشخص کول، (یعنې د سېلابونو شدت او د پرلپسې والي شمېر، زلزلې، د ځمکې ښویېدنې، توپانونه او اورغورځوونکي غرونه) ((vi) د ساختمان له پار د خاورې او تر خاورې لاندې ځای مناسب والی(vii) په سربو یا نورو ککړوونکو د سیمې ککړوالی(viii) د ځناورو او بوټو ځانګړتیاوې(ix) د طبیعي استوګنځیو شته والی یا نشتوالی (لکه څنګه یې چې په ۴،۰۴ علمیاتي تګلاره کې تعریف شوی) یاهم په سیمه یا ګاونډ کې مهم پخواني مهم طبیعي استوګنځي (د بېلګې په توګه، ځنګلونه، تالابونه، مرجاني سواحل، نادرې ځېرې یا له ګواښ سره مخ او (ix) اجتماعي او تاریخي ځانګړتیاوې تحلیل کړئ.

**د پروژې ډیزاین**

د پروژې د جوړښت ډیزاین شامل خو محدود نه دی په، د ګرمېدو سیستم، د هوا د بدلېدو سیستم، د طبیعي رڼا څرنګوالی او هغه مصنوعات چې لږې انرژۍ ته اړتیا لري، د سطحې فضا (مربع فوټ)، کافي اوبه رسونه او روغتیا، تاریخي او فرهنګي ملاحظات، امنیت هغه آسانتیاوې چې معلولو کسانو ته په نظر کې نیول شوې دی.

**قراردادیانو ته تر ژوندانه چاپېریال پورې تړلې مقررې او ساختماني فعالیتونه**

لاندې معلومات یوازې د یوه لارښودې په توګه ځانګړې شوي دي څو له ملي او یا سیمه ییز مقررې سره تړاو ولري. د ژوندانه له چاپېریال سره تړلي مقررات د قراردادونو له پاره د همدې معلوماتو له مخې، د پروژې د پراختیا په نظر کې نیولو، د سیمې ځانګړتیاوې او د هرې پروژې له پاره دې (کلیوال یا ښاري) موقعیت جوړ کړل شي.

د یوې له ټاکنې او مناسب ډیزاین وروسته، ساختماني فعالیتونه ادامه پیدا کولی شي. څکه چې دا ساختماني فعالیتونه کولای شي په خپله شاوخوا د پام وړ اغیزې وکړي او د سرخوړې لامل شي، نو د ساختماني فعالیتونو د پام وړ پلان جوړونه ډېره مهمه شمېرل کېږي. نو لاندې مقررات (د ساختماني چارو د ځانګړې مدیریت او ممنوعیت د اقداماتو په ګډون) باید په ټولو اسنادو، قراردادونو، کاري فرمایشونو او اړوندو داوطلبیو کې ځای کړل شي.

**منعه شوي**

لاندې فعالیتونه د پروژې د سیمې د ننه یا بهر منعه دي:

- o له منظور شوې سیمې بهر د ساختماني کار له پاره د ونو پرې کول چې په هر دلیل وي،
- o ښکار، کب نیول، د وحشي ځناورو بندي کول او یا هم د نباتاتو راټولول،
- o له نامنظور شوو مسموم کوونکو او زهري توکو کار اخیستل، د هغو رنګونو په ګډون چې سرب په کې ګډ وي، پنبه یا ناسوز، او نور
- o د هر تاریخي او معماري ارزښت لرونکي له منځه وړل،
- o اور بلول،
- o د ګرمې وسلې کارول (د جواز لرونکو امنیتي ساتونکو په استثنا)
- o د کارکوونکو په واسطه له الکلي څښاک استفاده کول

## د ساختماني چارو د مديريت اقدامات

### د کثافاتو او فرسايش مديريت

خاوره، روغتيايي مسايل، زيان لرونکي کثافات بايد د لاندې اقداماتو د تطبيق له لارې په سمه توګه کنټرول او مديريت شي:

د کثافاتو مديريت:

- هغه کثافاتو حد اقل ته رسول چې بايد دفع او يا هم له منځه لاړ شي.
- د ځينو توليد شوو کثافاتو تشخيص او ډلبندي. که چېرې زيان رسوونکي کثافات (لکه له روغتيايي مراقبونو څخه پيداکېدونکي کثافات) توليدېږي، د ذخيرې، راټولولو او لېږد له پاره يې بايد له سمو لارو کارو اخيستل شي.
- تشخيص او بېلول يا هم د کثافاتو د حدودو ټاکل چې د هر توکي د دفعې او له منځه وړلو سيمه په بېله توګه وښودل شي.
- منظورو شوو ځايونو ته د ټولو ساختماني کثافاتو کنټرول او ځای په ځای کېدنه، د کثافاتو د دفعې له پاره (له سېندونو، ويالو، جهيلونو او حوضونو څخه ۳۰۰ متره لرې). له منځه وړل او يا هم د ټولو کثافاتو دفعه کول، فلزات، کارول شوي روغنيات، په ساختماني چارو کې توليد شوي، د موادو د بېلوالي او بېرته ګرځېدنې لامل کېږي.

حفظ او مراقبت:

- د وسايلو د حفظ او مراقبت د سيمو تشخيص او بېلول (له سيندونو، ويالو، جهيلونو او يا حوضونو څخه ۱۵ متره لرې)
- له دې ډاډه کېدل چې د وسايلو د حفظ او مراقبت ټول فعاليتونه د روغنياتو د تبديلي په ګډون، په مشخصو او بېلو سيمو کې ترسره کېږي، هېڅ کله هم مصرف شوي روغنيات په ځمکه، د اوبو په سرچينو، د اوبو د خالي کولو کانالونو يا هم د فاضله اوبو په سيستمونو کې دفعه نه شي.
- تشخيص، بېلول او له داخلي لارو څخه په استفاده کولو اړ کول په کار ځای او يا هم د کار ځای په شنه سيمه يې اغيزې محدودول.
- جوړول، او د فاضله اوبو د خالي کولو د سيستم کافي مراقبت او ساتنه، د خاورې د خرابوالي څخه د مخنيوي په کارځای، د کار په جريان او يا هم له ساختماني کار وروسته.
- 

د فرسايش کنټرول

- د پرې کړو ځايونو، ژورغاليو او لارو په شاوخوا کې د خاورې د خرابوالي د کنټرول کوونکو خنډونو لوړول.
- په خامو سرکونو د اوبو شنل، پرې کړي ځايونه، د ډکېدو مواد او له اړتيا سره سم د خاورو انبارونه چې د باد په وسيله د خاورې خرابېدل کم کړي.
- په کارځای کې د وسايطو يا عراده جاتو د سرعت ساتل، په هر وخت کې په ساعت کې ۱۰ مايله.

د موادو انبارونه او د خاورې اخيستو له پاره کيندني

- د خاورې اخيستو د کيندونو او ساختماني موادو د انبارونو د موقعيت تشخيص او بېلول، له دې ډاډه کېدل چې ياد شوي ځايونه له بحراني سيمو لکه، تندې مخ پورتې، د خرابېدو له خطر سره مخ ځمکې او هغه سيمې چې په مستقيمه توګه د اوبو د غونډېدو په ځای کې خالي کېږي ۱۵ متره لرې وي.
- د موادو راويستنه د منظور شوې خاورې اخيستې او له نورو سيمو څخه جلا سيمې پورې محدودول.

د سيمې پاکول

- د سيمې د پاکولو د کرنلارو په استفاده کولو اړ کول، د ساختماني کار د پاتې شوو د دفعې له پاره د کافي آسانتياوو د حفظ او مراقبت په ګډون.

**د ساختماني کار په جريان کې خونديتوب**

د قراردادیانو مسولیت، له بې خونده پېښو څخه په ساختماني کار ځای کې د هر کس ساتنه، د شاوخوا دارایي ساتنه ده. قرارداد کوونکی کس باید د پېښو د مخنیوي له پاره، د ټولو ملي او سیمه ییزو مصونیتي شرایطو د رعایت مسولیت او په لاندې توګه ټول لازم اقدامات په غاړه ولري:

- د تلونکو د مصونیت له پاره د دخولي لارو څرګندې او دقیقې نښې وهل.
- که چېرې د ساختماني چارو شاوخوا د ښوونځي ماشومان تګ راتګ کوي، د امنیتي کسانو ټاکل او د لاربښوونو له پاره د ترافیک ګمارل.
- د ترافیکي نښو له پاره د لوازمو او تجهیزاتو د برابراولو ادامه، (د رنګ، پایو، نښو او نورو په ګډون) د سرک جوړولو لوازم او تجهیزات، د ساختماني چارو په جريان کې د تلونکو د خوندي ساتلو له پاره حفاظتي کتارې.
- د خونديتوب د زده کړو له پاره د پروګرامونو جوړول، د کار له پیل مخکې د ساختماني کارکوونکو له پاره.
- د البسې او شخصي حفاظتي وسايلو برابرول لکه، (امنيتي عينکې، لاس پوښونه، د مصنوعي تنفس دستګاه، د خاروو او دوړو ضد ماسکونه، د کار خولۍ، د لوړو پوندو او وسپنيزو نوکونو لرونکې بوټونه او نور) د ساختماني کارکوونکواو د دې لوازمو استفادې ته يې اړ کول.
- په کار ځای کې د کیمیاوي موادو له پاره د خونديتوب د معلوماتي پاڼو نصبول.
- د دې لازمول چې ټول کارکوونکي د خونديتوب معلوماتي پاڼې ولولي او یا يې لوستي وي. کارکوونکو او د هغوی مېرمنو ته د ګواښونو روښانه تشریح، په ځانګړې توګه هغه وخت چې حامله وي او یا وغواړي چې يو کورنی ژوند پيل کړي. د کارکوونکو هڅول چې له ډاکټرانو سره معلومات شريک کړي.
- له دې ډاډه کېدل چې د ناسوز د پنبې لرونکو موادو دفعه يا له منځه وړل، يا هم د زده کړو کار کونکو له خوا ټولې مسموموونکې او زهري مادې ترسره شي.
- د شديدو بارانونو په جريان کې هر دول اضطراري حالات او ټول کارونه بايد معطل کړل شي.
- د برېښنايي او ميخانيکي وسايلو سم ترل چې د ساختماني کارونو په جريان کې د بې خوندو پېښو په وړاندې مقاومت وکړي.

**خاوره او دوړه او اخلالوونکی کنټرول**

د مزاحمت کوونکو د کنټرول، خاورې او دوړې له پاره قراردادي بايد لاندې توکي په پام کې ولري:

- د ساختماني کار د ځای په دوه سوه مترۍ کې جادو د پنځلس ميله پر ساعت د نقليه وسايطو د سرعت ساتل او ابقا.
- د کار په ځای کې د شته وسايطو لس ميله پر ساعت سرعت برابرول او ابقا.
- د شونتيا تر بريده تر نوي درجو ټيټه د ټولو ماشينونو او تجهيزاتو د غږ د درجې ساتنه.
- په حساسو ساحو کې ( د ګاونډيو استوګنو کورونو، روغتونونو، دمځيو  او نورو په ګډون) ډېرو نورو جدي اقداماتو ته هم اړتيا ده، ترڅو د ناوړه غږيزو درجو مخنيوی وشي.
- د خاورو او دوړو توليد او د وړو ذرو درلودونکيو توکيو توليد حد اقل ته را ټيټول، ترڅو يې پر ګاونډيو اوسېدونکو، سوداګريزو محلونو او په ځانګړې توګه په زيانمنو خلکو ( ماشومانو، لويانو) د ناوړه اغېزو مخيوی وشي.
- د پراخو ساحو د باد پر وړاندې د باد د مخنيوي لپاره پېراو په پېراو د شنه‌ليو له منځه وړل.
- تر ساختماني کار لاندې ساحو په شاوخوا کې د دوړ او خاورو مانع کوونکو پردو تينګول او په دې برخه کې د استوګنې کورنو، سوداګريزو او تفريحي ساحو خيال ساتل اړين دي.
- له اړتيا سره سم، د خامو سړکونو، پرې شويو ساحو او نړول شويو توکو او خاورې انبارونو لوندول (ابپاشي)
- د ساختماني فعاليتونو او لړزه لرونکو ماشينونو راپيدا کېدونکو اخلالګريو حد اقل ته راټيټولو لپاره مناسب اقدامات ترسره کول.

**د خلکو ترمنځ د همکارۍ اړيکې**

د ټولنې د قشرونو ترمنځ د همکارۍ اړيکو د پياوړتيا لپاره قرارداد کوونکی باید:

- له ملي مقرراتو پيروي وکړي، څنګه چې لازمه وي خلك د ساختماني کار او مهالويش په هکله خبر کړي، ترڅو د خلکو د کاروبار، فرعي ترافيکي مسيرونه او د ښاري بسونو لندمهاله مسيرونه ګډوډ نه شي.
- د شپې له خوا د ساختماني فعاليتونو محدودول. د اړتيا پر وخت بايد کارونه په محطاطانه ډول پلان شي او د سيمې خلکو ته بايد خبر ورکړل شي، ترڅو هغوی هم خپل تدبيرونه ونيسي.
- د خدمتونو د سيستم ( ابورسوني، برېښنا، تلفون، ښاري ترانسپورت مسيرونو په شمول) د هر ډول ګډوډۍ لپاره پېښه ورځې مخکې د سيمو خلکو ته د پوسترونو له لارې خبر ورکړل شي او پوسترونه بايد د پروژې په ځای. تمځايونو، سوداګريزو ځايونو کې ونښول شي.

**د اثارو د مشاهده کېدو کړنلارې**

د اثارو د مشاهده کېدو کړنلارې د افغانستان د تاريخي او فرهنګي ميراثونو د ساتنې په قانون (۱۳۸۳/۲۰۰۸، ۸۲۸ ګڼه رسمي جريده) کې تعريف شوي، چې د پروژې په جريان کې د سيمو او توکو د کشف په صورت کې د فرهنګي ميراثونو د ارګانونو واکونه او مسوولیتونه په ډاګه کوي.

دا قانون صراحت لري، چې ټول منقول او نامنقول تاريخي او فرهنګي اثار دولتي شتمني ګڼل کېږي او سربېره پر هغو:

۱ – د تاريخي او فرهنګي آبداتو ساتنه، څارنه او مسوليت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د لرغونپېژندني د کمېټې پر غاړه دی، چې د ولايتونو په کچه نمايندګی لري.

۲ – کله چې تصنعي، تاريخي او فرهنګي اثار (د لېږدوړ يا نا وړ) مشاهده شي، بايد په اړه د لرغون پېژندني کمېټې ته خبر ورکړل شي، که دا اثار د کار ادامه له خطر سره مخ کړي، د پروژې کار بايد د يوې حل لارې تر پيدا کولو پورې ودرول شي.
۳ – که چېرې يو تصنعي، تاريخي او فرهنګي د لېږد وړ يا د لېږد نه وړ اثر د يوه ولايت په کليو يا اطرافو کې مشاهده شي، بايد د دوو اونيو په ترڅ کې والي يا ولسوال ته خبر ورکړل شي او هغوی بايد د لرغونپېژندني کمېټه خبره کړي. که چېرې يو تصنعي، تاريخي او فرهنګي د لېږد وړ يا د لېږد نه وړ اثر د يوه ولايت په ښار کې وليدل شي بايد د يوې اونۍ په لړ کې مستقيماً د لرغونپېژندني کمېټې ته خبر ورکړل شي. (۲۵) ماده.
۴ – د څرګندې شوې مودې په ترڅ کې د فرهنګي، تصنعي او تاريخي اثارو د راپور ورکونې په برخه کې ځنډ يا ناغېړي، د شخص په نقدي جريمه او يا له يوې اونۍ څخه تر يوې مياشتې پورې بند باندې تمامېدی شي. (۷۲ ماده).
۵ – که يو څوك قصدا يوه تصنعي، تاريخي او فرهنګي اثر ته صدمه ورسوي او مجرم و پېژندل شي، هغه بايد د هماغه تصنعي اثر د ارزښت په مقدار د زيان جبران ورکړي او سربېره پر هغې د جرم د شدت له امله بايد له يوه کاله تر لسو کلونو د زندان مزه هم وڅکي. (۷۱ ماده)
۶ –د يو تصنعي، تاريخي او فرهنګي د لېږد وړ يا د لېږد نه وړ اثر د مشاهدې په صورت کې  د پروژې د پلي کولو ارګان خپلې اړوندې اداري ته تر سپارلو پورې د ياد اثر د ساتلو مسووليت پر غاړه لري.
په ساختماني قراردادونو کې کله چې د اجرا وړ وي بايد دغو کړنلارو ته د وړاند ويل شويو سټنډرډ مادو په توګه مراجعه وشي. د پروژې د نظارت په جريان کې د څمکې د علومو ESSO حمايوي دفتر ساحوي انجنير نظارت وکړي. ترڅو د يادو اړوندو مقرراتو هر اړخيز رعايت وکړي.
د کاري کړنو د څرنګوالي په رپوټونو کې اړوندې موندنې په نړيوال بانك کې ثبتېږي او څنګه چې لازمه ده د رپوټونو د اتمام له مخې د پروژې د ظرفيت لوړوني، مديريت، او فرهنګي منابعو باندې اغېزو کمښت ټوليزو فعاليتونو موثريت ارزول کېږي.

**کاري شرايط او کارګران**

قراردادي بايد له اړوندو کنوانسيونونو او نړيوالو قوانينو له هغې جملې د کار نړيوال سازمان او ملګرو ملتونو سازمان د قوانينيو پيروي وکړي.[1]

[11] - ۹۴ شمېره کنوانسيون چې عمومي اصول وضعه کوي، ټينګار کوي، چې د کاري قوانينو قيدو شرط بايد لاس مزدونه ( د مدد معاش په ګډون)، کاري ساعتونه او نور کاري شرايط په ځان کې راونغاړي. ۸۴ شمېره وړانديز د کاري قوانينو د قيدو شرط ممکنه محتوا په هکله نورې لارښوونې هم برابروي، ترڅو په دولتي قراردادونو کې شامل شي. دا ډول قيدو شرطونه کولی شي په (الف) پورې اړوند احکام، د کار دستمز نرخونه او اضافه کاري د کارګرو د بېلابېلو کټګوريو لپاره، (ب) د کار د وخت مقررات، او )ج( د عمومي رخصتيو او ناروغی رخصتيو استحقاق احتوا کړي.
http://www.ilo.org/wcmsp5/groups/public/@ed_norm/@normes/documents/publication/wcms_099699.pdf

کاري شرايطو او کار کول بايد د کارگرو ټول حقونه، د شکايتونو ميکانيزم، کاري ساعتونه، مزد، د اوسېدو ځای، د کارگرو ټوليز توافق تر پوښښ لاندې راولي.
هغه فقرې او بندونه چې له قراداد سره ترليو اسنادو کې ځای پر ځای شي، بايد شامل، اما په لاندې مواردو پورې محدود نه شي:

- قراردادي بايد د کارونو د ترسره کولو پر مهال ټول احتياطي سيمه ييز اقدامات ترسره کړي، ترڅو د کارکوونکو او خلکو روغتيا او سلامت وساتل شي.
- قراردادي بايد د کارگرانو صنفي ټولنې اړوند ټول حقوق محترم وګڼي او په بشپړه توګه بايد د مزد، استخدام عمومي شرايطو په اړه د افغانستان اسلامي جمهوريت د کار د قوانينو پيروي وکړي.
- د کار د قوانينو او د کارگرو د حق الزحمې او د کار عمومي شرايطو او اوسېدو ځای په شمول د مزد رعايتول، لکه څنګه چې په قانون کې مشخص شوي دي.
- د کار په محل کې ټول تاييد شوي کارگران – کوم چې د قراردادي له خوا په مستقيم ډول او يا دويم لاس قراردادي کارگرانو له خوا ( دريم شخص کارگران) استخدام شوي وي، بايد په مطلق ډول د کار د قانون مطابق په کار وګومارل شي.
- قراردادي بايد هڅه وکړي، چې يو سالم، خوندي او صميمي کاري چاپېريال برابر کړي.
- د يوه قراردادي اړوند ټولو کارکوونکيو سره بايد په ټولو وختونو کې له نژاد، سمت، جنسيت، قوميت پرته عادلانه چلند وشي.
- ښځينه کارکوونکي چې عين د نارينه کارکوونکيو دندې مخ ته وړي، بايد مساوي مزد ترلاسه کړي.
- قراردادي بايد تر اتلس کالو د ټيټ عمر خلك استخدام نه کړي.
- کارکوونکي بايد د خپلو هر ډول قانوني حقونو لپاره د شکايت د ثبت، د اړيکو له يوه مرکز څخه ګټه اخيستنې يا له خطر سره مخکېدونکيو کارونو پر وړاندې د ځانساتنې لپاره د فرېب وړ ونه ګرځي.

**د کارگرانو د استوګنې ځای:**
قراردادي د ملګرو ملتونو سازمان د کار د کارگرانو د اوسېدو د ځای په هکله ۱۹۶۱ (۱۱۵) شمېرې لارښونو په عملي کولو مکلف دی. بشپړ متن په دغه انټرنېټي پاڼه کې دی. http://www.ilo.org/ilolex/english/recdisp1.htm

د دغو لارښودونو بېلګو کې لاندې موارد شاملېږي:

- د کارگرو لپاره د اوسېدو ځای بايد د کار د قرارداد د يوې برخې په توګه بايد د څرنګوالي او سټنډرډ له مخې ژوند او د ژوند اسانتياوې له ځانګړو مشخصاتو سره برابرې شي.
- د کارگرو لپاره د اوسېدو ځای چمتو کولو کې هدف بايد د هغوی لپاره د مناسب ځای ځايګي او مناسب چاپېريال برابرولو په اړه ډاډ ترلاسه شي. په دې کار کې د کارگرانو لپاره د ساتنې، مراقبت، د اوسېدو ځای مدرينزه کېدل او نورو اسانتياوې شاملېږي.
- که د اوسېدو ځای د کارفرما له خوا برابرېږي، د کارگرانو بشري بنسټيز حقونه، په ځانګړې توګه د هغوی د مشارکت ازادي په پام کې ونيول شي. په هغوی پورې اړوند کورونه او اسانتياوې بايد د يوه ټينګ ساختمان لرونکي وي، محلي شرايط لکه د زلزلې پر وړاندې مقاومت او نور په پام کې ونيول شي. بايد ډاډ ترلاسه شي چې د کارگرو د اوسېدو ځای او موقعيت د هوا د ککړتيا، چټلو اوبو، فاضلاب يا نورو زبالو څخه په امن کې وي.
- د هرو شپږو تنو لپاره د هوسايني اسانتياوې بايد لږترلږه يو تشناب، يو دلاس مينځلو ځای، يو ټپ يا شاور وي. دا اسانتياوې بايد په يوه مناسب موقعيت کې د نورو له مزاحمت لېرې قرار ولري.

**د ساختماني کار په جريان کې محيطي څارنه**

د داوطلبۍ اسناد بايد وښيي چې په چاپېريال او د ډيزاين په مشخاصاتو پورې ترليو مقرراتو رعايتولو څخه څه ډول نظارت کېږي او په خوا کې يې د قراردادي او کارگرانو له خوا د نه رعايتولو په خاطر جريمې هم مشخصې شي. د ساختماني کار سرپرستي دا لازموي تر څو نظارت ترسره شي، چې قراردادي يا سوپروايزر په خپل محيط کې محيطي لارښود او مشخصات رعايت کړي. همداشان قراردادیان مکلفېږي تر څو د چاپېريال ساتنې، روغتيا او عامه خونديتوب د کنټرول او اداري د غوره کړنلارو او ملي مقرراتو پيروي وکړي.

**ضميمه ۹ : د ځمکني ماينونو د خطر د مديريت لپاره کړنلارې.**
لاندې کړنلارې طرحه شوې دي، څو په افغانستان کې په لاندې زمينو کې د ماينونو له شتون څخه پيدا شويو خطرونو ته رسېدنه وشي.

- د ساختماني کارونو ځانګړي کول او تطبيقول/ په خلکو پورې اړونده بيارغونه د خلکو په وسيله ( د کوچنيو پروژو لپاره تر ۱۰۰ زرو) ډالرو پورې.
- د سيمه ييزو چاراوکيو په وسيله د کوچنيو او متوسطو کارونو ځانګړي کول او د هغو پلي کول د سيمه ييزو قراردادیانو په وسيله ( تر پنځه ميليون ډالريزو پروژو لپاره )
- قراردادي ته له سپارلو پرته / د دولتي ادارو او دايرو په وسيله په مستقيمه توګه د کارونو پلي کول.

د قراردادي په وسيله د لويو کارونو تطبيقول ( له پنځو ميليونو ډالرو څخه د لوړو پروژو لپاره )

**د لاندې تولو کړنلارو لپاره د ګټې وړ عمومي نظرونه:** د خطر د ارزوني او ماين پاکوني تولې دندې بايد د ماين پاکولو ( ام، اي، سي، اي) له مرکز سره په همغږۍ ترسره شي. دغه کړنلارې به په راتلونکي کې د شرايطو او وضعيت د تغيير او بدلون له امله تعديل ته اړتيا ولري.

**د خلکو تر رهبرۍ لاندې کارونو لپاره کړنلارې:**

**د اجراء وړتيا:** دغه کړنلاره د خلکو په وسيله د بيارغوني او ساختماني کارونو د ځانګړي کولو او پلي کولو لپاره ( تر ۱۰۰ زرو ډالرو پورې د کوچنيو پروژو لپاره ) کارول کيږي.

**توليزې کړنې:** خلك بايد مسووليت پر غاړه واخلي څو ډاډ حاصل شي، چې وړانديز شوې پروژې يې د ماين د خطرونو په سيمو کې نه وي او يا دغه سيمې بايد د ماين پاکونې د مرکز له خوا د ماين پاکونې د يوې ګومارلې موسسې په وسيله پاکې شوې وي.

**مبنا:** خلك دې پر ماينونو له ککړو سيمو څخه پوهاوی ومومي او د ماين پاکونې په اړه د دقيق رپوټ وړاندې کولو په موخه دې پياوړې انګېزه ولري، ځکه چې هغوی به پخپله کار سر ته ورسوي.

خلك مکلفيږي، چې د نړيوال بانك له مالي تمويل څخه د خلکو تر رهبرۍ لاندې د کار د پلي کولو په سيمو کې د ماينونو د شتون د شك او ترديد په اړه يوې پوښتنپاڼي ته ځواب و وايي. په افغانستان کې د ماين پاکۍ موسسه بايد رسما دغه پوښتنپاڼه تصديق کړي. پوښتنپاڼه د پروژې د اسنادو د الزامي ضميمي حيثيت لري، چې د سيمې د خلکو له خوا وړاندې کيږي. له همدې امله بايد د خلکو د استازيو او د پروژې د بهرني اسانوونکي له خوا لاسليك شي. د پروژې بهرني اسانوونکي په افغانستان کې د ماين پاکۍ د ادارې له خوا پوهه ترلاسه کوي. د سيمې له خلکو سره مالي هوکړې بايد دا څرګنده کړي، چې د ماين له چاودني څخه د رامنځته شوې پيښې په صورت کې يوازې د سيمې خلك مسوول دي.

که د سيمې خلك تصديق کړي، چې د خطر په سيمه کې ماين شتون نه لري، د پروژو د ټاکلو مسووله اداره بايد په دې اړه د افغانستان د ماين پاکونې له دفتر سره خبرې وکړي، چې د خلکو د ويناوو سره توپيرې مشاهده د دغه مرکز ډيتابيس ته رپوټ شوې ده که نه.

۱ ـ که د افغانستان د ماين پاکونې د مرکز معلومات د خلکو له معلوماتو سره ورته وي، پروژه کولی شي چې د انتخابولو لپاره مخ ته ولاړه شي. د سيمې خلك د ارزوني بشپړ مسووليت پر غاړه اخلي او د يوې پيښې په رامنځته کېدو نه شو کولی بهرنی موسسې مسوولې وبولو.

۲ ـ که د افغانستان د ماين پاکونې د مرکز معلومات د خلکو له معلوماتو سره پوپير ولري، پروژه بايد د انتخابولو لپاره پر مخ لاړه نه شي، تر هغو چې د افغانستان د ماين پاکونې د مرکز او د خلکو څرګندونې يو له بله سمون و نه مومي.

په هغه صورت کې چې د سيمې خلك په سيمه کې د ماينونو د خطر پر شتون شکمن وي:

- که د سيمې خلکو د ارزوني او پاکوني اجراء د افغانستان د ماين پاکونې د مرکز په وسيله ( يا د دغه مرکز له خوا د ماين پاکونې د يوې موسسې په وسيله) په منلي شوې پروژه کې ځای کړې وي، پروژه کولی شي چې د انتخاب لپاره مخ ته ولاړه شي.
- که خلکو د ارزوني او پاکونې اجراء کول په پروژه کې نه وي شامل کړي، پروژه بايد د دغه مطلب تر تصحيح پورې پر مخ ولاړه نه شي.
- د ماين پاکولو دنده بايد د افغانستان د ماين پاکونې د مرکز او يا د دغه مرکز په وسيله د تاييد شوې ماين پاکونې موسسې په وسيله ترسره شي. که چيرې خلك په خپل سر د مايونو په پاکولو پيل وکړي، د تنبيه يا جريمې په نامه به ( د پروژې د تمويل لپاره د نړيوال بانك وروستي مالي وجوه کموالی ومومي او يا به لغوه شي).

**منځنيو او لويو کارونو ته د تړون سپارلو کړنلاره**

**د ترسره کېدو وړتيا:** د غه کړنلاره د لويو او منځنيو کارونو د مشخصولو لپاره د سيمه ييزو چاراوکو له خوا او دهغه پلي کول د ترونوالو له خوا ( تر ۵ ميليونو پروژو لپاره) کارول کيږي.

**توليزه کړنلاره** : د افغانستان د ماين پاکۍ مرکز(يا ددې مرکز له خوا د ماين پاکۍ يوه تاييد شوې موسسه) بايد د ځمکنيو ماينونو د ګواښونو په اړه مفصل معلومات ( د مځکينيو ترسره شوي سروې او وروسته تجديد شوې او يا تازه سروې پر بنسټ) د پروژې له څېړنې مخکې انتخاب کړي. يوازې ارزول شوې سيمې چې له ګواښ څخه بهر يا د ټيټ ګواښ لرونکې وي کولی شي د پروژې

لپاره انتخاب شي، مګر دا چې دا سیمې د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز یا یوه تایید شوې ماین پاکۍ موسسې لخوا تصفیه او پاکه شوې وي.
**مبنا:** نه سیمه ییز چارواکي او نه سیمه ییز قراردادیان د ځمکنیو ماینونو د ګواښونو د سیستماتیکې ارزونې وړتیا لري، په داسې حال کې چې د انګیزې کمښت کولی شي ددې ګواښونو اټکل وکړي.
د یوې پروژې انتخاب لپاره له وړاندیز څخه مخکې، د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز(یا ددې مرکز له خوا د ماین پاکۍ یوې تایید شوې موسسې) له خوا باید یوه عمومي سروې تر سره شي، څو د پروژې د کار په سیمه کې د ځمکنیو ماینونو ګواښونه وارزول شي(دغه کار باید د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز په ډیټابیس کې د شته معلوماتو په څېړنه کې شامل وي).
که چېرې د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز هغه معلومات چمتو کړي چې د نه ګواښ ښکارندوی وي یا د وړاندیز شوې پروژې په سیمه کې ټیټ ګواښ وي، پروژه کولی شي انتخاب لپاره پرمخ ولاړه شي.
د مسوولې اداري او قراردادي تر منځ تړون د یو شرط درلودونکی دی چې څرګندوي کوي د یوې پېښې د رامنځته کېدو په صورت کې، حقوقي مسوولیت په بشپړ ډول او منحصراً د قراردادي پر غاړه دی.
په هغه صورت کې چې د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز په سیمه کې د بالقوه لوړ ګواښ( د ماین د شتون په علت یا دنه ډاډمنتیا) په صورت کې تشخیص کړي.
که چېرې پروژه د دندې د ترسره کېدو ارزونې یا د د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز(یا ددې مرکز له خوا د ماین پاکۍ یوې تایید شوې موسسې) له خوا په هوکړه کې شامل وي،کولی شي د ځانګړتیاوو له مخې انتخاب کې هوکړې ته ورسېږي او په مالي تمویل پرمخ ولاړ شي( ممکن پاکوالی د یو تړون له مخې د یوې تمویل شوې پروژې یا د نړیوال بانک له خوا د اوسنې دونر د موافقې تر نظر لاندې له ماین پاکۍ موسسې سره تمویل شي)، که چېرې پروژه ارزونو یا پاکولو کې شامله نه وي، نشي کولی د انتخاب لپاره پرمخ ولاړه شي تر هغه وخته پورې چې دغه موضوع په هغه کې واضیح شوې نه وي.
د هغو کارونو لپاره کړنلاره چې په مستقیمه توګه دولتي اداري یا له دولتي دوایر پرته له هغه چې قراردادیانو ته وسپارل شي تر سره شي.

**د ترسره کېدو وړتیا :**

دغه کړنلاره په مستقیمه توګه د دولتي ادارو په وسیله قراردادي ته له سپارلو پرته اطلاق کېږي.

**تولیزه کړنلاره** : د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز(یا ددې مرکز له خوا د ماین پاکۍ یوه تایید شوې موسسه) باید د ځمکنیو ماینونو د ګواښونو په اړه مفصل معلومات ( د مخکېنۍ ترسره شوې عمومي سروې او یا نوې عمومي سروې پر بنسټ) د کار د تر سره کېدو مخکې یا د پام وړ سیمه کې د تجهیزاتو نصبول، برابر کړي،د کار پرمخ بیول یوازې ارزول شوې یا د ګواښ څخه بهر او یا د ټیټ ګواښ درلودونکیو سیمو کې اجازه لري، مګر دا چې یادې سیمې د ماین پاکۍ یوې تایید شوې موسسې د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز له خوا د ځمکنیو ماینونو څخه پاکه شوې وي.
**مبنا:** ادارات او دولتي مسؤل بنسټونه په اوس وخت کې د ماینونو اړوند ګواښونو د ارزولو وړتیا په سیستماتیک ډول نه لري، او دمګړۍ د کړنو له ترسره کولو مخکې د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز مشورې په بنه ځاري.
۱ . د کار د ترسره کېدو مخکې، دولتي اداري د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز د ماینونو اړوند ګواښونو په برخه کې په سیمه کې مشوره کوي(دغه کار باید د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز په ډیټابیس کې د شته معلوماتو په ارزونه کې شامل وي). په هغه صورت کې چې مخکې تر سره شوې نه وي، وروسته باید د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز له خوا په سیمه کې د ماینونو اړوند ګواښونو د ارزولو په منظور، تر سره شي.
- که چیرې د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز د ماین د ګواښونو په اړه په وړاندیز شوې سیمه کې د ماین خطر د نشتون او یاهم د خطر د کموالي بشپړ معلومات برابرکړي، کولی شو چې کار پر مخ یوسو. د ماین د اړوندو پېښو د اتفاق په صورت کې یوازې دولت مسوول دی.
۳-که چیرې د افغانستان د ماین پاکۍ د مرکز له خوا ټول شوې معلومات و نه کړای شي په وړاندیز شوې سیمه کې د ماین د خطر نشتون او یا د ماین د کموالي د ارزونې څخه ملاتړ وکړي (د ماین د شتون او یاهم د ابهام په صورت کې ). تر هغه وخت پورې چې د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز ( یا د افغانستان د ماین پاکۍ د مرکز له خوا د ماین پاکۍ تایید شوې موسسې ) د صفر په طرف کې د ګواښونو د کمیدو لپاره زیاتې لازمې ارزونې د هوکړه شوې بودیجې شرطونو پر بنسټ ( د ماین پاکۍ بودیجې ممکن د یوې قراردادشوې پروژه د نړیوال بانک د یو پروژې په واسطه او یاهم د ماین پا کۍ د مرکز د تمویل کوونکې سره د شته هوکړه لیکونو په واسطه تامین شي)تر سره نشي، زیات کار باید ترسره نه شي.
**له قراردادیانو څخه په ګټې اخیستنې د لویو پروژو کړنلارې:**
**د اجرا وړتیا:** دغه کړنلاره په لویو پروژو باندې چې د سترې قراردادیانو په واسطه ترسره کیږي ( د ۵ میلیونه ډالره څخه زیات) د اجرا وړ ده.

**تولیزه کړنلاره:** اصلي قرارداد کوونکي باید د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د مرکز له همغږۍ سره د ماین اړوندو ګواښونو ته د رسېدنې مسوول وي.
۱-د افغانستان د ماین پاکۍ د مرکز او یا د افغانستان د ماین پاکي د تایید شوي موسسي له خوا په هغه ټولو سیمو چې قراردادي هلته کار کوي باید په پراخه توګه یوه عمومي سروې د داوطلبۍ اسنادو د چمتو کولو لپاره ترسره شي.
دغه سروې باید په بېلابېلو سیمو کې د ماین د ګواښونو په اړه پوره مالومات برابر کړي چې د کم خطره او بې خطره سیمو او یاهم د ډېر خطرلرونکي سیمي او یاهغې سیمي چې نامعلومه دي دقیقه وپیژندل شي.
د یادې سروې بودیجه باید د داوطلبۍ د اسنادو له وجوهاتو څخه تامین شي.
۲- د سروې ټول معلومات باید د داوطلبانو د هغوې فعالیتونو د پلان جوړونې د معلوماتو لپاره ورکړل شي( د بیلګې په صورت د موادو سیمې، د موادو د لاسرسي د ساحې سړکونه) وړاندې شي.
۳-د پروژې د ماهیت او سیمي او د شته معلوماتو په رڼاکې د ګواښونو له ارزونې څخه کولای شو له دوو غوراویو ګټه واخلو.

**لومړۍ ګزینه- د ماین پاکۍ فعالیتونه د عمومي قرارداد یوه برخه ده.**

- دعمومي سروې د پایلو په اساس د ساختماني کار په جریان او د داوطلبۍ په اسنادو کې د احتیاطي مبلغ په توګه د ماین پاکۍ له پاره یوه مشخصه بودیجه تخصیص کېږي.
- د یوه قلم په توګه چې په داوطلبۍ کې په بېله توګه مشخص شوی دی، داوطلبان یوه مفصله ارزیابي او پاک کاري د خپل ساختماني کار په قرارداد کې په پام کې نیسي.
- د څارونکي انجنیر د لارښوونې په اساس او د احتیاطي مشخص مبلغ په کارولو سره په قرارداد کې د ماین پاکۍ له پاره قراردادي له څو (یا د افغانستان د ماین پاکۍ د مرکز په واسطه یوه تایید شوې موسسه) فرعي کاندیدانو استفاده کړي چې په یوه اړیکه به ژر حاضرېږي، ارزونه له فزیکي کار مخکې په ماین د ډېرو ککړو سیمو او د ماین پاکۍ چارې په لازمي توګه ترسره کوي. قراردادي همداراز کولای شي یو نړیوال کارپوه وګماري، څو له هغې سره د دې چارو د برابرولو او څارنې په برخه کې همکاري وکړي، له ماین څخه له پاکېدو وروسته به د پېښو په صورت کې یوازې هغه مسول وي.

د (له اندازې ډېر) لګښت مخنیوی، قراردادي مکلف دی چې څارونکی انجنیر په کتبي توګه (د چارو په څرګندو وړاندې کولو سره چې باید ترسره شي) د ماین پاکۍ د ډلي له تیارولو مخکې، خبر کړي. څارونکی انجنیر په داسې چارو کې د اعتراض صلاحیت لري.

**دویمه ګزینه– د یو بېل قرارداد له مخې د مین پاکۍ د فعالیتونو ترسره کول**

د ګواښ د نشتوالي او یا کموالي له پاره د ډېرو ساحو د پاکولو او سروې بېل او مشخص قراردادونه (د انجنیر ترڅارنې لاندې) د متخصصو قراردادیانو په واسطه (یا هم د افغانستان د ماین پاکۍ د مرکز له خوا د یوې تایید شوې موسسې له خوا) صادر شي. د هغو ساحو تعریف چې باید سروې او ډېرې پاکې شي باید تر هغو ساحو پورې محدود وي چې په هغې کې باید قراردادیان کار وکړي نه باید د کمپ او یا موادو ساحې په کې شاملې وي چې ټاکل شوې ده د قرارد له مخې په جریان او له هغې وروسته او له داوطلبۍ وروسته مشخص شي. په پایله کې دغه ډېرې سروې ګانې او د احتمال له مخې د پاک کارۍ چارې به د ماین خطر په ټوله ساحه کې ښکته او یا صفر ته نیږدې کړي.

له عمومي قراردادیانو سره قرارداد د ساختماني ساحې یوه اندازه برخه مشخصه کړې چې له هغې قراردادي ته کله کله مالکیت ورکول کېږي او په څرګنده توګه هغو ساحو د لاسرسي محدود والی ښیي چې په هغه کې د ماین خطر ښکته او یا هم صفر وي ښیي. همداراز، د پام وړ تاریخونه چې په هغه کې دغه ساحې د لاسرسي وړ وي ښیي. د انجنیر د کار د پیل د اطلاعیې له ترلاسه کولو وروسته، قراردادي کولای شي کار په ټولو نورو سیمو کې پیل کړي.

عمومي قراردادي ته بلنه ورکول کېږي چې په داوطلبۍ کې یې یوه اندازه پیسې د ماین د امنیت له پاره شاملې کړي چې هره سروې او یا اضافي پاک کاري چې د ځینو کارونو د ترسره کولو له پاره یې تر پوښښ لاندې ونیسي.

د پېښې د پېښېدو په وخت کې د افغانستان د ماین پاکۍ د مرکز له خوا یو تحقیقي بورډ جوړېږي چې د پېښې د لامل او مسولیتونو په اړه تحقیق وکړي. په داسې توګه چې بورډ مشخص کړي چې حادثه د مصونیت د قواعدو د ماتولو له امله پېښه شوې ده، باید چې لوړه جریمه پرې تطبیق شي.

په دې پروسه کې ټول شامل اړخونه ملکف دي د افغانستان د ماین پاکۍ له مرکز سره په نیږدې همغږۍ او دولت، سیمه ییز ټولنې او د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز، تر ماین پورې د اړوندو ګواښونو په اړه په بشپړو معلوماتو ورکولو سره (لکه، د ماین د پېژندل شوو ساحو نقشې، د مشخصو ساحو ارزونې،) دي.

**لسمه ضمیمه: د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ په اړه د اطلاع ورکولو**

د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان له پاره د محیط او اجتماعي مدیریت د چوکاټ د تصفیې پاڼه

| | |
|---|---|
| د فرعي پروژې نوم | |
| موقعیت | |
| د مرجع شمېره | |

| | | |
|---|---|---|
| د سروې نېټه | ورځ/میاشت/کال | |
| د ژوندانه د چاپېریال کټګوري | الف ☐ ب ☐ ج ☐ | |
| د «ب» پروژو له پاره، آیا د محیطي اغېزو ارزونه ضروري بلل شوې ده؟<br>که هو، آیا کومه ارزونه ارزول شوې ده؟ | نه | |
| | هو | |
| آیا د ژوندانه د ساتنې ملي اداره محیطي اغېزو ارزونه لوستې او منظور کړې ده؟<br>که نه، ولې د محیطي اغېزو ارزونه رد شوې ده؟ | نه | |
| | هو | |
| آیا له اړوندو مراجعو سره مشوره شوې ده او آیا د محیطي اغېزو ارزونه د نړیوال بانګ او ملي قانون له تګلارو سره سم د خلکو په اختیار کې ورکړل شوې ده؟ | | |
| آیا د بیا استوګن کېدو یوه کاري پلان ته اړتیا شته وه؟<br>که اړتیا وه، آیا د بیا استوګن کېدو کاري پلان منظور شوی دی او د پروژو له خوا ټولو اغېزمنو شوو خواوو له هغې سره سم جبران اخیستی دی؟ | نه | |
| | هو | |

**د تصفیې په اړه تصمیم**

**د دې فرعي پروژې بودیجه منل شوې ده**

نه ☐ هو ☐

د تصفیې نېټه:..................

د ارزوونکي نوم:...........

د ارزوونکي لاسلیک:.......

د رییس نوم:...................

د رییس لاسلیک:.............

**یوولسمهضمیمه: د عامه مشورتي پلان ډول**

لاندې چارې کلیدي موضوعات دي چې د عامه مشورې په جریان او معلوماتو په وړاندې کولو کې به په پام کې ونیول شي:

- کتبي او شفاهي اورېدل او ویل، په سیمه ییزو ژبو او په ساده او د پوهې وړ قالبونو کې،
- مشورتي پروسې او کتبي معلوماتو په اړه د اړوندو مراجعو لاسرسی.
- سیمه ییزو دودونو ته درناوی لرل، یا بحثونه، خلېدنې او تصمیم نیونې،
- په دې برخه کې پاملرنه هغه کسان چې مشوره ورسره شوې، استازي و، د ښځو، ضررمنونکو ډلو، نژادي او مذهبي اقلیتونه وکولای شي استازیتوب وکړي د اړتیا په صورت کې بېلابېل مجلسونه جوړ کړي.
- اندېښنو، وړاندیزونو او شکایتونو ته د ځواب ورکولو څرګند میکانیزم.

**یو عامه مشورتي پلان باید د لاندې څانګو لرونکی وي:**

لومړۍ برخه: پېژندنه
دویمه برخه: د فرعي پروژې مختصره شرحه او د فرعي پروژې ګډون کوونکي
درېیمه برخه: د عامه مشورې د کړنلارې د متن خلاصه
څلورمه برخه: د محیطي اغېزو او تر جوړېدو مخکې پړاوونو له پاره د ارزونې مشورتي پلان
پمځمه برخه: د جوړونې، اجراآتو او اجراآتو د درولو له پاره مشورتي پلان
شپږمه برخه: د مشورتي فعالیتونو او معلوماتو د وړاندې کولو له پاره مختصر زماني چوکاټ
اوومه برخه: د پلان د تطبیق په اړه د موادو د برابرولو اړوند مسایل
آتمه برخه: د شکایت میکانیزم

**د افغانستان حکومت**
**د لوړو زده کړو وزارت**

**عامه پوهاوی**
**نۍته (میاشت/ورځ/کال)**
**د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزونه ( فرعي پروژې)**

{وړاندیز کوونکي} د (اعمار/نوي جوړول) د فرعي پروژو له پاره د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو ارزونه، د ژوندانه د چاپېریال د ساتني د ملي اداري له شرایطو سره سم، د ژوندانه د چاپېریال د اغېزو د ارزولو په برخه کي او د نړیوال بانګ له شرایطو سره سم خلکو ته د معلوماتو له وړاندې کولو سره برابر کړي دي.

یادو سندونو کاپي په دفترونو (ولسوایی/ ولایت او نورو) د یادو ولسوالیو عامه کتابتونونه او د لوړو زده کړو وزارت په وېبپاڼه کي (www.mohe.gov.af) په پښتو، دري او انګلیسي ژبو موجود دي.

سیمه بیز رهبرانو، له پروژې اغېزمنو کسانو او د سیمي خلکو ته بلنه ورکول کېږي چې اسناد ولولي او خپل نظرونه په لیکلي توګه د لوړو زده کړو وزارت ته وړاندې کړي. لاندې ټکي باید په پته کي په پام کي ونیول شي. ښاغلی/مېرمن (وړ کس ولیکئ) دنده: (موقف مو ولیکئ) ټلیفون: (د ټلیفون شمېره ولیکئ) که د برېښنالیک له لارې ولیږل شي (برېښنالیک مو ولیکئ) یا که په فزیکي توګه ولېږل شي (د پست پته ولیکئ.)

**دیارلسمه ضمیمه: د ژوندانه د چاپېریال د کلني راپور بڼول د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان**

| | |
|---|---|
| د ژوندانه د چاپېریال د اړوندې برخې مسؤلین: | |
| راپور ورکوونکي نېټې: | |
| منطقه/ناحیه/ښاروالي/ښار | |
| د فرعي پروژې منظوري: | |

| د فرعي پروژې عنوان | فعالیتونه | د لومړۍ پروژې پړاو | محیطي کتګوري | آیا د محیطي اغېزو ارزونه، د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت پلان بشپړ شوی دی؟ | آیا د ژوندانه د چاپېریال په برخه کې د فعالیت اجازه ورکړل شوې ده؟ | د ژوندانه د چاپېریال د مدیریت د پلان اغېزمنتیا | مسایل (2) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| (نوم،موقعیت، عنوان یا مرجع) | (نوی اعمار، نوی جوړول،حفظ او مراقبت) | لاندې یاددښت ته دې مراجعه وشي | (ب یا ج) | هو، نه یا ورپورې اړه نه لري | هو، نه یا ورپورې اړه نه لري | ښه، کمزوری، یا ښه والي ته اړتیا لري | لاندې یاددښت ته دې مراجعه وشي |
| 1 | | | | | | | |
| 2 | | | | | | | |
| 3 | | | | | | | |
| او نور | | | | | | | |

**د پانګوني د ورکړې ردول**

| د پانګوني عنوان | فعالیتونه | د ردولو دلایل | کتني [3] |
|---|---|---|---|
| 1 | | | |
| 2 | | | |
| او نور | | | |

**یادښتونه:**

الف) د پانګونې پړاو به یو له لاندې چارو څخه وي: ( الف) د پروژې تر نظر لاندې ارزونه او تیارول، (ب) ارزول شوي، یا (ج) تطبیق.

ب) مسایل: پېښې، شخړې او جریمې به لیست کړل شي.

ج) د بېلګې په توګه، په هغې صورت کې چې د ژوندانه د چاپېریال اجازه نه وي ورکړل شوي، دلیل یې توضیح کړئ.

## ضمیمه 14: د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې د ژوندانه د چاپېریال د برخې د متخصص د اجراآتو ډول

د ژوندانه د چاپېریال د متخصص اصلي نقشه، د تخنیکي مرستې وړاندې کول د مدیریت د پلان جوړولو، د محیطي او اجتماعي ضررونو کمښت او د ژوندانه د چاپېریال او اجتماعي مدیریت د چوکاټ له تطبیق څخه ډاډه کېدل دي. د ژوندانه د چاپېریال متخصص په مستقیمه توګه د اجراآتو او څارنې ملاتړې ډلې ته چې د لوړو زده کړو د ملي ستراتیژۍ د دویم پلان د فعالیتونو مسول دی راپور ورکوي.د ژوندانه د چاپېریال متخصص باید د ژوندانه د چاپېریال په برخه کې، د ژوندانه د چاپېریال انجنیر اړونده تحصیلي درجه ولري، په ورته پروژو او یا د زېربنا په پراختیا کې لږ ترلږه پنځه کاله

تجربه ولري او د افغانستان د دولت د ژوندانه د چاپېريال له مقررو او قوانينو سره اشنايي ولري.

**دندې**

- د ژوندانه د چاپېريال له ملي اداري سره منظمې اړيکې ولري؛
- د محيطي اغېزو د ارزونو له ترسره کولو ډاډه کېدل، د نړيوال بانک او افغانستان د دولت د شرايطو د بشپړولو له پاره د ژوندانه د چاپېريال د مديريت پلانونه
- په کلني توگه د لوړو زده کړو د ملي ستراتيژۍ د دويم پلان د محيطي او اجراآتو د ارزوني له پاره د يوه خپلواک مشورتي شرکت په کار گمارل
- د طبيعي سرچينو او محيطي مديريت اړوند د ټولو تخنيکي مسايلو له پار د تخنيکي مشورې وړاندې کول. دغه مسايل د سطحي اوبو، تر ځمکه لاندې اوبو، کرنيزې سرچينې، د نباتاتو وده، په ساختمان کې د استفادې وړ موادو د سرچينې ټاکل، د انسان روغتيا، سيمه پېژندنه او ساتل شوې ساحې، د خاورې او دوړې خرابېدلو د اغېزو مسايل.
- د ضرورونو د کمښت د اقداماتو، تر پروژې پورې اړوندو ساختماني او عملياتي فعاليتونو په اړه د مشخصې تخنيکي مشورې وړاندې کول.
- د حفاظت د مديريت د پلانونو د تطبيق څارنه (د محيطي اغېزو ارزونه، د ژوندانه د چاپېريال د مديريت پلانونه) د ربع وارو نظارتي راپورونو د برابرولو او ژوندانه د چاپېريال او اجتماعي مديريت په چوکاټ کې له درج شوو نظارتي شاخصونو څخه استفاده کول.

## پنځه لسمه ضميمه:د اجراآتو او څارنې د ملاتړې ډلې د اجتماعي حفاظت د برخې د متخصص د اجراآتو ډول

د اجتماعي حفاظت د متخصص اصلي رول د بيا استوګن کېدو او ځمکې د استملاک له پاره د تخنيکي مشورو وړاندې کول، څنګه چې د بيا استوګن کېدو د تګلارې په چوکاټ کې راغلي دي .متخصص په ځانګړې توګه د اجراآتو او نظارت ډلې ته چې د پروژې د مديريت، د لوړو زده کړو د وزارت د ملي ستراتيژيک دويم پلان د فعاليتونو مسول دی راپور ورکوي.اجتماعي متخصص بايد د اجتماعي علومو لکه ټولنپوهنه، انسان پېژندنه، د توسعې اقتصاد او يا هم اړونده تحصيلي درجه ولري، لږ تر لږه لس کاله کاري تجربه ولري.متخصص بايد د افغانستان د دولت او نړيوال بانک په اړه، د داوطلبانه بيااستوګن کېدو پورې اړوند پراخه معلومات ولري. کافي تجربه د ټولنې په منظمولو او تر بيا استوګن کېدو پورې د اړوندو موضوعاتو د تحليل ضروري دی.

**دندې**

- که لازم وي، د دندو لايحه ترتيب د اجتماعي اغېزو د ارزونو له پاره او د نړيوال بانک له شرايط سره د مطابق کېدو څخه ډاډه کېدل.
- د بيا استوګن کېدو د اغيزو او اجراآتو ارزول چې تر اوسنۍ پروژې لاندې کارکوي، اخيستل شوي درسونه او د پام پروژه کې يې کارول.
- حقوقو ته د رسېدو مسوليت په غاړه اخيستل، د بوديجې او تطبيق هوکړې او د ظرفيت د لوړولو له پاره پوهاوی؛
- د بې ځايه شويو کورنيو له پاره د معيشت د جبران په برخه کې د ډاډ تر لاسه کول، يا هم هغه کسان چې ځمکې يې له لاسه ورکړې دي، د پروژې د يوه فعاليت په څېر له اړوندې پروژې له اړوندې بوديجې سره تطبيق شوی دی. د فعاليتونو، لاسته راوړنو، بوديجې، د د تطبيق کوونکو ارګانونو د دندو د لايحې د تطبيق توافقات او د ارزونې او څارنې شاخصونه.
- د اړوندو کليدي مراجعو پېژندنه (په ځانګړې توګه فقيرې او ضررمنونکوې ډلې) تر پروژې پورې اړوندې ګټې، د احتمالي خنډونو پېژندنه چې په پروژه کې يې د ګډون خنډ او د پروژې له سرچينو څخه ګټه اخلي او اړوندو مراجعو اندېښنو ته د رسېدو له پاره ممکنه ستراتيژيو ته وړانديز.
-